# راهنمائے اساتذه

## د قرآن حکیم د مطالعې

## د پاره د طلباوو او طالباتو

## (اوله برخه۔)

راهمائے اساتذه کښې څۀ دي۔۔۔۔!!!

**عام مدد کونکي او معلومات ورکونکي ذخېرې:**

☆د استاذانو د پاره عمومي تدریس هدایات

☆د سبقونو منصوبه بندي (Lesson Planning)

☆عام تپوس کېدونکي سوالونه (FAQS)

☆ د مشهورو علماء کرامو او ماهرین تعلیم تاثرات

☆د پرچې نمونه

☆د راهنمائے اساتذه نه د فائدې اخستلو د پاره یو څو اهم هدایات

☆جائزه فارم(Course Coverage Form)

☆د قرآن حکیم د مطالعې د حاصلولو طریقه کار او درخواست فارم

☆د قرآن حکیم د مطالعې د ټول نصاب تفصیل

**خاص تدریسي او تربیت کونکي ذخیرې:**

☆آیت پۀ آیت سوالاً او جوابًا شرح کونکي نکتې

☆د ورځنۍ سبقونو د درس طریقه کار

☆د مطالعې مقصدونه

☆د سورت ربط

☆ د مشقونو جوابونه

☆ عملي سرګرمیانې

☆سائنسي تحقیق او تاریخي پس منظر

☆ د قرآن حکیم علمي،عملي او فکري اړخ

☆د آیت شان نزول

☆د قرآن حکیم د آیت د احادیثو مبارکوو پۀ ذریعه وضاحت

## دشکريې حروف

دي علم فاونډيشن "مطالعۀ قرآنِ حکيم د طالبانو او طالباتو دپاره" په تيارى کي مددکونکي ټول عزت مند عالمان ،ماهره حافظان او قاريان ،محترم عزت مند استاذان او د تعليم ماهرانو ډير زيات شکريه اداکؤ.چاچي په دي نصاب باندي په دويم ځل باندي نظر واچؤاو دخپل تجويزونو په ذريعه باندي ئي ددي دښه نه ښه جوړولو کي اهم کردار اداکړو. نور مونږ دهغه ادارو اودهغوي سره تعلق ساتونکودپاره هم دزړه دکومي دعاکؤ چاچي په پوره اخلاص سره ددي نصاب دلوستلودپاره منظور کولو کښي خپله حصه شامله کړه .الله جل شانه د دي ټولو ملګرودقرآن دخدمت داکوششونه په اوچته درجه کښي قبول کولو سره دوارو جهانو دکاميابى ذريعه سبب وګرځي . آمين

## عرضِ ناشر

دالله سُبۡحَانَهُ وَتَعَالٰى پۀ فضل وکرم سره پۀ انتهائى ذمه دارى سره ممکن کوشش کړےشوےدے چې د مطالعۀ قرآنِ حکيم نصاب د تمام کمو اوغلطو نه پاک د بهترين اشاعت اهتمام دے۔ که چرته خدانخواسته پۀ دورانِ طباعت اعراب ،جلدبندى يا نورې څه غلطياني چې کومي سهواً شوي وي اوستاسود نظرنه تيري شي نواداري ته پۀ اطلاع ورکولوکښي به ستاسواحسان منديې وو ددې دپاره چې پۀ آئنده اشاعت کښې تصحيح وکړے شي۔

**دا کتاب دالله د رضا پۀ خاطر بغيرد قيمته ورکولےشي۔**

# د"مطالعهٔ قرآنِ حکيم"دنصاب پهٔ باره کښې دمشهوروعلماء کراماودتعليم دماهرينودتأثراتونه اقتباسات

## مفتی محمدتقی عثمانی صاحب (نائب صدر جامعه دارالعلوم کراچی، چيرمين شرعيه کونسل بحرين)

ددي کتاب مقصدداسکولونوهلکانواوجنکودقرآن کريم سره تعلق پيداکول اوددي بنيادي تعليمات اوواقعات پهٔ آسانه ژبه اوطريقه کښي پيش کول دي،دکتاب دپانړودارولونه اندازه کېږي چې پهٔ مجموعي حيثيت داکتاب په دي مقصدکښي کامياب دے،اودبچوذهني قابليت مخې ته ايښودل ددينه فائده مندمعلومات پهٔ آسانئ سره اسانولےشي ۔الله دې داکتاب دبچودپاره فائده مندجوړکړي۔

## مولانامحمدحنيف جالندهری صاحب(ناظم اعلیٰ وفاق المدارس العربيه پاکستان ،شيخ الحديث ورئيس جامعه خيرالدارس ملتان

دقرآن کريم پهٔ ترجمه اوتشريح باندې مشتمل آسان اوعام فهم نصاب "مطالعهٔ قرآن حکيم دطالبانواوطالباتودپاره"(ددې سره اووهٔ حصي راهنمائے اساتذه۔ يعنی داستاذانولارښود ) دقرآن کريم خدمت اودقرآني علمونوپهٔ پوهه اوترويج کښي به ان شاءالله ناياب ثابت شي ۔ دقرآن کريم دهميشه تعليماتونه ښائسته دانصاب ان شاءالله العزيزدطالبانواوطالباتودکارسازئ ،داخلاق اصلاح اوقام اوملّت دپاره داپهٔ فائده ورکولوکښي مؤثرکرداراداکوي اوپهٔ قرآن فهمئ کښي ددې ګلالوبچودپاره پوخ بنيادثابت شي ۔ پوخ اميددےچې داتحادتنظيماتِ مدارس پاکستان د تائيد،توثيق اوتصديق نه دامتفقه نصاب مطالعهٔ قرآن انشاءالله العزيزپهٔ جداجدافرقوراتهولولوکښي مدداوامدادکونکےثابت شي اوددې مؤثرتشهيرذريعه هم جوړه شي۔دعاده چې د" دی علم فاؤنډيشن ، ،محنتونه اوکوششونه پهٔ خپل دربارِعالی کښي قبول کړي۔،دانصاب دې الله عام قبقل کړي اوداديې ستاسودپاره دآخرت ذخيره جوړه کړي۔آمين ياربّ العالمين۔

## مفتی منيب الرحمٰن صاحب(صدرتنظيم المدارس،مهتميم دارالعلوم نعيميه کراچی)

پهٔ دې کتابونوکښې د منتخب انبياء کرامو سوانح پهٔ زړهٔ کښې کېنول اوپهٔ اسان اندازکښې ترتيب ورکړے شوےدے۔ پهٔ طالبانوکښې دنفس داصلاح اوذات داحتساب دشعورپيداکولودپاره"مونږپهٔ څه اوپيژاندل ؟،،په دې عنوان سره پخپله ،خپله جائزه اخستلودپاره دتربيت اهتمام وکړلےشي۔ پهٔ مجموعی حيثيت باندې دايوقابلِ قدراوقابلِ تحسين کوشش دے ۔ داتهوله سلسله دادارے د

مؤسّسِينوداخلاص اود دینی جذبی مظهردے ۔ زمادعاده چې الله تعالیٰ داکوشش داجراوثواب وګرځوي،ددې دافیض دې همیشه اوعام قبول وګرځوي۔

**مولانامحمداسماعیل صاحب(چیئرمین متحده علماء بورډ،چیف خطیب نائب امیر جماعت اسلامی خیبرپختونخوا)**

عام طوربانديې دقرآن کریم ترجمه،تفسیرلیکل یابیان کول دخپل حساسیت (Sensitivity) باوجودنسبتًاآسان کاردے،لیکن ددې کورس کتاب جوړول اودټیکسټ بُک شکل ورکول غټ دزړۀ پۀ زوراوګران کار دے،اودامشکل کار(دی علم فاؤنډیشن) کراچی سرته ورساؤوچې ټول قرآن یې پۀ مختلف حصّوکښې تقسیم کړودطالبانودصلاحیت مطابق دامرتب کړواوبیاددې نصاب کتاب جوړول داسکولونودطالبانودپاره ډیرآسان کړےدے۔ ددې وجې نه پخپل ځائے باندې وییلےشوي دي چې دا نصاب پخپله ددې مثال دے۔داخبره ډیره داطمینان باعث ده چې ددې پۀ تیارولوکښې د تمام مکاتبِ فکر جیّد عالمانو اود مفسّرینو کرامود کوششونونه زیات مدداخستے شوے دےاوداددې تمام مکاتب فکردپاره قابلِ قبول جوړکړےشوےدے۔ددې نصاب دټولونه اهم خصوصیت دادےچې پۀ دیکښې هیڅ قسم فرقه واریت یا د څه قسم عصبیت بوی نشته د بلکه د قرآن آفاقي دعوت یې محورجوړکړےدے۔ددینه داامیدپیداکېږي چې زمونږبچي اوبچۍ دانصاب اوایې نودهرقسم زباني،جماعتي،نسلي،قومي،علاقایي اومذهبي فرقه بندونه به آذادشي خالص دقرآن اوسنت پۀ ذریعه دخپل آفاقي دین "اسلام" فهم حاصلوي۔ ګویادانساب پۀ فرقواوجماعتونوکښې داامّت یوېل بیادیوکیدلودپاره دواحدامیددے حیثیت لري۔

**مولانا محمد مظفر شیرازی صاحب( فاضل اسلامک یونیورستی مدینه منوّره ،وائس چانسلر جامعه عمر بن عبدالعزیز الاسلامیه سیالکوټ)**

دانصاب روان اوآسان دے۔دوړکي عمرطالبانودپاره زیات فائده منداوآسان دے۔دځنې ایاتونوسره د ورکړےشوي نقشو دوجې نه د طالبانودپاره انتهایي زړه راښکونکي دي ۔ دطالبونود ذهني استعدادبرابرترتیب ورکړےشوےدے ۔ داالله تعالیٰ نه دعاده چې داپاکه هستي دقرآن کریم دپاره ستاسو لوي خدمات ته قبولیت ورکړي اوستاسوداغوره محنت پۀ دنیاکښې دبرکت باعث اوپۀ آخرت کښې دنجات باعث وګرځوي۔آمین

ډاکټر محمد محسن نقوی صاحب(ماهر تعلیم)(سرپرست اعلی جامعه وفاق المدارس السّلفیّه پاکستان،مهتمم جامعه سلفیه فیصل آباد)

الحمد لله! دنظرلاندي دکتابونوسلسلئه لره زمونږ ديني ورنړو عالمانواوفاضلانوترتيب ورکړےدے ۔ دنوي طريقي پۀ ذريعه د قرآنِ مجيدد مختلف مقاماتومطالعه،ددي ژبي اوبيان تشريح ،دمطالب حلّ ،تمرينات،خوړوالےدبيان دغه رنګي دتعقيدنه پاک طريقه ددي مزيدارخصوصيات دي ۔ دالله تبارک وتعالی نه دعاده چې ددي کتابونودسلسلي دمصنفينو ،مرتبينو،دحسن افزايي ذمدارحضراتو اوناشرينوخائسته کوششونه قبول کړي اوطالبانودقرآن لره دي ددې کتابونوپه سلسله کښې دزياتي فائدي حاصلولوتوفيق ورکړي ۔آمين يارب العالمين ۔

مولانا محمد سیف البر سکرګاهی صاحب(فاضل وفاق المدارس العربیه ،مرکزی ناظم اعلیٰ ټرسټ جمیعت تعلیم القرآن)

دی علم فاؤنډيشن داکابرينوتفسيرونه اوترجمي رامخي ته کړي دي خاص طورباندې داسکولونود طالبانودپاره يې چې کوم نصاب له ترتيب ورکړےدے چې دا نصاب پخپله ددې مثال دے ۔ دسبقونونه حاصل تمرينونه اوکورنۍ هلي زلي وغيره متعلمينواومتعلماتو دپاره به نهايت فائده مندي ثابتي شي ان شاءالله زيات اميددےچې دانصاب دقرآن ۔ حکيم دفهم دپاره نهايتِ مؤثرکردارادکړي ۔ پۀ ديکښې دټولونه زياته خاص خبره داده چې پۀ ټول نصاب کښې هغه اموراوتشريحاتودبيانولوخصوصي اهتمام کړلےشوےدےچې پۀ ديکښې عمومًادټولواتفاق کړلےشوےدے ۔ چې ددينه دبچوداذهن جوړشي چې زمونږدين داختلافاتومجموعه نۀ ده دغه رنګي نزديکت ته وده ميلاويږي اوکومي فاصلي بلکي خليجونه چې دمسلمانانوپۀ درميان کښې پيداشوي دي هغه پۀ دمه دمه کميږي(ان شاءالله) دزړۀ اوزان نه دعاده چې الله د (دي علم فاؤنډيشن ) دټولوذمدارانوخدمتونه اوکوششونه قبول کړي اوددنيااوآخرت پۀکاميابيانومودي الله کامياب کړي اواداري ته دي ډيره ترقي ورکړي ۔ (آمين)

مولانا حکیم محمد مظهر صاحب(مهتمم جامعه اشرف المدارس کراچی)

پۀ دي کتاب کښې دبچوذهني سطح مخي ته ايښودلےشوي ده دقرآني آياتونوترجمه پۀ عام فهم اندازباندې پيش کړےشوےده،پۀ مجموعي لحاظ سره داکتاب ډيرفائده منددے ۔ ددې کتاب مقصدداسکول د هلکانواوجنکودقرآن کريم سره تعلق پيداکول اوددي بنيادي تعليم نه خبرول دي ۔ اوداپخپله مقصدکښې کامياب ثابت شي ان شاءالله ۔

شیخ الحدیث مولانامفتی عطاءالرحمٰن صاحب(مهتمم جامعه مدنیه بهاولپور)

صرف قرآن کريم دےچي دمسلمانانوددنيااوآخرت دکاميابۍ اوفلاح واحد ذمواردے ۔ افسوسناک صورتِ حال داد ےچي کوم قام ته داکتاب ورکړےشوےدےهغه نن ددکتاب نه پردي اوبل اړخ ته پۀ نظرراځي ۔ ددين نه بيزاري اودمغربيت مزه څکل پۀ دي دورکښي څني ديندارہ داسي هم دي چي دقرآن کريم تعليمات دټولونه په اسان اندازکښي ډال کړل کورکورته يي درسولوکوشش وکړلو ۔ پۀ دي باهمت ته خلقوکښي د(دی علم فاؤنډيشن) ملګري هم دي ۔ چي دوئ ماشاءالله چي دوئ دعماءکرامودنګرانۍ لاندي داسکول کالج درسګاهونودپاره ډيرزيات آسان اوپه جديدطرزِ تدريس سره اتفاقي مطالعۀ قرآن حکيم نصاب جوړ کړو ۔ پۀ مجموعي طورباندي نصاب پخپل ترتيب اودمظامينودانتخاب پۀ لحاظ بهترين دے ۔ د(دی علم فاؤنډيشن) ټول ملګري ددي خدمت دپاره دمبارکۍ مستحق دي ۔ الله دي ددي حضراتوکوششونوته قبوليت ورکړي اوامت ته دي ددي ډيروخته پوري ددينه دفائدواخستلوتوفيق ورکړي ۔

جسټس دوست محمد خان صاحب(جسټس سپريم کورټ آف پاکستان)

"مطالعۀ قرآن حکيم دطالبانواوطالباتودپاره"دانصاب داسلامي عزتونوپۀ پاللوکښي ډيرګران خدمت دےچي دصفت لائق دےځکه قرآني علمونه اوچتول اوزړۀ بيناکوي (دی علم فاؤنډيشن) داړخ نه داکوشش نوري تدريسي ادارولره هم لاربنودنه آسانوي ۔ ددي مطالعه مشکله ده ۔ د بصارت سره بصيرت هم ذرغونولووالادےددي دپاره چي دقام معماران دمستقبل دتورتمونونه رااوځي ۔ الله دي تاسوروغ اوخوشحاله لري ۔

مولانا ڈاکٹر قاری محمد ضياء الرحمٰن صاحب(چيئرمين القرآن ايجوکيشن ٹرسٹ،انچارج فيصل مسجد اسلامک سينٹر بين الاقوامی اسلامک يونيورسٹی اسلام آباد)

د(دی علم فاؤنډيشن)مرتب شوے نصاب "مطالعۀ قرآن حکيم دطالبانواوطالباتودپاره)دپاکستان دلکھونوعصری اوديني تعليمي اداروددطالبانودعلم اوعمل ،کردار،اخلاق اوفکري پاللودپاره دمظبوط بنيادکارورکوي ۔ چي ددي پۀ ذريعه مونږصرف دانۀ چي خپل ورکړے شوي اخلاق اودورک شوي دمشرۍ مقام سره اشناکښي بلکي دپوره عالمِ انسانيت دپاره مؤثراوفائده مندثابت شي،"دمطالعۀ قرآن حکيم کورس يواهم خصوصيت داد ےچي دهرشان فِرقه وارانه سوچ نه اوچت اودامّت داتحادترجان دے ۔

مولنامحسن علی نجفی صاحب (سرپرست اعلیٰ ،جامعة الکوثراسلام آبادومدارس اهل بيت پاکستان)

قرآن کریم زمونږ درسول الله ﷺ ژوندی معجزه ده زمونږدپاره دافخردےچې زمونږد رسول الله ﷺ معجزه زمونږپهٔ لاسونوکښې محفوظ ده۔ ددې عظیمې معجزې هرقسمه اختلافات اګرچې پهٔ ترجمه کښې کښې ولې نه وي دهغې نه بې جدا ساتلےاویومتفقه ترجمه تیارول چې کوم تاسوته توفیق حاصل دےداډیرښیدلوقابل دے ، تاسوته معلومه ده چې توفیق دالله تعالیٰ داړخه میلاویږي اوڅه چې دالله داړخه میلاوشي داڅه روند تقسیم نهٔ دے،اهل ته میلاوشوےدےپهٔ دې اعتبارسره تاسودمبارکۍ حقداریې وئ۔امیددےچې ستاسودمبارک کوشش پهٔ نتیجه کښې امت پهٔ یوه ترجمه باندې اتفاق وکړي اودراروان وخت دپاره دیومعتبرسندپهٔ طورزمونږپهٔ منځ کښې را ئج کړیشي۔ان شاءالله

ونګ کمانډرډاکټرمولاناضمیراخترخان صاحب (ډائریکټرشعبه امورِدینیه ۔ پاکستان فضایه،فاضل علومِ اسلامیه)

(دی علم فاؤنډیشن) دعصری تعلیمی اداروپاره دمطالعۂ قرآن حکیم دنصاب ترتیب ورکړودملّتِ اسلامیه پاکستان دپاره خاص طورباندې اوعام طورباندې دخدمت عظیم فریضه اداکوې ۔ دعلم فاؤنډیشن غټه کرنامه (HerculeanTask) پهٔ پوره قرآن مجیدفرقانِ حمیدباندې محیط ددې کتابونوترتیب اوتدوین دے۔

مفتی محمدقمرالحسن صاحب (استاداحدیث جامعه حمادیه ،شرعیه ایډوائزرټرسټ جمعیت تعلیم القرآن،ایډوکیټ هائی کورټ)

پهٔ طالبانو اوطالباتوکښې داسلامې کرداراوتشخص اوایمانی جذبه وقوّت پیداکولودپاره پهٔ دېکښې چې کوم محنت شویدےداچې ولیدلےشي بےاختیاره دژبې نه د شاباس الفاظ راوځي ۔ دهرسورت پهٔ شروع کښې ددې مقصداومزیداره خلاصه لویه فائده منده ده۔ "دعلم اوعمل خبرې"پهٔ عنوان دقرآنِ حکیم فکرې اوعملې هدایاتونه دخبردارۍ ورکولوطریقه هم ډیره مؤثره ده ۔ الله تعالیٰ دې داکتاب ددین داشاعت اودایمانې جذبې ذریعه جوړه کړي۔

قاری سیدعلی عابدنقوی صاحب (اعزازی مشیراسلامی نظریاتی کونسل،منتظم اعلیٰ امامیه دارالتجوید ،بین الاقوامی قصرقرآنِ پروجیکټ اسلام آباد)

ماته ډیره خوشحالي ده چې اداری دمسلکی اختلافاتونه پرهیزکړ ےدے پهٔ طالبانواوطالباتوکښې حقیقی دقرآنی روح نه خبردارکولواهتمام کړےدے۔څهٔ داکارقابلِ تحسین ګڼړل ۔ دڅلویښتوکالونه پهٔ وزارتِ مذهبی امورویسی نښتې ؤ د علم فاؤنډیشن افرادپه اداره کښې ملازمت نهٔ بلکه پهٔ نظریاتی

بنيادونوباندې كاركوي ـ پۀ دې موجوده ګډوډدوركښې دى علم فاؤنډيشن پۀ قرآنى حوالى سره كارډيرا اوچت دے ـ ددې چې څومره تعريف وكړےشي كم دے ـ

**مفتى محمدمنظورعلى خان قادرى حنفى صاحب (فاضل علوم شرقيه ،خطيب اعلىٰ غوثيه مسجد ،گلشن جديد)**

دپنځم كلاس نه ترلسم كلاس دبچودپاره دانبياءكرامو عَلَيْهِمِ السّلَام پۀ قرآنى واقعاتوباندې چې كوم مشتمل نصاب مخې ته راغلےدےدادبچودپاره ډيرفائده مندثابت شو ـ پۀ دې ترجمه كښې پۀ يومقام باندې ماته څه غلطى يابےادبى پۀ نظرنۀ ده راغلې ـ داترجمه داهلِ سنت دمسلک سره بلكل مطابق صحيح ده ـ پۀ دې وخت ددې كاردپاره چې كوم خلق جاني اومالي قرباني كوي هغه دصفت لائق دې ـ اللّٰه تعالىٰ دې هغوئ ته اجرِعظيم وركړي ـ

خبردارے: الحمدللّٰه چې كوم عزتمند عالمان بره ذكرشواودعزتمند شخصياتونه علاوه هم دنوروتعليمي ادارومشران ،عزتمندعالمان اودتعليم ماهرينوخپل قيمتي تأثرات هم ذكركړي ـ

**دى سيټيزن فاؤنډيشن (شعبۀ نصاب)**

دمختلف رنګونواستعمال دبچودپاره ډيرinteractiveدے اودقرآن پۀ پوهه كښې معاون دے ـ ددې كتاب مشقونه ډيرزيات ښۀ دي په دې نصاب كښې څه داسي موادنشته چې ددينه پۀ طالبانو اوطالبات كښې انتهاپسندي پيداشي ـ نصابِ قرآن دبچوداخلاقي تربيت دپاره هم ډيرمعاون دے ـ پۀ مجموعي حيثيت باندې ډيرښۀ كوشش دےيقيناًددې ښۀ نتيجې به مخې ته راشي ـ

**Prof. Dr. Masoom Yasinzai (Rector International Islamic University-Islamabad)**

Its very impressive work on Quranic teachings 'Mutalae Quran-e- Hakeem'.I am greatly impressed by the IlM Foundation approach for introducing Quranic teaching with the help of stories of Prophets and from the grass root level. Surely, The ILM Foundation work will make a sustainable impact on the lives of future generations in their personal lives as practicing Muslims and in the society at large.

**Pir Noor Ul Haq Qadri Sahib (Federal Minister for Religious Affairs & Interfaith Harmony)**

I have gone through the work of The ILM Foundation regarding development of comprehensive syllabus of the Holy Quran for the students in Urdu. I really appreciate the work of The ILM Foundation. This will surely be helpful in propagating the true teaching of Islam as enshrined in The Holy Quran.

نوټ: الحمدللّٰه دبره ذكرشووعلماءكرامواومعززشخصياتونه علاوه هم نورد تعليمي ادارومشران،علماءكرام اوماهرينودتعليم پۀ خپل قيمتي تأثرات سره ښائسته كړےدے ـ

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

## د مضمونونو فهرست



| شمېره | سبق | صفحه |
|---|---|---|
| 1 | اولني کلمات او دراهنمائے اساتذه نه د پوره فائدې د پاره څو اهم هدايات | |
| 2 | "راهنمائے اساتذه د پاره د مطالعې د قرآن حکیم" خصوصيات | |
| 3 | د استاذانو د پاره عام او خاص هدايات | |
| 4 | تلاوت او ترجمه د قرآن د پاره څو آداب او اهم هدايات | |
| 5 | د سبقونو منصوبه بندي (Lesson Planning) | |
| 6 | د نصاب جائزه فارم (Course Coverage Form) | |
| 7 | صاحب قرآن ﷺ | |
| 8 | سُوۡرَةُ الۡفَاتِحَة | |
| 9 | سُوۡرَةُ الۡفِيۡل | |
| 10 | سُوۡرَةُ قُرَيۡش | |
| 11 | سُوۡرَةُ الۡمَاعُوۡن | |
| 12 | سُوۡرَةُ الۡكَوۡثَر | |
| 13 | سُوۡرَةُ الۡكَافِرُوۡن | |
| 14 | سُوۡرَةُ النَّصۡر | |
| 15 | سُوۡرَةُ اللَّهَب | |
| 16 | سُوۡرَةُ الۡاِخۡلَاص | |
| 17 | سُوۡرَةُ الۡفَلَق | |
| 18 | سُوۡرَةُ النَّاس | |
| 19 | قصه د آدم علیه السلام | |
| 20 | قصه د نوح علیه السلام | |
| 21 | قصه د هود علیه السلام | |
| 22 | قصه د صالح علیه السلام | |
| 23 | قصه شعیب علیه السلام | |
| 24 | سُوۡرَةُ الصّٰٓفّٰت | |

| | | |
|---|---|---|
| 25 | عام تپوس کېدونکي سوالونه (FAQS) | |
| 26 | د مطالعې د قرآن تعارف او د مکمل نصاب تفصیل | |
| 27 | مجوزه د پرچې نمونه د پاره د مطالعې د قرآن حکیم (اوله حصه) | |
| 28 | مطالعه قرآن حکیم د پاره د طلباوو او طالباتو د نصاب د حصول طریقه کار | |
| 29 | اهم هدایات د پاره د فراهمي نصاب" د مطالعې قرآن حکیم د پاره د طلباوو او طالباتو " | |
| 30 | درخواست فارم د پاره د فراهمي نصاب"مطالعه قرآن حکیم د پاره د طلباوو او طالباتو" | |

# صاحب قرآن ﷺ

## د مشقونو جوابونه

### ځان پوهه کړئ او حل ئې کړئ.

**سوال۱: د لاندې سوالونو جوابونه ورکړئ.**

1. د نبي کريم ﷺ، د نبي کريم ﷺ د پلار او مور بي بي نوم وليکئ.

د نبي کريم ﷺ نوم محمد او احمد ؤ، د پلار نوم ئې عبدالله ؤ او د مور بي بي نوم ئې آمنه بنت وهب وه.

2. د نبي کريم ﷺ ټول څومره زامن او لوڼه وې؟ د هغوي نومونه وليکئ.

د نبي کريم ﷺ درې زامن: قاسم رضی الله عنه، عبدالله رضی الله عنه او ابراهيم رضی الله عنه وو او څلور لوڼه زينب رَضِيَ اللهُ عَنهَا، رقيه رَضِيَ اللهُ عَنهَا، ام کلثوم رَضِيَ اللهُ عَنهَا او فاطمه رَضِيَ اللهُ عَنهَا وې.

3. نبي کريم ﷺ د پېغمبرۍ د ميلاوېدو نه مخکښې په کوم کوم لقبونو يادېدو؟

نبي کريم ﷺ د پېغمبرۍ د ميلاوېدو نه مخکښې پۀ صادق او امين لقبونو سره يادېدو.

4. پۀ نبي کريم ﷺ باندې د وحې د نازېدلو نه پس اول کومو څلورو کسانو ايمان راوړے ؤ؟

پۀ نبي کريم ﷺ باندې د وحې د نازېدلو نه پس خديجه الکبرىٰ رَضِيَ اللهُ عَنهَا، ابوبکر صديق رضی الله عنه، علي المرتضىٰ رضی الله عنه او زيد بن حارثه رضی الله عنه ايمان راوړے ؤ.

5. نبي کريم ﷺ ته د مکې د ژوند پۀ آخري وخت کښې کومه معجزه ورکړے شوې وه؟

نبي کريم ﷺ ته د مکې د ژوند پۀ آخري وخت کښې معجزه معراج ورکړے شوې وه، چې پۀ هغې کښې نبي کريم ﷺ ته د رب کائنات سره ملاقات او خبرو کولو خصوصي عزت حاصل شوے ؤ.

**سوال ۲: خالي ځايونه ډک کړئ.**

1. اے نبي کريم ﷺ! بېشکه مونږ تا لره د ګواهي ورکولو، زيرې ورکولو او د عذاب نه د ويرولو د پاره لېږلے ئې او د الله تعالىٰ د طرف نه د هغۀ پۀ حکم سره راغوښتونکے او رڼا ورکونکې ډيوه (لېږلے ئې).

2. نبي کريم ﷺ فرمائيلي: ترڅو پورې چې زۀ تاته ستا د پلار، اولاد او ټولو خلقو نه زيات خوښ نۀ شم، نو تۀ کامل مؤمن نۀ شې کېدلے.

3. نبي کريم ﷺ فرمائيلي: د قيامت پۀ ورځ به د ټولو نه اول زۀ شفاعت کوم او د ټولو نه مخکښې به زما شفاعت قبول کېږي.

4. نبي کريم ﷺ فرمائیلي: پۀ تاسو کښې د ټولو نه ښۀ هغه څوک دے چې د خپل کور والو د پاره ښۀ وي او زۀ د خپل کور والو د پاره ستاسو د ټولو نۀ ډېر ښۀ يم.
5. نبي کريم ﷺ به چې کله خبرې کولې، نو صحابه کرامو به خپل اوازونه ښکته کول او د عزت د وجې نه به ئې خپل نظرونه ښکته ساتل.
6. نبي کريم ﷺ به همېشه د پاره پۀ مشکل وخت د ټولو نه مخکښې والے کولو او د ثابت قدمۍ مظاهره به ئې کوله.

# سُوۡرَةُ الۡفَاتِحَة

**د درس طریقه:**

سبق نمبر ۱: د دې سورت شان نزول، تعارف، قرآني متن او ترجمه د درسي کتاب نه کوئ.

سبق نمبر ۲: "

1. د علم او عمل خبرې" وضاحت سره طلباوو ته اوښایئ او د مذاکرې په ذریعه د هغوي ذهن سازي وکړئ.
2. ځان پوهه کړئ او حل ئې کړئ. طلباوو ته د کور کار (Home Work) په طور باندې ورکړئ، د دې د پاره چې هغوي ته په قرآن باندې د ځان پوهه کولو اندازه وي او وروسته دې په کمره جماعت (Class) کښې پخپله حل کړي (شرح کونکو نکاتو نه وروسته په ورکړے شوي " د مشقونو جواباتو" نه فائده اخستلے شي)
3. " د کورنۍ سرګرمیانو" کولو د پاره دې د طلباوو کور والا د دې پابند کړے شي (کمره جماعت کښې د زیاتو سرګرمیانو کولو د پاره د" مشقونو جواباتو" نه وروسته ورکړے شوي "عملي سرګرمي" نه هم فائده اخستلے شي.

**د مطالعې مقاصد:** د دې سورت په ختمېدلو باندې دې په طلباوو کښې دا استعداد وي چې هغوي دې پېژني چې:

(۱) د فاتحې مطلب څهٔ دے؟ (۲) د دې اهمیت څهٔ دے؟

(۳) د سورت الفاتحه نور څهٔ څهٔ نومونه دي؟ (۴) صراط مستقیم څهٔ دے؟

(۵) زیات دا چې په ماشومانو کښې لاندې لیکلے شوو خبرو جذبه وي:

(i) د الله تعالیٰ په نعمتونو د شکر ویستلو. (ii) په آخرت کښې د جواب ورکولو احساس

(iii) د الله تعالیٰ د رحمت باندې امېد ساتل. (iv) په هر ضرورت کښې الله تعالیٰ رابلل.

(v) د هدایت فکر او په صراط مستقیم باندې تلل.

(۲) ماشومانو ته صحیح تصور معلوم شي: (i) حمد (ii) عبادت (iii) هدایت

## آیت په آیت شرح کونکي نکات

**علمي خبره:** د هر جائز کام د شروع کولو نه مخکښې د بسم الله وئیلو تاکید کړے شوے دے. پکار ده چې د قرآن حکیم د تلاوت په وخت " بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ" نه مخکښې" أَعُوۡذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیۡطٰنِ الرَّجِیۡمِ"

لوستل هم ضروري دي،ولې الله تعالىٰ فرمائيلي: کله چې تهٔ (پېغمبرﷺ) د قرآن لوستل کوې، نو د الله تعالىٰ نه پناهي طلب کوه د شېطان رټلے شوي (د شر) نه۔ (سورة النحل ۱۶ آيت ۹۸)

**آيت نمبر ۱**: (۱) د قرآن حکيم شروع د کومې کلمې نه کېږي؟

(۱) الحمدلله يعنې د الله تعالىٰ د احسان د اعتراف نه او د شکر د بيان نه۔

(۲) پهٔ حمد او شکر کښې څهٔ فرق دے؟

(۲) د حمد معنىٰ تعريف هم کېدلے شي او شکر هم۔ تعريف (حمد) عام دے او شکر خاص۔د حمد تعلق د قابل تعريف کارنامو سره دے،مثلاً الله تعالىٰ زمکه او آسمان، نمر او سپوږمۍ او د ستورو حرکت غرض دا چې ټولو کائناتو ئې پهٔ دې اندازه تړلے شوے او منظم نظام جوړ کړے او پهٔ زمکه باندې ئې قسماقسم بوټي،مېوې او ځناور خوارهٔ کړي چې کوم وليدلے شي، نو عقل ورته حېرانېږي۔ پهٔ دې باندې چې د الله تعالىٰ څومره تعريف وکړے شي، نو کم دے او د شکر تعلق د هغه خاص انعاماتو سره کېږي چې د يو خاص ذات سره تعلق لري، مثلاً د الله تعالىٰ انسان لره پهٔ ښائسته شکل جوړول، چا لره صحت او رزق زيات ورکول، د داسې نعمتونو اعتراف کولو ته شکر وئيلے شي۔

**عملي اړخ**: پهٔ مخلوق کښې يو سړے چې قابل تعريف کارنامه سر ته ورسوي او پهٔ دې باندې د هغهٔ تعريف وکړے شي، نو هغه هم حقيقتًا د الله تعالىٰ وي۔ ولې چې د قابل تعريف کار کولو صلاحيت او توفيق هم د الله تعالىٰ د طرف نه ورکولے شي۔ له همدې امله د هر ډول تعريف مستحق الله تعالىٰ ګڼلے شي۔

(۳) د الله تعالىٰ اولنے تعريف څهٔ شوے دے؟ (۳) الله تعالىٰ د ټولو جهانونو رب دے کوم چې د انسان پېدا کونکے، مالک او حقيقي احسان کونکے دے۔

(۴) رب چا ته وئيلے شي؟ (۴) رب هغهٔ چا ته وئيلے شي چې يو څيز لره پهٔ ورو ورو منصب کمال ته ورسوي۔ (۵) حقيقي رب څوک دے؟ (۵) حقيقي رب الله تعالىٰ دے چې د ټول مخلوق ټول حاجتونه او ضروريات پوره کوي۔

**علمي خبره**: د رب لفظ پهٔ عربۍ ژبه کښې پهٔ درې معناګانو سره راځي: (۱) مالک او آقا (۲) مربی (پرورش کونکے) خبر اخستونکے او نګراني کونکے۔(۳) فرمان روا ، حاکم، مدبر او منتظم ۔الله تعالىٰ پهٔ دې ټولو معنو کښې د کائناتو رب دے۔

**آيت نمبر ۲**: (۱) پهٔ دې آيت کښې د الله تعالىٰ کوم صفات بيان شوي دي؟ (۱) الرحمٰن الرحيم۔

(۲) د رحمٰن معنىٰ څهٔ ده؟ (۲) پهٔ ټولو باندې ډېر زيات رحمت کونکے۔د الله تعالىٰ دا صفت د عام رحمت دے پهٔ کوم کښې چې مؤمن او پهٔ کافر کښې څهٔ فرق نشته ، د دې وجې نه مفسرين فرمائي: رحمٰن الدنيا "يعنې په دنيا والو باندې رحم کولو والا ۔ (۳) د رحيم څهٔ معنىٰ ده؟ (۳) ډير زيات رحم کونکے۔دا خاص

صفت دے چې د دې ظهور به خاصو بندګانو د پاره وي، د دې وجې نه مفسرین فرمائي: رحیم الاخرة" یعنې پۀ آخرت کښې پۀ فرمان بردارو باندې رحم کونکے۔

**فرمان نبي ﷺ** : الله تعالي چې پۀ کومه ورځ رحمت پېدا کړو، نو د دې سل (۱۰۰) حصې مقرر کړې۔ یو کم سل (۹۹) حصې د خپل ځان سره کېښودې او یوه حصه ئې خپل ټول مخلوق ته راولېږله۔ (صحیح بخاري)

**آیت نمبر ۳**: (۱) د بدلې د ورځ نه څۀ مراد دے؟ (۱) د قیامت ورځ یعنې د بدلې او د سزا ورځ۔ (۲) د بدلې د ورځې مالک څوک دے؟ (۲) الله تعالي۔ (۳) پۀ دنیا کښې د مختلفو څیزونو مالک څوک دے؟ (۳) پۀ دنیا کښې هم اصل مالک الله تعالي دے او زمونږ سره چې څۀ دي هغه هم د الله تعالي ورکړے شوے امانت دے۔

**فرمان نبي ﷺ** : (د قیامت پۀ ورځ) الله تعالي به زمکې او آسمانونه په خپل لاس کښې رایوځاے کړي او وبه فرمائي چې زۀ بادشاه یم۔ظلم، غرور او تکبر کونکي نن چرته دي؟ (صحیح مسلم)

**علمي اړخ**: مونږ لره د قیامت د ورځې د پاره پوره تیارے کول پکار دي،پۀ کومه ورځ چې به د چا بادشاهي او حکومت نۀ چلېږي۔ ټول خلق به د یو مالک حقیقي مخې ته ودرېږي او د خپلو عملونو به جواب ورکونکي وي۔

**آیت نمبر ۴**: (۱) د دې آیت خصوصي اهمیت څۀ دے؟ (۱) پۀ دې آیت د بنده د الله تعالي سره مخامخ د خبرو کولو ذکر دے۔بنده د الله تعالي د عبادت کولو اقرار کوي او د هغۀ نه مدد غوښتلو زاري کوي۔ بیا د جمعې پۀ لفظ کښې خطاب دے چې" مونږ ستا عبادت کوو" له همدې امله د ژوند پۀ ټولو کونجونو کښې د معاشرې د ټولو خلقو نه د عبادت تقاضې طرف ته اشاره ده۔ (۲) د عبادت نه څۀ مراد دے؟ (۲) پۀ شرعي اصطلاح کښې د عبادت مفهوم دے د عبادت لائق ذات مخې ته خپل ځان ډېر زیات عاجز ګڼل او د معبود د پاره ډېر زیات تعظیم تسلیمول او د عاجزۍ اظهار کول۔

**عملي اړخ**: الله تعالي د ټولو جهانونو رب دے چې کوم زمونږ پېدا کونکے، مالک او حقیقي احسان کونکے دے۔د هغۀ پۀ مونږ باندې د ټولو نه زیات احسانونه دي له همدې امله هغه د عبادت لائق دے۔ لکه څرنګې چې د الله تعالي فرمان دے" او ستا رب فرمائیلي چې تۀ د هغۀ نه سېوا د بل چا عبادت مۀ کوه"۔(بني اسرائیل۱۷تا۲۳) البته د الله تعالي د احکامو مطابق ژوند تېرول او د ژوند پۀ ټولو کونجونو او شعبو کښې د نبي کریمﷺ د تعلیماتو او طریقې مطابق د زړۀ د چمتو والي سره عمل کول هم عبادت شمارېږي، پۀ کوم باندې چې الله تعالي اجر عظیم ورکوي۔

(۳) د الله تعالي نه پۀ کوم څیز کښې مدد غوښتل پکار دي؟ (۳) پۀ هر کار کښې حقیقي مدد د الله تعالي نه غوښتل پکار دي، ولې چې الله تعالي حقیقتًا او مستقلاً مدد کونکے دے۔

**آیت نمبر۵:** (۱) د هدایت نه څۀ مراد دے؟ (۱) د هدایت ډېر مفهومونه دي: د لارې ښودنه، پۀ لاره روانول، منزل او مقصود ته رسول. (۲) د صراط مستقیم نه څۀ مراد دے؟ (۲) هغه لاره چې د الله تعالیٰ طرف ته بوتلل کوي. د دې نه مراد د الله تعالیٰ پۀ احکاماتو عمل کول دي، پۀ کوم باندې چې انسان د الله تعالیٰ رضا او د جنت نعمتونه حاصلولے شي.

**علمي خبره:** انسان الله تعالیٰ ته زارې کوي چې د ژوند پۀ هره لمحه، هر قدم باندې ما ته هغه طریقه اوښایه چې زمونږ د کامیابۍ او خلاصي ذریعه جوړه شي، ولې چې ستا نه علاوه نۀ څوک لارښود شته او نۀ څوک همدردي کونکے او مهربانه، تۀ بهترین لارښودونکے مشر ئې. مونږ ته د هغو بهترینو خلقو پۀ لارو د تللو توفیق او هدایت وکړې، کومو چې پۀ دنیا او آخرت کښې خلاصے موندلے دے.

**فرمان نبيﷺ:** "قرآن حکیم کښې سیدها لاره ده" (جامع ترمذي) د عائشې صدیقې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا قول دے چې د الله تعالیٰ د رسولﷺ اخلاق خو قرآن حکیم دے. (مسند احمد) له همدې امله قرآن حکیم او د نبي کریمﷺ اتباع صراط مستقیم ده.

**عملي اړخ:** څرنګې چې سوره الفاتحه کښې د خپل ځان سره د ټول امت د هدایت د پاره دعا غواړو، دارنګې مونږ پۀ باقي ژوند کښې پۀ روزانه دعاګانو کښې هم ټول امت شامل کول پکار دي.

**آیت نمبر ۶:** (۱) انعام یافته خلق څوک دي؟ (۱) انبیاء کرام علیهم السلام، صدیقین، شهداء او نېکان (سورة النسآء ۴ آیت ۶۹)

**آیت نمبر ۷:** (۱) مَغۡضُوۡبِ عَلَيۡهِمۡ نه څوک مراد دي؟ (۱) پۀ احادیثو کښې د دې وضاحت راغلے چې د دې نه مراد یهودیان دي، چې پۀ هغوي باندې د مسلسل نافرمانۍ پۀ وجه د الله تعالیٰ غضب نازل شوے. (مسند احمد) (۲) ضَّآلِّيۡنَ نه څوک مراد دي؟ (۲) د دې نه مراد عیسایان دي چې پۀ عقیدې او عمل کښې بې لارې شوي. (مسند احمد)

**علمي خبره:** یهودیان او نصارٰی مَغۡضُوۡبِ عَلَيۡهِمۡ او ضَّآلِّيۡنَ مثالونه او کامل سړي دي باقي مَغۡضُوۡبِ عَلَيۡهِمۡ او ضَّآلِّيۡنَ عام دي، یهودیان او نصارٰی خاص نۀ دي.

(۳) د سورة الفاتحه پۀ آخر کښې څۀ وئیل مستحب دي؟ (۳) آمین (صحیح بخاري)

(۴) د "آمین" څۀ معنٰي ده؟ (۴) اے الله داسې دې وي. دا د "اِسۡتَجِبۡ" پۀ معنٰي کښې دے یعنې اے الله! تۀ ئې قبول کړې. (صحیح بخاري)

(۵) سورة الفاتحه اکثر کله لوستلے شي ؟ (۵) پۀ هر مونځ کښې (۶) د دې سورت نور نومونه اوښایئ.

(۶) اَلشَّافِيَه، اُمُّ الۡقُرۡآنِ، اَلۡكَافِيَةُ، سَبۡعًا مِّنَ الۡمَثَانِيۡ، سُوۡرَةُ الۡمُنَاجَات، سُوۡرَةُ الصَّلٰوةِ، فَاتِحَةُ الۡكِتَاب، سُوۡرَةُ

اَلْکَنْز، شِفَا، رُقْيَة، سُوْرَةُ الْحَمْد، سُوْرَةُ الدُّعَا، تَعْلِيْمُ الْمَسْئَلَه، سُوْرَةُ التَّفْوِيْض، سُوْرَةُ السُّوَال، اُمُّ الْكِتَاب، فَاتِحَةُ الْقُرْآن وغیره۔

(۷) د سورتونو نومونه چا ایښودي دي؟ (۷) نبي کریمﷺ ( بعضې مفسرین پهٔ نزد د بعضې سورتونو نومونه صحابه کرامو ) تجویز کړي دي۔ (۸) د سورتونو نومونه آیا د هغوي د مضامینو مطابق وي؟ (۸) پهٔ بعضې سورتونو کښې چې کومه موضوع او مضمون بیان شوے وي د هغې پهٔ مناسبت سره د هغو سورتونو نومونه موجود دي، لکه: سوره الجمعه، سوره المنافقون او د بعضې سورتونو نومونه پهٔ هغهٔ سورت کښې استعمال شوي یه یو لفظ باندې وي لکه: سوره البقره، سوره آل عمران۔

(۹) سوره الفاتحه ته سُوْرَةُ الشَّافِيَه یا شِفَا ولې وائي؟ (۹) دا سورت د شفا د حاصلولو پهٔ غرض لوستل کېږي او پهٔ بیمارانو دم کولے شي او پهٔ دې سره د هر قسم بیمارۍ شفا حاصلېږي۔

(۱۰) د سوره الفاتحه فضلیت بیان کړئ؟ (۱۰) i . سوره الحجر ۱۵ آیت۸۷ کښې سوره الفاتحه اووهٔ (۷) ځله لوستلے شوے آیت وئیلے شوے او د مضمونونو په لحاظ سره دې ته قرآن عظیم وئیلے شوے ۔ ii.پهٔ حدیث قدسي کښې مونځ ګرځولے دے (صحیح مسلم) iii.دې سورت ئې دوه پر دریمه برخه 3/2 قرآن ګرځولے دے (بهیقي) ۔ iv.نبي کریمﷺ فرمائیلي: په تورات،انجیل او زبور کښې د دې پشان سورت نهٔ دے نازل شوے ۔ (ترمذي) v. دارنګې پهٔ بل حدیث مبارکه کښې فرمائیلي چې: دوه مَلَک (فرښته) د آسمان نه راکوز شو او پهٔ نبي کریمﷺ باندې سلام وکړو او د دوو داسې رڼاګانو زیرے ئې ورکړو چې د نبي کریمﷺ نه مخکښې یو پېغمبر ته هم نهٔ دې ورکړے شوي،یو سوره الفاتحه دویم د سوره بقره آخري آیاتونه۔ (صحیح مسلم)

## د مشقونو جوابونه

### ځان پوهه کړئ او حل ئې کړئ:

سوال۱ : خالي ځایونه ډک کړئ:

۱۔د ټولو ____________حقدار الله تعالیٰ دے۔ (تعریفونو)

۲۔مونږ هر وخت ____________محتاج یو۔ (هدایت)

۳۔د قیامت ورځ ________________ او د سزا ورځ ده۔ (جزا)

۴۔د الله تعالیٰ د انعام کونکو بندګانو تابعداري نهٔ کونکي ________________کېږي۔ (ګمراه)

۵۔ د سورت الفاتحه د تلاوت په آخر کښې ________________وئیل پکار دي۔ (امین)

**سوال ۲: د لاندې سوالونو جوابونه ورکړئ:**

**۱۔ الله تعالی د ټولو تعریفونو حقدار ولې دے؟**

**۱۔ ولې چې هغه د ټولو جهانونو رب او زمونږ پیدا کونکے، مالک او حقیقي احسان کونکے دے۔**


**۲۔ د حدیث شریف مطابق د صراط مستقیم نه څهٔ مراد دے؟**

"قرآن حکیم سیدها لاره ده" (جامع ترمذي) د عائشه صدیقه رضي الله عنها وینا ده چې د الله تعالی د رسول اخلاق خو قرآن ؤ (مسند احمد) ګویا قرآن حکیم او د نبي کریمﷺ اتباع صراط مستقیم ده۔


**۳۔ الله تعالی چې پرې انعام کړے هغه بندګان څوک دي؟**

د الله تعالی انعام یافته بندګان انبیاء کرام، رښتیا ویونکي، شهیدان او نیکان دي۔ سوره النساء ۴، آیت ۶۹)

سوال۳: لاندې ورکړے شوي اولني کالم الفاظ د دویم کالم د متعلق الفاظو سره میلاو کړئ او یو شان رنګ ورکړئ۔



**سوال نمبر۴: د "علم او عمل" د خبرو پهٔ مرسته سره د الله تعالیٰ صفات ولیکئ:**




**عملي سرگرمي:**

۱ ـ یو چارټ جوړ کړئ او د مهمو لفظونو وضاحت پرې ولیکئ ـ

مثلاً: حمد ، رب، رحمٰن، رحیم، عبادت، هدایت، وغیره ـ

**مهم نوټ:** د هر سبق پهٔ اخر کښې د ورکړے شوي سرخط "معلوم کړئ" لاندې د ورکړے شوو لفظونو وضاحت د اٰیاتونو پهٔ تشریحاتو کښې موجود دے ـ استاذان دې د دغهٔ د جوابونو لپاره د"رهنمائے اساتذه" نه فائده واخلي ـ د دغه لفظونو تشریح او وضاحت پهٔ "رهنمائے اساتذه" کښې د ورکړے شوو نکتو پورې محدود وساتئ چې الحمدلله د ډېرو مشهورو تفسیرونو نه اخستل شوي دي ـ

## سُوْرَةُ الْفِيْل

**د ښودلو طریقه:**

سبق نمبر۱: "د هاتي والوو قصه" په عام فهمه او د قیصې په انداز کښې د درسي کتاب نه ولولئ.

سوال نمبر۲: د دې سورت شان نزول، تعریف، قرانی متن او ترجمه د درسي کتاب نه ولولئ.

سبق نمبر۳: (i) د "علم او عمل خبرې" په وضاحت سره زده کوونکو ته وښايې او د مذاکرې په مرسته ئې د زده کوونکيو ذهن ته کوزې کړئ.

(ii) "ځان پوهه کړئ او حل ئې کړئ" زده کونکيو ته د کور د کار (Home Work) په طور باندې ورکړئ چې د زده کونکيو د قرآن د پوهې اندازه ترې وشي او وروستو ئې په کلاس کښې په خپله حل کړي. د تشریحي نکاتو نه وروستو د ورکړے شوو مشقونو د جوابونو نه فائده اخستل کېدے شي.

(iii) د کور د کار د پاره د زده کونکيو کور والا پابند کړئ. (په کلاس کښې د نورو سرګرمیانو کولو د پاره د مشقونو د جوابونو ورکولو نه وروستو د عملي سرګرمۍ نه هم استفاده کېدے شي.

**د مطالعې مقصدونه:**

د دې سورت په پايې کښې به زده کونکي د دې جوګه وي چې هغوي به په دې پوهېږي چې:

۱. د خانه کعبې مقام او مرتبه څۀ ده؟ ۲. ابرهه څوک ؤ او د هغۀ مقصدونه څۀ وو؟

۳. الله د خپل کور حفاظت څنګه وکړو؟ ۴. د هاتي د واقعې عملي اړخ کوم يو دے؟

**د سورت تړون:** د سورت الفیل نه مخکښې سورت الهمزه دے. په سورت الهمزه کښې په اخرت کښې ظالمانو ته د سزا ذکر دے. په سورت الفیل کښې دا ذکر دے چې د الله تعالی د طرف نه ظالمانو ته صرف په آخرت کښې نۀ، بلکې څۀ خلقو ته په دنیا کښې هم سزا ملاوېږي چې د هغې مثال په سورت الفیل کښې بیان شوے دے.

# آیت پهٔ آیت تشریحي نکتې

**آیت نمبر۱** - د هاتي د خاوندانو نه څوک مراد دي؟ ۱. جواب: ابرهه او د هغهٔ فوځ، پهٔ کوم کښې چې څو هاتیان هم شامل وو - ۲ - ابرهه څوک ؤ؟ ۲ - ابرهه د حبشې د بادشاه د اړخه د یمن ګورنر ؤ -

۳ - دا واقعه کله شوې ده؟ ۳ - دا واقعه د نبي علیه السلام د زېږون پهٔ کال، یعنې د نبي علیه السلام د زېږونه نه تقریباً پنځوس ورځې مخکښې شوې ده - ۴ - ابرهه خانه کعبه ولې ورانول غوښتل؟ ۴ - ابرهه پهٔ صنعاء (یمن) کښې د عیسایانو یوه لویه ګرجه (د عبادت ځائے) جوړ کړو او کوشش ئې دا ؤ چې خلق د خانه کعبې پهٔ ځائے دلته عبادت له راځي - دا خبره د مکې والوو او نورو عربو قبیلو د پاره سخته د ناخوښئ وړ وه - نو پهٔ دغه اساس یو کس دغه ګرجا ګنده کړه چې پهٔ هغهٔ باندې ابرهه د خانه کعبې د ورانولو اراده وکړه او یو لښکر ئې د ځان سره واخستلو او پهٔ خانه کعبه ئې حمله وکړه، پهٔ کوم کښې چې د هغهٔ سره څهٔ هاتیان هم وو -

**آیت نمبر۲**: ۱ - د هاتي د خاوندانو د "چال" نه څهٔ مراد دے؟۱. د خانه کعبې د ورانولو اراده (معاذالله)

۲ - د ابرهه نور څهٔ مقصدونه وو؟ ۲ - د هغهٔ مقصدونه د مذهبي فائدې وصولول نهٔ وو، بلکې هغه ټولې تجارتي، معاشي، ټولنیزې او سیاسي فائدې حاصلول ئې غوښتل چې د خانه کعبې پهٔ وجه د مکې قرېشو ته حاصلې وې - ۳ - د هاتي د خاوندانو پټ چال څهٔ ؤ؟ ۳ - د هغوي پټ چال دا ؤ چې خانه کعبه ورانه کړي، قرېش وچقوي، عرب وېروي او هغه ټولې تجارتي لارې د عربو نه واخلي چې د جنوبي عرب نه د شام او مصر پهٔ لور تلې وې - دغه غرض هغوي پټ کړے ؤ او بهانه ئې دا وه چې د هغوي د ګرجې بې حرمتي عربو کړې ده او د هغې بدله هغه د هغوي د عبادت خانې پهٔ ورانولو باندې اخستل غواړي (معاذالله) -

**عملي اړخ**: د هاتیانو د خاوندانو پهٔ چال ناکامولو کښې د پېریانو، ښاپېرو یا دېوانو هېڅ لاس نهٔ ؤ، بلکې دا صرف د الله د قدرت کرشمه وه چې پهٔ دوي د عذاب پهٔ صورت کښې ظاهره شوه - قرېشو هم چې د جناب عبدالمطلب سره د خانه کعبې پهٔ دروازه کښې کومه دعا غوښتلې وه، نو هغه ئې هم د الله تعالی نه غوښتلې وه، د بتانو نه ئې نهٔ وه غوښتلې - دا د دې خبرې ثبوت دے چې د الله یو والے حق دے، د کوم دعوت چې نبي علیه السلام ورکوي او بت پرستي بالکل باطله ده، پهٔ کوم کښې چې د مکې مشرکان مبتلا دي -

**آیت نمبر۳**: ۱ - د "ابابیل" نه څهٔ مراد دے؟

۱ ـ دا د مرغۍ نوم نۀ دے، بلکې د دې نه مراد سېلونه سېلونه دي يعني پۀ ګڼ تعداد کښې د هاتيانو پۀ مقابله کښې د مرغو لښکر دے ـ

**اٰيت نمبر ۴:** ۱ ـ الله تعالٰي مرغۍ ولې راولېږلې؟ ۱ ـ کله چې د ابراهه لښکر "وادي محسر" ته راورسېدو، نو الله تعالٰي د مرغو لښکر راولېږلو چې د ابراهه لښکر هلاک کړي ـ د دغه مرغو سره پۀ مښوکو او پنجو کښې د چڼې يا مسورو د دانو هومره کاڼي وو ـ

۲ ـ د هاتيانو د خاوندانو څۀ انجام شو؟ ۲ ـ کوم سړے به چې هم پۀ دغه کاڼو لګېدلو، نو هغه به ولي کېدو او غوښه به ئې راغونډېدله او پۀ اخر کښې به مړ کېدلو ـ دغه وړوکو وړوکو کاڼو د توپ او ټوپک د ګولو نه زيات نقصان وکړو ـ د ابراهه پۀ خپله هم صنعا ته پۀ رسېدلو دغه انجام شو ـ پۀ ابراهه الله تعالٰي داسې افت رانازل کړو چې د ګوتو پوستکي ئې يو ځاے شول او صنعا ته پۀ رسېدلو ئې حالت انتهائي خراب شو او سينه ئې وشلېدله، زړۀ ئې بهر راووتلو او مړ شو او دغسې الله تعالٰي د خپل کور ساتنه وکړه ـ

۳ ـ "سجيل" څۀ ته وائي؟ ۳ ـ د خاورې هغه وړوکي وړوکي کاڼي چې پۀ نمر کښې پخ شوي او سخت شوي وي ـ يعنې هغه نوک دار کاڼي چې پۀ هغۀ کښې د خاورې ګډون هم وي ـ

**اٰيت نمبر ۴:** ۱ ـ د خوړلو شوو بوسو نه څۀ مراد دے؟

۱ ـ يعنې د هغوي د بدن اندامونه داسې خوارۀ وارۀ شول، لکه خوړلي شوي بوس ـ

**عملي اړخ:** د ظالمانو او بدبختو خلقو هم دغه انجام وي چې د الله نه بغاوت وکړي او د بندګۍ د حدودو نه ووځي او د الله مخې ته ودرېږي ـ د دې نه دا هم واضح شوه چې د الله لښکرې د هغه واحد او يو ذات نه بغېر ئې بل څوک نۀ پېژني چې هغه د کوم نه څۀ کار اخلي ـ اګر چې پۀ ظاهري طور باندې کمزوري پۀ نظر راځي، څنګه چې ئې پۀ وړو وړو مرغو باندې د وړو وړو کاڼو پۀ ذريعه د طاقتورو هاتيانو لښکر تباه او برباد کړو ـ بنده له پکار ده چې همېشه بنده اوسي او پۀ هر حال کښې پۀ هر طور د خپل حقيقي خالق او مالک پۀ حضور کښې سر ښکته کړي ـ

**علمي خبره:** د الله تعالٰي د اړخه واضحه شوه چې خانه کعبه د الله کور دے او هغۀ ئې حفاظت وکړو ـ دغسې نبي کريم ﷺ د الله تعالٰي رسول دے او هغه به ئې حفاظت کوي او کاميابي به ورکوي ـ

# د مشقونو جوابونه

## ځان پوهه کړئ او حل ئې کړئ:

سوال ۱: د کالم "الف" هره جمله د کالم "ب" د صحیح جملې سره د کرښې په مرسته میلاو کړئ.

| الف | ب |
|---|---|
| د هاتي د خاوندانو نه مراد | د نبي علیه السلام د پېدائش کال |
| الله تعالې د هاتیانو په خاوندانو | د هاتیانو خاوندان د خوړلو شوو بوسو په شان شو |
| مرغو د هاتیانو په خاوندانو | هاتیانو والا |
| د کاڼو په باران | د مرغو لښکرې راولېږلې |
| د هاتي کال | د خاورې کاڼي ئې پرې راوغورځول |

سوال۲: د لاندینو لفظونو په مرسته خالي ځایونه ډک کړئ:

آدم □، یمن، ګرجاګر، قریش، نبي کریم□، ابرهه، صنعا، ۵۰، عبادت، سردار

1) د هاتي والو واقعه_______د زېږون مبارک نه______ورځې مخکښې پېښه شوه. (نبي کریم□، ۵۰)
2) په خانه کعبه. . . . . . حمله وکړه چې . . . . . . . . ګورنر ؤ. (ابراهه، یمن)
3) عیسائي ګورنر ابرهه. . . . . . کښې یوه ښائسته. . . . . . . جوړه کړه. (صنعا، ګرجاګر)
4) خانه کعبه. . . . . . . د زمانې نه د . . . . . او عزت و احترام مرکز پاتې شوے دے. (آدم□، عبادت)
5) جناب عبدالمطلب. . . . . . د ټولو نه لوے . . . . . . . ؤ. (قریش، سردار)

سوال۳: پهٔ لاندینو جملو د صحیح (✓) یا غلط (X) نښان ولګوئ:

| شمېره | جملې | صحیح | غلط |
|---|---|---|---|
| ۱ | د ګرجاګر پهٔ جوړولو مکې والا او نور عرب قبائل خوشحاله وو | | x |
| ۲ | د عربو یو سړي د ابراهه پهٔ ګرجا کښې ګندګي وکړه | ✓ | |
| ۳ | د جناب عبدالمطلب پهٔ لیدلو ابراهه ډېر زیات غصه شو | | x |
| ۴ | ابرهه یو لوے فوځ جمع کړو، پهٔ کوم کښې چې هاتیان هم وو | ✓ | |
| ۵ | د ابراهه لښکر د وادي محسر نه مخکښې لا نهٔ ړو. | ✓ | |


سوال۴: د سورت الفیل متعلق لاندینې لفظونه پهٔ ورکړے شوو خانو کښې ولیکئ:

(د شاهینو لښکر، د وادي محسر نه مخکښې نهٔ تلل، د هاتي د خاوندانو هلاکت، د اوښانو لښکر، د یمن ګورنر ابراهه، د ګرجا ګر جوړښت، زلزله او باران، د جناب عبدالمطلب دعا، پهٔ وادي طوي کښې پړاو، د خانه کعبې د ورانولو اراده، د وړو وړو مرغو راتګ، پهٔ کاڼو ویشتل)

د ګرجاګر جوړښت

د خانه کعبې د ورانولو اراده

د یمن ګورنر ابرهه



د وادي محسر نه مخکښې نهٔ تلل

دعبدالمطلب دعا

د هاتي د خاوندانو هلاکت

پهٔ کاڼو ویشتل

د وړو وړو مرغو راتګ

**سوال ۵: د لاندینو سوالونو جوابونه ورکړئ :**

۱ ـ د هاتي خاوندان مکې مکرمې ته ځله راغلي وو ؟

جواب: د هاتي خاوندان مکې مکرمې ته (معاذالله) د خانه کعبې ورانولو له راغلي وو ـ

۲ ـ د هاتي د اوچتولو پۀ کوشش باندې څۀ واقعه مخې ته راتله؟

جواب: د هاتي د اوچتولو ډېر کوشش وشو، مګر مخکښې نۀ تللو، خو کله به چې د مکې نه د هغۀ مخ بل طرفته واړول شو، نو پۀ تېزئ سره به ئې منډه شروع کړه ـ

۳ ـ د هاتي والوو د قیصې نه مونږ ته څۀ سبق ملاوېږي؟ یوه خبره ئې ولیکئ ـ

جواب: د دې نه مونږ ته دا سبق ملاوېږي چې څنګه الله تعالیٰ پۀ دغه موقعه د خپل کور حفاظت وکړو، دغسې به ائنده هم د خپل کور حفاظت کوي ـ

۴ ـ ابرهه ګرجاګر ولې جوړ کړو ؟

جواب: ابرهه ګرجاګر ځکه جوړ کړو چې خلق د خانه کعبې پۀ ځائے د هغۀ ګرجاګر له عبادت له راشي ـ

۵ ـ جناب عبدالمطلب د خانه کعبې د کنډې نیولو سره څۀ دعا وکړه؟

جواب: " اے الله د خپل کور حفاظت وکړه ـ د ابرهه او د هغۀ د لښکر نه خپل معزز کور بچ وساته" ـ

**عملي سرګرمي:**

۱ ـ د خانه کعبې تصویر جوړول ـ

۲ ـ د خانه کعبې نوي او زاړۀ تصویران جمع کول ـ

۳ ـ د نوي پراخوالي ویډیو ښودل ـ

۴ ـ د نقشې پۀ ذریعه د مکې او کعبې نشاندهي کول ـ

۵ ـ د خانه کعبې پۀ عظمت او خصوصیاتو فهرست جوړول ـ

## د لاربنودنې څو نکتې:

۱ - پهٔ زمکه د الله تعالیٰ ورومبے کور - ۲ - د اٰدم علیه السلام د زمانې نه شتون لرل - ۳ - د پېغمبرانو د پلار ابراهیم علیه السلام او د هغهٔ د زوے اسماعیل علیه السلام لهٔ اړخه د خانه کعبې پهٔ زړو بنیادونو جوړېدل - ۴ - مقام ابراهیم علیه السلام د مونځ ځاے جوړول - ۵ - د حج او عمرې مرکز یعنې طواف - ۶ - د نبي کریم صلی الله علیه وسلم د اعلان او اظهار نبوت نه وړاندې د ټولو عربو قبائلو بتان ساتل - ۷ - د مشرکینو لهٔ اړخه هم د کعبې عزت او احترام کول - ۸ - د عرب قبائلو د تجارت لویه ذریعه - ۹ - د کعبې پهٔ وجه د مکې پهٔ ټول عرب کښې د مرکز مقام یعنې "د کلو د مور" درجه حاصلول - ۱۰ - د جنتي ګټې حجر اسود لګول - ۱۱ - هر کال پهٔ انتهائي قیمتي غلاف ښکلې کول - ۱۲ - د نبي علیه السلام خاندان قریش (بنو هاشم) خادمان یعنې ساتونکي جوړېدل - ۱۳ - قریشو ته د خانه کعبې د انتظام پهٔ وجه پهٔ ټولو عربو کښې اهم مقام ملاوېدل -

۱۴ - د خانه کعبې مختلف نومونه مثلاً بیت الله، بکه، بیت العتیق وغیره -

## سُوْرَةُ قُرَيْش

### د ښودلو طریقه:

سبق نمبر۱: د دې سورت شان نزول، تعریف او قرانٓي متن د درسي کتاب نه ولولئ.

سوال نمبر۲: (i) د "علم او عمل خبرې" پۀ وضاحت سره زده کونکیو ته ښودل او د مذاکرې پۀ ذریعه ذهن ته کوزول.

(i)"ځان پوهه کړئ او حل ئې کړئ" زده کونکو ته د کور د کار (Home Work) پۀ طور ورکړئ چې د هغوي د قرانٓ فهمۍ اندازه ولګي او وروستو ئې پۀ کلاس کښې حل کړي. (د تشریحي نکتو نه وروستو د ورکړے شوو "مشقونو د جوابونو" نه استفاده کېدے شي)

(iii) د کور د سرګرمۍ د پاره د زده کونکیو د کور والا پابند جوړ کړئ. (پۀ کلاس کښې د نورو سرګرمیانو کولو لپاره د "مشقونو د جوابونو" نه وروستو د "عملي سرګرمۍ" نه هم استفاده پورته کېدے شي.

### د مطالعې مقصدونه:

دد ې سورت پۀ ختمېدو سره به زده کونکي دد ې جوګه شي چې هغوي ته به پته وي چې:

۱. قرېش څوک وو؟ ۲. د مکې پۀ قرېشو د الله تعالیٰ څۀ انعامات او فضلیتونه دي؟

۳. د عبادت وسیع مفهوم څۀ دے؟ ۴. د الله تعالیٰ عبادت ولې ضروري دے؟

۵. الله تعالیٰ د مکې قرېشو ته دا اعزازات ولې ورکړل؟

# اٰيت پۀ اٰيت تشريحي نکتې

**اٰيت نمبر ۱:** ۱ ـ قرېش څوک وو؟

۱ ـ دا د عربو يوه معززه قبيله وه ـ د نبي عليه السلام تعلق هم د دې قبيلې سره ؤ ـ

**علمي خبره:** قرېش پۀ عربو قبيلو کښې تر ټولو معززه قبيله وه، د کوم مشر چې جناب عبدالمطلب ؤ ـ د قرېشو يو ښاخ د بنو هاشم پۀ نوم ؤ ـ دا خاندان ډېر د احترام لائق ګڼل شو ـ د جناب عبدالمطلب د زوے عبدالله پۀ کور کښې د الله اخري رسول محمد مصطفٰي احمد مجتبٰيﷺ پېدا شو ـ د نبي عليه السلام خاندان ته د بيت الله د انتظام او حاجيانو د خدمت اعزاز حاصل ؤ ـ پۀ دې اساس د نبي عليه السلام خاندان د اهل مکې نمائنده خاندان ګڼل شو ـ پۀ دغه اٰساس پۀ دې سورت کښې قرېش مخاطب شوي دي، پۀ کوم کښې چې ټول عرب هم شامل دي ـ

**علمي خبره:** پۀ ټولو عربو قبيلو کښې قرېش او پۀ هغوي کښې بنو هاشم د الله تعالٰي پۀ نزد زيات مقبول دي، ځکه چې نبي کريم□ د دې خاندان نه دے ـ

فرمان نبي کريم□: الله تعالٰي د اسماعيل عليه السلام پۀ اولاد کښې کنانه او پۀ کنانه کښې قرېش او پۀ قرېش کښې بنو هاشم او پۀ بنو هاشم کښې زۀ (محمد رسول□) منتخب کړے يم" (صحيح مسلم)

**اٰيت نمبر ۲:** ۱ ـ قرېشو له الله تعالٰي د څۀ څيز سره محبت پېدا کړے ؤ؟ ۱ـ د يخنۍ او ګرمۍ د سفر سره ـ

۲ ـ د يخنۍ او ګرمۍ د سفر د محبت نه څۀ مراد دے؟ ۲ ـ يعني الله تعالٰي د قرېشو مينه پۀ کال کښې د دوه سفرونو سره پېدا کړې وه ـ هغوي ته به دا سفرونه څۀ بوج نۀ محسوسېدل او نۀ به ورته پکښې څۀ قسم رکاوټ ؤ ـ

۳ ـ قرېش به پۀ ګرمۍ او يخنۍ کښې کوم ځاے ته پۀ تجارتي سفرونو تلل؟

۳ ـ پۀ ګرمۍ کښې به هغوي د شام او فلسطين اړخ ته تلل او پۀ يخنۍ کښې به د هغوي قافله يمن اړخ ته تلله ـ د کال پۀ دغه دوه سفرونو کښې به هغوي ته دومره ګټه حاصلېده چې باقي ټول کال به پۀ کور ناست وو او هغه ګټه به ئې خوړله، خو بيا هم هغه د ګټې مال نۀ ختمېدو او ډېر څۀ به ورسره باقي پاتې وو ـ پۀ دې طريقه هغوي ډېر خوشحال او مالدار جوړ شول ـ د دې دوه موسمونو د سفرونو سره د دوي بې حده مينه او محبت ؤ ـ

**۴ـ قریش به د تجارتي سفر د پاره خاص یمن او شام ته ولې تلل؟**

**۴ـ تجارتي سفر به په یخنۍ کښې د یمن او په ګرمۍ کښې د شام اړخ ته ؤ، ځکه چې یمن د مکې په نسبت ګرم ؤ او شام د مکې په نسبت یخ ؤ ـ**

**۵ـ الله تعالیٰ په قریشو باندې په دې سفرونو کښې څۀ احسانات او کرم کړے ؤ؟**

**۵ـ د الله تعالیٰ د اړخه دوي ته په دې سفرونو کښې د ګټې سره سره امن هم حاصل ؤ ـ د کومو قبائلو په سیمو چې به دوي تېرېدل، هغوي به ئې احترام کولو ـ په هر ځائے کښې به دوي ته خلقو" اهل حرم" وئیل او دغسې به دوي د مکې مکرمې په وجه بغېر د کومې وېرې ترهې سفر کولو ـ**

**علمي خبره**: مکه مکرمه یوه خوشې دشته وه ـ د ژوند تېرولو لپاره د مکې د قریشو سره هېڅ ځیز نۀ ؤ ـ د تجارت د پاره به دا خلق شام او یمن ته تلل ـ

**آیت نمبر۳**:

۱ـ الله تعالیٰ د قریشو نه څۀ مطالبه وکړه؟ ۱ـ د الله تعالیٰ د عبادت کولو ـ

**علمي خبره**: د الله تعالیٰ د احساناتو بدله دا پکار وه چې د عربو فقط د یو رب عبادت کولے او نبي اخر زمان ئې ایمان راوړے وے او د نبي علیه السلام د حق دعوت ئې قبول کړے وے او د هغۀ مدد ئې کړے وے، خو هغوي د الله تعالیٰ د عبادت او د نبي کریم د اطاعت او هغۀ د حق دعوت قبلولو په ځائے د الله تعالیٰ په کور کښې درې سوه او شپېتۀ بتان ایښودي وو او د الله تعالیٰ د خاص عبادت په ځائے ئې دغه بتان د هغۀ سره شریک جوړ کړي وو ـ

۲ـ عبادت څۀ ته وائي؟ ۲ـ په شرعي اصطلاح کښې د عبادت مفهوم دے، د معبود مخې ته انتهائي عاجزي اختیارول او د هغۀ انتهائي تعظیم او احترام کول ـ

**عملي اړخ**: مونږ له د ژوند په هره لمحه کښې د الله تعالیٰ په حکم او د نبي کریم په طریقه عمل کول پکار دي، هغه کۀ عبادات یعني مونځ، روژه، زکوات او حج وي یا د بندګانو حقونه وي، لکه د مور پلار، بچو یا ورور، خور حق وي یا د هغوي خوشحالي، غم وي، د مثال په توګه کۀ وادۀ وي، مړے وي یا د هغوي سره معاشي او کاروباري معاملات وي، مونږ له په کښې د الله تعالیٰ حکم او د نبي کریم طریقه هېرول نۀ دي پکار ـ

**۳ـ د رب نه څۀ مراد دے؟ ۳ـ رب هغه دے چې څۀ ځیز د کمال درجې ته ورسوي ـ**

**۴۔ حقيقي رب څوک دے؟** **۴۔** حقيقي رب الله تعالٰي دے چې د ټولو مخلوقاتو ټول حاجتونه او ضرورتونه پوره کوي۔ **۵۔ بيت الله څۀ څيز دے؟** **۵۔** د الله کور، يعني خانه کعبه۔ دا وړومبۍ عبادت خانه ده چې د خلقو لپاره جوړه شوې ده۔ (سورت آل عمران۳، آيت نمبر۹۲)

**آيت نمبر۴:** **۱۔ د الله تعالٰي د کومو دوه احساناتو ذکر شوے دے؟** **۱۔** پۀ لوږه کښې رزق ورکول او د وېرې نه امن ورکول۔ **۲۔ د الله تعالٰي د دغه خصوصي احساناتو ذکر د چا پۀ حقله شوے دے؟**

**۲۔** هسې خو پۀ ټولو خلقو الله تعالٰي دغه احسانات کړي دي، خو دلته ئې پۀ خاصه توګه قرېش مخاطب کړي دي چې کله د حرم شريف ګېر چاپېر د غلا او ډاکې بازار ګرم ؤ او قافلې به لوټ کېدلې، نو د کعبې د ادب او احترام پۀ وجه به پۀ قرېشو کوم ډاکو يا غل لاس نۀ شو اوچتولے۔ دلته الله تعالٰي د خپل دغه خصوصي انعام ذکر کړے دے چې د کعبې مالک تاسو له روزي او امن درکړے دے۔

**عملي اړخ:** الله تعالٰي زمونږ رب، رازق او ساتونکے دے۔ هغۀ مونږ له بې شمېره نعمتونه راکړي دي، لهٰذا مونږ له صرف د هغۀ عبادت کول پکار دي۔

## د مشقونو جوابونه

### ځان پوهه کړئ او حل ئې کړئ:

سوال ۱: د کالم (الف) هر جمله د کالم (ب) د صحيح جملې سره د کرښې پۀ مرسته ملاو کړئ:

| الف | ب |
|---|---|
| د قرېشو خلق | بنو هاشم ؤ |
| د نبي کريم ﷺ | د تجارتي سفر سره محبت پېدا کړے ؤ |
| قرېش به پۀ ګرمۍ او يخنۍ کښې | پۀ مکه مکرمه کښې آباد وو |
| د قبيله قرېش يو ښاخ | د تجارت لپاره سفر کولو |
| الله تعالٰي قرېشو لره | د قبيله قرېش سره ؤ۔ |

## سوال ۲: خالي ځايونه ډک کړئ.

1) قرېشو ته د ..........د انتظاماتو پهٔ وجه عزت حاصل ؤ. (بېت الله)
2) قرېش د ............د اولاد نه وو. ( اسماعيل)
3) د قرېشو قافلې به ............نه محفوظې وې. (د لوټ مار)
4) قرېش به د يخنۍ پهٔ موسم کښې...........ته تلل. (يمن)
5) قرېش به د ګرمۍ پهٔ موسم کښې...........ته تلل. (شام)

## سوال ۳: د لاندينو سوالونو جوابونه ورکړئ.

۱. پهٔ قرېشو د الله تعالي د اړخه دوه انعامات وليکئ؟

جواب: الله تعالٰي هغوي لره پهٔ لوږه کښې رزق ورکړے ؤ او د وېرې نه ئې امن ورکړے ؤ.

۲. د عربو خلقو به د قرېش قبيلې ولې عزت کولو؟

جواب: قرېش د اسماعيل د اولاد نه وو او د بېت الله د انتظاماتو ذمه داري د هغوي وه، پهٔ دغه اساس دوي ته پهٔ ټولو عربو کښې عزت حاصل ؤ.

۳. الله تعالٰي قرېشو ته څهٔ حکم کړے ؤ؟

جواب: الله تعالٰي هغوي ته پهٔ نعمتونو د شکر، د شرک نه د ځان ساتلو او د خپل عبادت حکم کړے ؤ.

## عملي سرګرمي:

۱. پهٔ زده کونکيو د نبي د شجره نسب ښکلے چارټ جوړ کړئ.

۲. پهٔ زده کونکيو د سفر د ضروري سامان فهرست تيار کړئ.

۳. پهٔ زده کونکيو د ګرمو او يخو علاقو خصوصيات وليکئ.

۴. زده کونکيو ته د عبادت د وسيع مفهوم ښودلو لپاره پهٔ يو چارټ د عبادت مختلف صورتونه وليکئ.

## سُوْرَةُ الْمَاعُوْن

### د ښودلو طریقه:

سبق نمبر۱: د دې سورت شان نزول، تعریف او قرانې متن د درسي کتاب نه ولولئ.

سوال نمبر۲: (i) د "علم او عمل خبرې" په وضاحت سره زده کونکیو ته ښودل او د مذاکرې په ذریعه ذهن ته کوزول.

(i)"ځان پوهه کړئ او حل ئې کړئ" زده کونکو ته د کور د کار (Home Work) په طور ورکړئ چې د هغوي د قرآن فهمۍ اندازه ولګي او وروستو ئې په کلاس کښې حل کړي. (د تشریحي نکتو نه وروستو د ورکړے شوو "مشقونو د جوابونو" نه استفاده کېدے شي)

(iii) د کور د سرګرمۍ د پاره د زده کونکیو د کور والا پابند جوړ کړئ. (په کلاس کښې د نورو سرګرمیانو کولو لپاره د "مشقونو د جوابونو" نه وروستو د "عملي سرګرمۍ" نه هم استفاده پورته کېدے شي.

### د مطالعې مقصدونه:

د دې سورت په ختمېدو به زده کونکي د دې جوګه وي چې هغوي ته پته وي:

۱. د بدلې اخستو د ورځې څۀ مطلب دے؟ ۲. د بدلې د ورځې د دروغ ګڼلو نه څۀ مراد دے؟

۳. په اخرت د یقین نۀ کولو سره د انسان په کردار څۀ اثرات پرېوځي؟ ۴. د حقوق العباد ادائیګي ولې ضروري ده؟ ۵. په خصوصي توګه د یتیماتو او مسکینانو حقونه څومره مهم دي؟

۶. د مونځ په دین کښې څۀ اهمیت دے؟ ۷. په مونځ کښې د سستۍ کولو کوم کوم صورتونه دي؟ ۸. په مونځ کښې د سستۍ کولو څۀ دهرکې دي؟ ۹. ریاکاري څۀ شے ده؟ ۱۰. په روزمره ژوند کښې د یو بل مرسته نۀ کول د کومو خلقو نخښه ده؟ ۱۱. د ریاکارۍ سره څۀ نقصان کېږي؟

۱۲. بخل څۀ څیز دے؟ ۱۳. د ژوند روزمره څیزونه یو بل له ورکولو سره په ټولنه څۀ اثرات کېږي؟

**د سورت تړون:** پۀ سورت قرېش کښې الله تعالٰي قرېشو ته د عبادت تلقين کړے دے۔ پۀ سورت الماعون کښې وئيلي شوي دي چې کۀ پۀ اٰخرت باندې ايمان نۀ وي، نو خلق پۀ ناشکرئ، کفر، شرک او نورو ګناهونو کښې اخته کېږي۔

## اٰيت پۀ اٰيت تشريحي نکتې

**اٰيت نمبر ۱:** پۀ دې اٰيت کښې د کوم کردار ذکر دے؟ ۱ ۔ هر هغه سړے چې سزا او جزا دورغ ګڼي، مثلاً کفار او منافقين، يعني د اخرت نه پۀ منکرو خلقو کښې چې کومې اخلاقي او عملي خرابيانې زېږېږي، د هغې عکس د هغوي پۀ کردار کښې ښکاري۔ ۲ ۔ پۀ دې اٰيت کښې د دروغ ګڼلو نه څۀ مراد دے؟

۲ ۔ دغسې سړے پۀ قيامت يقين نۀ ساتي چې ګنه د دۀ د اعمالو بدله به دۀ ته پۀ قيامت کښې ملاو شي۔ هغه سړے چې يتيم له ديکې ورکوي او يا مسکينانو له د رزق ورکول ترغيب نۀ ورکوي، هغوي عقيدتاً د قيامت نه منکر دي۔

**عملي اړخ:** مونږ له هم د خپلو اعمالو جائزه اخستل پکار دي او د قيامت د ورځ د جواب لپاره ځان تيارول پکار دي۔

**اٰيت نمبر ۲:** ۱ ۔يتيم څۀ ته وائي؟ ۱ ۔ هغه نابالغ ماشوم چې پلار ئې مړ شي۔

۲ ۔ يتيم له د ديکې ورکولو نه څۀ مراد دے؟ ۲ ۔ يتيم له د ديکې ورکولو پۀ مفهوم کښې د هغۀ مال خوړل، د حق وهل، هغه تنګول، د هغۀ سپکاوے او تذليل کول او هغۀ له ديکې ورکول او د خپلې دروازې نه شړل شامل دي۔ مطلب د يتيمانو د حقونو خيال نۀ ساتل۔

**د نبي فرمان:** "زۀ او د يتيم کفالت کونکے به پۀ جنت کښې داسې يوځاے ئې وو او نبي کريم د شهادت والا او مېنځنئ ګوتې سره اشاره وکړه او د دې پۀ مېنځ کښې ئې لږه فاصله وساتله۔ (صحيح بخاري)

**د نبي فرمان:** "د مسلمانانو پۀ کورونو کښې تر ټولو بهترين کور هغه دے چې پۀ هغۀ کښې د يتيم سره ښۀ سلوک کېږي" (صحيح بخاري)

**اٰيت نمبر ۳:** ۱ ۔"مسکين" څۀ ته وائي؟ ۱ ۔ مسکين هغه دے چې د هغۀ سره د ژوند تېرولو روزي نۀ وي۔

**عملي اړخ:** اسلام پۀ خپلو پېروکارو کښې د همدردئ داسې جذبه پېدا کول غواړي چې د هغۀ دائره اثر د ټول انسانيت لپاره وي او چې د هغې پۀ بنياد د هر مستحق مرسته کېږي۔ پۀ دې اساس مونږ له هم د

يتيمانو او مسکينانو سره ښۀ سلوک پکار دے۔ د هغوي د خوراک څښکاک او نورو ضرورتونو پوره پوره خيال ساتل پکار دي۔

**د نبي فرمان:** "هغه سړے مؤمن نۀ شي کېدے چې پۀ خپله پۀ مړه ګېډه رزق وخوري خو د هغۀ ګاونډي وږے وي" (بهيقي)

**اٰيت نمبر۴:** ۱۔چا ته د هلاکت خبر ورکړے شوے دے؟ ۱ ۔ منافق مونځ ګزار ته، د کوم د مونځ کېفيت چې پۀ راروان اٰيت کښې بيان شوے دے۔ د قراٰن پاک د نورو اٰياتونو او حديث مبارکه نه دا مفهوم واضح کېږي۔

**علمي خبره:** د الله تعالٰي ارشاد دے: "کله چې هغه (منافق) د مونځ د پاره ودرېږي، نو سست ودرېږي، خلقو ته ځان ښائي او الله ډېر کم يادوي" (سورت النساء ۴، اٰيت: ۱۴۲)

**د نبي فرمان:** رسول الله فرمائيلي دي چې: "د منافق مونځ داسې وي چې ناست وي، نمر ته ګوري، کله چې هغه د شېطان د دواړو ښکرونو تر منځ شي، نو دا ودرېږي او د مازيګر د مونځ لپاره څلور ټونګې ووهي او پۀ مونځ کښې الله ډېر کم يادوي" (صحيح مسلم)

۳۔ د "ويل" نه څۀ مراد دے؟ ۳: "ويل" د جهنم يوه ژوره وادي ده، پۀ کوم کښې چې به کافران اچول شي او د هغۀ ويخ ته پۀ رسېدلو کښې به اويا کلونه لګي۔ امام ترمذيؒ ذکر شوے حديث داسې بيان کړے دے چې دا وادي د دوه غرونو تر منځ ده او دې ته پۀ رسېدلو کښې اويا کلونه لګي۔

**اٰيت نمبر۵:** ۱ ۔ د مونځ نه غفلت کول څۀ مراد دے؟ ۱ ۔ کله مونځ کول او کله نۀ کول۔

**علمي خبره:** "ساهون" يعني د غفلت مفسرينو څلور مفهومونه بيان کړي دي:

۱ ۔ مونځ کول، مګر پۀ اکثر وختونو کښې د مونځ د مقصد نه ناخبره اوسېدل۔ ۲ ۔ پۀ وخت باندې د مونځ ادا کولو پۀ ځاے بې وخته او پۀ تادۍ تادۍ مونځ کول۔۳۔پۀ پنځۀ مونځونو کښې څۀ پرېښودل۔

۴۔ عمومي طور د مونځ کولو نه غافل اوسېدل۔

**عملي اړخ:** مونږ له د ټولو مونځونو اهتمام کول پکار دي۔ د جهنم پۀ تللو کښې يوه لويه وجه د مونځ نۀ کول دي۔ (سورت المدثر ۷۴، اٰيات: ۴۲، ۴۳)

**اٰيت نمبر۶:** ۱۔د يُرَآءُوْنَ نه څۀ مراد دے؟

۱ ـ ځان ښودلو والا ـ هغه خلق چې نېک عمل د الله په ځاے د خلقو ښودلو د پاره کوي ـ

**فرمان نبوي** : رسول الله وفرمائيل: "د ټولو نه وېرونکے څيز، د کوم چې زما په تاسو باندې وېره ده، هغه شرک اصغر (وړوکے شرک) دے ـ خلقو وپوښتل، يارسول الله! شرک اصغر څهٔ څيز دے؟ وې فرمائيل! ښودل او رياکاري ـ په کومه ورځ چې بندګانو ته د هغوي د عملونو بدله ورکول شي، په هغه ورځ به الله تعالیٰ دغه رياکارانو ته وفرمائي، لاړ شئ! د هغه خلقو خوا ته، د چا د ښودلو د پاره چې تاسو په دنيا کښې عمل کولو او ګورئ چې تاسو ته هغوي څهٔ بدله درکوي" (مسند احمد)

**علمي خبره**: د ښودلو عمل شرک دے او داسې عمل الله تعالیٰ نهٔ قبلوي ـ په يو حديث شريف کښې نبي اکرم فرمائيلي دي: "چې چا د ښودلو د پاره مونځ وکړو، هغهٔ شرک وکړو" (مسند احمد)

**اٰيت نمبر ۷**: ۱ ـ د مَاعُوْن نه څهٔ مراد دے؟ ۱ـعام د استعمال څيزونه چې خلق ئې د يو بل نه د استعمالولو لپاره غواړي، لکه پنسل، ربړ، سياهي، پنسل کاټ وغېره ـ دغسې په کور کښې د روزانه استعمال څيزونه لکه پيچ کس، پلاس، ګلاس، پلېټ، مالګه وغېره ـ

۲ ـ په دې سورت کښې د اخرت نه انکار کولو والا انسان په حقله څهٔ کردار بيان شوے دے؟

۲ ـ الف: داسې سړے به يتيمانو له ديکې ورکوي ـ ب ـ مسکينانو له به د رزق ورکولو ترغيب نهٔ ورکوي ـ

ج ـ په مونځونو کښې به غفلت کوي ـ د ـ ښودل به کوي ـ ط ـ د عام استعمال څيزونه به هم چاله د څهٔ وخت د پاره نهٔ ورکوي ـ

**فرمان نبوي** :"غوښتل شوے څيز واپس کول، ضمانت ګر له تاوان ډکول او قرض واپس کول لازم دي" (جامع ترمذي)

**عملي اړخ**: د روزمره استعمال څيزونه يو بل له ورکولو سره په ټولنه کښې د مينې محبت، خېرخواهۍ او اتفاق و اتحاد چاپېريال پېدا کېږي او دغسې په ټولنه کښې د ورورولئ عملي شکل په نظر راځي، د کوم کامل ترين شکل چې د مدينې د هجرت نه وروستو د مهاجرينو او انصارو د ورورولئ په شکل کښې ملاوېږي، کوم چې د نبي د تربيت په نتيجه کښې مخې ته راغلو ـ

## د مشقونو جوابونه

## ځان پوهه کړئ او حل ئې کړئ:

### سوال۱:خالي ځايونه ډک کړئ۔

1) د اخرت نه د انکار کولو پهٔ وجه د انسان ۔۔۔۔۔۔۔۔ کښې خرابي پېدا کېږي۔ (کردار)
2) پهٔ اخرت باندې ايمان انسان پهٔ ۔۔۔۔۔۔۔باندې اماده کوي۔(نېکۍ)
3) د مونځونو نه د غافله خلقو لپاره۔۔۔۔۔۔۔۔ دے۔ (هلاکت)
4) مونږ له د الله پهٔ راکړے شوو ۔۔۔۔۔۔۔۔ کښې نور خلق هم شريکول پکار دي۔ (نعمتونو)
5) د ښودلو سره نېکي۔۔۔۔۔۔کېږي۔ (ضائع)

### سوال۲: د لاندينو سوالونو جوابونه ورکړئ:

۱۔ پهٔ دې سورت کښې د کومو خلقو غلط کردار بيان شوے دے؟

جواب: پهٔ دې سورت کښې د اخرت نه انکار کوونکو غلط کردار بيان شوے دے۔

۲۔اخرت لره دروغ ګڼونکو د يتيم او مسکين سره څهٔ رويه وي؟

جواب: دغسې خلق پهٔ يتيمانو ظلم کوي او د مسکين سره نهٔ پهٔ خپله مرسته کوي او نهٔ نورو ته ترغيب ورکوي۔

۳۔ د څنګه مونځ ګزارو لپاره د هلاکت بد خبر بيان شوے دے؟

جواب: چې د خپلو مونځونو نه غافل وي۔

۴۔اٰخرت لره دروغ ګڼونکي پهٔ څهٔ اراده نېکي کوي؟

جواب: اٰخرت لره دروغ ګڼونکي د خلقو د ښودنې د پاره نېکي کوي۔

۵۔پهٔ اٰخرت باندې يقين نهٔ کولو سره د انسان پهٔ کردار باندې څهٔ اثرات پرېوځي؟ درې خبرې ترې وليکئ۔

جواب: الف۔دغسې خلق به پهٔ يتيمانو باندې ظلم کوي۔ ب۔ د غريبانو به نهٔ پهٔ خپله مرسته کوي او نهٔ به نورو له ترغيب ورکوي۔ ج۔د عبادت نه به غافل وي۔ د۔ د عام استعمال څيزونه به د خلقو پهٔ غوښتنه هم نهٔ ورکوي۔

### سوال۳: د سورت الماعون متعلق لاندې ورکړے شوي لفظونه پهٔ لاندينو خانو کښې وليکئ:

د اخرت نه انکار، د یتیمانو سره محبت، نښودل، مسکین له ډوډۍ ورکول، معمولي څیزونه نهٔ ورکول، بد صفتونه، خود غرضي، د عبادت نه غفلت، پهٔ یتیمانو باندې ظلم، پهٔ جمع باندې مونځ کول، خراب کردار




**عملي سرګرمي:**

۱۔ یوه ورځ پهٔ ماشومانو د خوراک څښاک څیزونو یو بل له ورکولو عملي مظاهره وکړئ۔

۲۔ ماشومانو ته د یو بل سره د مرستې کولو مختلفې طریقې وښایئ، مثلاً د جېب خرچه شریکول، د کور پهٔ کار (هوم ورک) کښې مرسته کول، پهٔ سبق لوستلو کښې مرسته او پهٔ سفر کښې مرسته وغېره۔

۳۔ د قدرتي افتونو مثلاً سېلاب، زلزلې د متاثرینو تصویرونه راجمع کړئ، پهٔ کوم کښې چې خلق د یو بل سره مرسته کوي۔ ۴۔ پهٔ ماشومانو باندې پهٔ وخت د کار نهٔ کولو نقصانات ولیکئ۔

## سُوْرَةُ الْکَوْثَر

**د ښودلو طريقه:**

سبق نمبر۱: د دې سورت شان نزول، تعريف، قرآني متن او ترجمه د درسي کتاب نه ولولئ.

سبق نمبر۲: (i) د "علم او عمل خبرې" پهٔ وضاحت سره زده کونکيو ته وښايئ او د مذاکرې پهٔ ذريعه ئې د هغوي ذهن ته کوزې کړئ.

(ii) "ځان پوهه کړئ او حل ئې کړئ" زده کونکيو ته د کور د کار (Home Work) پهٔ توګه ورکړئ، چې د هغوي د قرآن فهمۍ اندازه ترې ولګي او وروستو ئې پهٔ کلاس کښې پهٔ خپله حل کړي. (د تشريحي نکتو نه وروستو د ورکړے شوو "مشقونو د جوابونو" نه استفاده کېدے شي)

(iii) د سرګرمۍ لپاره د کور خلق پابند کړئ. (پهٔ کلاس کښې د نورو سرګرميانو د پاره د مشقونو د جوابونو نه وروستو د ورکړے شوې عملي سرګرمۍ نه هم استفاده کېدے شي.

**د مطالعې مقصدونه:**

د دې سورت پهٔ آخر کښې زده کونکي د دې جوګه وي چې هغوي ته به پته وي چې:

۱. د کوثر مفهوم څهٔ دے؟ ۲. نبي کريم ﷺ لره د کوثر ورکولو نه څهٔ مراد دے؟

۳. د الله د شکر ادا کولو بهترينه طريقه څهٔ ده؟ ۴. د عبادت څومره قسمونه دي؟

**د سورت تړون:** پهٔ سورت الماعون کښې د هغه سړي بدي بيان شوې ده چې د يتيمانو سره بد سلوک کوي. پهٔ مونځ کښې لاپرواهي کوي او ضرورت مند له د استعمال معمولي څيز هم نهٔ ورکوي.

پهٔ سورت الکوثر کښې د نبي کريم ﷺ عظمت بيان شوے دے او د نبي کريم ﷺ پهٔ ذريعه د نعمتونو د شکر او د الله د بندګۍ تلقين شوے دے او پهٔ آخره کښې د نبي کريم ﷺ د دښمنانانو مذمت بيان شوے دے چې هغوي بې نومه او بې نشانه دي.

## ايت پهٔ ايت تشريحي نکتې

**آیت نمبر ۱**: ۱۔د لفظونو یا کلمو پهٔ لحاظ سره د قرآن کریم تر ټولو وړوکے سورت کوم یو دے؟

۱۔سورت الکوثر۔

۲۔پهٔ قرآن کښې د آیاتونو د تعداد پهٔ لحاظ سره د ټولو نه وړوکے سورت کوم یو دے؟

۲۔پهٔ قرآن کښې د آیاتونو د تعداد پهٔ لحاظ سره د ټولو نه وړوکي سورتونه درې دي چې پهٔ درې آیاتونو مشتمل دي: الف: سورت الکوثر ب: سورت العصر ج: سورت النصر

۳۔ د کوثر نه څهٔ مراد دے؟ ۳۔حوض کوثر او خېر کثیر یعني ډېرې ګټې چې الله تعالیٰ نبي کریم□ له ورکړې دي، مثلاً سیدالانبیاء والمرسلین، مقام محمود، بې شانه حسن، لوړ سیرت او کردار، د انسانیت محسن، د نبي□ دین د ټول عالم او ټولو قامونو لپاره، د دین اسلام تکمیل، د قرآن حکیم اخري کتاب د هدایت پهٔ توګه ورکول او د نبوت تکمیل، د صحابه کرامو□ پهٔ شان ځان قربانوونکي ملګري، لوے امت او صرف پهٔ ۲۳ کاله کښې د دین غالب کولو سعادت او شفاعت کبریٰ وغېره۔

**علمي خبره**: د خېر کثیر لفظ د دنیا او اخرت دواړو ګټو مجموعه ده۔ د دې لاندې د دنیا او اخرت ټول نعمتونه او د الله انعامات راځي۔مفسرینو د دې لاندې د اولاد ډېر والے، د علم ډېر والے، د نېکو ډېر والے، د فتوحاتو ډېر والے او د تابعدارۍ ډېر والے ذکر کړي دي او ټول پهٔ خپل خپل ځاے باندې صحیح دي۔

**فرمان نبوي** : "کوثر د جنت یو نهر دے چې د هغې دواړه غاړې د سرو زرو دي۔ د دې فرش د یاقوتو نه جوړ شوے دے۔ د دې خاوره د مشکو نه زیاته خوشبوداره ده۔ د دې اوبهٔ د شاتو نه زیاتې خوږې او د واورې نه زیاتې صفا دي" (جامع ترمذي)

**فرمان نبوي** : "زهٔ به ستاسو پهٔ حوض کوثر باندې انتظار کووم۔ څوک هم چې زما خواله راشي، هغه به د دې نه اوبهٔ څښکي او څوک چې د دې نه یو ځل اوبهٔ وڅښکي، هغه به کله هم تنده محسوسه نهٔ کړي" (صحیح بخاري)

**آیت نمبر ۲**: ۱۔نبي کریم□ ته الله تعالیٰ څهٔ حکم ورکړو؟ ۱۔د مونځ او قربانۍ کولو حکم ئې ورکړو۔

۲۔د عبادت څو قسمونه دي؟ ۲۔الف۔ بدني عبادت، مثلاً مونځ، روژه۔ ب۔مالي عبادت، مثلاً زکوات، صدقات، قرباني۔ ۳۔ د مونځ څهٔ اهمیت دے؟ ۳۔ پهٔ بدني عبادتونو کښې د مونځ ډېر اهمیت دے۔د مونځ حکم د ادم□ نه تر نبي کریم□ پورې ټولو ته ورکړے شوے دے۔ ځکه چې

مونځ بنيادي عبادت او د شکر ادا کولو بهترينه طريقه ده او د الله تعالي سره د تعلق مضبوطولو، نافرمانۍ نه ځان ساتلو، د نېکۍ لار اختيارولو اسانه او بهترينه وسيله مونځ ده. پۀ ډېرو حديثونو کښې د مونځ فضائل او اجر و ثواب ذکر شوے دے.

**فرمان نبوي**: "نبي کريم يوه ورځ د مونځ ذکر کولو او وې فرمائيل! چا چې مونځ پۀ پابندۍ سره ادا کړو، دغه مونځ به د قيامت پۀ ورځ د دۀ لپاره دليل، رڼا او د نجات ذريعه وي او چا چې مونځ ادا نۀ کړو، نو د قيامت پۀ ورځ به د دې سړي لپاره مونځ دليل، رڼا او د نجات ذريعه نۀ وي او هغه به د قيامت پۀ ورځ د قارون، فرعون، هامان او ابی بن خلف سره وي" (مسند احمد)

۴. د قربانۍ څۀ حقيقت دے؟ ۴. پۀ مالي عبادتونو کښې قرباني يو ښکاره حېثيت لري. د مونځ پۀ شان د قربانۍ سنت هم د ادم عليه السلام د زمانې نه رارو ان دي. د قربانۍ اصل حقيقت د ځان قرباني ده. د ځناور قرباني د څۀ حکمتونو او مصلحتونو پۀ اساس د دې قائم مقام جوړه شوې ده، څنګه چې د ابراهيم عليه السلام او اسماعيل عليه السلام د قيصې نه ظاهره ده.

**عملي اړخ**: مونږ لره د الله تعالي د نعمتونو شکر ادا کول پکار دي او د هغۀ پۀ احکاماتو عمل کول پکار دي.

**علمي خبره**: کافر او مشرکين ټول عبادتونه د ځاني او مالي بتانو د پاره او د هغوي پۀ نوم کوي. دلته پۀ خاصه توګه د نبي عليه السلام پۀ ذريعه امت ته دا تعليم ورکړے شوے دے چې هر قسم عبادت د الله تعالي پۀ نوم او د هغۀ د پاره کول پکار دي.

**عملي اړخ**: عبادت کۀ بدني وي او کۀ مالي، د نبي کريم پۀ ښودلې شوې طريقه ادا کول پکار دي، يعني ټول اداب، ارکان، شرائط پۀ خلوص نيت سره د الله تعالي د رضا پۀ خاطر ادا کول پکار دي. څنګه چې د سورت الانعام۶ پۀ ايت نمبر۱۶۲ کښې فرمائيلي شوي دي چې "تۀ دې خلقو ته ووايه چې زما مونځ، زما قرباني او زما مرګ او ژوند د الله رب العالمين د پاره دے، د کوم چې څوک شريک نشته"

**ايت نمبر۳**: ۱. الله تعالي د نبي عليه السلام د دښمنانو پۀ حقله څۀ فرمائيلي دي؟ ۱. د نبي عليه السلام دښمنان به بې نومه او بې نشانه وي.

**علمي خبره**: نن څوک هم د نبي عليه السلام د دښمنانو نوم اخستل نۀ خوښوي او نۀ د هغۀ سره خپل نسبت خوښوي.

**عملي اړخ:** پۀ حقيقت کښې دا يوه پېشن ګويي وه چې بالکل صحيح ثابت شوه ـ د رسول الله دښمنان داسې تباه، برباد، خوار او ذليل شول چې د هغوي نوم او نشان ورک شو، خو د بې شمېره ظلمونو او مصيبتونو باوجود د نبي عليه السلام اولاد سادات پۀ ټوله دنيا کښې خوارۀ دي ـ د دې نه دا واضحه شوه چې د دې تعلق صرف د هغه زمانې د نبي عليه السلام د دښمنانو سره نۀ دے، بلکې پۀ هره زمانه کښې د نبي عليه السلام د پېدا کېدونکو دښمنانو سره دے ـ څوک هم چې د نبي عليه السلام پۀ شان کښې ګستاخي کوي يا د نبي عليه السلام مخالفت کوي، هغه به د خېر نه محرومه وي او د هغۀ پۀ مقدر کښې ذلالت دے ـ

## د مشقونو جوابونه

### ځان پوهه کړئ او حل ئې کړئ:

سوال۱: خالي ځايونه ډک کړئ ـ

1) الله تعالٰي د ټولو نه زيات انعامات پۀ ـ ـ ـ ـ ـ ـ باندې کړي وو ـ (نبي کريم□)
2) د کوثر نه مراد د جنت نهر هم دے او ـ ـ ـ ـ ـ ـ ـ ـ ـ ـ هم دے ـ (خېر کثير)
3) مونځ او قرباني د الله تعالٰي د ـ ـ ـ ـ ـ ـ ـ ـ ـ ذريعه ده ـ (شکرګزارۍ)
4) مونږ له د الله تعالٰي پۀ ـ ـ ـ ـ ـ ـ ـ ـ ـ باندې شکر ادا کول پکار دي ـ (نعمتونو)
5) د قرآن د ټولو نه لوے سورت ـ ـ ـ ـ ـ ـ ـ ـ دے ـ (سورت البقره)

سوال۲: د کالم (الف) هره جمله د کالم (ب) د صحيح جملې سره د کرښې پۀ ذريعه ميلاو کړئ ـ

| الف | ب |
|---|---|
| د نبي کريم□د زامنو پۀ مرګ باندې | نبي□ته د مونځ او قربانۍ حکم ورکړے شو |
| کافرو نبي کريم□ته | د ټولو نه وړوکے سورت دے ـ |
| پۀ سورت الکوثر کښې پۀ نبي کريم□ | کافرو خوشحالي وکړه ـ (معاذالله) |
| پۀ سورت الکوثر کښې | د الله د فضل او انعاماتو بيان دے ـ |
| سورت الکوثر د قرآن حکيم | د بې نومه او بې نشانه پېغور ورکړو ـ |

## سوال۳: د لاندينو سوالونو جوابونه ورکړئ:

۱: پۀ حديث شريف کښې د مونځ پۀ حقله څۀ وئيلي شوي دي؟

جواب: نبي کريم فرمائيلي دي "چې پۀ تاسو کښې د چا د کور مخې ته نهر بهېږي او پۀ هغۀ کښې هغه کس د ورځې پنځۀ ځل لامبي، نو آيا د هغۀ پۀ بدن به څۀ خيرے باقي پاتې شي؟ نو صحابوؓ عرض وکړو، هېڅ (خيرے) به باقي پاتې نۀ شي - نبي کريم وفرمائيل! بالکل هم دغه مثال د (پنځوو) مونځونو دے - الله تعالي د دغه پۀ ذريعه ګناهونه وينځي او ختموي" (صحيح بخاري، صحيح مسلم)

۲ - د خېرکثير نه څۀ مراد دے؟

جواب: د "خېرکثير" د نعمتونو ډېروالے، بې شمېره فضائل او برکتونه مراد دي -

۳ - پۀ سورت الکوثر کښې د نبي کريم د دښمنانو پۀ حقله څۀ خبر ورکړے شوے دے؟

جواب: پۀ دې سورت کښې د نبي کريم د دښمنانو د بې نومه او بې نشانه کېدو خبر ورکړے شوے دے -

## عملي سرګرمي:

۱: پۀ زده کونکيو د سيرت د کتابونو نه د نبي کريم پنځۀ معجزې وليکئ -

۲ - پۀ زده کونکيو د نبي کريم د نومونو يو چارټ جوړ کړئ -

۳ - پۀ زده کونکيو د نفلي مونځونو يو فهرست جوړ کړئ -

۴ - پۀ زده کونکيو د قربانۍ د ځناورو نومونه وليکئ -

۵ - پۀ زده کونکيو د نبي کريم د ترونو د نومونو يو چارټ د اسلام د قبوليت او نۀ قبوليت پۀ اساس جوړ کړئ -

## سُوۡرَةُ الۡكَافِرُوۡن

**د ښودلو طريقه:**

سبق نمبر۱: د دې سورت شان نزول، تعريف، قراني متن او ترجمه د درسي کتاب نه ولولئ۔

سبق نمبر۲: (i) د "علم او عمل خبرې" پۀ وضاحت سره زده کونکيو ته وښايئ او د مذاکرې پۀ ذريعه ئې د هغوي ذهن ته کوزې کړئ۔

(ii) "ځان پوهه کړئ او حل ئې کړئ" زده کونکيو ته د کور د کار (Home Work) پۀ توګه ورکړئ، چې د هغوي د قرآن فهمۍ اندازه ترې ولګي او وروستو ئې پۀ کلاس کښې پۀ خپله حل کړي۔ (د تشريحي نکتو نه وروستو د ورکړے شوو "مشقونو د جوابونو" نه استفاده کېدے شي)

(iii) د سرګرمۍ لپاره د کور خلق پابند کړئ۔ (پۀ کلاس کښې د نورو سرګرميانو د پاره د مشقونو د جوابونو نه وروستو د ورکړے شوې عملي سرګرمۍ نه هم استفاده کېدے شي۔

**د مطالعې مقصدونه:**

د دې سورت پۀ آخر کښې زده کونکي د دې جوګه وي چې هغوي ته به پته وي چې:

۱۔ د عبادت مفهوم څۀ دے؟ ۲۔ کافرو ته د دين دعوت ورکول لازم دي۔

۳۔ پۀ اسلام او کفر کښې مصالحت نۀ شي کېدے۔ ۴۔ پۀ کفر او اسلام کښې څۀ فرق دے۔

سره د بل چا د عبادت اجازت شته دے۔

# ايت پۀ ايت تشريحي نکتې

**ايت نمبر ١** :١ـ د سورت شان نزول (پس منظر) بيان کړئ۔

١ ـ مشرکينو نبي کريم ته پېش کش وکړو چې يو کال به مونږ ستا د رب عبادت کوو او يو کال به تۀ زمونږ د معبودانو عبادت کوې۔ پۀ دې سورت کښې د هغوي د دغه پېش کش جواب شوے دے او د کفر او شرک نه د بې زارۍ اعلان شوے دے۔

**علمي خبره**: د نبي کريمد توحيد دعوت پۀ تېزۍ سره د خورېدو پۀ وجه د مکې خلق پۀ دې سوچ مجبور شول چې د تشدد پۀ ځاے د نبي کريم سره مذاکرات پکار دي او د څۀ پېش کش لار اختيارول پکار دي۔ يو وخت قرېش د نبي کريمد ترۀ ابو طالب خواته راغلل او هغۀ ته ئې درخواست وکړو چې خپل ورارۀ پوهه کړه چې زمونږ سره د صلحې لار اختيار کړي۔ ابوطالب نبي کريم راوغوښتلو او د هغوي د خبرې نه ئې خبر کړو او ورته ئې ووئيل چې ورارۀ زۀ بوډا شوے يم، پۀ دې اساس يواځې د قرېشو د سردارانو سره نۀ شم جنګېدے۔ د هغۀ پۀ جواب کښې رسول اللهوفرمائيل! "اے زما ترۀ کۀ چرته دوي زما پۀ ښي لاس کښې نمر کېږدي او پۀ ګس لاس کښې سپوږمۍ، نو بيا به هم زۀ د دې کار (يعني دعوت توحيد) نه پۀ شا نۀ شم، تر دې چې يا الله پاک دا دين غالب کړي يا زۀ د دې دين پۀ دعوت کښې شهيد شم۔ د دې نه وروستو د نبي کريم سترګې مبارکې د اوښکو نه ډکې شولې او پاڅېدو۔ کله چې واپس شو، نو ابو طالب ورته اواز وکړو او خپلې مخې ته ئې ودرولو او ورته ئې ووئيل، ورارۀ ځه! څۀ چې تۀ غواړې، هغه وايه۔ پۀ الله مې دې قسم وي، زۀ به تا پۀ يوه وجه هم يواځې پرې نۀ ږدم" (سيرت ابن اسحاق، سيرت ابن هشام)۔

د مکې خلقو د خپل يو سردار وليد بن مغيره پۀ ذريعه دا پېش کش هم ورکړو چې کۀ تۀ (نبي کريم) دولت غواړې، نو مونږ به ستا د غوښتنې مطابق دولت تا ته پېش کړو۔ کۀ تۀ سرداري غواړې، نو مونږ ټول پۀ اتفاق سره تا د مکې سردار منو۔ کۀ تۀ چرته پۀ کوم خاندان کښې د وادۀ کولو خواهش مند يې، نو ستا دا خواهش به هم مونږ پوره کړو۔

٢ـ نبي کريم چا ته د خطاب کولو حکم کړے وُ؟

جواب: د مکې کافرو ته چې ايمان ئې نۀ وُ راوړے۔

**علمي خبره**: د کفر لغوي مفهوم دے حق پټول او د حق نه انکار کول او اصطلاحي مفهوم ئې دادے الله تعالٰي او د هغۀ رسول نۀ منل او د مسلمانانو د دين نه انکار کول، داسې سړي ته کافر وئيلے شي۔

**آیت نمبر ۲** ۱ د نبي کریم ﷺ نه د چا د عبادت انکار کولے شي؟ ۱۔ د الله تعالیٰ نه سېوا باطل معبود یعنې د بتانو د عبادت انکار کولے شي۔

**علمي خبره:** پۀ دې سورت کښې پۀ ډاګه شوې ده چې د کفر او اسلام، شرک او توحید جوړ هېڅ کله نۀ شي راتلے۔ پۀ ظاهره خو دا د لفظونو تکرار ښکاري، خو کۀ د عربۍ د ګرائمر پۀ لحاظ سره د دې لفظونو ترجمه وکړے شي، نو پۀ وړومبنو دوه اٰیاتونو کښې د حال او مستقبل پۀ حواله سره خبره شوې ده او د دې نه پۀ وړاندې دوه اٰیاتونو کښې د ماضي پۀ حواله سره خبره شوې ده۔ پۀ دې لحاظ سره د دې مفهوم داسې جوړېږي چې اے خلقو! چا چې د خالص توحید او زما د پېغمبرۍ نه انکار کړے دے، واورئ! چې نۀ ما پۀ ماضي کښې ستاسو د دروغژنو خدایانو عبادت کړے دے او نۀ به ئې پۀ راتلونکي کښې وکړم۔

**اٰیت نمبر ۳:** ۱۔ د عبادت مفهوم څۀ دے؟ ۱۔ پۀ شرعي اصطلاح کښې د عبادت مفهوم د خپل معبود مخې ته ځان انتهائي عاجزه ګڼل او د هغۀ عظمت تسلیمول او د عاجزۍ اظهار کول۔

۲۔ کافر څۀ خبرې ته نۀ وو تیار؟ ۲۔ هغوي صرف د یو الله عبادت ته نۀ ؤ تیار۔

**علمي خبره:** د مکې مشرکین د خدا ے قائل ؤ او د هغۀ د عبادت نه هم انکاري نۀ وو، خو هغوي صرف دې خبرې منلو ته تیار نۀ وو چې بتان پرېږدي او صرف د یو الله عبادت وکړي۔

**اٰیت نمبر ۴:** ۱۔ پۀ نبي کریم ﷺ دوباره د شرک انکار ولې وکړے شو؟ ۱۔ د تاکید او زورنې د پاره چې د الله نبي ﷺ کله هم د شرک کولو والا نۀ دے۔ ۲۔ کافر او مشرکینو د نبي کریم ﷺ نه څۀ غوښتنه کوله؟ ۲۔ مشرکینو غوښتل چې نبي کریم ﷺ د بتانو عبادت وکړي چې د مصالحت څۀ لاره راووځي۔ پۀ سورت الزمر د دوي د دې مطالبې پۀ سختۍ سره جواب ورکړے شوے دے چې "تۀ (نبي کریم ﷺ) دوي ته ووایه، چې اے جاهلانو! تاسو به بیا زما نه مطالبه کوئ چې تۀ د الله نه سېوا د بل چا عبادت وکړه؟" (سورت الزمر ۳۹، اٰیت: ۶۴)

**علمي خبره:** د عبادت پۀ سلسله کښې نبي کریم ﷺ ته د خپل موقف د اظهار حکم پۀ نورو سورتونو کښې هم ورکړے شوے دے، مثلاً پۀ سورت یونس ۱۰، اٰیت: ۱۰۴، کښې فرمائیلي شوي دي چې "ووایه چې اے خلقو! کۀ چرته ستاسو زما د دین پۀ حقله شک وي، نو واورئ! چې زۀ هغۀ څیز ته سجده نۀ کووم، کوم ته چې تاسو سجده کوئ او الله مو پرېښودے دے، بلکې زۀ صرف د الله عبادت کوم چې ستاسو روحونه قبضه کوي"۔ ۳۔ پۀ عبادت او عباداتو کښې څۀ فرق دے؟ ۳۔ د عباداتو

نه مراد مونځ، زکوات، روژه او حج وغېره دي، خو پۀ شرعي اصطلاح کښې د عبادت مفهوم د معبود مخې ته ځان عاجز ګڼل او د هغۀ تعظيم تسليمول او د خپلې عاجزئ اظهار کول دي۔

**عملي اړخ**: د ژوند پۀ هره معامله کښې د الله تعالىٰ د حکم او نبي کريمﷺ د طريقې مطابق عمل کول پکار دي، هغه کۀ د خوشحالئ موقع وي، مثلاً نکاح، يا د غم موقع وي، مثلاً مړے، يا د ژوند بله مرحله وي۔

**اٰيت نمبر۵**: ۱۔کافرو ته ولې وئيل شوي دي چې تاسو د الله عبادت نۀ کوئ؟

۱۔د هغوي پۀ کفر د مضبوط ودرېدو او اسلام د مخالفت د وجې نه۔

**علمي خبره**: د دې دا مطلب نۀ دے چې ګنې د دغه کافرو نه پۀ راتلونکي زمانه کښې د چا د ايمان راوړولو امکان نشته، ځکه چې پۀ دغه کښې داسې خلق هم وو چې وروستو ئې ايمان راوړلو۔ مطلب دا ؤ چې ستاسو تر منځ څوک د يو الله عبادت ته تيار نۀ دي او د خپلو بتانو پېروي خوښوي۔ تر هغه پورې زۀ ستاسو نه د بېزارئ اعلان کوم، تر څو پورې چې تاسو د خپل کفر او شرک نه روا نۀ وړئ۔

**عملي اړخ**: انسان چې قصداً حق دروغ ګڼي، نو هغۀ ته د الله تعالىٰ د اړخ نه د هدايت توفيق نۀ ملاوېږي۔

**اٰيت نمبر۷**: ۱۔ "ستاسو د پاره ستاسو دين او زما د پاره زما دين" نه څۀ مراد دے؟

۱۔کۀ چرته تاسو د شرک نه نۀ راوځئ او يو خدائے نۀ منئ، نو ستاسو د شرک وبال پۀ تاسو باندې دے او مونږ ته د الله پۀ يو والي منلو او فرمان بردارئ د اجر امېد دے۔

۲۔د دين څۀ مفهوم دے؟ ۲۔پۀ لغوي لحاظ سره د دين مفهوم قانون او طريقه ده او پۀ اصطلاحي لحاظ سره د دين مفهوم د الله د اړخه د مخلوق لپاره رالېږل شوے قانون او د زندګئ طريقه ده۔

**عملي اړخ**: پۀ دې اٰيت کښې د کافرو د رويې نه د بېزارئ او د هغوي د دين نه د لا تعلقئ اعلان دے۔ پۀ دغه اساس دا اٰيت د روادارئ پۀ مفهوم کښې اخستل صحيح نۀ دي۔مونږ له پۀ ښکاره لفظونو کښې د کفر نه د لاتعلقئ اظهار پکار دے، څنګه چې پۀ سورت يونس کښې فرمائيلي شوي دي چې: "او کۀ دوي تا (نبي کريمﷺ) دروغژن ګڼي، نو تۀ ورته ووايه چې زما عمل زما د پاره دے او ستاسو عمل، ستاسو د پاره دے۔ زۀ چې څۀ کوم، د دې نه تاسو خلاص يئ او تاسو چې څۀ کوئ، د هغۀ نه زۀ خلاص يم" (سورت يونس ۱۰، اٰيت: ۴۱)

## د مشقونو جوابونه

## ځان پوهه کړئ او حل ئې کړئ:

### سوال ۱: خالي ځایونه ډک کړئ۔

1) مونږ له د . . . . . . . . . دعوت بالکل په واضحه توګه پېش کول پکار دي۔ (دین)
2) د مکې کافرو نبي کریم□د . . . . . . . دعوت نه منع نۀ کړو۔ (توحید)
3) د دین لغوي معنٰي ده . . . . . . . . . . . (قانون او طریقه)
4) د دین په معامله کښې د حق او باطل . . . . . . . . ممکن نۀ ده۔ (دوستي)
5) نبي کریم□به د وتر مونځ په دویم رکعت کښې د . . . . . . . . تلاوت کولو۔ (سورت الکافرون)۔

### سوال ۲: د کالم (الف) هره جمله د کالم (ب) د صحیح جملې سره د کرښې په ذریعه میلاو کړئ۔

| الف | ب |
|---|---|
| ستاسو د پاره ستاسو دین او | د بتانو عبادت کولو |
| د الله سره د بل چا عبادت ته | شرک قبلول نۀ دي پکار |
| د مکې کافرو | د بت پرستئ او شرک نه صفا انکار شوے دے |
| په سورت الکافرون کښې | شرک وئیلے شي |
| مونږ له په هېڅ قیمت باندې | زما د پاره زما دین دے |

سوال۳: د لاندينو سوالونو جوابونو وليکئ.

۱. پۀ دې سورت کښې چې کوم اٰيت پۀ دويم ځل بيان شوے دے، د هغۀ ترجمه وليکئ.

جواب: او نۀ تاسو د هغه الله عبادت کونکي يئ، د کوم الله چې زۀ عبادت کوم.

۲. پۀ دې سورت کښې د قريشو سردارانو د نبي کريم ﷺ نه څۀ مطالبه وکړه؟

جواب: هغوي ووئيل چې يو کال به مونږ ستا (نبي کريم ﷺ) د الله عبادت کوو او يو کال به تۀ (نبي کريم ﷺ) زمونږ د بتانو عبادت کوې.

۳. پۀ دې سورت کښې نبي کريم ﷺ د چا د عبادت نه انکار کړے دے؟

جواب: پۀ دې سورت کښې نبي کريم ﷺ د بتانو د عبادت نه انکار کړے دے.

## عملي سرګرمي:

۱. پۀ زده کونکيو د عبادت مختلف صورتونه او طريقې وليکئ.

۲. پۀ زده کونکيو د دنيا د مختلفو مذهبونو فهرست جوړ کړئ.

۳. پۀ زده کونکيو د دين اسلام او نورو اسماني مذهبونو پنځۀ پنځۀ خبرې وليکئ. مثلاً

**اسلام:** عقيده: د يو الله عبادت، کتاب: قران حکيم، نبي: سيدنا محمد ﷺ، پيروکار: مسلمان، د عبادت ځائے: جمات

**عيسائيت:** عقيده: عيسي ؑ د الله زوے دے، کتاب: انجيل، نبي: عيسي ؑ، پيروکار: عيسائي، د عبادت ځائے: ګرجا

**يهوديت:** عقيده: عزير ؑ د الله زوے دے، کتاب: تورات، نبي: موسي ؑ، پيروکار: يهودي، د عبادت ځائے: معبدخانه

## سُوْرَةُ النَّصر

### د ښودلو طريقه :

سبق نمبر۱ : د دې سورت شان نزول، تعريف او قرانې متن د درسي کتاب نه ولولئ.

سوال نمبر۲ : (i) د "علم او عمل خبرې" په وضاحت سره زده کونکيو ته ښودل او د مذاکرې په ذريعه ذهن ته کوزول.

(i)"ځان پوهه کړئ او حل ئې کړئ" زده کونکو ته د کور د کار (Home Work) په طور ورکړئ چې د هغوي د قرآن فهمۍ اندازه ولګي او وروستو ئې په کلاس کښې حل کړي. (د تشريحي نکتو نه وروستو د ورکړے شوو "مشقونو د جوابونو" نه استفاده کېدے شي)

(iii) د کور د سرګرمۍ د پاره د زده کونکيو د کور والا پابند جوړ کړئ. (په کلاس کښې د نورو سرګرميانو کولو لپاره د "مشقونو د جوابونو" نه وروستو د "عملي سرګرمۍ" نه هم استفاده پورته کېدے شي.

### د مطالعې مقصدونه:

د دې سورت په ختمېدو سره به زده کونکي د دې جوګه شي چې هغوي ته به پته وي چې:

۱ . د فتح نه څۀ مراد دے؟ ۲ . د عربو په اوسېدونکيو د دې فتحې څۀ اثرات وشول؟

۳ . تسبيح او استغفار څۀ دي؟ او ولې ضروري دي؟ ۴ . د الله ﷻ څۀ شان دے؟

چې دا سورت د نبي کريم ﷺ د وفات نه درې مياشتې مخکښې نازل شوے دے، په کوم کښې چې نبي کريم ﷺ ته د کاميابۍ زېرے ورکړے شوے دے.

## آيت په آيت تشريحي نکتې

**آيت نمبر۱ :** ۱ . د الله د مدد نه څۀ مراد دے؟

۱ ـ د نبي کریم□او مؤمنانو پهٔ کوششونو کښې د الله حمایت شاملېدل ـ

نبي کریم□او صحابه کرامو ؓ پهٔ اخلاص او د الله د رضا پهٔ خاطر د دین اسلام د خورولو کوشش کولو او تکلیفونه ئې برداشت کول ـ اخر د الله مرسته راغله او دین اسلام غالب شو ـ

**عملي اړخ:** زمونږ لپاره تر ټولو زیات مهم د الله تعالیٰ مدد دے چې هغه خلقو ته حاصلېږي، څوک چې پهٔ اخلاص سره د الله تعالیٰ فرمانبرداري کوي ـ

**علمي خبره:** الله تعالیٰ د خپلو پېغمبرانو سره وعده کړې ده چې هغهٔ به خامخا د دوي د مخالفینو پهٔ مقابله کښې د دوي مرسته کوي ـ "یقیناً مونږ د خپلو پېغمبرانو او ایمان والوو پهٔ دې دنیا کښې هم مرسته کوو او پهٔ هغه ورځ به ئې هم مرسته وکړو ، کله چې ګواهان ولاړ وي" (سورت المؤمن ۴۰، اٰیت: **۵۱**)

۲ ـ د فتح مکې واقعه کله پېښه شوه؟ ۲ ـ د فتح مکې واقعه پهٔ ۸ مه هجري (جنوري ۶۳۰ء) د روژې پهٔ میاشت کښې پېښه شوه ـ ۳ ـ د فتح مکې پهٔ حقله تاسو ته څهٔ معلومات دي؟ ۳ ـ فتح مکه یوه فېصله کن فتحه وه، د کوم نه وروستو چې د مشرکانو زور کښېناستلو او پهٔ عربو کښې اسلام ته مکمل غلبه حاصله شوله ـ نبي کریم□ خپله لس زره ځان قربانونکي ملګري د ځان سره کړل او روان شولو ـ مکې ته نبي کریم□ بغېر د کوم ښکاره مزاحمت نه داخل شو او اعلان ئې وکړو چې څوک هم اسلحه کېږدي، هغهٔ ته به امن وي ـ کوم خلق چې د اسلام پهٔ دښمنۍ کښې تر ټولو مخکښې وو، د هغوي د پاره هم نبي کریم□ د عامې معافۍ اعلان وکړو ـ پهٔ دغه موقع ډېر خلق د نبي کریم□ پهٔ خدمت کښې حاضر شول او اسلام ئې قبول کړو ـ پهٔ خانه کعبه کښې ۳۶۰ بتان ایښودل شوي وو، نبي کریم□ د هغه بتانو نه خانه کعبه پاکه کړه ـ نبي کریم□ به پهٔ ډانګو بتان راغورځول او دا اٰیت به ئې تلاوت کولو " وَ قُلْ جَآءَ الْحَقُّ وَ زَهَقَ الْبَاطِلُ ط ۱ اِنَّ الْبَاطِلَ كَانَ زَهُوْقًا۱۸۰۰" حق راغلے او باطل ختم شو او باطل د ختمېدو د پاره ؤ"(سورت بني اسرائیل۱۷ ، اٰیت: ۸۱)

د دې نه وروستو نبي کریم□ پهٔ دې فتح د شکر مونځ ادا کړو او د الله اکبر نعره ئې پورته کړه او د حقیقت نه ډک دا اعلان ئې وکړو "صفتونه دي وي خاص الله لره چې د هغهٔ نه سېوا بل معبود نشته، خپله وعده رښتیا کړه، د خپل بنده مرسته ئې وکړه او ټولو ډلو ته ئې یواځې شکست ورکړو "(سنن ابی داؤد)

**اٰیت نمبر۲:** ۱ ـ د فتح حاصلېدو څهٔ نتیجه راووتله؟ ۱ ـ خلق ډلې ډلې د الله پهٔ دین کښې داخل شول ـ

**علمي خبره:** د فتحه مکې اثر صرف د قرېشو پورې محدود پاتې نهٔ شو، بلکې د مختلفو علاقو د قبیلو نمائنده ګان د وفدونو پهٔ شکل کښې مدینې ته راتلل شروع شول ـ پهٔ نهمه او لسمه هجرۍ کښې ډېر

وفدونه د نبي کريم□ پۀ خدمت کښې حاضر شول او پۀ اجتماعي توګه ئې د اسلام د قبلولو اعلان وکړو.
دغسې اسلام پۀ دوه کاله کښې دننه دننه د عربو پۀ ګوټ ګوټ کښې خور شو.

۲."د الله د دين" نه څۀ مراد دے؟ ۲. د الله تعالیٰ ورکړے شوے قانون او د ژوند نظام، د کوم پۀ منلو چې به پۀ اٰخرت کښې بدله او پۀ نافرمانۍ سزا ورکول شي. د الله د قانون نه علاوه پۀ بل کوم قانون باندې عمل الله تعالیٰ نۀ قبلوي.

**اٰيت نمبر۳:** ۱. د فتحې او الله د مرستې پۀ حقله څۀ حکم راغلے دے؟ ۱. د الله تعالیٰ د تسبيح، حمد، د الله تعالیٰ نه د استغفار او توبې حکم راغلے دے. ۲. د تسبيح معنیٰ څۀ ده؟

۲. د الله پاکي بيانول، يعني د الله ذات د هرې کمۍ، کوتاهۍ، عېب او کمزورۍ نه پاک دے.

۳. د حمد معنیٰ څۀ ده؟ ۳. د الله تعريف بيانول، يعني د الله پۀ ذات کښې هره خوبي، خېر او ګټه موجود ده. د حمد پۀ معنیٰ کښې د الله تعالیٰ د نعمتونو د شکر ادا کولو مفهوم هم شامل دے.

۴. د استغفار معنیٰ څۀ ده؟ ۴. د الله تعالیٰ نه پۀ خپلو ګناهونو او غلطيانو معافي غوښتل.

۵. د توبې معنیٰ څۀ ده؟ ۵. ګرځېدل، يعني د ګناه نه نېکۍ اړخ ته ګرځېدل.

**عملي اړخ:** هر مسلمان ته دا خبره ښودل شوې ده چې کله انسان الله د هغۀ پۀ مقصدونو کښې کامياب کړي او خپل رحمت پرې وکړي، نو پۀ هغۀ باندې لازم ده چې هغه پۀ خپله کاميابۍ باندې د فخر کولو پۀ ځائے د خپلو غلطيانو معافي وغواړي او د الله تعالیٰ شکر ادا کړي.

# د مشقونو جوابونه

## ځان پوهه کړئ او حل ئې کړئ:

سوال۱ : د کالم (الف) هره جمله د کالم (ب) د صحیح جملې سره د کرښې په مرسته میلاو کړئ.

| الف | ب |
|---|---|
| په سورت النصر کښې د الله د مرستې | د لس زره صحابه کرامو لښکر ئې واخستلو او مکې مکرمې ته ورسېدو |
| په سورت النصر کښې د نورو فتوحاتو سره | او د هغه نه د بخښنې غوښتلو حکم ورکړے شو |
| د فتح مکې نه وروستو خلق د الله په | او د فتحې زېرے ورکړے شو |
| په سورت النصر کښې د الله تعالې د تسبیح کولو | په خاصه توګه د فتح مکې ذکر دے |
| د فتح مکې په موقع نبي کریم | دین کښې ډلې ډلې داخل شول |

سوال۲ :خالي ځايونه ډک کړئ:

1) الله د دین د خورولو لپاره کوشش کولو والا ته په.........کښې هم فتح ورکوي. (دنیا)
2) الله د خپلو بندګانو توبه ډېره زیاته......والا دے. (قبلولو)
3) د فتح مکې واقعه........هجري ده. (رمضان المبارک، ۸ هجري)
4) د دین.......د خلقو لپاره د دین قبلولو ذریعه جوړېږي. (غلبه)
5) سورت النصر د نبي کریم□د ژوند مبارک په .......کښې نازل شو. (اخري دور)

## سوال۳:د لاندینو سوالونو جوابونه ورکړئ.

۱ .کله چې الله تعالې انسان په څۀ مقصد کښې کامیاب کړي، نو انسان له څۀ پکار دي؟

جواب: کله چې الله تعالې انسان د هغۀ په مقصدونو کښې کامیاب کړي، نو هغۀ له پکار دي چې کامیابي د خپل ځان د صلاحیت ګڼلو په ځاے د الله فضل وګڼي. د الله شکر هم ادا کړي او د خپلو ګناهونو بخښنه هم وغواړي.

۲: د سورت النصر متعلق درې خبرې ولیکئ.

جواب: الف: دا سورت د نبي کریم د ژوند مبارک په اخري دور کښې نازل شوے دے.

ب: په دې سورت کښې د فتحې زېرے ورکړے شوے دے.

ج: د نبي کریم د عظیم مشن یعني دین اسلام د غلبې ذکر دے.

د: په ګڼ تعداد کښې د خلقو په دین کښې د داخلېدو ذکر دے.

ط: نبي کریم ته د تسبیحاتو، حمد و ثنا او استغفار غوښتلو حکم شوے دے.

۳. رسول الله به په رکوع او سجدو کښې په کثرت سره څۀ وئیل؟

جواب: رسول الله په رکوع او سجدو کښې دا دعا په کثرت سره وئیله: "سُبْحَانَكَ اللّٰهُمَّ رَبَّنَا وَبِحَمْدِكَ اَللّٰهُمَّ اغْفِرْلِيْ" اے زما ربه ستا ذات پاک دے او ستا د حمد سره مونږ ستا تسبیح بیانوو، اے الله تعالٰی بخښنه وکړې ما ته.

## عملي سرګرمي:

۱. د کامیابۍ په حاصلولو د عمومي طرز عمل پېژندلو لپاره د زده کونکیو نه وپوښتئ چې کۀ چرته هغۀ ته فلانۍ عهده میلاو شي، نو هغه به د هغې اظهار او استعمال څنګه کوي؟

۲. د نورو په غلطیانو زمونږ طرز عمل څنګه پکار دے؟

۳. زمونږ د کامیابۍ په نورو څنګه اثرات پرېوتلے شي؟ درې طریقې ولیکئ.

۴. د اخرت د کامیابۍ پنځۀ اصول ولیکئ.

## سُوْرَةُ اللَّهَب

### د ښودلو طريقه:

سبق نمبر۱: د دې سورت شان نزول، تعريف او قرانې متن د درسي کتاب نه ولولئ.

سوال نمبر۲: (i) د "علم او عمل خبرې" پهٔ وضاحت سره زده کونکيو ته ښودل او د مذاکرې پهٔ ذريعه ذهن ته کوزول.

(i)"ځان پوهه کړئ او حل ئې کړئ" زده کونکو ته د کور د کار (Home Work) پهٔ طور ورکړئ چې د هغوي د قرانٰ فهمۍ اندازه ولګي او وروستو ئې پهٔ کلاس کښې حل کړي. (د تشريحي نکتو نه وروستو د ورکړے شوو "مشقونو د جوابونو" نه استفاده کېدے شي)

(iii) د کور د سرګرمۍ د پاره د زده کونکيو د کور والا پابند جوړ کړئ. (پهٔ کلاس کښې د نورو سرګرميانو کولو لپاره د "مشقونو د جوابونو" نه وروستو د "عملي سرګرمۍ" نه هم استفاده پورته کېدے شي.

### د مطالعې مقصدونه:

د دې سورت پهٔ ختمېدو سره به زده کونکي د دې جوګه شي چې هغوي ته به پته وي چې:

۱۔ابولهب څوک ؤ؟ ۲۔د هغهٔ انجام څهٔ او ولې شو؟ ۳۔د ابولهب پهٔ واقعه کښې د عبرت څهٔ درس دے؟ ۴۔پهٔ دې سورت کښې د مسلمانانو لپاره د حوصلې څهٔ پېغام دے؟ ۵۔د اسلام د دښمنانو اخري انجام به څهٔ وي؟ ۶۔د دنياوي مال اسباب حقيقت څهٔ دے؟ ۷۔ پهٔ دنيا کښې چې څوک د چا پېروکار وي، پهٔ اخرت کښې به هم د هغهٔ سره وي.

# اٰيت پۀ اٰيت تشريحي نکتې

**اٰيت نمبر۱:** ۱ ـ د دې سورت شان نزول (پس منظر) څۀ دے؟

۱ ـ کله چې پۀ صفا غونډۍ نبي کريم خلقو ته د الله د يو والي دعوت ورکړو، نو ابولهب د نبي کريم بې اٰدبي وکړه او وې وئيل چې (معاذالله) "ستا د پاره دې هلاکت وي" پۀ دې سورت کښې د ابولهب د دغه خبرې جواب شوے دے.

۲ ـ د ابولهب څۀ معنٰي ده؟ ۲ ـ ابولهب يو ښکلے سړے ؤ ـ د هغۀ رنګ سور سپين ؤ ـ پۀ دغه اٰساس به هغۀ ته ابولهب "يعني لمبو والا" وئيل شو، يعني د اور پۀ شان ښکلے مخ لرونکے ـ پۀ قراٰن حکيم کښې ابولهب هغه بدقسمته انسان دے، د چا د نوم پۀ اخستلو سره چې هغۀ ته ښېرې شوي دي ـ د ابولهب خپل نوم عبدالعزيٰ ؤ، د کوم معنٰي چې د عزيٰ بت بنده دے ـ قراٰن حکيم هغۀ د شرکيه نوم پۀ ځاے پۀ کنيت سره مخاطب کړے دے ـ ۳ ـ د ابولهب د مال او کسب نه څۀ مراد دے؟ ۳ ـ کاروبار او اولاد ـ

**علمي خبره:** ابولهب د مکې پۀ څلورو مالدار ترينه خلقو کښې شمېرل کېدو ـ اکثرو مفسرينو ليکلي دي چې پۀ هغه زمانه کښې د هغۀ سره د نقدو او جائېداد نه علاوه د سرو ډهېري موجود وو ـ

**عملي اړخ:** دنياوي مال، دولت، عزت، شان او شوکت هېڅ به هم څوک د اٰخرت د عذاب نه بچ نۀ کړي ـ صرف نېک اعمال به د الله تعالٰي پۀ فضل سره د نجات ذريعه جوړېږي ـ انشاءالله

**اٰيت نمبر۳:** ۱ ـ د ابولهب به څۀ انجام وي؟ ۱ ـ هغه به د جهنم پۀ اور کښې اچول او سوځول شي ـ

**علمي خبره:** پۀ جنګ بدر کښې د ابولهب د ملګرو پۀ شکست هغۀ ته سخت خفګان ورسېدو ـ پۀ جنګ بدر کښې هغه بزدله شريک نۀ شو او د دغه جنګ نه ايله يوه هفته وروستو د مېناګو پۀ مرض اخته شو او مړ شو ـ د روايتونو نه معلومېږي چې د هغۀ مړے تر درې ورځو پۀ کور کښې پروت ؤ سخا شو، خو چا نۀ ښخولو، ځکه چې قرېشو به د مېناګو مرض ډېر خطرناک مرض ګڼلو ـ اخر چې کله خلقو د هغۀ زامنو ته پېغورونه شروع کړل، نو د هغۀ زامنو يو څو حبشيانو له روپۍ ورکړې، هغوي د هغۀ مړے اوچت کړو، پۀ يوه کنده کښې واچولو او د لرې نه ئې پسې ګټې وروغورځولې ـ

۲ ـ د جهنم د اور څۀ کېفيت بيان شوے دے؟ ۲ ـ د لمبو والا اور ـ

**عملي اړخ:** نن د ابولهب د نوم اخستو والا هېڅوک نشته، البته پۀ هغۀ باندې د لعنت وئيلو لپاره ټول امت موجود دے چې پۀ خپلو مونځونو کښې سورت اللهب وائي او د رسول الله پۀ دښمن باندې لعنت وائي. دغسې د قرآن پاک هغه پېشن ګويې چې رسول الله ته به غلبه حاصلېږي او د رسول الله دښمنان او ګستاخي کوونکي به تباه کېږي، حرف پۀ حرف پوره شوه. د قرآن حکيم د رښتين والي دا داسې ثبوت دے چې د قيامت پورې به باقي پاتې وي.

**فرمان نبوي** : "ستاسو دا اور، کوم چې انسان استعمالوي، د جهنم د اور اويايمه حصه ده. صحابه کرامو عرض وکړو، يا رسول الله د سوځولو لپاره خو دا اور کافي ؤ. رسول الله وفرمائيل! هغه اور د دې نه يو کم اويا درجې ګرم دے او هره درجه ئې د دې د ګرم والي برابر ده. (جامع ترمذي)

**آيت نمبر ۴** : ۱. د ابولهب د ښځې ام جميل څۀ انجام شو او ولې شو؟ ۱. هغه پۀ دنيا او آخرت کښې برباده شوه، ځکه چې هغې به نبي کريم ته تکليفونه رسول.

۲. د "حَمَّالَةَ الْحَطَبِ" د څۀ مراد دے؟ ۲. الف: د لرګو اوچتولو والا. ب: د نبي کريم پۀ لاره کښې غنو خورولو والا ج: د چغل خورۍ والا.

**عملي اړخ:** پۀ هر دور کښې د حق پۀ لار کښې د رکاوټونو غورځولو والا کمے نۀ دے، خو پۀ آخر کښې کاميابي د حق پۀ لار د تلونکو وي. پۀ دغه اساس چې څوک هم د څۀ نېک کار د پاره راوچتېږي، نو هغۀ له د رسول الله د ژوند نه رڼا اخستل پکار دي او د نبي کريم فرمانبرداري او پېروي کول پکار وي او پۀ الله باندې د کامل توکل او يقين سره بې وېرې مخکښې تلل پکار وي. بيا به د الله مرسته هم رانازلېږي، انشاءالله.

**آيت نمبر ۵** : ۱. د "مَسَدٌ" کومې رسۍ ته وئيل شي؟ ۱. د کهجورې د پوستکي يا د اوسپنې د تارونو نه جوړه شوې مضبوطه رسۍ.

**علمي خبره:** د ام جميل پۀ حقله پۀ خصوصي توګه د دې لفظونو پۀ استعمال کښې دا راز دے چې هغه د مکې د لوے سردار ښځه وه. د هغې پۀ غاړه کښې د جواهراتو يو قيمتي هار ؤ او هغې به وئيل چې زما دې پۀ لات او عزيٰ قسم وي چې زۀ به دا قيمتي هار خرڅووم او (معاذالله) د محمد پۀ دښمنۍ کښې به ئې خرڅ کووم. الله تعالٰي به د دغې پۀ دغه مرۍ کښې چې نن پۀ کښې قيمتي هار دے، د قيامت پۀ ورځ د پوستکو نه غښتلې شوې رسۍ واچوي، کومه به چې اويا ګزه اوږده وي او جهنم ته به ئې راکاږي. پۀ بعضې روايتونو کښې دا هم راغلي دي چې هغې حسب معمول د پوستکو نه پۀ غښتلې شوې رسۍ کښې د غنو ګېډے راوړو

چې ستړې شوه او یو ګټ ته ئې دمه کوله چې رسۍ د هغې مرۍ ته پرېوتله او د هغې پۀ وجه ترې ساه وختله او مړه شوه.

## د مشقونو جوابونه

## ځان پوهه کړئ او حل ئې کړئ:

## سوال۱: خالي ځایونه ډک کړئ:

1) پۀ سورت اللهب کښې د نبي کریم ﷺ د ............ انجام بیان شوے دے. (دښمنانو)
2) پۀ اخرت کښې به د انسان انجام د هغۀ د ........ مطابق وي. (عملونو)
3) نبي کریم ﷺ د اسلام د دعوت د پاره ......... غر سر ته تشریف یوړو. (صفا)
4) د انبیاء کرامو د توهین کولو والا د پاره د ....... عذاب دے. (د جهنم د اور)
5) ام جمیل به د نبي کریم ﷺ پۀ لار کښې ........ خورولې. (غنې)

## سوال۲: د لاندینو سوالونو جوابونه ورکړئ.

۱. الله تعالیٰ سورت اللهب ولې نازل کړو؟

جواب: د ابولهب لۀ اړخه د نبي کریم ﷺ پۀ ګستاخۍ د الله د اړخه دا سورت نازل شو.

۲. پۀ ابولهب باندې د لعنت سلسله څنګه جاري ده؟

جواب: مسلمانان چې کله هم پۀ مونځ کښې د سورت اللهب تلاوت کوي، نو پۀ دغه دښمن او ګستاخ رسول باندې د لعنت سلسله جاري وي.

۳. د مکې خلقو ته د نبي کریم ﷺ د خطاب دوه یا درې خبرې ولیکئ.

جواب: الف. اے خلقو د یو الله عبادت کوئ. ب. زۀ د الله تعالیٰ رالېږلے شوے پېغمبر یم.

ج. زۀ تاسو د اٰخرت د انجام نه د وېرولو لپاره راغلے یم.

۴. د خپلو استاذانو نه د ابولهب او ام جمیل پۀ حقله معلومات واخلئ او د هغوي د عبرتناک انجام پۀ حقله مضمون ولیکئ. (د ابولهب او ام جمیل د عبرتناک انجام تفصیلات د اٰیت نمبر۳ او اٰیت نمبر۵ پۀ تشریح کښې ورکړے شوي دي)

**عملي سرګرمي:** ۱. د پوستکو د رسۍ مشاهده وکړې او د هغې شدت زده کونکیو ته وښایې.

# سُوۡرَةُ الۡاِخۡلَاص

## د ښودلو طريقه :

سبق نمبر۱ : د دې سورت شان نزول، تعريف او قرانٰي متن د درسي کتاب نه ولولئ.

سوال نمبر۲ : (i) د "علم او عمل خبرې" پهٔ وضاحت سره زده کونکيو ته ښودل او د مذاکرې پهٔ ذريعه ذهن ته کوزول.

(i)"ځان پوهه کړئ او حل ئې کړئ" زده کونکو ته د کور د کار (Home Work) پهٔ طور ورکړئ چې د هغوي د قرانٰ فهمۍ اندازه ولګي او وروستو ئې پهٔ کلاس کښې حل کړي. (د تشريحي نکتو نه وروستو د ورکړے شوو "مشقونو د جوابونو" نه استفاده کېدے شي)

(iii) د کور د سرګرمۍ د پاره د زده کونکيو د کور والا پابند جوړ کړئ. (پهٔ کلاس کښې د نورو سرګرميانو کولو لپاره د "مشقونو د جوابونو" نه وروستو د "عملي سرګرمۍ" نه هم استفاده پوره کېدے شي.

## د مطالعې مقصدونه:

د دې سورت پهٔ ختمېدو سره به زده کونکي د دې جوګه شي چې هغوي ته به پته وي چې:

۱. د الله تعالىٰ څوک شريک نشته. ۲. پهٔ مختلفو مذهبونو کښې د الله تعالىٰ سره څنګه شرک شوے دے؟ ۳. د الله څوک برابر نشته.

**د سورت تړون:** پهٔ تېر سورت کښې د رسول الله ﷺ د دښمن عبرتناک انجام بيان شوے دے، چا چې د الله د يو والي نه انکار کړے ؤ او د نبي کريم ﷺ ئې حد درجه ګستاخي او مخالفت کړے ؤ. پهٔ دې سورت کښې د الله تعالىٰ وحدانيت پهٔ واضحه توګه بيان شوے دے. د الله د ذات او صفاتو پهٔ حقله چې د مشرکين تر منځ کوم شکونه موجود دي، د هغې پهٔ ډېر ساده انداز او ساده لفظونو نفي شوې ده او د اسلام د وحدانيت بنيادي عقيده پهٔ کولاو لفظونو کښې بيان شوې ده.

# اٰيت پهٔ اٰيت تشريحي نکتې

**اٰيت نمبر ۱** : ۱ ـ د دې سورت فضيلت څهٔ دے؟

۱ ـ پهٔ حديث شريف کښې دا سورت د قراٰن د درېمې حصې برابر ګڼل شوے دے ـ (صحيح مسلم)

۲ ـ د قراٰن د دريمې حصې ګڼلو نه څهٔ مراد دے؟ ۲ ـ دا سورت د قراٰن حکيم د دريمې حصې برابر ګڼلو، علماء کرامو ډېر وجوهات بيان کړي دي ـ د ټولو نه بهتر دا ده چې پهٔ قراٰن حکيم کښې پهٔ درې څيزونو پهٔ تفصيل سره خبره شوې ده، د الله پهٔ يو والي باندې ايمان، پهٔ نبوت ايمان او د قيامت پهٔ ورځ ايمان ـ پهٔ دې سورت کښې د الله د يو والے ذکر شوے دے چې د دې درې واړو څيزونو نه يو دے، د دې وجې نه دې ته د قراٰن دريمه حصه وئيل شوې ده ـ

**علمي خبره**: "عائشه صديقهؓ فرمائي چې نبي کريم ﷺ يو سړے د يو لښکر مشر وټاکلو او وې لېږلو ـ هغهٔ سړي به چې کله مونځ کولو، نو خپل قراٰت به ئې پهٔ سورت اخلاص ختمولو، کله چې دغه خلق راواپس شول، نو نبي کريم ﷺ ته ئې دغه ذکر وکړو ـ نبي کريم ﷺ ورته وفرمائيل چې د دغه سړي نه تپوس وکړئ چې داسې ولې کوي ـ کله چې خلقو د هغهٔ نه تپوس وکړو، نو هغهٔ ورته ووئيل چې پهٔ دې سورت کښې د الله تعالٰي صفات بيان شوي دي، ځکه د دې تلاوت ما ته ښهٔ ښکاري او زما ورسره محبت دے ـ نبي کريم ﷺ ورته وفرمائيل چې دغه سړي ته ووايئ چې الله د دهٔ سره محبت کوي" (صحيح بخاري)

**علمي خبره**: "اګر چې دا سورت پهٔ ظاهري توګه پهٔ ټولو سورتونو کښې دومره وړوکے دے، څنګه چې پهٔ ټول بدن کښې د سترګو تور وي، خو د هدايت ټول عالم د دغه د وجې نه رڼا دے"

۳ ـ د دې سورت شان نزول (شاليد) څهٔ دے؟ ۳ ـ د مکې مشرکينو د نبي کريم ﷺ د الله تعالٰي د نسب پهٔ حقله پوښتنه وکړه ـ د هغهٔ پهٔ جواب کښې دا سورت نازل شو ـ (جامع ترمذي)

۴ ـ د لفظ "الله" څهٔ معنٰي ده؟ ۴ ـ د يوې رايې مطابق دا د الله ذاتي نوم دے، خو دويمه رايې دا ده چې د دې معنٰي "اله" ده يعني خاص معبود ـ

۵ ـ د "اَحَد" څهٔ معنٰي ده؟ ۵ ـ يو، يوائې، تنها، يعني الله پهٔ خپل ذات او صفاتو کښې يو دے، د هغهٔ پهٔ شان څوک نشته ـ

عملي اړخ: الله پهٔ خپل ذات، صفاتو او عبادت کښې څوک شريک نهٔ خوښوي۔ مونږ له د الله تعالٰي پهٔ ذات او صفاتو کښې څوک شريکول نهٔ دي پکار، ځکه چې شرک د ټولو نه لوے ظلم دے۔ (سورت لقمٰن ۳۱،اٰيت: ۱۳)

اٰيت نمبر ۲: ۱۔د "صَمَد" څهٔ معنٰي ده؟ ۱۔بې نيازه، کوم ته چې د هېڅ څيز ضرورت نهٔ وي، چې د چا محتاج نهٔ وي، بلکې ټول خلق د هغهٔ محتاج وي۔دا شان صرف د يو الله دے چې ټول مخلوقات صرف د يو الله محتاجه دي او الله ته د چا ضرورت نشته۔

اٰيت نمبر۳: ۱۔د الله تعالٰي څهٔ صفات بيان شوي دي؟ ۱۔نهٔ الله د چا پلار دے او نهٔ د چا زوے دے۔

علمي خبره: ځينې يهوديان عزيرعليه‌السلام د الله تعالٰي زوے ګڼي۔ (سورت التوبه۹،اٰيت: ۳۰) عيسايان وائي چې "الله" مريمعليها‌السلام او عيسٰيعليه‌السلام چې را يو شي، نو د خدائے خدائي مکمل شي، کوم ته چې هغوي د تثليث نوم ورکوي۔ (سورت المائده۵،اٰيت: ۷۲)

د مکې د مشرکينو پهٔ حقله وئيلي شوي دي چې: "اٰيا مونږ ملائکې ښځې جوړې کړې دي او دوي هغه وخت موجود وو۔ واورئ! پهٔ حقيقت کښې دا خلق دورغ وائي چې الله اولاد لري۔ يقيناً دا خلق دروغژن دي۔ اٰيا الله د ځان د پاره د زامنو پهٔ ځائے لونړه خوښې کړې دي؟"(سورت الصٰفٰت۳۷،اٰيات: ۱۴۹نه تر ۱۵۲) حقيقت دا دے چې څوک د الله زوے ګڼل يا د هغهٔ د بدن حصه ګڼل لوے جرم دے۔ "هغوي وائي چې د رحمٰن ذات اولاد دے۔ډېره بې هوده خبره ده چې تاسو ئې کوئ۔ نزدې ده چې اسمان راولوېږي، زمکه وشلېږي او غرونه رېزه رېزه شي، پهٔ دې خبره چې دوي رحمٰن ذات له د اولاد دعوٰي کړې ده۔ د رحمٰن ذات د شان سره دا نهٔ ښايي چې هغه څوک اولاد جوړ کړي"(سورت مريم۱۹ ، اٰياتونه: ۸۸ نه تر ۹۲)

اٰيت نمبر ۴: ۱۔"د الله څوک برابر نشته" څهٔ مطلب دے؟

۱۔څوک د الله پهٔ شان نشته، نهٔ پهٔ مثال کښې، نهٔ پهٔ شکل کښې او نهٔ پهٔ ذات او صفاتو کښې، مثلاً د الله سره اصل اختيار دے، د هغهٔ پهٔ شان اختيار او طاقت د چا سره نشته۔د الله سره د هر شي علم دے، د هغهٔ پهٔ شان علم د چا سره نشته، وغېره۔

علمي خبره: "د کائنات هېڅ څيز د هغهٔ پهٔ شان نشته، هغه د هر اورېدو او ليدو والا دے" (سورت شوري۴۲، اٰيت: ۱۱) د الله سره پهٔ ذات او صفاتو کښې څوک شريکول او د الله پهٔ شان صفتونو والا بل منلو ته شرک وائي۔

**عملي خبره**: مونږ له پۀ دې خبره غور و فکر کول پکار دي چې پۀ کائناتو کښې پۀ څۀ لحاظ سره هم څوک د الله برابر نشته او اصل اختيار هم د هغۀ سره دے، نو بيا خو د هغۀ عبادت کول پکار دي او د ژوند پۀ هر اړخ د هغۀ د قانون نفاذ پکار دے.

## د مشقونو جوابونه

### ځان پوهه کړئ او حل ئې کړئ:

سوال۱: د کالم (الف) هره جمله د کالم (ب) د صحيح جملې سره ميلاو کړئ:

| الف | ب |
|---|---|
| نبي کريم□سورت اخلاص | د الله برابر نشته |
| پۀ سورت اخلاص کښې | فائده به مونږ ته وي |
| د الله د عبادت | د الله د صفاتو پۀ حقله تپوس وکړو |
| څوک پۀ هېڅ اعتبار سره | دربمه حصه قرآن ګڼلے دے |
| د مدينې منورې يهود د نبي کريم□نه | د الله د يو والي بيان دے |

### سوال۲: خالي ځايونه ډک کړئ:

1) د صمد معنٰي.............ده. (بې نيازه)
2) يهوديانو او عيسايانو خپل........د الله زامن وګڼل. (انبياء کرام عليهم السلام)
3) د اولاد ضرورت خو.........ته دے. (انسانانو)
4) د مکې مشرکينو .........د الله تعالٰي لوڼه ګڼلې. (ملائکې)
5) ټول.......... د الله محتاج دي. (مخلوقات)

### سوال۳: د لاندينو سوالونو جوابونه ورکړئ:

۱. پۀ مونږ باندې د الله څۀ حق دے؟

جواب: پۀ مونږ باندې د الله حق دے چې مونږ د هغۀ عبادت وکړو او پۀ ټوله زندګۍ کښې د هغۀ پۀ احکاماتو عمل وکړو.

**۲۔د مدینې یهودو به چې د الله د صفاتو پۀ حقله څۀ سوالونه کول، د هغۀ نه درې سوالونه ولیکئ۔**

الف: الله څۀ څیز دے؟ ب:د هغۀ جنس څۀ دے؟ ج: آیا هغۀ د سرو، سپینو یا پیتلو نه جوړ شوے دے؟ د: آیا هغۀ څۀ خوري او څښکي؟

**۳۔د نبي کریم ﷺ د سورت الاخلاص د تلاوت معمول څۀ ؤ؟**

جواب: د نبي کریم ﷺ د سحر او ماښام د مونځ نه پس، د طواف نه وروستو پۀ دوه رکعتو کښې پۀ دویم رکعت کښې، د وترو پۀ دریم رکعت کښې او د شپې د اودۀ کېدو نه مخکښې د سورت الاخلاص د تلاوت کولو معمول ؤ۔

## عملي سرګرمي:

۱۔د یو الله د حکم منلو پۀ اړه ماشومان یو ځائے ته راټول کړئ، د هغۀ نه دوه ماشومان پاڅوئ او هغوي ته ووایئ چې پۀ یو ځائے باندې یوه یوه اشاره وکړي او باقي ماشومانو ته ووایئ چې دوي درته څۀ اشاره وکړي، هغه کار وکړئ۔ د دوه مختلف اشارو سره به ماشومان پرېشانه شي چې د کوم یو پۀ اشاره عمل وکړي۔ (مطلب دا چې څنګه پۀ یو وخت د یو نه د زیاتو خلقو خبره منل ناممکن ده، دغسې د کائناتو نظام ګواه دے چې هر څیز د الله د حکم پابند دے)

۲۔پۀ ماشومانو د هغه څیزونو فهرست جوړ کړئ، د کومو چې مخلوقاتو ته ضرورت وي او الله تعالیٰ د هغۀ نه پاک وي۔ (نکتې: پۀ خالق او مخلوق کښې فرق کولو والا څیزونه، مثلاً خوراک، څښاک، خوب وغېره۔ ۳۔د دنیاوي حکمرانانو د اختیاراتو او د الله د اختیاراتو موازنه وکړئ۔

## د لارښودنې د پاره نکتې:

**د الله اختیارات:** لامحدود، ازلي (د همېش نه)، ابدي (د همېش د پاره) نۀ ختمېدونکي، ذاتي، بې وېرې او بې خطرې وغېره۔

**د دنیا د حکمرانانو اختیارات:** محدود، وختي، ختمېدونکي، ورکړے شوي، د اخستو وېره، پۀ بعضې وخت کښې د ورکړي شوو حکمونو نه د خطرناک انجام وېره وغېره۔

# سُوْرَةُ الْفَلَق او سُوْرَةُ النَّاس

## د ښودلو طريقه:

سبق نمبر۱: د دې سورت شان نزول، تعريف او قراٰني متن د درسي کتاب نه ولولئ.

سوال نمبر۲: (i) د "علم او عمل خبرې" پۀ وضاحت سره زده کونکيو ته ښودل او د مذاکرې پۀ ذريعه ذهن ته کوزول.

(i) "ځان پوهه کړئ او حل ئې کړئ" زده کونکو ته د کور د کار (Home Work) پۀ طور ورکړئ چې د هغوي د قراٰن فهمۍ اندازه ولګي او وروستو ئې پۀ کلاس کښې حل کړي. (د تشريحي نکتو نه وروستو د ورکړے شوو "مشقونو د جوابونو" نه استفاده کېدے شي)

(iii) د کور د سرګرمۍ د پاره د زده کونکيو د کور والا پابند جوړ کړئ. (پۀ کلاس کښې د نورو سرګرميانو کولو لپاره د "مشقونو د جوابونو" نه وروستو د "عملي سرګرمۍ" نه هم استفاده پورته کېدے شي.

## د مطالعې مقصدونه:

د دې سورت پۀ ختمېدو سره به زده کونکي دد ې جوګه شي چې هغوي ته به پته وي چې:

۱-د الله پناه ولې ضروري ده؟ ۲-د الله صفتونه څۀ دي؟ ۳-د جادو نه څنګه بچ کېدے شو؟

## اٰيت پۀ اٰيت تشريحي نکتې

۴ ... ي؟

۷-د شېطان کومې دوه ډلې دي؟

**د سورت تړون:** پۀ سورت الاخلاص کښې دا بيان شوي دي چې الله هغه دے چې پۀ هر اعتبار سره وحده لاشريک دے. څوک پۀ هېڅ اعتبار او هېڅ درجه د هغۀ برابر کېدے نۀ شي. ګويا چې هغه مطلق حاکم دے او نور خلق محکوم دي. هغه بادشاه دے او نور خلق د هغۀ د در فقيران دي. هغه طاقتور دے او هر څوک د هغۀ مخې ته عاجزه او بې وسه دي. پۀ دغه اساس د هغۀ پناه غوښتل پکار دي. پۀ دې سورت کښې د بهر د حمله کوونکو نه د الله تعالٰي د پناه غوښتلو تلقين او طريقه ښودل شوې ده.

**علمي خبره:** خطاب نبي کریم□ او د نبي کریم□ پهٔ واسطه هر هغه سړي ته دے چې پهٔ قرآن حکیم ئې ایمان راوړے وي. پوره قرآن مجید د سورت الفاتحه د دعا پهٔ جواب کښې الله پاک انسان ته ورکړو او پهٔ آخره کښې انسان د خپل رب رحمٰن او رحیم نه دغه دعا کوي چې پهٔ دنیا کښې د ډېرې فتنې، شرونه او ګمراهیانې دي. اے الله زما مرسته وکړه او پهٔ هره طریقه مې پهٔ خپله پناه کښې وساته. پهٔ اصل کښې دا آیت د سخت دښمن، تکلیف او هر قسم حملې نه د الله پهٔ پناه کښې د راتللو لپاره غټه وسله ده.

**آیت نمبر ۱:** ۱. پهٔ دې سورت کښې د کومو شرونو نه پناه غوښتلې شوې ده؟

۱. د هغه ټولو شرونو نه، کوم چې د بهر نه پهٔ انسان باندې حمله کوي، مثلاً جادوګر، حاسد وغېره.

پهٔ دې سورت کښې د هغه کارونو ذکر شوے دے، کوم چې د انساني وجود د نشوونما او صحت د پاره خطرناک وي.

۲. د الله پهٔ پناه کښې د راتللو نه څهٔ مراد دے؟ ۲. الله حقیقي او مستقل مددګار ګڼونکے او پهٔ هغهٔ باندې توکل او مکمل بهروسه کول او د الله پهٔ حفاظت او امان کښې راتلل. د پناه غوښتلو نه مراد د خپل ځان د حفاظت د پاره د پناه ورکونکې هستۍ نه دعا کول، د هغهٔ طرف ته رجوع کول او د هغهٔ مرسته پهٔ مضبوطۍ سره نیول.

**عملي اړخ:** د الله پناه اخستلو والا د خپل هغه یقین او اطمینان اظهار کوي چې کومه هستي تیارهٔ شلوي او سحر ترې راوباسي، هغه د مایوسۍ پهٔ حالت کښې د هیلې زېرے هم ورکوي او د فتنو پهٔ دور کښې د امن او خېر و عافیت لار هم پرانېزي.

۳. د رب نه څهٔ مراد دے؟ ۳. رب هغه دے چې څهٔ څیز پهٔ مزه مزه د کمال مقام ته ورسوي.

۴. حقیقي رب څوک دے؟ ۴. حقیقي رب الله دے چې د ټولو مخلوقاتو ټول حاجتونه او ضرورتونه پوره کوي.

۵. د "فَلَقْ" نه څهٔ مراد دے؟ ۵. د "فَلَقْ" لفظي معنٰي د شلېدلو ده، مطلب د شپې شلېدل او ورځ ترې راوتل.

**آیت نمبر ۲:** ۱. شر څهٔ ته وائي؟ ۱. مصیبت او تکلیف، یا داسې څیز چې د مصیبت او تکلیف سبب جوړ شي.

۲. د مخلوقاتو د شر نه څهٔ مراد دے؟ ۲. د مخلوق د طرفه رسېدونکے مصیبت یا تکلیف.

**علمي خبره:** "څۀ چې هغۀ پېدا کړي دي، د هغۀ د شر نه" مطلب دا نۀ دے چې د هغۀ پۀ پېدا کړي هر څیز کښې به لازمي د شر اړخ وي، بلکې مطلب ئې دا دے چې د هغۀ پېدا کړے شوي څیزونه کۀ چرته هم د خپل ذات دننه کوم د شر اړخ لري یا د شر باعث جوړېدے شي، د هغۀ ټولو د شر نه د الله تعالٰي پۀ پناه کښې راځم.

**عملي اړخ:** هېڅ څیز پۀ خپل ذات کښې دننه مؤثره نۀ دے او نۀ کوم یو شر چا ته پۀ خپله رسېږي، بلکې هر څیز د الله پۀ قدرت سره اثر کوي او شر هم د الله د غوښتنې مطابق رسېږي. دغسې مونږ نۀ ټول څیزونه شمارلے شو او نۀ د ټولو څیزونو د ضررونو اندازه لګولے شو. د خپل ناقص علم مطابق مونږ یو څیز د ځان لپاره فائده مند ګڼو، خو اصل کښې هغه څیز زمونږ لپاره خطرناک او تکلیف رسوونکے ثابت شي. د دې وجې نه د الله تعالٰي پۀ بارګاه کښې دا عرض کول پکار دي چې د کوم څیز تۀ خالق یې، پۀ هغۀ کښې چې د تکلیف کوم اړخ زما د پاره وي، کوم چې تۀ ښۀ پېژنې او د کوم پۀ لرې کولو چې تۀ قدرت لرې، زۀ ستا نه د هغۀ پناه غواړم.

**علمي خبره:** د شر نه مراد محسوسېدونکي افتونه او بلاګانې هم او معنوي ضررونه او ګمراهیانې هم دي. د وړومبي څیز مثالونه بېماریانې او تکلیفونه دي او د دویم څیز مثال ګناه او کفر و شرک دے.

**آیت نمبر۳:** ۱. د تورې شپې د شر نه ولې پناه غوښتل شوې ده؟

۱. پۀ تیارۀ کښې شرپسنده عناصرو او شېطاني قوتونو ته د راپورته کېدو موقع ملاوېږي. د ظاهري او جسماني افتونو پۀ اعتبار سره بېماریانې د شپې زیاتېږي او خطرناک ځناور د شپې راوځي. اکثر غلط کارونه د شپې پۀ تیارۀ کښې کولے شي، مثلاً غلا، ډاکه، جادو وغېره. پۀ دغه اساس د تورې شپې د شر نه پناه غوښتل شوې ده.

**عملي اړخ:** پۀ ډاګه دې وي چې د شپې سره د شر منسوب کولو دا مطلب نۀ دے چې د شپې خېر نۀ نازلېږي یا د خېر کار نۀ شي کېدے، بلکې مطلب دا دے چې د شپې وخت د شېطاني قوتونو د پاره د شر خورولو لپاره سازګار وي.

**آیت نمبر۴:** ۱. دلته د غوټې نه کومه غوټه مراد ده؟ ۱. عُقَد (غوټې) نه مراد هغه غوټې دي، چې کومې شېطانان د انسان شعور او حواسو اچوي او انسان غافل او بې هوشه کوي.

**فرمان نبوي:** " کله چې پۀ تاسو کښې یو کس اودۀ شي، د هغۀ د سر شاته حصې ته شېطان درې غوټې اچوي او د هرې غوټې سره دا هم لیکي چې لا شپه اوږده ده. بیا چې کله دغه سړے وینښ شي او الله یاد

کړي، نو يوه غوټه ايله شي او چې اودس وکړي، نو بله غوټه هم ايله شي او کله چې مونځ وکړي، نو دريمه غوټه هم ايله شي او سحر هغه تروتازه وي او نفس ئې پاک وي۔ ګنه پۀ بل صورت کښې هغه سست او د ګنده نفس سره وي" (صحيح بخاري، صحيح مسلم)

**عملي اړخ:** د شېطان انسان لره پۀ غفلت کښې د اچولو يو مثال چې پۀ حديث کښې پېښ شوے دے، د دغه نه د شېطان د ذات، د هغۀ د حرکتونو او د هغۀ د حملو پۀ اسانئ سره اندازه لګېدے شي۔

۲۔ پۀ غوټو کښې د پوکو کولو والا نه څوک مراد دي؟ ۲۔ د دې نه مراد د جادو کولو والا ښځې دي۔ پۀ دې معنٰي کښې د جادو کولو والا سړي هم شامل دي۔

۳۔ د جادو پۀ حقله شرعي حکم څۀ دے؟ ۳۔ جادو يو داسې غلط علم دے چې د دې زده کول او ښودل او ځانله او پۀ نورو کول حرام دي۔

**عملي اړخ:** د دې سورتونو پۀ برکتونو سره مونږ له فېض او شفا حاصلول پکار دي او د کوډو، جادو نه د بچ کېدو د پاره مونږ له د نبي کريم ﷺ مسنون طريقه اختيارول پکار دي۔

"عائشه صديقه ؓفرمائي چې رسول الله ﷺ به کله څملاستلو، نو پۀ خپلو دواړو لاسونو کښې به ئې: "قُلْ هُوَ اللّٰهُ اَحَد او معوذتين چپ کړو او بيا به پۀ خپل مخ او د بدن تر کومه ځايه چې به ئې لاس رسېدو، راښکلو۔

**علمي خبره:** سورت الفلق او سورت الناس ته معوذتين وئيل شي۔ ځکه چې پۀ دې دواړو سورتونو کښې د شرونو نه د رب پۀ پناه کښې د راتللو وئيل شوي دي۔

**ايت نمبر ۵:** ۱۔ حسد څۀ څيز دے؟

۱۔ د چا نعمت او ارام ته کتل او سوځېدل او دا غوښتل چې دا نعمت د دې نه واخستل شي۔

**علمي خبره:** پۀ قراٰن پاک کښې د يهودو د حسد هم پۀ خاصه توګه ذکر شوے دے۔ "ډېر اهل کتاب دا غواړي چې هغه تاسو د ايمان راوړولو نه پس بيا کفر ته واړوي، صرف د خپل نفس د حسد پۀ وجه" (سورت البقره ۲، ايت: ۱۰۹)

د مکې د کافرو هم د نبي کريم ﷺ سره پۀ دې اساس حسد ؤ چې د مکې او طائف سرداران ولې الله پاک پرېښودل او تۀ ئې د پېغمبرئ د پاره منتخب کړې۔ هغوي به وئيل: "دا قراٰن پۀ دواړو ښارونو کښې پۀ کوم لوے سړي ولې نازل نۀ شو؟" (الزخرف ۴۳،۳۱) دا د حسد اور ؤ، کوم چې دوي د نبي کريم ﷺ

دښمنان جوړ کړي وو او هغوي نۀ غوښتل چې پۀ مسلمانانو د هغوي د رب د اړخ نه څۀ خبر نازل شي، نو پۀ دغه اساس پۀ قرآن کښې فرمائیلي شوي دي "چا چې کفر کړے دے، خواه کۀ هغه اهل کتاب دي او کۀ مشرکان، نۀ غواړي چې ستاسو د رب د اړخ نه پۀ تاسو باندې خبر نازل شي" (سورت البقره۲، آیت:۱۰۵)

**عملي اړخ**: د قرآن پۀ اخره کښې چې د حاسد د شر نه د پناه غوښتلو کوم حکم شوے دے، د دې نه یوې اهمې خبرې اړخ ته اشاره ده او هغه دا ده چې ایمان والا دې ځان ښۀ پوهه کړي چې د دې کتاب د هدایت پۀ وجه دوي ته لوے نعمت او شرف حاصل شوے دے. پۀ دې باندې د حاسدانو د نظر او د هغوي د فتنو نه د بچ کېدلو د پاره د الله مرسته حاصلول پکار دي.

۲: د حاسد د حسد نه د بچ کېدو د دعا تلقین ولې شوے دے؟ ۲: ځکه چې د حسد پۀ وجه حاسد څۀ نقصان هم رسولے شي.

۳:حسد څنګه عمل دے؟ ۳:حرام او ګناه کبیره عمل دے.

**فرمان نبوي** : "د حسد نه ځان بچ کړئ، ځکه چې حسد نېکیانې داسې خوري، څنګه چې اور خشاک خوري" (سنن ابی داؤد)

۴: پۀ کومو صورتونو کښې حسد (رشک) جائز دے؟

۴: د رشک معنٰي ده، د چا پۀ خوبیٔ یا خوشبختیٔ لیدلو سره دا خیال کول چې ما ته دې هم دا خوبي یا خوشبختي حاصله شي (خو د دۀ سره دې هم وي).

**فرمان نبوي** : حسد (رشک) جائز نۀ دے، مګر پۀ هغه خلقو باندې، یو چې هغۀ له الله پاک مال ورکړے وي او هغه ئې د الله پۀ لار کښې خرچ کوي او دویم هغه چې هغۀ له الله تعالٰي علم ورکړے وي او هغه ئې خلقو ته رسوي" (صحیح مسلم)

# سُوْرَةُ النَّاس

## د سورت تړون:

الله تعالیٰ پۀ سورت الفلق کښې خپل تعريف د رب الفلق (يعني د شلولو والا رب) سره کړے دے۔ پۀ سورت الناس کښې وئيلي شوي دي چې هغه د انسانانو رب، حقيقي بادشاه او حقيقي معبود دے۔ پۀ دې اساس د هغۀ د مخلوق بالخصوص د پېريانو او انسانانو د شر نه د بچ کېدو د پاره د هغۀ پناه اخستل پکار دي۔ سورت الناس ته دا اعزاز حاصل دے چې الله تعالیٰ پۀ دې باندې د خپل عظيم او بابرکته کتاب اختتام کړے دے۔ پۀ دې سورت کښې د هغه دننه شرونو نه چې پۀ انسان د دننه نه حمله کوي، د بچ کېدو تلیقين او طريقه ښودل شوې ده۔ د سورت الفاتحه شروع پۀ "رب العٰلمين" لفظونو او د قرآن حکيم پايې پۀ "من الجنة والناس" وشوه۔ د دې لفظونو پۀ استعمال باندې دا اشاره شوې ده چې قرآن حکيم د پېريانو او انسانانو د پاره نازل شوے دے۔ پۀ سورت الفلق کښې پۀ ټولو مخلوقاتو کښې د هغۀ څيزونو نه د پناه غوښتلو حکم شوے دے، د کوم نه چې د نقصان رسېدلو زياته خطره وي۔ پۀ سورت الناس کښې د هغۀ څيز نه د پناه غوښتلو حکم دے چې هر وخت د انسان سره وي او د انسان د ټولو نه لوے دښمن دے، يعني شېطان۔

**آيت نمبر ۱** :۱ ۔ پۀ دې سورت کښې د کومو شرونو نه پناه غوښتل شوې ده؟

۱ ۔د هغه ټولو شرونو نه چې پۀ انسان د دننه نه حمله کوي، مثلاً شېطان او نفس۔

۲ ۔ رب څۀ ته وائي؟ ۲ ۔رب هغه دے چې څۀ څيز پۀ مزه مزه د کمال مقام ته ورسوي۔

۳ ۔حقيقي رب څوک دے؟ ۳ ۔ حقيقي رب الله دے چې د ټولو مخلوقاتو ټول حاجتونه او ضرورتونه پوره کوي۔

**عملي اړخ:** الله د ټولو انسانانو رب دے۔هغۀ د ټولو شرونو نه پناه ورکونکے دے۔د هغۀ نه سېوا څوک د مخلوق حفاظت نۀ شي کولے۔پۀ دغه اساس مونږ له د پناه د پاره د هغۀ طرف ته رجوع پکار ده۔

**آيت نمبر ۲** :۱ ۔مالک څۀ ته وائي؟ ۱ ۔مالک بادشاه ته وائي۔

۲ ۔د انسانانو او ټولو مخلوقاتو بادشاه څوک دے؟ ۲ ۔الله تعالیٰ۔

**عملي اړخ:** چونکې الله د انسانانو حقيقي بادشاه دے، پۀ دغه اساس هغه د بندګانو پۀ حفاظت باندې پوره قدرت لري۔پۀ دغه اساس مونږ له د دغه لوے قادر ذات نه مرسته اخستل پکار دي۔

**علمي خبره**: د الله تعالٰي قدرت چې څنګه په زمکه او آسمانونو باندې قائم دے، دغسې په ټولو انسانانو هم قائم دے. د انسانانو په ډلو کښې داسې ډله نشته چې په هغوي باندې د الله بادشاهت قائم نۀ وي. خپل ځان د هغۀ د بادشاهت نه ازاد ګڼلو سره په طرز عمل کښې سرکشي راځي.

**آيت نمبر ۳**: ۱. اله څۀ ته وائي؟ ۱. د چا سره چې محبت کول شي. څوک چې مالک منل شي او د چا چې عبادت کول شي. څوک چې معبود منل شي.

۲. د انسانانو او ټولو مخلوقاتو اله څوک دے؟ ۲. الله تعالٰي.

**عملي اړخ**: پۀ حقيقت کښې د ټولو انسانانو معبود صرف الله دے او دا د هغۀ د ربوبيت او بادشاهۍ تقاضا هم ده چې په ټولو کائناتو کښې يواځې هغه معبود وګڼل شي او د هغۀ عبادت وشي، ځکه چې بل څوک د دې صفتونو لائق نشته.

**علمي خبره**: د بنده نه دا تقاضا کېږي چې هغه د رب درې واړه صفتونه يعني د رب صفت، د مالک صفت او د اله صفت مخې ته کېږدي، د هغۀ د عظمت اعتراف وکړي او د هغۀ پناه واخلي. کله چې انسان الله تعالٰي د هغۀ د دغه درې صفتونو نه وپېژني، نو بيا د هغۀ په دربار کښې فرياد کوي او پناه غواړي.

**آيت نمبر ۴**: ۱. وسوسه څۀ ته وائي؟

۱. د وسوسې معنٰي د غلط خيال او غلطې خبرې ده چې پۀ غېر محسوس طريقه د چا پۀ زړۀ کښې اچول شي. يعني پۀ پټه يوه غلطه خبره، مضره خيال ښائسته کول او د چا په زړۀ کښې اچول. دا د شېطان د طرف نه وي.

۲. پۀ پټه وسوسه اچولو والا نه څوک مراد دے؟ ۲. شېطان مردود.

۳. د خناس نه څۀ مراد دے؟ ۳. شاته تښتېدلو والا. کله چې د الله تعالٰي ذکر کېږي، نو شېطان شاته تښتي او کله چې بنده غافله وي، نو هغۀ ورته وسوسې اچوي. (سورت الزخرف۴۳، آيت: ۳۶)

**فرمان نبوي** : "شېطان د انسان پۀ زړۀ پسې نښتے وي. کله چې هغه الله يادوي، شېطان شاته تښتي او کله چې بنده غافل وي، نو هغه ورته وسوسې اچوي" (صحيح بخاري)

۴. شېطان څوک دے؟ ۴. دا د پېريانو د ذات نه ؤ. (سورت الکهف ۱۸، آيت: ۵۰) خو بيا هم د هغۀ د عبادت پۀ وجه هغه الله تعالٰي د ملائکو مقام ته رسولے ؤ، خو کله چې الله تعالٰي آدم  پېدا کړو، نو هغۀ تکبر وکړو او د الله د دربار نه خوار و ذليل راوويستل شو.

**اٰیت نمبر ۵**: ۱ ـ پهٔ سینو کښې د وسوسې اچولو نه څهٔ مراد دے؟ ۱ ـ پهٔ سینو کښې د ګناهونو او الله د نافرمانۍ خیال اچول ـ

۲ ـ دلته پهٔ وسوسه اندازۍ کښې د زړهٔ پهٔ ځائے د سینې پهٔ یادولو کښې څهٔ حکمت دے؟

۲ ـ د شېطان د وسوسې اچولو ځائے د انسان باطن یعنې سینه ده ـ سینه د زړهٔ د پاره د غولې پهٔ شان ده، د کوم ځائے نه چې وسوسې زړهٔ ته داخلېږي ـ مفسرینو د دې ډېره ښه تشریح کړې ده ـ "دا نکته قابل غور ده ـ الله دا و نهٔ فرمائیل چې د هغوي پهٔ زړونو کښې وسوسې اچوي، ځکه چې سینه د زړهٔ غولے او کور دے ـ د کوم ځائے نه چې هم خیالونه راځي، نو سینې ته راټولېږي او بیا زړهٔ ته داخلېږي ـ پهٔ دغه اساس سینه د زړهٔ لپاره د غولې پهٔ شان ده او ټول احکامات او ارادې د زړهٔ نه راوځي او سینې ته راځي او بیا د هغه ځائے نه د هغې تقسیم پهٔ لښکرو باندې کېږي ـ

**عملي اړخ**: شېطان چې کله یو انسان ګناه ته اٰماده کول غواړي، نو هغه هغهٔ ته د ګناه کار ښائسته کړي او د ښو پایلو امېد ورکوي ـ دغه څیز د وسوسې پهٔ شکل د انسان زړهٔ ته داخلېږي او کله چې هغه دغه اثر قبول کړي، نو دغه خیال پوخ شي او د اٰرادې او عمل شکل اختیار کړي ـ

**اٰیت نمبر ۶**: ۱ ـ ـ د شېطانانو پهٔ حقله څهٔ وئیل شوي دي؟ ۱ ـ د وسوسې اچولو والا دوه قسمونه دي، د پېریانو شېطانان او د انسانانو شېطانان، یعنې شېطانان د پېریانو او انسانانو دواړو ډلو نه دي ـ

۲ ـ د شیاطین الجن (پېرے شېطان) نه څهٔ مراد دے؟ ۲ ـ د هر انسان سره یو شېطان ملګرے وي چې د هغهٔ د ګمراهۍ کوشش کوي ـ کله چې انسان د الله تعالیٰ د ذکر نه غافل شي، نو پهٔ هغهٔ باندې دغه شېطان مسلط شي، څنګه چې پهٔ سورت الزخرف۴۳، اٰیت: ۳۶ کښې فرمائیلي شوي دي ـ "کوم خلق چې د الله د یاد نه سترګې پټې کړي (یعنې غافل شي)، مونږ پهٔ هغهٔ باندې یو شېطان مقرر کړو، نو هغه د هغهٔ ملګرے شي ـ "شیاطین الجن (یعنې پېرے شېطان) له الله پاک د انسانانو د ګمراه کولو طاقت ورکړے وي، څنګه چې پهٔ سورت الزخرف۴۳، اٰیت: ۳۶ کښې ذکر شوے دے ـ

۳ ـ د شیاطین الانس (انساني شېطان) نه څهٔ مراد دے؟ ۳ ـ د انسانانو نه چې څوک د خپلو شکونو او وهمونو او وسوسو پهٔ ذریعه نور خلق د حقې لارې نه د اړولو او دهوکه کولو کوشش کوي، هغه انساني شېطان وي ـ

۴ ـ د پېریانو او انسانانو نه څوک د شېطان ملګري جوړېږي؟ ۴ ـ هغه چې د شېطان پهٔ دهوکه کښې راځي او د هغهٔ پېروي کوي او پهٔ خپله هم ګمراه کېږي او نور خلق هم د سمې لارې ګمراه کوي ـ

**عملي اړخ**: دلته په خاصه توګه دې خبرې ته اشاره کول مقصد دے چې اهل ایمان ته د قرانٰ حکیم په شکل کښې کوم هدایت ورکړے شوے دے، د هغې لپاره کۀ چرته کومه غټه خطره ده، نو هغه د شېطان وسوسه ده. یعني هغه په زړۀ کښې داسې خبرې اچولے شي چې د قرانٰ په معامله کښې شکونه او وهمونه پیدا کولو والا وي او د هدایت د لارې نه اړولو والا وي. هم دغه وجه ده چې د قرانٰ شریف په شروع کښې د تعوذ وئیلو حکم دے. یعني " أَعُوذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْم" زۀ پناه غواړم په الله سره د شېطان رټلي شوي (د شر) نه. دغسې په سورت **النحل ۱۶**، ایٰت: ۹۸ کښې الله تعالیٰ فرمائي "کله چې تاسو قرانٰ لولئ، نو د شېطان رټلي شوي (د شر) نه پناه غواړئ"

## د مشقونو جوابونه

## ځان پوهه کړئ او حل ئې کړئ:

سوال۱: خالي ځایونه ډک کړئ.

1) زمونږ د دننه شرونو نه د پناه غوښتلو طریقه په........ ......ښودل شوې ده. (سورت الناس)
2) زمونږ د بهر شرونو نه د پناه غوښتلو طریقه په .......... ښودل شوې ده. (سورت الفلق)
3) د هر شي د فائدې او ............ نه خبر دے. (نقصان)
4) الله د هر څیز.......... دے. (خالق)
5) مونږ له د حسد کوونکو د شر نه د بچ کېدلو .........پکار ده. (دعا)

سوال۲: د کالم (الف) هره جمله د کالم (ب) د صحیح جملې سره د کرښې په ذریعه ملاو کړئ.

| الف | ب |
| --- | --- |
| سورت الفلق او سورت الناس ته | حرام دے |
| جادو | د شېطان دوستان جوړېږي |
| الله د ټولو نه | نبي کریم د معوذتین نوم ورکړے دے |
| غلط انسانان او غلط پېریان | د ګناه خیال اچوي |
| شېطان د خلقو په زړونو کښې | لوے محافظ دے |

سوال۳: د سورت الفلق متعلق لاندینې لفظونه پهٔ ورکړے شوو خانو کښې ولیکئ۔

د مونځونو حکم، د رب پهٔ پناه کښې راتلل، د تیارو نه ویستلو والا، د یتیمانو سره سلوک، پهٔ رڼا کښې راوستلو والا رب، د بهر د شر نه پناه غوښتل، د فتحې خبر، د جادو مذمت، د حسد کولو د شر نه پناه غوښتل

سُوۡرَةُ الۡفَلَق

- د تیارو نه ویستلو والا
- د رب پهٔ پناه کښې راتلل
- پهٔ رڼا کښې راوستلو والا رب
- د حسد کولو د شر نه پناه غوښتل
- د بهر د شر نه پناه غوښتل
- د جادو مذمت

سوال۴: د سورت الناس متعلق لاندې ورکړے شوي لفظونه پهٔ ورکړے شوو خانو کښې ولیکئ۔

د قربانۍ حکم، د خلقو معبود او بادشاه، د شېطان وسوسې، اخرت لره دروغ گڼونکي، شېطان د بار بار حملو کولو والا، د رب پناه، د دننه شر نه پناه غوښتل، د تیارو نه پناه، د انسانانو او پېریانو نه د شېطان دوستان

د شېطان وسوسې

شېطان د بار بار حملو کولو والا

د خلقو معبود او بادشاه

# سُوْرَةُ النَّاس

د دننه شر نه پناه غوښتل

د رب پناه

د حسد کولو د شر نه پناه غوښتل

**سوال۵**: د لاندینو سوالونو جوابونه ورکړئ۔

۱۔ د نظر او جادو، منتر د بچ کېدلو لپاره نبي کریم□ څۀ طریقه ښودلې ده؟

جواب: عائشه صدیقه ؓفرمائي چې رسول الله□ به چې څملاستلو، نو "قل هوالله احد او معوذتین" به ئې ولوستل او پۀ خپلو دواړو لاسونو کښې به ئې چپ کړل او بیا به ئې پۀ خپل مخ او بدن چې چرته به ئې لاس رسېدل، راښکل۔

۲۔ د بهر د شرونو نه څۀ مراد دے؟

جواب: د بهر د شرونو نه د تورې شپې، جادو، حسد وغېره شر او نقصان مراد دے۔

۳۔ د دننه شرونو نه څۀ مراد دے؟

جواب: د دننه شرونو نه شېطان او د هغې د وسوسې شر او نقصان مراد دے۔

۴۔ د حسد پۀ حقله پۀ حدیث شریف کښې څۀ وئیلي شوي دي؟

جواب: "د حسد نه ځان بچ کړئ، ځکه چې حسد نېکیانې داسې سېزي، لکه اور چې خشاک سېزي" (سنن ابی داؤد)

**۵ .** د قرآن حکیم پهٔ شروع او پایې کښې پهٔ موجود سورتونو کښې دعاګانې ښودل شوې دي، د دې نه تاسو تهٔ څهٔ معلومات تر لاسه شول؟

جواب: د دې نه معلومه شوه چې د هدایت د حصول او هر شر نه د بچ کېدلو لپاره هم د الله تعالی نه د مستقل دعا غوښتلو اهتمام پکار دے.

**۲ .** نبي کریم ﷺ به معوذتین کوم کوم وخت وئیل؟

جواب: نبي کریم ﷺ به دا دواړه سورتونه د هر فرض مونځ نه وروستو او د شپې د اودهٔ کېدلو نه مخکښې وئیل. د دې نه علاوه به چې د نبي کریم ﷺ طبعیت خراب ؤ، نو بیا به ئې هم دغه دواړه سورتونه وئیل او ځان به ئې پرې دمولو.

## عملي سرګرمي:

۱ . پهٔ زده کونکیو د شپې او ورځې د خوربدلو منظر کشي وکړئ.

۲ . شاګردانو ته د نمر د راختلو او پرېوتلو او شپې د خوربدلو ویډیو وښایې.

۳ . پهٔ زده کونکیو پهٔ دواړو سورتونو کښې د الله تعالی صفات او نومونه ولټوئ.

۴ . پهٔ کومو کومو موقعو د سورت الفلق او سورت الناس د تلاوت تلقین شوے دے. پهٔ احادیث مبارکوو کښې ئې ولټوئ.

# قصه د آدم ﷺ

## د ښودلو طريقه:

سبق نمبر۱: د دې قيصې مختصر لنډيز پۀ عام فهم او د داستان پۀ انداز کښې د درسي کتاب نه ولولئ.

سبق نمبر۲: د دې قيصې قرانې متن او ترجمه د (سورت الاعراف ۱۱ نه د **۱۵** پورې) درسي کتاب نه ولولئ.

سبق نمبر**۳**: د دې قيصې قرانې متن او ترجمه د (۱۲ نه د **۲۲** پورې) د درسي کتاب نه ولولئ.

سبق نمبر**۴**: د دې قيصې قرانې متن او ترجمه د (**۲۳** نه د **۲۷** پورې) د درسي کتاب نه ولولئ.

سبق نمبر**۵**:(i) د "علم او عمل خبرې" پۀ وضاحت سره زده کونکيو ته ښودل او د مذاکرې پۀ ذريعه ذهن ته کوزول.

(i)"ځان پوهه کړئ او حل ئې کړئ" زده کونکو ته د کور د کار (Home Work) پۀ طور ورکړئ چې د هغوي د قران فهمۍ اندازه ولګي او وروستو ئې پۀ کلاس کښې حل کړي . (د تشريحي نکتو نه وروستو د ورکړے شوو "مشقونو د جوابونو" نه استفاده کېدے شي)

(iii) د کور د سرګرمۍ د پاره د زده کونکيو د کور والا پابند جوړ کړئ . (پۀ کلاس کښې د نورو سرګرميانو کولو لپاره د "مشقونو د جوابونو" نه وروستو د "عملي سرګرمۍ" نه هم استفاده پورته کېدے شي.

## د مطالعې مقصدونه:

د دې سورت پۀ ختمېدو سره به زده کونکي د دې جوګه شي چې هغوي ته به پته وي چې:

۱ . انسان ته فضيلت ولې ملاو شو؟ ۲ . د ادم ﷺ څۀ مقام او مرتبه ده؟

۳ .شېطان څوک ؤ او ولې د جنت نه وويستل شو؟ ۴ .شېطان د انسان ولې دښمن دے؟

**۵** .د شېطان مقصدونه څۀ دي؟ ۶ . د شېطان د وسوسو نه د بچ کېدلو ذريعه څۀ ده؟

۷ .پۀ وېره او خطا باندې زمونږ طرز عمل څۀ پکار دے؟

# اٰیت پهٔ اٰیت تشریحي نکتې

## سورت الاعراف، ایات: ۱۱ نه د ۲۷ پورې

**اٰیت نمبر ۱۱:** ۱۔ انسان چا پیدا کړے دے؟ ۱۔ الله تعالیٰ

۲۔ الله تعالیٰ ملائکو ته څهٔ حکم ورکړو؟ ۲۔ ادم ﷺ ته د سجدې کولو۔

**عملي اړخ:** ادم ﷺ ته د سجدې کولو دا حکم یو لوے اعزاز دے، کوم چې د انسانانو پلار ادم ﷺ ته ملاو شو۔ د دې مقصد کهٔ یو اړخ ته د ادم ﷺ او د ادم ﷺ د اولاد عظمت، لوے شان او د تعظیم و تکریم اظهار دے، نو بل اړخ ته د دې لازمي تقاضا دا ده چې بنده د خپل دې شرف او اعزاز خیال وساتي او د دې پهٔ تقاضا کښې د خپل رب د رضا او خوشحالۍ د پاره د هغهٔ پهٔ اطاعت او فرمانبردارۍ کښې سر ښکته کړي او همېشه سر ښکته پاتې شي۔

۳۔ ابلیس څوک ؤ؟ ۳۔ دا د پېریانو د ذات نه ؤ۔ (سورت الکهف ۱۸، اٰیات: ۵۰) خو بیا هم د هغهٔ د عبادت پهٔ وجه د هغهٔ مقام د ملائکو برابر کړے ؤ۔

**اٰیت نمبر ۱۲:** ۱۔ ابلیس ادم ﷺ ته سجده ولې و نهٔ کړه؟ ۱۔ هغه تکبر وکړو او وې وئیل چې زهٔ د اور نه جوړ یم او ادم ﷺ د خاورې نه، لهٰذا زهٔ اعلیٰ یم او دا کم تر (معاذالله)۔

۲۔ ابلیس الله تعالیٰ د څهٔ نه جوړ کړے ؤ؟ ۲۔ د اور نه۔

۳۔ ادم ﷺ الله تعالیٰ د څهٔ څیز نه جوړ کړے ؤ؟ ۳۔ د خاورې نه۔

**عملي اړخ:** تکبر الله تعالیٰ ته ډېر ناخوښه دے، د دې سخت ممانعت راغلے دے۔ د الله د حکم پهٔ مقابله کښې د تکبر کولو والا او نافرمانۍ کولو والا د عزت، احترام، تعظیم او وقار لائق نهٔ وي، بلکې د ذلت، رسوائي، تباهۍ او بربادۍ سزاوار به وي۔

**اٰیت نمبر ۱۳:** ۱۔ تکبر څهٔ ته وائي؟ ۱۔ پهٔ حدیث شریف کښې د تکبر پهٔ تعریف کښې د دوه خبرو ذکر شوے دے: الف: حق دروغ ګڼل۔ ب: نور خلق سپک ګڼل۔ (جامع ترمذي)

**عملي اړخ:** د الله تعالیٰ د حکم نافرماني د ذلت او رسوائي سبب ده۔ بس د الله د حکم مخې ته تیټېدل او سر تسلیمول د هغهٔ د بندګانو د پاره د عزت او عظمت سبب دے۔

**اٰیت نمبر ۱۴:** ۱ ـ ابلیس د الله تعالٰي نه د کوم وخت پورې مهلت وغوښتلو؟ ۱ ـ د قیامت د ورځ پورې ـ

**اٰیت نمبر ۱۵:** ۱ ـ اٰیا الله تعالٰي ابلیس ته مهلت ورکړو؟ ۱ ـ او، الله تعالیٰ د یو ټاکلي شوي وخت پورې مهلت ورکړو ـ

**عملي اړخ:** شېطان له د مهلت ورکولو نه مقصد د بندګانو امتحان دے چې دوي د رحمٰن پهٔ لار باندې ځي کهٔ د شېطان ـ

**اٰیت نمبر ۱۶:** ۱ ـ ابلیس د خپلې ګمراهۍ الزام پهٔ چا باندې ولګولو ـ ۱ ـ پهٔ الله باندې (معاذالله)

۲ ـ ابلیس پهٔ سیدها لار کښې ولې کښېني؟ ۲ ـ د خلقو د ګمراه کولو د پاره ـ

۳ ـ د صراط مستقیم نه څهٔ مراد دے؟ ۳ ـ هغه سیدها لار چې د الله اړخ ته ځي ـ د دې نه مراد د الله تعالٰي پهٔ احکاماتو عمل کول وي، د کوم پهٔ مرسته چې انسان د الله تعالٰي رضا او د جنت نعمتونه حاصلولے شي ـ د دغه لارې دعا هر مسلمان پهٔ سورت الفاتحه کښې کوي ـ یعني "اِهۡدِنَا الصِّرَاطَ الۡمُسۡتَقِیۡمَ" پهٔ یو حدیث مبارک کښې قراٰن حکیم ته سیدها لار وئیل شوې ده ـ (جامع ترمذي)

**اٰیت نمبر ۱۷:** ۱ ـ ابلیس ووئیل چې زهٔ به راځم دوي ته، د دوي د مخې نه، د شا نه، د ښي اړخ نه، د ګس اړخ نه، د دې نه څهٔ مراد دے؟

۱ ـ ابلیس د انسان دښمن دے ـ پهٔ دغه اساس هغهٔ اراده وکړه چې زهٔ به پهٔ هره طریقه انسان د دهوکه کولو کوشش کووم او هره حربه به استعمالوم چې انسان د الله د لارې نه واړوم ـ

**علمي خبره:** پهٔ سورت بني اسرائیل۱۷، اٰیت: ۶۲ نه تر ۶۵ کښې فرمائیلي شوي دي چې الله تعالٰي شېطان ته اختیار ورکړو چې د ادمؑ او د هغهٔ د اولاد پهٔ کومه طریقه د سمې لارې نه اړولے شي، هغه دې اختیار کړي ـ خو د دې سره ئې ورته دا شرط وتړو چې زما پهٔ بندګانو به تا ته څهٔ قدرت نهٔ وي ـ یعني دا طاقت به ستا سره نهٔ وي چې تهٔ هغوي د لاس نه ونیسې او پهٔ زبردستۍ ئې خپلې لارې ته راکاږې او کهٔ پهٔ خپله هغوي پهٔ سمه لاره تګ غواړي، نو هغه به تهٔ نهٔ پرېږدې ـ

**عملي اړخ:** شېطان کوشش کوي چې ټول خلق د الله تعالٰي د لارې نه واړوي، کهٔ هغه نېک وي او کهٔ بدکاره ـ البته کوم چې د الله تعالٰي نېک او مخلص بندګان وي، پهٔ هغوي د شېطان چال کار نهٔ کوي ـ

۲ ـ د شکر نه څهٔ مراد دے؟ ۲ ـ د الله تعالٰي د نعمتونو پهٔ زړهٔ کښې احساس لرل، پهٔ ژبه ئې شکر ادا کول او د هغهٔ نعمتونو صحیح استعمال کول ـ

عملي اړخ: الف۔ مونږ له د الله تعالی احسانات او انعامات یاد ساتل پکار دي۔

ب۔ پۀ ژبه باندې د شکر ادا کولو ښائسته طریقه د نبي کریم ﷺ د ښودلو شوو دعاګانو اهتمام کول دي۔

ج۔ د نعمتونو شکر دا هم دے چې پۀ جائز طریقه اسباب حاصل کړے شي او پۀ جائز کارونو کښې استعمال کړے شي او پۀ ټوله زندګۍ کښې د الله تعالی د هر حکم تابعداري او فرمانبرداري اختیار کړے شي۔

آیت نمبر ۱۸: ۱۔ د شېطان د پېروۍ نه څۀ مراد دے؟ ۱۔ د الله تعالی نافرماني کول پۀ اصل کښې د شېطان پېروي کول دي۔ پۀ دغه اساس د سورت البقره ۲، آیت: ۲۰۸ د مفهوم مطابق چې کله پۀ ټول ژوند کښې د الله تعالی پېروي نۀ کېږي، نو بیا د انسان نه د شېطان پېروي کېږي۔

۲۔ د شېطان د پېروۍ څۀ نتیجه راوځي؟ ۲۔ د جهنم د اور سزا به ورکړل کېږي۔

عملي اړخ: د شېطان پۀ نافرمانۍ او تکبر د هغۀ د جنت نه د ویستلو سره ټول انسانیت ته دا درس ورکړے شو چې پۀ جنت کښې د متکبر، سرکش او نافرمانه لپاره هېڅ ځاے نشته، څوک چې هم د شېطان پېروکار جوړېږي، هغه ټول به پۀ جهنم کښې د هغۀ ملګري وي۔

آیت نمبر ۱۹: ۱۔ الله ادم علیه السلام ته څۀ حکم ورکړو؟ ۱۔ الله هغۀ ته د ښځې سره پۀ جنت کښې د اوسېدلو حکم ورکړو۔

۲۔ د جنت پۀ اوسېدلو کښې څۀ حکمت ؤ؟ ۲۔ پۀ جنت کښې د ساتلو دا حکمت معلومېږي چې ادم علیه السلام او د هغۀ ښځه د جنت سهولتونه، سپرلي او نعمتونه ښۀ ووینې او د هغۀ نه مزه واخلي، د دې د پاره چې د دنیا عارضي نعمتونه پۀ پام کښې و نۀ نیسي او دوباره دلته د راتللو کوشش وکړي۔ شاید چې پۀ دې کښې دا حکمت هم وي چې دوي د اسماني نظام براه راست مشاهده وکړي، چې بحېثیت خلیفه هغۀ ته د زمکې پۀ انتظام کښې سهولت وي۔ (والله اعلم)

۳۔ الله تعالی ادم علیه السلام او حوا ؑ پۀ جنت کښې د قیام پۀ دوران د څۀ څیز نه منع کړل؟ ۳۔ یوې ونې ته ئې د ورنزدې کېدو نه منع کړل۔

۴۔ ادم علیه السلام او حوا ؑ ئې د ونې د مېوې د خوراک نه ولې منع کړل؟ ۴۔ بطور ازمائش ئې د دغه ونې نه د دې وجې نه منع کړل چې دوي د الله د منع کړے شوو کارونو نه د بچ کېدلو تربیت حاصل کړي او د هېرېدلو پۀ صورت کښې د توبې او معافۍ اختیارولو طریقه حاصله کړي۔ پۀ دې کښې دا حکمت هم

کېدے شي چې دوي ته د شېطان (دښمن) نوره مشاهده هم وشي چې بنیادمان پۀ دنیا کښې د شېطان د حرکتونو او اثراتو نه هر وخت د بچ کېدلو کوشش وکړي۔

**عملي اړخ:** انسانانو ته دا وئیل مقصد دي چې شېطان د انسان ازلي دښمن دے او د وسوسو پۀ ذریعه باندې انسان د الله تعالٰي نافرمانۍ ته هڅوي۔ دا معامله پۀ دنیا کښې هم ده چې اکثر څیزونه حلال دي خو الله تعالٰي د څۀ څیزونو نه منع فرمائیلي ده، د کوم نه منع کېدل چې زمونږ امتحان دے چې مونږ د الله تعالٰي فرمانبرداري کوو یا د نفس او شېطان پېروي۔

**اٰیت نمبر ۲۰:** ۱۔د وسوسې نه څۀ مراد دے؟ ۱۔پۀ پټه باندې څۀ غلطه خبره زړۀ ته اچول، یعني د وسوسې نه مراد هغه خیال دے چې پۀ هغۀ باندې د عمل کولو سره د الله تعالٰي د یو حکم نافرماني کېږي او دا د شېطان د طرف نه وي۔

۲۔اٰیا دا خبره صحیح ده چې شېطان وړومبے د حوا ؓپۀ زړۀ کښې وسوسه وغورځوله او د هغې پۀ وېنا د ادم علیه السلام نه دا غلطي وشوه؟

۲۔هېڅ کله هم داسې نۀ ده۔قراٰن پاک د دې خبرې نفي کوي چې د حوا ؓپۀ وجه داسې وشول۔بلکې قراٰن حکیم دا پۀ ډاګه کوي چې شېطان د دواړو پۀ زړونو کښې وسوسه وغورځوله او د دواړو نه دا غلطي وشوه۔پۀ دې کښې د هغوي د نافرمانۍ اراده نۀ وه۔

۳۔ شېطان د ادم علیه السلام او حوا ؓپۀ زړۀ کښې څنګه وسوسه وغورځوله۔ ۳۔هغۀ ورته ووئیل چې تاسو ئې د دې د پاره د دې ونې نه منع کړي یئ چې چرته تاسو ملائک جوړ نۀ شئ یا د همېشه لپاره پۀ جنت کښې پاتې نۀ شئ او د خپلې خېرخواهۍ قسمونه ئې ورته وکړل۔

**عملي اړخ:** نن هم شېطان انسان ته لالچ ورکوي، ګناه ورته ښائسته کوي او د ګناهونو طرفته ئې مائل کوي او کله چې انسان ګناه وکړي، نو هغه ترې ځان خلاص کړي۔

**اٰیت نمبر ۲۱:** ۱۔شېطان انسان څنګه ګمراه کوي؟

۱:الف۔شېطان د ټولو نه مخکښې د انسان د ګمراهۍ اٰغاز د هغۀ پۀ زړۀ کښې د وسوسه پېدا کولو نه کوي۔

ب ۔ شېطان همېشه انسان ته شنۀ باغونه ښايې او هغه ګمراه کوي ۔ مثلاً کۀ تۀ دا کار وکړې، نو ستا حالت د موجوده حالت نه څو چنده ښۀ کېدلے شي او د فلانکي کار کولو سره ستا پۀ کاروبار کښې ښۀ ترقي راتلے شي، وغېره وغېره ۔

ج ۔ ابلیس یا د هغۀ پېروکار صرف هغۀ ته شنۀ باغونه نۀ ښايې بلکې قسم قسم دلیلونه هم د هغۀ پۀ زړۀ کښې اچوي او دا یقین دهاني ورته کوي چې کومه لار درته هغۀ وښودله، دا واقعي د هغۀ د پاره بهترینه لار ده او د هغۀ د خېرخواهۍ لار ده ۔ پۀ دې کښې د هغۀ څۀ خپل ذاتي مفاد نشته او د دې یقین دهانۍ د پاره کۀ هغۀ ته قسمونه خوړل هم پرېوځي، نو خوري یې ۔

د ۔ د شېطان پۀ نزد د انسان د ګمراهۍ د ټولو نه آسان صورت دا دے چې د بې حیایۍ دروازې ورته کولاو کړي ۔ ګناه ورته ښائسته ښکاره کړي ۔ یعني الله تعالٰي چې پۀ فطري طور پۀ انسان کښې کومه د شرم او حیا جذبه ایښودې ده، هغه جذبه کمزورې کړي ۔

۲ ۔ قسمونه ولې خوړل شي؟ ۲ ۔ پۀ خبره کښې د زور اچولو د پاره، د یقین راوستلو لپاره ۔

۳ ۔ مسلمان له پۀ چا باندې قسم خوړل پکار دي؟ ۳ ۔ صرف پۀ الله باندې او هغه هم د سخت ضرورت پۀ وخت کښې ۔

**علمي خبره**: سوال دا پېدا کېږي چې الله تعالٰي ادم ﷷ او حوا ؓ دغه ونې ته د نزدې ورتلو نه منع کړي وو، نو بیا د هغوي نه څنګه دغه هېر شول؟ نو د دې جواب دا دے چې ډېره موده تېره شوې وه چې ادم ﷷ او حوا ؓ دواړه پۀ عېش او آرام سره پۀ جنت کښې اوسېدل او هغوي ته د دغه ونې خواته د نزدې ورتلو چرته خیال هم نۀ ؤ راغلے ۔ تر دې چې د هغوي نه د الله تعالٰي دغه حکم هېر شوے ؤ ۔ پۀ دغه وخت کښې شېطان ته د دوي پۀ دهوکه سره د نافرمانۍ کولو موقعه پۀ لاس ورغله ۔ څنګه چې د قرآن حکیم د دې آیت نه واضحه ده ۔ "بیا د ادم ﷷ نه دا خبره هېره شوه او مونږ پۀ هغۀ کښې د نافرمانۍ کولو څۀ اراده بیا نۀ مونده" (سورت طٰهٰ ۲۰، آیت: ۱۱۵)

**آیت نمبر ۲۲**: ۱ ۔ د مېوې خوړلو نتیجه څۀ راووتله؟ ۱ ۔ د دغه دواړو یعني ادم ﷷ او حوا ؓ نه جنتي لباس وویستل شو ۔

۲ ۔ د لباس پۀ ویستلو سره ادم ﷷ او حوا ؓ څۀ وکړل؟ ۲ ۔ د جنت پۀ پاڼو ئې خپل بدنونه پټ کړل ۔

۳ ۔ ادم ﷷ او حوا ؓ د جامو د ویستلو نه فوراً وروستو ولې خپل بدنونه پټ کړل؟

۳۔ ځکه چې د انسان دننه الله تعالی پۀ فطري توګه شرم او حيا ایښودې ده او جامې د شرم و حیا اهمه ذریعه ده۔

۴۔ د شیطان د حملو نه خطرناکه حمله څۀ ده؟ ۴۔ شیطان د خلقو نه پۀ جامو ویستلو بې شرم او بې حيا جوړول غواړي۔

**فرمان نبوي** : "کۀ ستاسو نه حیا لاړه شي، نو څۀ مو چې زړۀ غواړي، هغه کوئ" (صحیح بخاري)

یعني کله چې د انسان نه حيا ختمه شي، نو هغه پۀ هره ګناه کښې اخته کېدے شي۔ پۀ یو بل حدیث شریف کښې راغلي دي چې "حیا او ایمان د یو بل ملګري دي، کۀ چرته یو لاړ شي، نو بل هم ځي" (جامع ترمذي)

۵۔ شیطان زمونږ دوست دے، کۀ دښمن؟ ۵۔ شیطان زمونږ ښکاره دښمن دے۔

**آیت نمبر ۲۳** : ۱۔ ادم عليه السلام او حوا ؑ د الله تعالی د حکم د هېرېدو نه پس څۀ وکړل؟

۱۔ هغوي دواړو د الله پۀ حضور کښې توبه وویستله۔ پۀ توبه ویستلو باندې الله تعالی هغه دواړه معاف کړل۔ بیا ئې د خپل خواهش او حکمت مطابق ادم عليه السلام لره د خپل خلیفه او اولني نبي اعزاز ورکړو او زمکې ته ئې راولېږو۔ خو د شیطان د تکبر پۀ وجه ئې هغه د خپل رحمت نه لرې کړو۔ (سورت البقره ۲، آیت: ۳۰)

**عملي اړخ**: د ادم عليه السلام نه چې کوم کارونه وشول، پۀ دې کښې زمونږ د پاره دا لارښودنه ده چې مونږ له پۀ هر هېر او خطا باندې د الله تعالی نه معافي غوښتل پکار دي او د هغۀ طرفته رجوع کول پکار دي او د هغۀ نه د بخښنې امېد ساتل پکار دي۔ بېشکه هغه د خپلو بندګانو د خطاګانو معاف کونکے دے۔ مونږ له د شیطان د پېروۍ نه بچ کېدل پکار دي، چې قصداً پۀ خپله غلطۍ پۀ تکبر سره ودرېدو او د الله تعالی د غضب سزاوار شو۔

**آیت نمبر ۲۴** : ۱۔ الله تعالی ادم عليه السلام او حوا ؑ د جنت نه زمکې ته ولې راکوز کړل؟

۱۔ الله تعالی ادم عليه السلام جوړ کړے د زمکې د ابادولو د پاره ؤ۔ ځکه الله تعالی ادم عليه السلام خپل خلیفه جوړ کړو او زمکې ته ئې راولېږو، د دې د پاره چې بنیادمان د الله پۀ احکاماتو عمل وکړي او د هغۀ رضا حاصله کړي۔

۲۔ "پۀ تاسو کښې ځینې د ځینو دښمنان دي" نه څۀ مراد دے؟ ۲۔ د دې نه دوه خبرې مراد دي:

الف۔د ايمان والوو دښمنان کافر دي۔ ب۔د انسان دښمن شېطان دے۔

عملي اړخ: اوس خو د انسان دښمن بدبخته انسان هم جوړ شوے دے چې پۀ مختلفو طريقو باندې يو بل ته نقصان رسوي او د ګناهونو طرفته يو بل آماده کوي۔مونږ له د داسې غلطو خلقو نه باخبره اوسېدل پکار دي۔

۳۔پۀ دنيا کښې د انسان اوسېدل عارضي دي کۀ مستقل؟ ۳۔ پۀ دنيا کښې اوسېدل عارضي دي، مستقل اوسېدل به پۀ اخرت کښې وي۔

**آيت نمبر ۲۵**: ۱۔د مرګ نه وروستو به څۀ وي؟

۱۔مونږ به زمکه کښې ښخول شو۔پۀ قبر کښې به رانه سوالونه کېږي او بيا به د قيامت پۀ ورځ د دغه زمکې نه راويستل شو او حساب کتاب به راسره کېږي۔

**آيت نمبر ۲۶**: ۱۔د لباس فائدې څۀ دي؟

۱۔الف: ستر پټول يعني وجود پټول۔ ب۔د سينګار يعني ښائست د پاره۔

۲۔د لباس څۀ خصوصيات پکار دي؟

۲۔الف: ډېر نرے او تنګ دې نۀ وي۔ ب۔د تکبر اظهار دې ترې نۀ کېږي۔ ج۔ښځې دې د سړو پۀ شان او سړي دې د ښځو پۀ شان جامې نۀ اغوندي۔ د۔د نورو مذهبونو اظهار دې ترې نۀ کېږي۔(مثلاً د هندوانو، يهوديانو او عيسايانو د مذهبي رهبرانو پۀ شان لباس دې نۀ وي)

ط۔فضول خرچي دې پۀ کښې نۀ وي۔ ظ۔څنګه چې لباس د انسان سره همېشه وي، دغسې ورسره تقويٰ او د الله نه وېره هم پکار ده۔ ع۔جامې، پېزار دې د حلال مال وي۔

۳۔پۀ دې آيت کښې نښاني (آيت الله) څۀ ته وئيل شوې ده؟

۳۔جامو ته، ځکه چې د جامو تيارېدل، پۀ دې باندې بدن پټول او د شرم او حيا حفاظت کول، د الله تعالىٰ لويه نښه ده۔

**آيت نمبر ۲۷**: ۱۔د شېطان د وسوسو او حملو نه به څنګه بچ کېږو؟

۱۔د شېطان وسوسې (يعني وهمونه يا غلط خيالات) پۀ هغه خلقو اثر کوي چې د الله د ياد نه غافل وي۔ (سورت الزخرف۴۳، آيت: ۳۶)

**فرمان نبوي** : شېطان د انسان په زړۀ پسې نخښتے وي ـ کله چې هغه الله یادوي، نو شېطان شاته تښتي او کله چې بنده غافل وي، نو شېطان ورته وسوسې په زړۀ کښې اچوي ـ (مشکواه) د دې وجې نه مونږ له همېشه الله تعالیٰ یاد لرل پکار دي ـ د دې سره مونږ له د شېطان د حملو نه د بچ کېدلو لپاره تعوذ یعني "أَعُوذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْم" وئیل پکار دي او د الله تعالیٰ په پناه کښې راتلل پکار دي ـ

۲ ـ انسان د شېطان نه ولې غافل اوسېږي؟ ۲ ـ ځکه چې شېطان او د هغۀ ملګري مونږ ته په نظر نۀ راځي او په پټه حمله کوي ـ

**فرمان نبوي** : "شېطان داسې په بدن کښې تاوېږي، څنګه چې وینه تاوېږي" (صحیح مسلم، صحیح بخاري)

۳ ـ کوم خلق د شېطان دوستان جوړېږي؟ ۳ ـ کوم چې ایمان نۀ راوړي ـ

## د مشقونو جوابونه

### ځان پوهه کړئ او حل ئې کړئ:

**سوال۱ :خالي ځایونه ډک کړئ ـ**

1) ادم عليه السلام اولنے ـ ـ ـ ـ ـ ـ ـ او ـ ـ ـ ـ ـ ـ ـ ؤ ـ (انسان، نبي)
2) د ابلیس معنٰي ـ ـ ـ ـ ـ ـ ـ ـ ـ ـ ده او اصل نوم ئې ـ ـ ـ ـ ـ ـ ـ ـ ـ ـ د ے ـ (مایوسه کېدونکے، عزازیل)
3) الله ادم عليه السلام د ______نه جوړ کړے او هغۀ له ئې _____لقب ورکړے د ے ـ (خاورې نه، صفي الله)
4) شېطان د الله تعالیٰ نه ـ ـ ـ ـ ـ ـ ـ ـ ـ ـ د ورځې پورې ـ ـ ـ ـ ـ ـ ـ وغوښتلو ـ (قیامت، مهلت)
5) الله تعالیٰ ـ ـ ـ ـ ـ ـ ـ او ـ ـ ـ ـ ـ ـ ـ ـ د پېدا کولو نه پس په جنت کښې وساتل ـ (ادم عليه السلام، حوا ؓ)

**سوال۲** :د لاندې ورکړے شوو جملو سره په جوړو شوو خانو کښې د قیصې په ترتیب سره نمبرې واچوئ ـ

(۱۰) الله تعالیٰ ادم عليه السلام او حوا ؓ معاف کړل او زمکې ته ئې راولېږل ـ

(۷) الله تعالیٰ ادم عليه السلام او حوا ؓ دواړه په جنت کښې وساتل ـ

(۴) د شېطان نه سیوا ټولو ادم عليه السلام ته سجده وکړه ـ

(**۳**) الله تعالي ملائکو ته حکم ورکړو چې هغوي ادم عليه السلام ته سجده وکړي.

(**۲**) الله تعالي ادم عليه السلام ته د ټولو څیزونو نومونه وښودل.

(**۲**) الله تعالي شېطان ته وفرمائیل چې تۀ ذلیل او رسوا د دې ځاے نه ووځه.

(**۸**) ادم عليه السلام او حوا ؓ دواړو پۀ هېره سره د هغه ونې نه مېوه وخوړه، د کومې نه چې هغوي منع کړے شوي وو.

(**۵**) شېطان د الله تعالي پۀ نافرمانۍ او ادم عليه السلام پۀ ګستاخۍ سره تکبر وکړو.

(**۱**) الله تعالي ادم عليه السلام د خاورې نه جوړ کړو او د هغۀ پۀ وجود کښې ئې د خپل طرف نه یو خاص روح واچولو.

(**۹**) ادم عليه السلام او حوا ؓ فوراً د الله تعالي نه معافي وغوښتله.

سوال**۳**: د کالم (الف) هره جمله د کالم (ب) د صحیح جملې سره د کرښې پۀ ذریعه ملاو کړئ.

| الف | ب |
|---|---|
| ادم عليه السلام اولنے | انسانان وو |
| ټول انبیاء کرام عليهم السلام | د ټولو څیزونو نومونه وښودل |
| الله تعالي پۀ هر قام کښې | پېرے ؤ |
| شیطان | پېغمبران عليهم السلام رالېږلي دي |
| الله تعالي ادم عليه السلام ته | نبي ؤ |

**سوال۴:** راځئ چې خپله جائزه واخلو (نوټ: د دې سوال کالمونه مو په دې اساس ډک نهٔ کړل، چې دا د ماشومانو خپل احتساب دے)

**سوال۵:** د لاندینو جملو پهٔ حقله ووائي چې دا د چا قول دے؟

| شمېره | جملې | الله جل جلاله | آدم علیه السلام | شیطان |
|---|---|---|---|---|
| ۱ | یقیناً مونږ تاسو پېدا کړي یئ او ستاسو صورتونه مو جوړ کړي دي | √ | | |
| ۲ | اے الله زمونږ ربه، مونږ تاوان وکړو - کهٔ تهٔ زمونږ بخښنه و نهٔ کړې او پهٔ مونږ رحم و نهٔ کړې، نو مونږ به د تاوانیانو نه شو | | √ | |
| ۳ | یقیناً شېطان ستاسو د دواړو ښکاره دښمن دے | √ | | |
| ۴ | زهٔ دې د اور نه پېدا کړے یم او دا دې د خټې نه پېدا کړے دے | | | √ |
| ۵ | تاسو دې ونې ته مهٔ نزدې کېږئ، ګنې تاسو به د تاوانیانو نه شئ | √ | | |

## عملي سرګرمي:

۱ - پهٔ زده کونکیو د لباس پهٔ خصوصیاتو یو چارټ جوړ کړئ.

## قصه د نوح علیه السلام

**د ښودلو طریقه:**

سبق نمبر۱ :د دې قیصې مختصر خلاصه پۀ عام فهمه او د داستان پۀ انداز کښې د درسي کتاب نه ولولئ۔

سبق نمبر۲ : د دې قیصې عربي متن او ترجمه د (سورت الاعراف د **۵۹** نه تر**۶۴**)درسي کتاب نه ولولئ۔

سبق نمبر**۳**: د دې قیصې عربي متن او ترجمه د (سورت هود د **۲۵** نه تر**۲۹**) درسي کتاب نه ولولئ۔

سبق نمبر**۴**:د دې قیصې عربي متن او ترجمه د (سورت هود د **۳۰** نه تر**۳۵**) درسي کتاب نه ولولئ۔

سبق نمبر**۵**:د دې قیصې عربي متن او ترجمه د (سورت هود د **۳۶** نه تر **۴۰**) درسي کتاب نه ولولئ۔

سبق نمبر**۶** :د دې قیصې عربي متن او ترجمه د (سورت هود د **۴۱** نه تر**۴۴**) درسي کتاب نه ولولئ۔

سبق نمبر**۷** :د دې قیصې عربي متن او ترجمه د (سورت هود د **۴۵** نه تر**۴۹**) درسي کتاب نه ولولئ۔

سبق نمبر۸:د دې قیصې عربي متن او ترجمه د (سورت شعراء د **۱۰۵** نه تر**۱۱۵**) درسي کتاب نه ولولئ۔

سبق نمبر۹:د دې قیصې عربي متن او ترجمه د (سورت شعراء د **۱۱۶** نه تر۱۲۲) درسي کتاب نه ولولئ۔

سبق نمبر ۱۰ :(i) د "علم او عمل خبرې" پۀ وضاحت سره زده کونکیو ته ښودل او د مذاکرې پۀ ذریعه ذهن ته کوزول۔

(ii)"ځان پوهه کړئ او حل ئې کړئ" زده کونکو ته د کور د کار (Home Work) پۀ طور ورکړئ چې د هغوي د قرآن فهمۍ اندازه ولګي او وروستو ئې پۀ کلاس کښې حل کړي۔ (د تشریحي نکتو نه وروستو د ورکړے شوو "مشقونو د جوابونو" نه استفاده کېدے شي)

(iii) د کور د سرګرمۍ د پاره د زده کونکیو د کور والا پابند جوړ کړئ۔ (پۀ کلاس کښې د نورو سرګرمیانو کولو لپاره د "مشقونو د جوابونو" نه وروستو د "عملي سرګرمۍ" نه هم استفاده پورته کېدے شي۔

**د مطالعې مقصدونه:**

د دې سورت پۀ ختمېدو سره به زده کونکي د دې جوګه شي چې هغوي ته به پته وي چې:

۱۔ پۀ دنیا کښې د بت پرستۍ آغاز څنګه وشو؟ ۲۔ د شرک حقیقت څۀ دے؟

۳۔ پۀ نبي او رسول کښې څۀ فرق دے؟ ۴۔ د دین د دعوت پۀ معامله کښې پۀ موافق او ناموافق حالاتو کښې څۀ رویه پکار ده؟ ۵۔ د دنیاوي رشتو حقیقت څۀ دے؟

۶۔ پۀ دنیا کښې د ادم علیه السلام نه وروستو د انساني نسل سلسله څنګه وچلېدله؟

**علمي خبره:** د انبیاء کرامو علیم السلام پۀ دې قیصو کښې د نبي کریم ﷺ د پاره تسلي ده چې صرف د نبي کریم ﷺ امت د حق نه مخ نۀ دے اړولے، بلکې تېرو شوو امتونو به هم مخ اړولو او د انبیاء کرامو علیهم السلام لره د دروغ ګڼونکو انجام پۀ دنیا کښې هلاکت او پۀ آخرت کښې عذاب دے۔ د دې نه معلومېږي چې انبیاء کرام علیهم السلام لره دروغ ګڼونکي د الله د غضب سزاوار جوړېږي۔ کوم سړے چې د نبي کریم ﷺ نه انکار کوي، د هغۀ به هم دغه انجام وي۔ د انبیاء کرام علیهم السلام پۀ دې تذکرو کښې د نبي کریم ﷺ د نبوت زبردست دلیل دے۔ ځکه چې نبي کریم ﷺ امي ؤ او بیا د نبي کریم ﷺ داسې واقعات بیانول، بالخصوص پۀ داسې ملک کښې، چرته چې د اهل کتابو علماء پۀ کثرت سره موجود وو او پۀ مخالفت کښې سرګرم هم وو او پۀ دغه خبرو به ئې شور هم کولو، هلته د نبي کریم ﷺ داسې واقعات بیانول او اهل کتاب چپ کېدل او حېرانېدل یو واضح دلیل دے چې نبي کریم ﷺ یو حق نبي دے او الله تعالٰي پۀ نبي کریم ﷺ د نبوت د علمونو دروازې پرانستلې دي۔

## آیت پۀ آیت تشریحي نکتې

### سورت الاعراف: آیاتونه د ۵۹ نه تر ۶۴

**آیت نمبر ۵۹:** ۱۔ نوح علیه السلام خپل قام له څۀ دعوت ورکړو؟ ۱۔ د یو الله د عبادت دعوت ئې ورکړو۔

۲۔ عبادت څۀ ته وائي؟ ۲۔ پۀ شرعي اصطلاح کښې د عبادت مفهوم د الله تعالٰي مخې ته خپل ځان انتهائي عاجزه ګڼل او د هغۀ تعظیم تسلیمول او د عاجزۍ اظهار کول دي۔

**۳۔د اله معنٰي څۀ ده؟** ۳۔د دې لغوي معنٰي معبود ده، د کوم سره چې محبت کول شي، مالک ګڼل شي او د چا چې عبادت کول شي۔اصطلاحي معنٰي ئې د هغۀ مالک او معبود ګڼل او د هغۀ عبادت کول دي۔

**۴۔الله څوک دے؟** ۴۔حقیقي معبود او د ټولو خالق، مالک او رازق۔

**۵۔ د لويې ورځې د عذاب نه څۀ مراد دے؟** ۵۔د قام د نافرمانۍ او ناشکرۍ پۀ وجه پۀ دنیا کښې د راتلونکي عذاب ورځ۔

**آیت نمبر ۶۰:** **۱۔د قام سردارانو نوح علیه السلام ته څۀ جواب ورکړو؟** ۱۔تۀ پۀ ګمراهۍ کښې یې (معاذالله)

**۲۔د "ضَلٰلٍ مُّبِيْنٍ" نه څۀ مراد دے؟** ۲۔واضحه ګمراهي، ښکاره ګمراهي یعني د قام پۀ نزد د نوح علیه السلام ګمراهي د هغوي د بتانو پرېښودل او د یو الله تعالٰي عبادت کول وو۔ ګویا د نوح علیه السلام قام له د هغوي د ګمراه پلرونو نیکونو د مشرکانه طریقو نه اړول او د یو الله د عبادت دعوت ورکول ګمراه کېدل وو۔ (معاذالله)

**آیت نمبر ۶۱:** **۱۔ نوح علیه السلام د قام د الزاماتو څۀ جواب ورکړو؟** ۱۔ نوح علیه السلام د هغوي دغه الزام رد کړو او هغوي ئې پۀ دې حقیقت خبر کړل چې زۀ د الله رسول یم۔

**۲۔ رسول څۀ ته وائي؟** ۲۔د الله هغه بندګان چې الله تعالٰي خپلو بندګانو ته د پېغام رسولو لپاره منتخب کړي دي۔

**۳۔ پۀ رسول او نبي کښې څۀ فرق دے؟** ۳۔ هر رسول نبي وي خو هر نبي رسول نۀ وي۔ رسولان عموماً هغه خاص بندګان وي، چا ته چې الله تعالٰي نوے کتاب یا شریعت یعني احکامات ورکړي وو۔

**۴۔ رب څۀ ته وائي؟** ۴۔رب هغه دے چې یو څیز پۀ مزه مزه د کمال مقام ته ورسوي۔

**۵۔حقیقي رب څوک دے؟** ۵۔حقیقي رب الله دے چې د ټولو مخلوقاتو ټول حاجتونه او ضرورتونه پوره کوي۔

**آیت نمبر ۶۲:** **۱۔د رسولانو د رالېږلو مقصد څۀ ؤ؟** ۱۔ د الله تعالٰي پېغام د هغۀ بندګانو ته رسول۔

**۲۔ د رب د پېغام نه څۀ مراد دے؟** ۲۔د ایمان راوړلو او نېک اعمال کولو دعوت۔

**۳۔اصل خېرخواهي څۀ ده؟** ۳۔د خلقو د اخرت د عذاب نه د بچ کولو کوشش او پۀ هغوي کښې د جنت د ابدي نعمتونو د حصول تمنا پېدا کول۔

عملي اړخ: مونږ له دا کوشش هم کول پکار دي چې د خپلې اصلاح سره سره خپل اهل و عیال او دوستانو ته د الله تعالي پېغام د خېراخواهۍ او نصیحت پۀ طریقه سره ورسوو ۔هغوي له د دې خبرې یقین ورکړو چې د الله تعالي پۀ اطاعت او فرمانبردارۍ کښې د هغوي کامیابي او خېرخواهي یعني د دواړو جهانو کامیابي ده۔

**۴۔هغه کومې خبرې وې چې نوح عليه السلام ته معلومې وې، مګر د هغۀ قام ته پته نۀ وه؟**

۴۔ د الله تعالي وحې یعني د الله تعالي احکامات او د نافرمانو انجام یعني د دنیا او اخرت عذاب۔

آیت نمبر۶۳: **۱۔قام پۀ نوح عليه السلام د وحې پۀ نازلېدو ولې تعجب وکړو؟**

۱۔قام ووئیل چې دا زمونږ پۀ شان انسان دے، د هغوي پۀ خیال کښې څوک مَلَک نبي جوړېدل پکار ؤ۔

**۲۔انبیاء کرام عليهم السلام د انسانانو نه پۀ منتخب کېدو کښې څۀ حکمت دے؟**

۲۔چې د خلقو د پاره بطور مثال پېش کړے شي او د ژبې د یو شان والي پۀ وجه د هغۀ پۀ فرمانبردارۍ او اطاعت کښې اساني وي۔د انبیاء کرام عليهم السلام سیرت او کردار د ټولو انسانانو د پاره د کامل نمونې سره سره د الله د طرف نه حجت او پوخ دلیل او ثبوت جوړ شي۔

**۳۔د انبیاء کرام عليهم السلام د رالېږلو نور څۀ مقصد ؤ؟** ۳۔د انجام نه اګاه کول۔دلته د دې نه مراد دا دے چې د نافرمانۍ پۀ غلط انجام باندې خلق ووېرول شي۔

**۴۔تقويٰ څۀ ته وائي؟** ۴۔ د الله تعالي د ناراضګۍ نه وېرېدل او د هغۀ د نافرمانۍ نه بچ کېدل۔

**۵۔د رحم نه څۀ مراد دے؟** ۵۔د نرمۍ او شفقت رویه۔

آیت نمبر۶۴: **۱۔قام د نوح عليه السلام د دعوت څۀ جواب ورکړو؟** ۱۔ قام هغۀ دروغژن وګڼلو۔

**۲۔د دروغژن ګڼلو نه څۀ مراد دے؟** ۲۔ خبره نۀ منل یعني د هغۀ د رسالت نه انکار کول او د هغۀ د توحید دعوت نۀ منل۔

**۳۔د دروغ ګڼلو قسمونه بیان کړئ۔** ۳۔د دروغ ګڼلو معنٰي ده خبره نۀ منل۔د دې دوه قسمونه دي۔

الف: پهٔ وېنا سره دروغ ګڼل يعني د دين د مکملو حصو (توحيد، رسالت، ارکان اسلام وغېره) نه انکار کول، مثلاً د مونځ د فرضيت نه انکار کول.

ب: پهٔ عمل سره دروغ ګڼل، يعني د دين پهٔ مکملو حصو عقيده لرل خو عمل پرې نهٔ کول. مثلاً مونځ د فرض ګڼلو باوجود نهٔ کول. پهٔ وېنا سره دروغ ګڼل کفر دے او پهٔ عمل سره دروغ ګڼل نافرماني او ګناه ده. لهذا مونږ له د هر قسم دروغو نه ځان ساتل پکار دي.

۴ـ الله تعالیٰ د نوح عليه السلام او د ايمان والوو سره څهٔ معامله وکړه؟ ۴ـ الله تعالیٰ هغوي د دغهٔ عذاب نه بچ کړل.

۵ـ نوح عليه السلام لره د دروغژن ګڼونکو انجام څهٔ شو او وجه ئې څهٔ وه؟ ۵ـ د شرک کولو پهٔ وجه هغوي د طوفان پهٔ ذريعه سره هلاک شول.

۶ـ د نوح عليه السلام قام ته ړاندهٔ ولې ووئيل شول؟ ۶ـ ځکه چې هغوي پهٔ سيدها لار د تګ لپاره تيار نهٔ وو، ګويا هغوي سيدها لارې ته کتل نهٔ غوښتل.

عملي اړخ: کله چې انسان هر څهٔ پېژني او بيا هم قصداً انکار وکړي او پهٔ سيدها لار تګ ته تيار نهٔ وي، نو درحقيقت هغهٔ د ړوندوالي مظاهره کوي. دغه ړوندوالے د ګمراهۍ او هلاکت سبب جوړېږي. پهٔ دغه اساس مونږ له غور او فکر کول پکار دي، چې زمونږ عمل خو چرته دغسې نهٔ دے.

علمي خبره: پهٔ قرآن حکيم کښې بل ځائے دغه حقيقت ته توجه راګرځول شوې ده. د الله تعالیٰ ارشاد دے: "آيا دا خلق پهٔ زمکه کښې ګرځېدلي نهٔ دي چې پهٔ هغې سره دوي داسې زړهٔ حاصل کړي چې دوي پوهه کولے شي، يا داسې غوږونه حاصل کړي چې پهٔ هغهٔ باندې دوي اورېدلے شي؟ حقيقت دا دے چې سترګې ړندې نهٔ وي، بلکې هغهٔ زړونه ړاندهٔ وي چې د سينو دننه وي" (سورت الحج ۲۲، آيت: ۴۶)

بقول اقبال:

دل بينا بهی کر خدا سے طلب　　　آنکھ کا نور دل کا نور نہيں

ژباړه: د زړهٔ بينائي هم د الله نه طلب کړه.

د سترګو رڼا د زړهٔ رڼا نهٔ ده.

## (سورت هود: اياتونه د ۲۵ نه تر ۴۹)

**اٰیت نمبر ۲۵:** ۱۔ نوح علیه السلام د هغهٔ د قام نه ولې منتخب کړے شو؟ ۱۔ الله هر قام ته یو رسول د هغهٔ قام نه لېږلے دے چې دغه رسول د دغه قام پهٔ ژبه کښې هغوي ته د الله پېغام ورسوي او د رسول د سیرت او کردار بهترین مثال د خلقو مخې ته شي۔

۲۔ نوح علیه السلام خپل قام ته څهٔ وفرمائیل؟ ۲۔ هغهٔ قام ته وفرمائیل چې" بېشکه زهٔ پهٔ واضحه توګه تاسو لره وېرونکے یم" یعني تاسو زما اطاعت وکړئ او د الله د نافرمانۍ نه ځان بچ کړئ، هسې نهٔ چې د نافرمانۍ پهٔ وجه تاسو پهٔ سخت عذاب کښې مبتلا شئ۔

۳۔ اٰیا نبي کریم ﷺ هم د کوم خاص قام طرفته رسول جوړ کړے شوے او رالېږلے شوے ؤ؟

۳۔ هر رسول خپل خپل قام ته رالېږلے شوے ؤ، خو نبي کریم ﷺ ټول انسانیت طرفته اٰخري رسول جوړ کړے شوے او رالېږلے شوے دے۔ څنګه چې پهٔ سورت سبا ۳۴، اٰیت:۲۸ کښې فرمائیلي شوي دي چې" او اے نبي ﷺ! مونږ تهٔ د پوره انسانیت د خوشخبرۍ اورولو والا او وېرولو والا جوړ کړے او لېږلے یې، لیکن اکثر خلق نهٔ پوهېږي"

**اٰیت نمبر ۲۶:** ۱۔ نوح علیه السلام قام ته څهٔ دعوت ورکړو؟ ۱۔صرف د یو الله تعالٰي د عبادت دعوت ئې ورکړو۔

**عملي اړخ:** ټولو انبیاء کرامو علیهم السلام به خپلو خپلو قامونو ته دغه بنیادي دعوت ورکولو۔ هر پېغمبر علیه السلام د خپل دعوت شروع د دغه نکتې نه کړې ده۔ د توحید دعوت نهٔ قبلولو والا او پهٔ شرک باندې د قائم پاتې کېدو والا ته د الله د عذاب نه وېرول هم د ټولو انبیاء کرامو علیهم السلام پهٔ دعوت کښې شامل وو۔ پهٔ دغه اساس د کفر او شرک نه د بچ کېدلو دعوت د ټولو انبیاء کرامو علیهم السلام پهٔ سنت باندې عمل کول دي۔

۲۔ اٰیا د نوح علیه السلام د قام ټولو خلقو پهٔ هغهٔ باندې ایمان راوړو؟ ۲۔ نهٔ، سبوا د څو کسانو نه پهٔ هغهٔ هېچا ایمان را نهٔ وړلو۔ اکثریت پهٔ کفر او شرک باندې قائم وو۔

۳۔ نوح علیه السلام قام یعني ایمان نهٔ راوړلو والا د کوم انجام نه وېرول؟

۳۔ د دردناکې ورځې د عذاب نه ئې وېرول۔

۴۔ د دردناکې ورځې نه څهٔ مراد دے؟ ۴۔ یعني د مصیبت ورځ۔ د دې نه د قیامت ورځ هم مراد ده او هغه ورځ هم، کله چې د نوح علیه السلام پهٔ قام باندې طوفان راغلو او د نوح علیه السلام قام غرق شوے ؤ۔ پهٔ دواړه صورتونو کښې نافرمانه قام لره د بربادۍ او هلاکت نه وېرول مقصد دے۔

**آیت نمبر۲۷:** ۱۔ قام ته پهٔ نوحﷺ څهٔ اعتراضات وو؟ ۱۔ قام ته پهٔ نوحﷺ باندې لاندیني اعتراضونه وو:

الف۔ دا زمونږ د قام یو فرد دے۔ ب۔ پهٔ دهٔ باندې ایمان راوړونکي زمونږ کمزوري خلق دي۔

ج۔ تهٔ مالدار (مال او مرتبې والا) نهٔ یې۔ د ۔ تهٔ دروغژن یې (معاذالله) یعني د قام مقصد دا ؤ چې پهٔ تا باندې د کمزورو خلقو ایمان راوړل ستا څهٔ کمال نهٔ ظاهروي۔ کهٔ چرته پهٔ تا باندې لویو لویو نسبونو والوو، مالدارو خلقو، سردارانو او لویو لویو دانشورانو ایمان راوړے وے، نو بیا به تا ته پهٔ مونږ باندې فضیلت حاصل ؤ۔

**علمي خبره:** هر پېغمبرﷺ د ټولو نه وړومبے د خپل قام د دغسې ردعمل سره مخ شوے دے۔ یعني پهٔ اکثرو باندې یو شان الزامات لګېدلي دي۔ مثلاً د مکې والوو به د نبيﷺ پهٔ حقله وئیل چې دا نبي زمونږ پهٔ شان انسان دے۔ نبي خو د انسان پهٔ ځاے باندې مَلَک پکار ؤ۔ د کوم جواب چې څهٔ پهٔ دې طریقه وشو چې دې خلقو ته ووایه چې زهٔ ستاسو پهٔ شان انسان یم، لیکن پهٔ ما باندې الله تعالیٰ وحې رالېږي (ګویا چې زهٔ د هغهٔ ټاکلے شوے نمائنده یم او د هغهٔ پېغام دا دے) چې ستاسو معبود هغه یو معبود (یعني الله) دے۔ (سورت الکهف۱۸، آیت: ۱۱۰)

**آیت نمبر۲۸:** ۱ ۔ نوحﷺ د قام د اعتراض څهٔ جواب ورکړو؟ ۱ ۔ نوحﷺ وفرمائیل چې زهٔ پهٔ واضح دلیل یعني هدایت باندې یم۔ ما ته الله تعالیٰ پېغمبري راکړې ده او زهٔ د الله طرفته بلونکے یم۔

۲ ۔ پهٔ واضح دلیل کېدلو نه څهٔ مراد دے؟ ۲ ۔ نوحﷺ د دې خبرې پهٔ ذریعه قام ته دا خبره ښودل غوښتل چې ما خپله زندګي ستاسو تر منځ تېره کړې ده۔ زما کردار، اخلاق او رویه هر څهٔ تاسو ښهٔ پېژنئ۔ لهٰذا تاسو غور وکړئ چې زهٔ د داسې شخصیت مالک یم چې پهٔ ما باندې د الله تعالیٰ پهٔ رحمت سره وحې راځي، د کوم کېفیت او حقیقت ادراک چې تاسو خلق نهٔ شئ کولے۔ زهٔ تاسو ته د دغه پهٔ حقله خبره کولے شم، ښودلے ئې درته نهٔ شم۔

۳۔ د رحمت یعني نبوت د نهٔ ښودلو نه څهٔ مراد دے؟ ۳ ۔ د نوحﷺ د ارشاد مطلب دا دے چې زهٔ کوم دعوت توحید پېش کوم، د دې مضبوطې جرړې د انساني فطرت دننه موجود دي۔ زهٔ پهٔ دغه فطري دلیل او د زړهٔ پهٔ بصیرت باندې ولاړ یم چې هر هغه سړے ئې لیدلے شي چې د هغهٔ سره د بصیرت سترګې وي، خو د چا پهٔ سترګو چې د ضد، مخ اړولو او حق نهٔ منلو پټۍ وي، نو هغهٔ د دې رڼا د بصیرت موندلو نه عاجزه دے۔ هغهٔ ته به دا هدایت یعني نبوت پهٔ نظر را نهٔ شي۔

**۴۔** پۀ زبردستۍ د هدایت د لازم کولو مطلب څۀ دے؟ **۴۔** د نوحؑ مشرک قام ته د هغۀ پۀ ذریعه دا وئیلے شي چې آیا تۀ به د نبوت د دلیل سره دوي پۀ زبردستۍ د هدایت قائل کړې او د رحمت پۀ سیوري کښې به ئې داخل کړې، حال دا دے چې دوي ترې نفرت کوي او لرې ترې تښتي او پۀ دلائلو او شهادتونو باندې د سره نه غور و فکر نۀ کوي۔

**عملي اړخ:** قصداً حق لره رد کولو والا ته پۀ زبردستۍ سره هدایت نۀ شي کېدے۔

**۵۔** د رسولانو اصل کار څۀ دے؟ **۵۔** د رسولانو اصل کار د الله تعالي پېغام رسول دي، د پاره د دې چې خلق بغېر د څۀ زبردستۍ نه د زړۀ پۀ رضا سره هغه قبول کړي۔

**آیت نمبر ۲۹:** ۱۔ نوحؑ خپل قام ته د دعوت توحید د اجر پۀ معامله باندې څۀ وفرمائیل؟

۱۔هغۀ وفرمائیل چې زۀ ستاسو نه د څۀ بدلې مطالبه نۀ کووم۔

**۲۔** رسول پۀ خپل دعوت باندې د څۀ څیز طلب ګار وي؟ **۲۔** رسول نۀ د قام نه مال غواړي او نۀ بل څۀ، هغه صرف د الله تعالي نه د اجر و ثواب امېد ساتي۔

**۳۔** نوحؑ د کومې خبرې رد وکړو؟ **۳۔** مؤمنانو لره د ځان نه د لرې کولو۔ یعني د نوحؑ د قام سردارانو د هغۀ نه مطالبه وکړه چې دا کمزوري خلق د ځان د خوا او مجلس نه لرې کړه او دغه خبره نوحؑ رد کړه۔

**علمي خبره:** د مکې سردارانو هم د نبيﷺ نه دغسې مطالبه کړې وه، پۀ کوم باندې چې الله تعالي د قرآن حکیم آیت نازل کړو "اے پېغمبره هغه خلق د ځان نه مۀ لرې کوه چې سحر او ماښام خپل رب یادوي" (سورت الانعام ۶، آیت: ۵۲)

**۴۔** نوحؑ کومه خبره د قام جهالت وګڼله؟ **۴۔** د الله تعالي او د رسول پېروکارانو لره سپک ګڼل او هغوي د پېغمبر د خوا نه د لرې کولو مطالبه د هغۀ د قام جهالت ؤ۔

**عملي اړخ:** د انسان قدر او مرتبه د دنیاوي مال و دولت پۀ بنیاد نۀ ده، بلکې د انسان د عزت او شان معیار پۀ تقوي، ایمان او یقین، ښائسته اخلاقو او د پاکیزه صفتونو پۀ کردار باندې ده۔ پۀ دغه اساس د چا انساني شرف د دنیاوي مال و دولت پۀ پېمانو باندې تلل حماقت (بېوقوف توب) او جهالت دے۔

**آیت نمبر ۳۰:** ۱۔ د غریبانانو مؤمنانو د لرې کولو پۀ مطالبه باندې نوحؑ څۀ وفرمائیل؟

۱ ـ نوح عليه السلام دغه مطالبه رد کړه، ځکه چې د الله تعالې په نزد باندې اهمیت د ایمان دے، د مال نهٔ دے او وې فرمائیل چې کهٔ دوي مې وشړل، نو الله تعالې به ناراضه شي ـ

عملي اړخ: د نوح عليه السلام د ارشاد نه مونږ ته دا لارښونه کېږي چې د حق داعي لره د غېر مسلمو د خوشحالۍ د پاره د مسلمانانو نه لاتعلق کېدل نهٔ دي پکار ـ پهٔ دغه اساس چې کوم سړے د الله طرفته متوجه وي، د هغهٔ نه مخ اړول نهٔ دي پکار، ځکه چې د هغهٔ طرفته د الله تعالې هم توجه وي ـ

آیت نمبر ۳۱: ۱ ـ نوح عليه السلام د قام د اعتراضاتو څهٔ جواب ورکړو؟

۱ ـ نوح عليه السلام د قام د اعتراض دا جوابونه ورکړل:

الف ـ اے زما قامه! ما تاسو ته کله وئیلي چې زهٔ د الله تعالې د خزانو مالک یم ـ د خزانو اصل مالک خو الله تعالې دے ـ هغه د خپل تقسیم مطابق چې چا ته وغواړي، ورکوي یې ـ

ب ـ اے زما قامه! زهٔ د غېبو دعویٰ نهٔ کووم ـ د غېبو اصل علم الله تعالې ته دے ـ

ج ـ اے زما قامه! زهٔ د الله تعالې بنده او رسول یم ـ ما کله هم د فرشته توب دعویٰ نهٔ ده کړې او نوح عليه السلام به داسې دعویٰ ولې کوله، ځکه چې انسانیت پهٔ خپله دومره لوے شرف دے چې د اشرف المخلوقات ګڼلو سره ورته د خلافت منصب ورکړے شوے دے او د ملائکو سره ټول مخلوقات د دهٔ پهٔ حفاظت او خدمت باندې ولاړ دي ـ

د ـ اے خلقو! زهٔ دا هم نهٔ شم وئیلے چې کوم خلق تاسو کم تر (سپک) ګڼئ، چې ګنه دوي ته به الله تعالې څهٔ خېر و نهٔ رسوي ـ الله تعالې ته د دوي ایمان او اخلاص معلوم دے ـ کهٔ زهٔ چرته دوي ستاسو پهٔ مطالبه د ځان نه لرې کړم، نو زهٔ به دغه وخت پهٔ ظالمانو کښې شمار شم ـ (معاذالله)

۲ ـ د غېبو نهٔ څهٔ مراد دے؟ ۲ ـ غېب هغهٔ څیز وي چې د حواسو او عقل پهٔ ذریعه نهٔ شي پېژندل کېدے ـ مثلاً داسې حقیقتونه چې مونږ ته پهٔ نظر نهٔ راځي، مګر پهٔ هغوي ایمان ساتل ضروري وي، لکه الله، ملائکې، پېریان، جنت، دوزخ، د اخرت ورځ وغېره ـ

۳ ـ ملائکې څوک دي او د څهٔ څیز نه جوړې دي؟ ۳ ـ دا د الله مخلوق دے او د رڼا نه جوړې دي ـ دوي د الله تعالې نافرماني نهٔ کوي او د هغهٔ پهٔ هر حکم عمل کوي ـ

۴ ـ د عامو خلقو پهٔ نظر کښې پهٔ دنیا کښې د عزت او ذلت معیار څهٔ دے؟ ۴ ـ مال او شهرت ـ

**علمي خبره:** د الله پۀ نزد د عزت معيار تقويٰ ده. (سورت الحجرات۴۹، اٰيت:۱۳)

**اٰيت نمبر۳۲:** ۱. د نوحعليه السلام قام د هغۀ پۀ جوابونو باندې څۀ ردعمل ورکړو؟

۱. قام د نوحعليه السلام د ناصحانه او حکيم دعوت انداز او د نوحعليه السلام مخلص او اوږد جدوجهد د بحث او تکرار او جګړې نه زيات هېڅ و نۀ ګڼلو. (معاذ الله)

۲. د نوحعليه السلام او قام تر منځ ئې څۀ جګړه وه. ۲. د بتانو عبادت وکړے شي کۀ صرف د يو الله.

۳. قام د نوحعليه السلام نه څۀ مطالبه وکړه؟ ۳. کۀ چرته نوحعليه السلام واقعي پۀ خپل نبوت کښې حق وي، نو هغۀ عذاب دې راولي، د کوم نه چې دے مونږ وېروي.

**اٰيت نمبر۳۳:** ۱. نوحعليه السلام د قام د عذاب پۀ مطالبه باندې څۀ ووئيل؟

۱. زما کار صرف د الله تعالٰي پېغام رسول دي، د عذاب اختيار د الله سره دے.

۲. نوحعليه السلام قام ته د څۀ خبرې دهړکه ورکړه؟ ۲. کله چې الله تعالٰي پۀ تاسو باندې د عذاب نازلولو اراده وکړي او د هغۀ د اړخ نه عذاب نازل شي، نو تاسو هغۀ پۀ هېڅ طريقه نۀ وروستو کولے شئ او نۀ ئې ودرولے شئ.

**اٰيت نمبر۳۴:** ۱. کوم خلق ګمراه وي؟ ۱. کوم چې د انبياء کرام عليهم السلام نصحيت نۀ مني، کوم چې قصداً د الله تعالٰي نافرماني کوي. (سورت الصف۲۱، ايت:**۵**)

**اٰيت نمبر۳۵:** ۱. دلته الله تعالٰي چا ته خطاب فرمائي؟ ۱. نبي کريم□ته، پۀ چا باندې چې الله تعالٰي قراٰن حکيم نازل کړے دے.

۲. د نبي کريم□قام پۀ نبي عليه السلام د قراٰن پۀ حواله سره څۀ الزام ولګولو؟ ۲. دا دې د ځان نه جوړ کړے دے. (معاذ الله)

**اٰيت نمبر۳۶:** ۱. نوحعليه السلام ته د کومې خبرې غم ؤ؟ ۱. د خپل قام د ايمان نۀ راوړلو.

۲. الله تعالٰي نوحعليه السلام ته د کومې خبرې خبر ورکړو؟ ۲. اوس به نور څوک ايمان نۀ راوړي.

**اٰيت نمبر۳۷:** ۱. "زمونږ د سترګو مخکښې" نه څۀ مراد دے؟ ۱. د الله د لارښونې، حکم مطابق او د هغۀ د مرستې سره.

۲ ـ د وحې نه څۀ مراد دے؟ ۲ ـ پۀ لغوي اعتباره سره پۀ پټه طریقه خبر ورکولو ته وحې وئیل شي ـ پۀ شرعي لحاظ سره وحې د الله تعالیٰ هغه کلام دے، چې هغۀ د خپلو انبیاء کرامو علیهم السلام سره پۀ څۀ طریقه کړے وي ـ

۳ ـ نوح علیه السلام ته د کشتۍ جوړولو طریقه چا وښودله؟ ۳ ـ الله پاک ـ دغسې انسانانو له ټول علمونه او صلاحیتونه الله تعالیٰ ورکړي دي ـ

۴ ـ نوح علیه السلام د عذاب نه د بچ کولو د پاره پۀ چا باندې بهروسه وکړه؟ پۀ الله تعالیٰ یا کشتۍ باندې؟

۴ ـ پۀ الله تعالیٰ ـ

عملي اړخ: زمونږ بهروسه هم د اسبابو پۀ ځاے پۀ الله تعالیٰ پکار ده او پۀ مشکلاتو کښې د هغۀ طرفته رجوع پکار ده او اسباب او وسائل پکار راوستل او د هغۀ نه کامل امېد لرل پکار دي، ځکه چې هغه حقیقي او مستقل مددګار دے ـ

۵ ـ د ظلم نه څۀ مراد دے؟ ۵ ـ څۀ څیز د هغۀ د اصل مقام نه لرې کول، مثلاً بتانو ته خداے وئیل یا الله تعالیٰ د عامو بادشاهانو پۀ شان ګڼل ـ

آیت نمبر ۳۸: ۱ ـ سردارانو ولې پۀ نوح علیه السلام پسې ټوقې کولې؟

۱ ـ د هغۀ پۀ کشتۍ جوړولو پسې ئې ټوقې کولې، چې نۀ اوبۀ شته دے، نۀ سیند او سمندر شته دے، نو کشتۍ به چرته چلېږي؟

۲ ـ آیا همېشه به مؤمنانو پسې ټوقې کېږي؟ ۲ ـ نه؛ بلکې د قیامت پۀ ورځ به پۀ مؤمنانو پسې ټوقې کوونکي پۀ خپله رسوا وي او مؤمنان به پسې خاندي ـ (سورت المطففین ۸۳، آیت: ۳۴)

آیت نمبر ۳۹: ۱ ـ د نوح علیه السلام پۀ قام عذاب ولې راغلے؟ ۱ ـ د نوح علیه السلام د دروغژن ګڼلو پۀ وجه ـ

آیات نمبر ۴۰: ۱ ـ د نوح علیه السلام پۀ قام د عذاب آغاز څنګه وشو؟

۱ ـ د زمکې نه هم اوبۀ راوخوټکېدلې او د اسمان نه اوبۀ هم راښکې شوې ـ

۲ ـ نوح علیه السلام پۀ کشتۍ کښې کوم څیزونه سوارۀ کړل؟ ۲ ـ الف: د مختلفو ځناورو جوړې ـ

ب ـ د خپلو کور والوو نه مؤمنانو لره ـ ج ـ نور مؤمنان ـ

۳۔ په نوح عليه السلام څومره خلقو ايمان راوړے ؤ؟ ۳۔ډېرو کمو۔تقريباً د ۷۰ نه تر ۸۰ پورې خلقو۔

**اٰيات نمبر ۴۱** ۱۔د نوح عليه السلام د کشتۍ روانېدل او ودرېدل د چا په حکم کېدل؟

۱۔د الله تعالٰي په حکم سره۔

**عملي اړخ:** مونږ له هم د سورلۍ په سورېدلو سره د الله تعالٰي ذکر کول پکار دي او د نبي کريم ﷺ د سورلۍ په حقله ښودلې مسنون دعا هم وئيل پکار ده۔

"سُبْحَانَ الَّذِىْ سَخَّرَ لَنَا هٰذَا وَمَا كُنَّا لَهٗ مُقْرِنِيْنَ (۱۳) وَإِنَّآ إِلٰى رَبِّنَا لَمُنْقَلِبُوْنَ (۱۴)" پاک دے هغه ذات، چا چې دا (سورلۍ) زمونږ تابع کړه، حالانکې مونږ دا په قابو کښې نه شوه راوستلے او بېشکه مونږ خپل رب طرفته ضرور ستنېدونکي يو۔ (سورت الزخرف ۴۳، اٰيات: ۱۳، ۱۴)

**اٰيات نمبر ۴۲:** ۱۔د نوح عليه السلام په قام باندې د راغلي طوفان کېفيت څۀ ؤ؟

۱۔د دغه طوفان چپې د غرونو په شان وو۔ ۲۔د نوح عليه السلام څو زامن وو؟ ۲۔څلور۔

۳۔د نوح عليه السلام څو زامنو ايمان راوړے ؤ؟ ۳۔درې زامنو ئې ايمان راوړے ؤ،يعني حام، سام او يافث۔

۴۔د نوح عليه السلام څو زامنو ايمان نۀ ؤ راوړے؟ ۴۔يو زوے، چې د هغۀ نوم کنعان/ يام ؤ۔

۵۔ نوح عليه السلام کنعان/ يام ته څۀ نصيحت وکړو؟ ۵۔ اے زما زويه! په کشتۍ کښې سور شه او د کافرو نه مۀ کېږه۔

**اٰيات نمبر ۴۳:** ۱۔کنعان/ يام د طوفان نه د بچ کېدلو څۀ طريقه وښودله؟

۱۔هغۀ وئيل چې زۀ به غرۀ ته وخېژم او غر به مې د طوفان نه بچ کړي۔

۲۔د مصيبت په وخت کښې بچ کولو والا څوک دے؟ ۲۔صرف الله تعالٰي۔

**عملي اړخ:** د مصيبت په وخت کښې اسباب استعمالوئ خو بهروسه په اسبابو نۀ په الله تعالٰي کول پکار دي، ځکه چې الله حقيقي او مستقل مددګار دے۔په اسبابو کښې تاثير الله تعالٰي اچوي۔مثلاً اور د الله تعالٰي په حکم بلېږي۔کۀ الله نۀ غواړي، نو بلېدلې نۀ شي او نۀ سوځول کولے شي۔څنګه چې ئې د ابراهيم عليه السلام د پاره اور يخ کړو۔ (سورت النبياء ۲۱، اٰيت: ۶۹)

**اٰيات نمبر ۴۴**: ۱۔طوفان څنګه ختم شو؟ ۱ ۔ چې الله تعالٰي حکم وکړو، نو د اسمان نه اوبهٔ ودرېدلې او زمکې خپلې اوبهٔ راښکلې او دغسې اوبهٔ وچې شولې۔

۲ ۔ د نوحؑ کشتئ چرته ودرېدله؟ ۲ ۔ د غرونو د ارارات سلسلې د جودي غر پهٔ سر باندې ودرېدله۔

**اٰيات نمبر ۴۵**: ۱۔ نوحؑ د خپل زوے کنعان/ يام پهٔ ډوبېدو ولې الله تعالٰي ته اٰواز وکړو؟

۱ ۔ ځکه چې الله تعالٰي ورسره وعده کړې وه چې زهٔ به ستا کور والا بچ کووم۔

**اٰيات نمبر ۴۶**: ۱۔الله تعالٰي د نوحؑ د اٰواز څهٔ جواب ورکړو؟

۱ ۔ الله تعالٰي ورته وفرمائيل چې دغه ستا د کور والوو نه نهٔ ؤ، ځکه چې د هغهٔ عمل نېک نهٔ ؤ۔

۲ ۔ د الله تعالٰي پهٔ نزد باندې زيات اهميت د ايمان دے کهٔ د رشتې او تعلق؟

۲ ۔ د الله تعالٰي پهٔ نزد باندې زيات اهميت د ايمان دے۔ پهٔ دغه اساس د ايمان او نېک اعمال نه بغېر د الله پهٔ نزد نجات ممکن نهٔ دے۔

**فرمان نبوي** :"څوک چې پهٔ عمل کښې وروستو پاتې شو، د هغهٔ نسب به هغهٔ (د نجات پهٔ معامله کښې) مخکښې بو نهٔ ځي" (صحيح مسلم)

۳۔اٰيا کافر د کوم نېک سړي تعلق بچ کولے شي۔ ۳ ۔نه، د عذاب نه د بچ کېدلو او نجات د پاره ايمان، او د الله تعالٰي او رسول□ اطاعت او تابعداري ضروري ده۔ د کوم کافر د پاره يواځې د نېک سړي تعلق او رشته د نجات سبب نهٔ شي جوړېدلے۔ څنګه چې د نوحؑ د هغه زوے پهٔ عذاب د اخته کېدو ذکر شوے دے، کوم چې د نوحؑ تابعداري پرېښودې وه او د کافرو تابعداري ئې اختيار کړې وه۔

**اٰيات نمبر ۴۷**: ۱۔د خسارې نه د بچ کېدو څيز څهٔ شے دے؟ ۱ ۔ د الله تعالٰي مغفرت او رحمت۔

۲ ۔ يو مؤمن بنده له د ټولو نه زيات محبت د چا سره پکار دے؟

۲ ۔ د مال،دولت او اولاد هر شي نه زيات محبت د الله تعالٰي او د هغهٔ د رسولﷺ سره کول پکار دي۔

**علمي خبره**: د الله تعالٰي فرمان دے: "او ايمان والا د هر څهٔ نه زيات محبت د الله تعالٰي سره کوي" (سورت البقره،اٰيت:۱۶۵)

**فرمان نبوي** : " دا درې خصلتونه چې پهٔ کوم سړي کښې هم وي، هغهٔ د ايمان خوارهٔ ومونډل:

الف۔ چا ته چې الله تعالىٰ او رسول ﷺ د ټولو کائناتو نه زيات خواږهٔ وي۔

ب۔ د هغهٔ محبت چې د چا سره هم وي، د الله تعالىٰ د پاره وي۔

ج۔ هغهٔ ته کفر ته ستېندل داسې ناخوښه وي، لکه اور ته لوېدل چې ناخوښه ګڼي" (بخاري و مسلم)

**آيات نمبر۴۸:** ۱۔ د نوح عليه السلام او نورو مؤمنانو سره الله تعالىٰ څهٔ معامله وکړه۔

۱ ۔ الله تعالىٰ هغوي پهٔ خپل رحمت او فضل سره د طوفان نه بچ کړل او سلامتي او برکتونه ئې ورله ورکړل۔

۲ ۔ د الله تعالىٰ د نعمتونو متعلق څهٔ رويه پکار ده؟ ۲ ۔ د الله تعالىٰ د نعمتونه قدر او شکر ادا کول پکار دي۔ د هغهٔ طريقه دا ده چې د هغهٔ نعمتونه د الله تعالىٰ پهٔ اطاعت کښې استعمالول پکار دي۔ د نعمتونو ناشکري د الله تعالىٰ د عذاب سبب جوړېږي۔

**آيت نمبر۴۹:** ۱۔ پهٔ دې آيت کښې الله تعالىٰ چا ته خطاب کړے دے؟

۱ ۔ دلته نبي کريم ﷺ ته خطاب شوے دے۔ د الله تعالىٰ د اړخ نه نبي کريم ﷺ ته تسلي ورکول شي چې د مکې د کافرو پهٔ مخالفت باندې صبر کوه او زړهٔ ورکولے شي چې پهٔ اخره کښې بهترين انجام او اصل کاميابي د متقيانو د پاره ده۔

۲ ۔ متقيان څوک دي؟ ۲ ۔ د الله تعالىٰ نه وېرېدونکي او نافرمانۍ نه بچ کېدونکي۔

۳ ۔ نبي کريم ﷺ ته د نوح عليه السلام د واقعاتو تفصيلات څنګه معلوم شول؟

۳ ۔ د نوح عليه السلام قيصه الله تعالىٰ د وحې پهٔ ذريعه باندې نبي کريم ﷺ ته او د نبي کريم ﷺ پهٔ ذريعه د نبي کريم ﷺ قام ته وښودله۔

## (سورت الشعراء: آياتونه: د ۱۰۵ نه تر ۱۲۲)

**آيت نمبر۱۰۵:** ۱۔ د نوح عليه السلام قام څوک ؤ او چرته آباد ؤ؟

۱ ۔ هغه قام، کوم ته چې نوح عليه السلام پېغمبر جوړ کړے شوے او لېږلے شوے ؤ، پهٔ عراق کښې آباد ؤ۔

**آيت نمبر۱۰۶:** ۱۔ نوح عليه السلام ته د برادرۍ غړے ولې وئيل شوے؟

۱ ـ ځکه چې نوح علیه السلام د هغوي د قام نه ؤ، د هغوي ژبه ویونکے ؤ او د هغوي د وطن او قبیلې ؤ.

د ورورولۍ طرفته د هغۀ پۀ نسبت کولو کښې مقصد دا ؤ چې د هغه قام خبرول ؤ چې هغۀ پۀ دوي باندې داسې شفقت کوونکے او مهربان دے، څنګه چې یو ورور پۀ خپل ورور باندې مشفق او مهربان وي.

**آیت نمبر ۱۰۷:** ۱ـ د امانت دار رسول نه څۀ مراد دے؟

۱ ـ چې د الله تعالیٰ پېغام بغېر د کوم کمي بېشي خلقو ته ورسوي.

**علمي خبره:** امانت داري د یو مؤمن لازمي صفت دے.

**فرمان نبوي:** "د هغۀ هډو ایمان نشته، پۀ چا کښې چې امانت داري نۀ وي" (بهیقي)

**آیت نمبر ۱۰۸:** ۱ـ د نوح علیه السلام دعوت څۀ ؤ؟ ۱ ـ د الله تعالیٰ د نافرمانۍ نه ځان وساتئ او زما اطاعت اختیار کړئ.

**علمي خبره:** د الله تعالیٰ د اطاعت سره د رسول اطاعت هم ضروري دے، ځکه چې د رسول الله اطاعت د الله تعالیٰ اطاعت دے. (سورت النساء۴، آیت: ۸۰) مثلاً مونځ د الله تعالیٰ حکم دے، خو طریقه ئې رسول الله ﷺ ښودلې ده.

**آیت نمبر ۱۰۹:** ۱ـ رسول د خپل دعوت پۀ عمل باندې د څۀ څیز طلب ګار وي؟

۱ ـ رسول د دعوت عمل صرف د الله د رضا او د هغۀ نه د اجر و ثواب د امېد پۀ خاطر کوي. څۀ دنیا مقصد ئې نۀ وي، مثلاً مال او شهرت ئې نۀ وي.

**عملي اړخ:** مونږ له هم نورو ته د نېکۍ دعوت د الله تعالیٰ د رضا د پاره پکار دے.

**آیت نمبر ۱۱۰:** ۱ـ نوح علیه السلام خپل قام ته بار بار څۀ دعوت ورکړو؟

۱ ـ نوح علیه السلام بار بار خپل قام ته د الله تعالیٰ د نافرمانۍ نه د وېرېدلو او د خپل اطاعت دعوت ورکړو.

**آیت نمبر ۱۱۱:** ۱ـ کافرو پۀ غریبو مؤمنانو باندې څۀ اعتراض وکړو؟

۱ ـ هغوي ووئیل چې دا مؤمنان خو سپک او کمزوري خلق دي.

**علمي خبره:** پۀ هر دور کښې د دین مخالفین پۀ ایمان والو پسې دغسې مذاق کوي.

**آیت نمبر ۱۱۲**: ۱۔ د کافرو د مطالبې نوح علیه السلام څۀ جواب ورکړو؟

۱۔ نوح علیه السلام هغوي ته وفرمائیل چې زما د هغۀ کارونو سره څۀ غرض دے چې دوي ئې کوي۔

**آیت نمبر ۱۱۳**: ۱۔ د کافرو د مطالبې نوح علیه السلام نور څۀ جواب ورکړو؟

۱۔ نوح علیه السلام بل دا جواب ورکړو چې د خلقو معاملات او د اعمالو اصل حقیقت خو الله تعالی پېژني او هغه به د خلقو نه حساب اخلي۔

**آیت نمبر ۱۱۴**: ۱۔ د کافرو د مطالبې نوح علیه السلام مزید څۀ جواب ورکړو؟

۱۔ نوح علیه السلام درېیم دا جواب ورکړو چې زۀ دا غریبانان مؤمنان د ځان نه لرې کولو والا نۀ یم۔

**عملي اړخ**: مونږ له هم خلقو لره د مال او دولت په ځائے د ایمان او نېک اعمالو پۀ بنیاد اهمیت ورکول پکار دي۔

**آیت نمبر ۱۱۵**: ۱۔ د کافرو د مطالبې نوح علیه السلام څۀ جواب ورکړو؟

۱۔ نوح علیه السلام څلورم جواب دا ورکړو چې زۀ یو رسول یم، د چا ذمه داري چې صرف پۀ واضحه توګه پېغام رسول وي۔

## علمي او فکري اړخ:

پۀ ډاګه دې وي چې دلته کومه خبره شوې ده، نو دا د هغه خلقو متعلق ده چې ایمان نۀ راوړي۔ د دې نه دا نتیجه اخستل بالکل صحیح نۀ ده چې ګنې د پېغمبر ذمه داري د مؤمنانو پۀ معامله کنبې هم د پېغام رسانۍ نه پرته هېڅ نشته۔ موسیٰ علیه السلام د بني اسرائیلو پۀ تعلق کنبې د کومو کومو عهدو ذمه دارۍ اوچته کړه۔ داود علیه السلام ته د خلافت ذمه داري حواله شوه۔ سلېمان علیه السلام د یو شاندار حکومت جوړولو سره د عدالت ذمه داري هم ادا کړه او نبي کریم ﷺ د پاکیزګۍ او تربیت، کتاب او حکمت تعلیم هم ورکړو او عدالتي فېصلې ئې هم وکړې۔ د دې پرته ئې د کافرو سره د جهادونو او جنګونو ذمه داریانې هم اکثر ادا کړې۔ لنډه دا چې نبي علیه السلام د ټول دین تشریح او وضاحت د خپل قول او عمل پۀ ذریعه وکړو، د کوم اطاعت او تابعداري چې د اهل ایمان والوو د پاره ضروري ده۔

**آیت نمبر ۱۱۶**: ۱۔ د نوح علیه السلام قام هغۀ له څۀ دهمکي ورکړه؟

۱ ـ د کاڼو د ویشتلو د مرګ دهمکي ئې ورکړه ـ (معاذالله)

**آیت نمبر ۱۱۷:** ۱ـ نوح علیه السلام د الله تعالي نه څۀ غوښتنه وکړه؟

۱ ـ کله چې قام نوح علیه السلام او د هغۀ دعوت دروغ وګڼلو، نو نوح علیه السلام د الله مخکښې خپل فریاد وکړو ـ

۲ ـ نوح علیه السلام الله تعالي ته څۀ فریاد وکړو؟ ۲ ـ نوح علیه السلام الله ته دا فریاد وکړو چې د هغۀ او د کافر قام تر منځ فېصله وکړ، نو الله نوح علیه السلام او مؤمنانو لره د دې کافرو نه نجات ورکړو ـ

**آیت نمبر ۱۱۹:** ۱ ـ الله د نوح علیه السلام فریاد څنګه قبول کړو ـ

۱ ـ الله تعالي نوح علیه السلام او نور مؤمنان پۀ یوه کشتۍ کښې سوارۀ کړل او بچ ئې کړل ـ

**آیت نمبر ۱۲۰:** ۱ ـ د نافرمانه قام انجام څۀ شو؟ ۱ ـ الله تعالي پۀ نافرمانه قام د طوفان عذاب راولېږو او هغوي ئې غرق کړل ـ

**آیت نمبر ۱۲۱:** ۱ ـ الله تعالي د نوح علیه السلام قیصه ولې بیان کړه؟

۱ ـ پۀ قرآن حکیم کښې دا قیصې زمونږ د عبرت او سبق د پاره بیان شوي دي ـ دا قیصې الله تعالي نشانې جوړې کړې دي ـ پۀ دې کښې د نافرمانو د خراب او مؤمنانو د بهترین انجام ذکر شوے دے ـ دا قیصې زمونږ د نصیحت او لارښودنې بهترینې ذریعې دي ـ

**علمي خبره:** الله تعالي د نوح علیه السلام د قیصې یو یو څیز او پۀ دغه دوران کښې شوې یوه یوه واقعه او عمل د دنیا والوو د پاره د عبرت سامان ګرځولے دے ـ

الف: د ټولو نه وړومبے خو دا ټوله قیصه د ټولو جهانونو د پاره نشاني ده، څوک چې هم دا واوري، عبرت دې ترې حاصل کړي ـ

ب: دومره غټه کشتۍ د ټولو جهانونو د پاره نشانه جوړه کړې شوې ده، چې د اوبو د ډوبېدو نه د بچ کېدو دا طریقه ده، نو ځکه د دغه نه وروستو ټولو انسانانو دغسې کشتۍ جوړې کړې او د اوبو د ډوبېدو نه د بچ کېدو او سمندر د سفر د پاره ئې بندوبست وکړو ـ دا مضمون پۀ سورت یٰس ۳۲، کښې د ۴۱ نه تر ۴۴ آیاتونو کښې هم بیان شوے دے ـ

ج: هغه کشتۍ تر صدو پورې د جودي غر پهٔ سر باندې موجود وه او وروستو نسلونو ته ئې دا خبر ورکولو چې پهٔ دې زمکه باندې یو وخت داسې طوفان راغلے ؤ چې د هغې پهٔ نتیجه کښې دا لویه کشتۍ د غر سر ته رسېدلې وه۔

د: الله تعالیٰ نوح عليه السلام او پهٔ کشتۍ کښې سورو خلقو لره نجات ورکړو او دغه نجات ئې پهٔ څو بنیادونو د ټولو جهانونو د پاره نشاني جوړه کړه۔ مثلاً: ۱: یو دا چې د طوفان د راتلو نه مخکښې کشتۍ تیاره شوه۔ ۲: دویم دا چې نوح عليه السلام د ځان د پاره او پهٔ کشتۍ کښې د موجودو ټولو انسانانو او ځناورو لپاره خوراک ذخیره کړو۔ ۳: دریم دا چې د خوراک د ختمېدو نه مخکښې مخکښې اوبهٔ پهٔ زمکه کښې جذب او وچې شوې۔ دومره لوے سمندر چې د غرونو د اوچتوالي هومره ژور ؤ، پهٔ دومره موده کښې وچېدے نهٔ شو۔ کهٔ چرته اوبهٔ ذر نهٔ وے وچې شوې، نو هېڅوک هم ژوندي نهٔ شو پاتې کېدے۔ ۴: بله دا چې دغه کشتۍ د دومره مودې پورې د هوا د چپو او د اوبو د خطرناکو ځناورو د حملو نه هم محفوظه وه۔ پهٔ دې ټولو خبرو کښې د کشتۍ والوو هېڅ کمال نهٔ ؤ، بلکې دا د جهانونو د پاره یوه نشاني جوړه شوه۔ حقیقت دا دے چې پهٔ دې څلورو واړو مقصدونو کښې هېڅ تضاد نشته، دا څلور واړه ترې پهٔ یو وخت کښې هم مراد اخستلے شو۔

**آیت نمبر ۱۲۲**: ۱۔ پهٔ دې آیت کښې د الله کوم دوه نومونه بیان شوي دي؟

۱۔ د الله وړومبے نوم "العزیز" بیان شوے دے،د کوم معنیٰ چې زبردست، مکمل اختیار والا او غلبې والا دے۔ دویم نوم "الرحیم" بیان شوے دے۔ د دې مطلب دے،ډېر رحم کوونکے۔

**علمي خبره**: د دې قیصې سره د دې نومونو تړون دا دے چې الله تعالیٰ، اګر چې غالب دے او مکمل اختیار هم لري، مګر نافرمانو ته سمدستي سزا نهٔ ورکوي، بلکې د رحیم نومې پهٔ خاطر، خلقو له د توبې او اصلاح مهلت هم ورکوي۔

## د مشقونو جوابونه

### ځان پوهه کړئ او حل ئې کړئ:

سوال۱: د کالم (الف) هر جمله د کالم (ب) د صحیح جملې سره د کرښې په مرسته میلاو کړئ.

| الف | ب |
|---|---|
| په دنیا کښې د بت پرستۍ اغاز | کافر سوارۀ نۀ شول |
| الله تعالیٰ نوح عليه السلام له | لږو خلقو ایمان راوړو |
| نوح عليه السلام | د کشتۍ جوړولو حکم ورکړو |
| د نوح عليه السلام په کشتۍ کښې | د نوح عليه السلام د قام نه وشو |
| د نوح عليه السلام په دعوت باندې | د عراق اوسېدونکي وو. |

### سوال۲: خالي ځایونه ډک کړئ.

1) نوح عليه السلام وړومبے________ ؤ. (رسول)
2) د ادم عليه السلام د مرګ نه وروستو تر ډېره وخته د هغۀ اولاد په ________ ولاړ ؤ. (توحید)
3) د نوح عليه السلام قام پنځۀ_____جوړې کړې وې او په خپلو عبادت خانو کښې ئې اېښودې وې. (مجسمې)
4) د نوح عليه السلام په قام باندې د___________په صورت کښې عذاب راغلو. (طوفان)
5) الله تعالیٰ د نوح عليه السلام په کشتۍ کښې سوارۀ ټول _________ محفوظ وساتل. (مؤمنان)

### سوال۳: د لاندینو سوالونو جوابونه ورکړئ.

۱. د نوح عليه السلام متعلق درې خبرې ولیکئ.

جواب: الف. نوح عليه السلام وړومبے رسول ؤ. ب: نوح عليه السلام ته ادم ثاني هم وئیل شي. ج: نوح عليه السلام ۹۵۰ کاله خپل قام ته د دین دعوت ورکړو.

**۲ ـ رسول څۀ ته وائي؟**

جواب: رسولان هغه خاص بندګان وي، چا ته چې الله تعالىٰ کتاب یا شریعت، یعني احکامات ورکړي وي ـ

**۳ ـ شرک څۀ ته وائي؟**

جواب: د شرک مطلب دے، د الله تعالىٰ پۀ ذات او صفاتو کښې څوک شریکول او بل چا له د الله پۀ شان صفتونه منل ـ

**۴ ـ د نوح علیه السلام قام چې کوم بتان جوړ کړي وو، د هغوي نومونه ولیکئ ـ**

جواب: د نوح علیه السلام قام چې کوم بتان جوړ کړي وو ،د هغوي نومونه دادي: ود، سواع، یغوث، یعوق او نسر ـ

**۵ ـ د طوفان نه بچ شوو خلقو څۀ وکړل؟**

جواب: پۀ کشتۍ کښې بچ شوو خلقو د الله تعالىٰ شکر ادا کړو او د الله تعالىٰ پۀ فرمانبردارۍ کښې ئې ژوند تېر کړو ـ

**سوال۴:** پۀ لاندینو جملو د صحیح (✓) او غلط (X) نشان ولګوئ ـ

| غلط | صحیح | جملې | شمېره |
|---|---|---|---|
| √ | | نوح علیه السلام خپل قام صرف پۀ شپه کښې پوهه کړو | ۱ |
| √ | | د ټولو نه مخکښې د بت پرستۍ اٰغاز د هود علیه السلام وکړو | ۲ |
| | √ | الله تعالىٰ د نوح علیه السلام درې زامن د عذاب نه بچ کړل | ۳ |
| √ | | د نوح علیه السلام قام چې کوم بتان جوړ کړي وو، د هغوي درې نومونه بیان شو | ۴ |
| | √ | د نوح علیه السلام نه وروستو انساني نسل د هغۀ د زامنو نه خور شو، ځکه ورته ادم ثاني وائي | ۵ |

**سوال۵**: د نوح علیه السلام لاندیني لفظونه پهٔ ورکړے شوو خانو کښې ولیکئ۔

(اٰدم ثاني، درې بتان، د غر سر جودي، دوه زامن، د بتانو عبادت، ۹۵۰ کاله، عراق، د دین دعوت، د کاڼو باران، یمن، پهٔ خلقو پسې ټوقې کول، د مرغو جوړې، غریبانان مؤمنان

اٰدم ثاني

غریبانان مؤمنان

د غر سر جودي



د بتانو عبادت

پهٔ خلقو پسې ټوقې کول

۹۵۰ کاله

د دین دعوت

عراق

سوال۶: راځئ خپله جائزه اخلو (نوټ: د دې سوال کالمونه ځکه نهٔ دي ډک کړے شوي، چې د ماشومانو خپل احتساب دے۔

**عملي سرګرمي**:

۱۔ د نوح علیه السلام د قیصې نه اخستي شوي پنځهٔ سبقونه پهٔ زده کونکیو پهٔ چارټ باندې ولیکئ۔

۲۔ پهٔ زده کونکیو نورو ته د دین دعوت د ورکولو درې طریقې ولیکئ۔

۳۔ د نوح علیه السلام د کشتۍ ریسرچ ویډیو وښایې۔

## قیصه د هود علیه السلام

**د ښودلو طريقه :**

سبق نمبر۱:د دې قیصې مختصر خلاصه پۀ عام فهمه او د داستان پۀ انداز کښې د درسي کتاب نه ولولئ.

سبق نمبر۲: د دې قیصې قرانی متن او ترجمه د (سورت الاعراف د **۶۵** نه تر**۶۹** اٰياتونو پورې) د درسي کتاب نه ولولئ.

سبق نمبر۳:د دې قیصې قرانی متن او ترجمه د (سورت الاعراف د ۷۰ نه تر۷۲ اٰياتونو پورې) د درسي کتاب نه ولولئ.

سبق نمبر۴:د دې قیصې قرانی متن او ترجمه د (سورت هود د **۵۰** نه تر**۵۵** اٰياتونو پورې) د درسي کتاب نه ولولئ.

سبق نمبر۵:د دې قیصې قرانی متن او ترجمه د (سورت هود د **۵۶** نه تر ۶۰ اٰياتونو پورې) د درسي کتاب نه ولولئ.

سبق نمبر۶:د دې قیصې قرانی متن او ترجمه د (سورت الشعراء د ۱۲۳ نه تر۱۳۱ اٰياتونو پورې) د درسي کتاب نه ولولئ.

سبق نمبر۷:د دې قیصې قرانی متن او ترجمه د (سورت شعراء د ۱۳۲ نه تر ۱۴۰ اٰياتونو پورې) د درسي کتاب نه ولولئ.

سبق نمبر۸:(i) د "علم او عمل خبرې" پۀ وضاحت سره زده کونکیو ته ښودل او د مذاکرې پۀ ذریعه ذهن ته کوزول.

(ii)"ځان پوهه کړئ او حل ئې کړئ" زده کونکو ته د کور د کار (Home Work) پۀ طور ورکړئ چې د هغوي د قراٰن فهمۍ اندازه ولګي او وروستو ئې پۀ کلاس کښې حل کړي. (د تشریحي نکتو نه وروستو د ورکړے شوو "مشقونو د جوابونو" نه استفاده کېدے شي)

(iii) د کور د سرګرمۍ د پاره د زده کونکیو د کور والا پابند جوړ کړئ. (پۀ کلاس کښې د نورو سرګرمیانو کولو لپاره د "مشقونو د جوابونو" نه وروستو د "عملي سرګرمۍ" نه هم استفاده پورته

## د مطالعې مقصدونه:

د دې سورت په ختمېدو سره به زده کونکي د دې جوګه شي چې هغوي ته به پته وي چې:

۱۔قوم عاد څوک وو؟

۲۔چرته اٰباد وو؟

۳۔قوم عاد له الله تعالٰي څهٔ صلاحیتونه ورکړي وو؟

۴۔د هر نبي او رسول بنیادي او اولین دعوت څهٔ وي؟

۵۔د قوم عاد رویه د رسول پهٔ دعوت باندې څهٔ وه؟

۶۔عموماً د رسولانو پهٔ دعوت باندې د قام د سردارانو طرز عمل څهٔ پاتې شوے؟

۷۔پهٔ قامونو باندې د الله د عذاب رالېږلو څهٔ قانون دے؟

۸۔پهٔ قوم عاد باندې څهٔ عذاب راغلو او ولې راغلو؟

۹۔الله کومو خلقو له د عذاب نه نجات ورکوي؟

۱۰۔د قوم عاد پهٔ انجام کښې زمونږ د پاره څهٔ سبق دے؟

## اٰیت پهٔ اٰیت تشریحي نکتې

### (سورت الاعراف، اٰیاتونه د ۶۵ نه تر ۷۲)

**اٰیت نمبر۶۵:** ۱۔قوم عاد څوک وو؟

۱۔د نوحؑ پهٔ قام باندې د طوفان راتلو نه وروستو د هغهٔ د اولاد نه قوم عاد پېدا شو۔قوم عاد ته عاد اولٰي هم وئیل شي۔دا د عربو د ابتدائي نسل یو قام ؤ چې د یمن پهٔ شګلنه علاقه کښې د حضر موت خواوشاه اٰباد وو۔دا خلق پهٔ خپل جسماني طاقت او ګټو تراشلو پهٔ هنر کښې مشهور وو۔پهٔ مزه مزه هغوي بتان جوړ کړل او د هغې عبادت ئې شروع کړو او د خپل طاقت پهٔ نشته کښې اخته شول۔د دغه قام اصل استوګن ځاے د احقاف علاقه وه چې د حجاز، یمن او یمامه تر منځ د الربع الخالي پهٔ جنوب

مغرب کښې پرته ده ـ دا خلق د دې ځاے نه خوارۀ شول، د یمن پۀ مغربي ساحلونو او د عمان او حضرموت نه تر عراق پورې ئې د خپل طاقت جنډې ودرولې ـ

۲: هودﷺ ولې د قوم عاد طرفته ولیږل شو؟ ۲: ځکه چې پۀ مزه مزه پۀ قوم عاد کښې د توحید پۀ ځاے شرک راغلو، نو پۀ دغه اساس د هغوي د اصلاح د پاره الله تعالي هودﷺ پیغمبر جوړ کړو او راولیږو ـ

۳ـ هودﷺ ته د برادرۍ وګړے ولې ووئیل شو؟ ۳ـ ځکه چې هودﷺ د هغوي د قام نه ؤ ـ د هغوي ژبه ویونکے ؤ او د هغوي د وطن او قبیلې نه ؤ ـ د برادرۍ طرفته د نسبت کولو مقصد د هغۀ قام له خبردارے ورکول وو چې هغۀ پۀ دوي باندې داسې مشفق او مهربان دے، څنګه چې یو ورور پۀ بل ورور باندې مشفق او مهربان وي ـ

۴ـ پۀ عمومي توګه رسولان د خپل قام نه ولې منتخب کېږي؟

پۀ عمومي توګه الله تعالي د هر قام نه یو رسول منتخب کړے دے، د پاره د دې چې دغه رسول، دغه خلقو ته د هغوي پۀ ژبه کښې د الله تعالي پیغام ورسوي او د رسول د سیرت او کردار بهترین مثال هم د خلقو مخکښې وي ـ څنګه چې پۀ سورت ابراهیم۱۴، آیت نمبر۴ کښې فرمائیلي شوي دي "او مونږ هر رسول د هغۀ د قام پۀ ژبه کښې لیږلے دے، د دې د پاره چې هغۀ د هغوي مخې ته حق پۀ صحیح توګه واضح کړي"

۵ـ هودﷺ خپل قام ته څۀ تبلیغ وکړو؟ ۵ـ د توحید دعوت ئې ورکړو ـ د بت پرستۍ نه ئې منع کړل ـ د الله تعالي د نافرمانۍ نه ئې ورته د بچ کولو تلقین وکړو ـ

**آیت نمبر ۶۶:** ۱ـ قام پۀ هودﷺ څۀ الزامات ولګول؟

۱ـ الف: بې وقوفه دے ـ ب: د دروغژنو نه دے ـ (معاذالله)

۲ـ د قام پۀ نزد د هودﷺ بې وقوفتیا څۀ وه؟ ۲ـ د خپل پلار نیکۀ د صدو بت پرستي پرېښودل، د خپلې قبیلې نه جدا کېدل او د یو الله د عبادت دعوت ورکول ـ ځکه چې د هغوي د ګمان مطابق دوي ټولو د کم عقل توب د وجې د بتانو عبادت نۀ کولو ـ

۳ـ قام هغۀ ته دروغژن ولې ووئیلو؟ ۳ـ ځکه چې د هغوي پۀ نزد د کائناتو دومره لوے نظام یواځې الله تعالي نۀ شو چلولے ـ څنګه چې د دنیا بادشاهانو ته د نظام چلولو د پاره د معاونینو او مشیرانو ضرورت وي، نو پۀ دغه اساس چې کله هودﷺ هغوي پوهه کړل چې الله تعالي یواځې ستاسو ټول کارونه سمولے

شي، هغۀ ته د کوم معاون ضرورت نۀ وي، نو هغوي ورته پۀ جواب کښې ووئیل چې دوه خبرې دي: یا خو تۀ کم عقل یې، ځکه چې تۀ پۀ دې ښکاره خبره یعني دنیاوي قانون نۀ پوهېږې یا تۀ (معاذالله) دروغژن یې چې د الله تعالٰي متعلق داسې خبرې کوې۔

**عملي اړخ**: د هود علیه السلام د شفقت نه د ډک دعوت ردعمل دا شو چې د هغۀ د قام سردارانو هغۀ ته بې وقوفه او دروغژن وئیل شروع کړل، خو د هغۀ پۀ مخ باندې د ذرې برابر ناخوښي ښکاره نۀ شوه۔هود علیه السلام هم د نوح علیه السلام پۀ شان ډېر پۀ نرمۍ او وضاحت سره د خپلې رېښتین ولۍ او دعوت صداقت واضح کړو۔ کوم خلق چې د حق او صداقت پۀ لار د شفقت او خلوص سره ځي، پۀ هغوي باندې قسم قسم الزامونه لګېږي۔خو هغوي پۀ دغه الزاماتو کښې د انښتلو پۀ ځاے ډېر پۀ حوصله او همت خپل کار کوي۔

**آیت نمبر۶۷**: ۱۔هود علیه السلام د قام د الزاماتو څۀ جواب ورکړو؟

۱۔الف: پۀ ما کښې د بې وقوفتیا څۀ خبره نشته۔ ب: زۀ د الله تعالٰي رسول یم۔

**عملي اړخ**: پۀ تاسو باندې د لګېدلو غلطو الزامونو جواب ضرور ورکول پکار دي او د اصل حقیقت نه خلق خبرول پکار وي۔ګنه خلق به دا سوچ کوي چې کوم الزام پۀ دۀ لګېدلے، دا بالکل صحیح دے۔

**آیت نمبر۶۸**: ۱۔پۀ دې آیت کښې هود علیه السلام د خپلو کومو ذمه داریانو ذکر وکړو؟

۱۔الف: زۀ تاسو ته د خپل رب پېغام درسووم۔ ب: زۀ ستاسو د پاره امانت دار او خېر خواه یم۔

۲۔هود علیه السلام د خپلې امانت دارۍ او خېرخواهۍ ذکر ولې وکړو؟

۲۔هود علیه السلام د خپلې امانت دارۍ ذکر قام ته د دې خبرې د پوهولو د پاره وکړو چې تر اوسه پورې هغۀ پۀ دوي کښې امانت دار پاتې شوے دے او همېشه ئې د دوي ګټه غوښتلې ده، نو اوس دغه خلق ولې داسې بدګماني کوي۔

**عملي اړخ**: اهل علم او د کمال خاوندانو لره د ضرورت او موقعې مناسب د خپل منصب او کمال اظهار کول پکار دي، خو د خلقو سره د خبرو پۀ دوران کښې ورله د سختۍ پۀ ځاے د شفقت، نرمۍ، همدردۍ او ښو اخلاقو مظاهره کول پکار دي۔

**عملي اړخ**: انبیاء کرام علیم السلام همېشه د امت د خېرخواهۍ لپاره راغلي دي۔د دوي دعوت پۀ حق او خلاص باندې اډانه وي۔دوي پۀ پوره امانت دارۍ او ذمه دارۍ سره د الله تعالٰي پېغام بغېر د کوم

کمې بیشي نه خلقو ته رسولے دے۔ لهٰذا پۀ دوي باندې الزامونه لګول د الله او د هغۀ د رسول د منکرینو عادت پاتې شوے دے۔ زمونږ کامیابي پۀ دې کښې ده چې مونږ د دوي پۀ تعلیماتو باندې عمل وکړو، کوم ئې چې د الله تعالیٰ د اړخ نه د انسانانو د کامیابۍ د پاره راوړي دي۔

**اٰیت نمبر ۶۹:** ۱۔ قوم عاد د هود علیه السلام پۀ رسول جوړېدو ولې تعجب وکړو؟

۱۔ ځکه چې هغه د هغوي د قام یو وګړے او انسان ؤ او د هغوي پۀ خیال نبي د ملائکو یا د داسې مخلوق نه جوړېدل پکار ؤ چې د هغوي نه غوره وي یا د هغوي پۀ شان نۀ وي۔

۲۔ پۀ قام عاد باندې الله تعالیٰ څۀ انعامات کړي وو؟

۲۔ الف: د نوح علیه السلام د قام ځائے نېونکي ئې جوړ کړل۔ ب: اوږدۀ او قوي بدنونه ئې ورکړي وو۔

**علمي خبره:** د نوح علیه السلام د قام نه وروستو الله تعالیٰ قوم عاد ته پۀ دنیاوي لحاظ ډېره ترقي ورکړې وه۔ دا ډېر دنګ قد او مضبوط بدنونو والا خلق وو۔ د حدیثونو مطابق د دوي قدونه د شپېتۀ، اتیا او سلو لاسونو پورې وو۔ شداد د دې قام بادشاه ؤ، چا چې دنیاوي جنت جوړ کړے ؤ۔ پۀ قراٰن حکیم کښې بل ځائے د دې قام پۀ حقله فرمائیلي شوي دي چې: "د دوي پۀ شان قام مو پۀ بل یو ملک کښې نۀ ؤ پېدا کړے" (سورت الفجر ۸۹، اٰیت: ۷) او دا چې "د عذاب نه وروستو داسې پراتۀ وو، لکه د کهجورې پرېوتې تنې" (سور الحاقه ۶۹، اٰیت: ۷)

**عملي اړخ:** د الله تعالیٰ د ورکړے شوو نعمتونو تقاضا ده چې د شکر او احسان سره د هغۀ اطاعت او فرمان برداري وشي، نۀ چې انسان پۀ غرور، تکبر او طاقت کښې راشي او سرکشي وکړي۔

**اٰیت نمبر ۷۰:** ۱۔ قوم عاد صرف د یو الله د عبادت نه ولې انکار وکړو؟

۱۔ هغوي غوښتل چې د خپل پلار نیکۀ پۀ نقش قدم لاړ شي او د ډېرو بتانو عبادت وکړي۔

**علمي خبره:** د قوم عاد خبره پۀ بل ځائے کښې داسې بیان شوې ده چې "هغوي ووئیل اے هود علیه السلام! تا مونږ ته څۀ واضح دلیل را نۀ وړلو او مونږ خپل معبودان ستا پۀ وینا هېڅ کله پرېښودلو والا نۀ یو او نۀ پۀ تا باندې ایمان راوړونکي یو" (سورت هود ۱۱، اٰیت: ۵۳)

۲۔ قام د هود علیه السلام نه څۀ مطالبه وکړه؟ ۲۔ قام ووئیل چې د کوم عذاب نه تۀ مونږ وېروې، هغه راوله۔

**عملي اړخ:** کله به هم چې پۀ کوم قام عذاب راتلو، نو د هغوي عقاید به خرابېدۀ. د الله تعالیٰ او رسول ښودلې شوي سیدها لار به ئې پرېښودله او بت پرستۍ او شرک کښې به مبتلا کېدل.

پۀ دغه حالاتو کښې به چې کله هم څوک رسول راغلو او دغه مجرم قام به ئې د بت پرستۍ او شرک نه منع کولو او هغوي ته به ئې د یو الله د بندګۍ تلقین کولو، نو د خپل ماحول مطابق به د هغوي وړومبے جواب دا ؤ چې خپل ټول خدایانو له څنګه لته ورکړو او د یو الله تعالیٰ عبادت وکړو؟ مونږ له پۀ خپلو عقیدو باندې فکر کول پکار دي. پۀ دې حواله باندې د قرآن حکیم او د نبي کریم□ د پاک سیرت نه لارښودنه اخستل پکار دي.

**آیت نمبر ۷۱:** ۱. هودؑ د قام د مطالبې څۀ جواب ورکړو؟

۱. هغۀ قام ته ووئیل چې تاسو لره الله تعالیٰ د عذاب فېصله کړې ده.

**علمي خبره:** "رجس" د کوم معنیٰ چې ګندګي ده، لیکن دلته دا لفظ بدل شوے دے او "رجز" دے، د کوم معنیٰ چې عذاب دے. یا بیا د "رجس" معنیٰ دلته ناراضګي او غضب دے. د وېنا مقصد دا ؤ چې د کومې ګندګۍ او ناپاکۍ پۀ وجه د الله تعالیٰ عذاب پۀ غضب کښې راځي، د هغۀ یو لوے ډهېرے دې خلقو پۀ ځان اچولے دے او د "رجس" د دومره لوے انبار جمع کولو نه وروستو دې اوس دغه خلق د الله تعالیٰ عذاب د ځان نه لرې نۀ ګڼي.

۲. هودؑ د بتانو څۀ حقیقت بیان کړو؟ ۲. هودؑ ووئیل چې د دې بتانو د څو نومونو نه پرته هېڅ حقیقت نشته چې تاسو او ستاسو پلرونو نیکونو ورله اېښودې دي.

**علمي خبره:** قوم عاد خپلو بتانو له نومونه اېښودي وو، د کوم حقیقت چې هودؑ واضح کړے ؤ. مثلاً صدا، صمود، هبا وغېره، څنګه چې د نوحؑ د قام پنځۀ بتان وو. ود، سواع، یغوث، یعوق او نسر، څنګه چې د عربو د مشرکانو د بتانو نومونه وو، لات، عزيٰ، منات، هبل وغېره.

۳. آیا پۀ اسماني کتابونو کښې د بت پرستۍ کوم دلیل نازل شوے دے؟

۳. بالکل نۀ، بلکې پۀ هر اسماني کتاب او د هر رسول پۀ تعلیم کښې د بت پرستۍ او شرک نفي او مذمت شوے دے.

۴.هود علیه السلام خپل قام ته د کومې خبرې د انتظار ووئیل؟ ۴ . د الله تعالیٰ د حکم (یعني عذاب) د انتظار ئې ورته ووئیل. یعني چې وګورئ چې د کوم وخت پورې تاسو ته الله تعالیٰ مهلت درکوي او د کله پورې عذاب تاسو هلاکوي او تباه کوي.

**عملي اړخ:** کله چې یو قام په سرکشۍ او نافرمانۍ، ګستاخۍ او بې حیایۍ او بې لارۍ کښې دومره مخکښې لاړ شي، چې حق او ربړدل هم نۀ خوښوي، نو بیا د الله تعالیٰ عذاب دغه قام ته خامخا رسي.

## (سورت هود ، ایاتونه د ۵۰ نه تر ۶۰)

**اٰیت نمبر ۵۰:** ۱.هود علیه السلام ته د براردرۍ وګړے ولې ووئیل شو؟

۱ . ځکه چې هود علیه السلام د هغوي د قام نه ؤ، د هغوي ژبه ویونکے ؤ او د هغوي د وطن او قبیلې نه ؤ. د وروري طرفته د نسبت کولو مقصد قام د دې خبرې نه خبرول وو چې دا پۀ دوي باندې داسې مشفق او مهربان دے، څنګه چې ورور پۀ ورور مشفق او مهربان وي.

۲ .د ورورۍ پۀ وګړي وئیلو کښې څۀ حکمت پۀ نظر راځي؟ ۲ . د هر پېغمبر د رالېږلو پۀ سلسله کښې د الله تعالیٰ سنت بالعموم هم دا پاتې شوي دي چې کوم قام طرفته کوم پېغمبر لېږلے شوے دے، هغۀ د هغوي نه لېږل شوے دے. د پاره د دې چې دغه پېغمبر هغوي د هغوي پۀ ژبه، د هغوي پۀ لب و لهجه او انداز او اسلوب کښې پوهه کړي. پۀ دغه وجه د قام او پېغمبر پۀ منځ کښې څۀ نااشنا والے منځ ته نۀ راځي، بلکې هغه د هغوي سره اشنا وي.

۳.هود علیه السلام قام ته څۀ دعوت ورکړو؟ ۳ . د یو الله د عبادت دعوت ئې ورکړو.

۴.قوم عاد څۀ دروغ تړلي وو؟ ۴ . د یو الله سره ئې بتان معبودان جوړ کړي وو.

**اٰیت نمبر ۵۱:** ۱ .هود علیه السلام پۀ تبلیغ باندې د چا نه د اجر طمعه لرله؟

۱ . د الله نه، چې د ټولو پېدا کوونکے ؤ، چې د ټولو حاجتونو او ضرورتونو پوره کوونکے ؤ. هغه غني هم دے او کریم هم دے.

**علمي خبره:** قراٰن حکیم دا خبره تقریباً د ټولو پېغمبرانو د ژبې نه نقل کړې ده، چې "مونږ ستاسو نه د خپل تبلیغ او رسالت څۀ مزدوري او بدله نۀ غواړو" د پاره د دې چې د هغوي نصیحت بې لالچه او مؤثر پاتې شي. خلقو د هغوي شفقت او خېرخواهي د دنیاوي غرض لپاره و نۀ ګڼي. لهٰذا د انبیاء کرام علیهم السلام بې لالچي او بې غرضي د هغوي د صداقت دلیل دے.

علمي اړخ: د دې اٰیت نه څو سبقونه ملاوېږي۔ الف: معلومه شوه چې کۀ د دعوت او تبلیغ څۀ معاوضه واخستل شي، نو هغه به اثر نۀ کوي۔ اکثر مونږ ته پۀ نظر راځي چې پۀ وعظ او نصیحت باندې د پېسو اخستونکو پۀ اورېدونکو باندې څۀ اثر نۀ کېږي۔

ب: کوم سړے چې بغېر لالچه او بې غرضه صرف پۀ دردمندۍ او خېرخواهي سره د کامیابۍ د لارې خبره وکړي، د بدخوا او دښمن ګڼلو پۀ ځائے د هغۀ پۀ خبره باندې غور او فکر کول پکار دي او هغه اورېدل او ځان پرې پوهه کول پکار دي۔

ج: مونږ له د تبلیغ او هر نېک کار پۀ بدله کښې صرف د الله تعالیٰ نه د اجر یعني بهترینې بدلې امېد ساتل پکار دي۔

اٰیت نمبر۵۲: ۱۔د استغفار څۀ مطلب دے؟ ۱۔ د الله تعالیٰ نه د ګناهونو بخښنه غوښتل چې پۀ خپل رحمت سره زمونږ ګناهونه معاف کړي۔

۲۔د توبې څۀ مفهوم دے؟ ۲۔ مخ اړول او راګرځېدل یعني د ګناهونو نه مخ اړول او د الله تعالیٰ فرمانبرداري اختیارول۔

۳۔هود علیه السلام خپل قام ته د توبې او استغفار څۀ فائدې بیان کړې؟

۳۔الف: باران چې خوشحالي به راوړي۔ ب: پۀ اسباب او قوت کښې اضافه۔

علمي خبره: د قام عاد زمیدارۍ سره ډېره مینه وه او زیاتره به زراعت د هغوي د ګټې وټې ذریعه وه۔ هغوي د درې کالو نه د خشکۍ پۀ مصیبت کښې ګرفتار وو او باران نۀ کېدو۔د دغه مصیبت د خلاصۍ د پاره هود علیه السلام هغوي ته د توبې او استغفار تلقین وکړو۔ څنګه چې پۀ یو بل ځائے کښې ارشاد دے چې: "اور کۀ چرته واقعي د کلو والوو ایمان راوړے وے او د ګناهونو نه ئې ځان ساتلے وے، نو مونږ به ضرور پۀ هغوي باندې د اسمان او زمکې نه برکتونه رالېږلي وے، لیکن هغوي ایمان لره دروغ وګڼل، نو مونږ د هغوي د معاش ذریعه بنده کړه" (سورت الاعراف۷، اٰیت: ۹۶)

عملي اړخ: پۀ رزق کښې خېر و برکت او خوشحالي د استغفار او توبې دنیاوي فائدې دي۔د ټولو نه اهمه فائده ئې دا ده چې الله به د بندګانو نه راضي شي۔

اٰیت نمبر۵۳: ۱۔قام عاد هود علیه السلام لره د پېغمبر نۀ منلو لپاره څۀ بهانه وکړه؟

۱ ـ قام ورته ووئيل چې تا څۀ واضحه دليل (معجزه) نۀ ده راوړې، پۀ دغه اساس مونږ د بتانو عبادت لره پرېښودونکي نۀ يو ـ

عملي اړخ: کوم خلق چې د حق نه مخ اړوي او حق اورېدل نۀ خوښوي، د هغوي مخې ته کۀ هر څومره دليلونه هم پېش کړے شي، نو هغوي ئې نۀ مني او قسم قسم بحثونو او حجتونو کښې پراتۀ وي ـ مونږ له پکار دي چې زمونږ مخکښې کله هم د قراٰن او حديث خبره راشي، نو د فضولو بحثونو پۀ ځاے پۀ هغۀ کښې خپل نجات او د خېر لار لټول پکار دي ـ

**اٰيت نمبر ۵۴:** ۱ ـ قام عاد پۀ هودﷺ د دين پۀ دعوت پېش کولو باندې څۀ الزام ولګولو؟

۱ـ قام ورته ووئيل چې زمونږ کوم معبود تۀ پۀ څۀ غلطۍ (يعني ذهني بيمارۍ) اخته کړے يې ـ (معاذالله)

۲ ـ هودﷺ د څۀ شي نه د بېزارۍ اعلان وکړو؟

۲ ـ د شرک يعني بت پرستۍ نه ـ

عملي اړخ: د ګمراهانو او جاهلانو خلقو همېشه دا رويه پاتې شوې ده چې هغوي د حق د دعوت پۀ جواب کښې الزام تراشۍ او دهمکۍ رويه اختياروي ـ لهٰذا مونږ له کله هم د دوي د دغه روېې نه حوصله بېلل يا مايوسه کېدل نۀ دي پکار او نۀ د حق خبرې نه وروستو کېدل پکار دي ـ

**اٰيت نمبر ۵۵:** ۱ـ هودﷺ خپل قام ته د څۀ خبرې چېلنج ورکړو؟

۱ ـ تاسو ټول او ستاسو بتان ټول راجمع شئ او چې زما خلاف څۀ چال چلولے شئ، وې چلوئ ـ

علمي خبره: دا د هودﷺ معجزه ده چې هغۀ يو زبردست، د قوت او شان شوکت قام ته، چې د هغۀ ځاني دښمنان جوړ شو، داسې خبره وکړه او څۀ وېره ئې و نۀ کړه او قام باوجود د انتهائي دښمنۍ او طاقت هغۀ ته څۀ ضرر او نۀ رسولو ـ

۲ ـ هودﷺ دا چېلنج ولې ورکړو؟ ۲ ـ ځکه چې هودﷺ ته د الله تعالي پۀ ذات باندې پوره بهروسه وه ـ هودﷺ د خپلې پېغمبرۍ د مقصد پۀ صداقت باندې دومره يقين ؤ چې هغۀ د ايمان، يقين او اعتماد سره ګمراه او کافر قام ته چېلنج ورکړو چې تاسو ټول رايو شئ او چې څۀ کولے شئ، هغه وکړئ ـ ما ته د دې هېڅ پرواه نشته ـ ما ته يقين دے چې تاسو ما ته څۀ نقصان نۀ شئ رسولے ـ

**عملي اړخ**: الف۔د ایمان او یقین د نشت والي په صورت کښې انسان د هر څیز نه وېرېږي، حتٰی چې د فرضي او وهمي څیزونو نه هم وېرېږي۔

ب۔ګمراهان او د هغوي دروغژن معبودان د حق او صداقت د لارو هېڅ هم نۀ شي ورانولے۔

ج۔مونږ له د خلقو د چالونو پرواه نۀ ده پکار او پۀ الله تعالٰي پوره بهروسه او یقین پکار دے۔ځکه چې الله تعالٰي حقیقي او مستقل مددګار او فائده او نقصان رسولو والا دے۔

**آیت نمبر ۵۶**: ۱۔هودﷺ پۀ چا باندې بهروسه وکړه۔ ۱۔پۀ الله تعالٰي باندې۔

**عملي اړخ**: مونږ له پۀ خپلو معاملاتو کښې بهروسه پۀ اسبابو نۀ، بلکې پۀ الله تعالٰي باندې پکار ده، ځکه چې الله تعالٰي حقیقي او مستقل مددګار دے۔

۲۔د تندي ټیټولو نه څۀ مراد دے؟ ۲۔دا یوه محاوره هم ده او حقیقت هم۔کله چې د چا د طاقت اعتراف او خپل وفاداري ښکاره کول مقصد وي، نو سړے وائي چې زما د سر وېښتۀ ستا پۀ لاس کښې دي۔زما تندے ستا مخکښې ټيټ دے۔یعني زۀ ستا غلام یم۔دویم د دې مطلب څوک مغلوبه کول، پۀ قبضه او قدرت کښې ساتل، ګویا دا وئیل مقصد دے چې هر څیز پۀ مکمل توګه د الله تعالٰي پۀ قدرت او اختیار کښې دے۔

۳۔الله تعالٰي ته کومه لاره خوښه ده؟ ۳۔صراط مستقیم یعني نېغه لار۔

۴۔سیدها لاره څۀ شے ده؟ ۴۔هغه لاره چې د الله طرفته ته تلي وي۔د دې نه مراد د الله تعالٰي پۀ احکاماتو باندې عمل کول دي، د کوم د وجې نه چې انسان د الله تعالٰي رضا او د جنت نعمتونه حاصلولے شي۔

۵۔د سیدها لارې دعا مونږ پۀ کوم سورت کښې غواړو؟ ۵۔پۀ سورت الفاتحه کښې۔

**آیت نمبر ۵۷**: ۱۔پۀ نافرمانۍ کولو باندې هودﷺ قام ته څۀ خبردارے ورکړو؟

۱۔هودﷺ ورته ووئیل چې الله تعالٰي به تاسو پۀ عذاب سره هلاک کړي او کوم بل قام به ستاسو جانشین کړي۔

۲۔د هر شي حفاظت څوک کوي؟ ۲۔الله تعالٰي۔

۳۔هودﷺ د الله تعالٰي د حفیظ نوم پۀ ذکر کولو سره څۀ ښودل؟

**۳ ـ هود** ﷺ دلته د الله تعالیٰ ذکر د حفیظ پهٔ نوم سره د دې ثابتولو د پاره کړے دے چې هېڅ څیز هم د الله تعالیٰ د علم او طاقت نه بهر نشته ـ بې شکه د قام عاد خلق د دنیاوي وسائلو، افرادي قوت او جسماني طاقت پهٔ اعتبار سره د ټولې دنیا نه مضبوط دي، خو د الله تعالیٰ د نیولو پهٔ مقابله کښې د دوي هېڅ وس نهٔ رسي ـ

**عملي اړخ:** الف: انبیاء کرام علیم السلام د چا د اعمالو ذمه دار نهٔ وي؟

ب: د انبیاء کرام علیم السلام کار د الله تعالیٰ پېغام رسول وي ـ

ج: الله تعالیٰ چې کله وغواړي، د یو قام پهٔ ځاے بل قام راولي ـ

د: څوک هم د الله تعالیٰ څهٔ نقصان نهٔ شي کولے ـ

ط: الله تعالیٰ پهٔ هر څیز باندې نظر ساتونکے دے ـ

**فرمان نبوي** : نبي کریم ﷺ به د فرض مونځ نه پس اکثر دا کلمات ادا کول "لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهٗ لَا شَرِيْكَ لَهٗ لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ، وَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ. اَللّٰهُمَّ لَا مَانِعَ لِمَا أَعْطَيْتَ، وَلَا مُعْطِيَ لِمَا مَنَعْتَ، وَلَا يَنْفَعُ ذَا الْجَدِّ مِنْكَ الْجَدُّ" صرف یو الله معبود دے، د هغهٔ څوک شریک نشته ـ د هغهٔ بادشاهت دے ـ هغه د تعریف لائق دے او هغه پهٔ هر څیز باندې قدرت لرلو والا دے ـ اے الله تهٔ چې چاله څهٔ شے ورکړې، د هغهٔ څوک منع کولو والا نشته او کوم څهٔ چې تهٔ منع کړې، نو هغهٔ څوک ورکولے نهٔ شي ـ ستا د لوے والي پهٔ مقابله کښې د بل چا لوے والے هېڅ فائده نهٔ شي ورکولے" (صحیح بخاري)

**آیت نمبر ۵۸:** ۱ ـ د قوم عاد د نافرمانو انجام څهٔ شو؟

۱ ـ د الله تعالیٰ سخت عذاب پرې د سېلۍ پهٔ شکل کښې راغلو، کوم چې هغوي هلاک کړل ـ

۲ ـ د قوم عاد د فرمانبرداره خلقو انجام څهٔ شو؟ ۲ ـ الله تعالیٰ هغوي پهٔ خپل رحمت سره بچ کړل ـ

**علمي خبره:** د قرآن حکیم پهٔ نورو ځایونو کښې د هود ﷺ د قام عاد لپاره د ضرر رسولو دعا او د الله تعالیٰ د طرفه پهٔ دوي د راغلي عذاب ذکر داسې شوے دے:

الف: اے زما ربه، د هغه خلقو پهٔ مقابله کښې زما مرسته وکړه، چا چې زهٔ دروغژن وګڼلم ـ (سورت المؤمنون ۲۳، آیت: ۳۹)

ب: الله تعالی پهٔ دوی باندې دغه سېلۍ مسلسل اووهٔ شپې او اتهٔ ورځې مسلط کړې وه. (سورت الحاقه ۴۲، اٰیت:۷)

ج: د سختې تېزې سېلۍ طوفان راغلو. (سورت الاحقاف۴۲، اٰیت:۲۴)

د: سېلۍ دوي د کهجورو د تنو پهٔ شان ګزار کړل. (سورت الحاقه۴۲، اٰیت:۷)

ط: هغوي ذره ذره شول. (سورت الذریات۵۱، اٰیاتونه د ۴۱ نه تر ۴۲)

ظ: پهٔ دنیا او اخرت کښې به پهٔ هغوي باندې لعنت ورېږي. (سورت حم السجده ۴۱، اٰیت: ۱۲)

ع: قوم عاد نیست او نابود شو. (سورت الاعراف۷، اٰیت:۷۲)

غ: الله تعالی هود علیه السلام او ایمان والا د دغه عذاب نه محفوظ وساتل. (سورت هود ۱۱، اٰیت:۵۸)

**اٰیت نمبر۵۹:** ۱. د قام عاد څهٔ جرمونه وو؟ ۱. الف: د الله تعالی د نخښو نه انکار کول.

ب: د رسولانو نافرماني کول. ج: د سرکش او مغروره خلقو پېروي کول.

۲. دلته ولې دا ووئیل شول چې هغوي د رسولانو نافرماني کوله، ځکه چې هغوي ته خو صرف یو رسول یعني هود علیه السلام لېږلے شوے ؤ؟

۲. یو رسول دروغژن ګڼل او د هغهٔ نافرماني کول، در اصل ټول پېغمبران دروغژن ګڼل او د ټولو نافرماني کول دي، ځکه چې د ټولو انبیاء کرام علیهم دعوت او مشن یو وي او ټول رسولان الله تعالی رالېږلي دي. پهٔ دغه وجه یو رسول دروغژن ګڼل د الله تعالی د اختیار دروغژن ګڼلو برابر دي او دغسې یو رسول دروغژن ګڼل د ټولو رسولانو د دروغژن ګڼلو مترادف دي.

**عملي اړخ:** د دې قیصې نه دا پهٔ ډاګه شوه چې انبیاء کرام علیم السلام او د هغوي د حق دین دروغژن ګڼلو انجام تباهي او هلاکت دے. پهٔ دوی باندې ایمان او یقین او د دوی اطاعت او پېروي د کامیابۍ او نجات ذریعه ده.

**اٰیت نمبر ۶۰:** ۱. د قام عاد انجام څهٔ شو؟ ۱. پهٔ دنیا او اخرت کښې پهٔ هغوي لعنت وئیل شي.

۲. لعنت څهٔ ته وائي؟ ۲. د لعنت معنٰي ناراضه کېدل او د ځان نه لرې کول دي. دا د رحمت متضاد دے. یعني د الله تعالی د رحمت نه لرې کېدل او محرومه کېدل.

**علمي خبره**: د الله تعالیٰ د لعنت نه مراد پهٔ اخرت کښې عذاب او پهٔ دنیا کښې د رحمت او توفیق نه محرومه کېدل دي او د انسان د طرف نه د لعنت مطلب، د چا د پاره پهٔ دنیا او اخرت کښې د رحمت نه د محرومه کېدلو ښېرې کول دي۔

۳۔ د دنیا او اخرت د لعنت نهٔ څهٔ مراد دے؟ ۳۔ پهٔ دنیا کښې به د هغهٔ ذکر د ملامتیا او بې زارۍ سره کېږي او پهٔ اٰخرت کښې به سخت عذاب ورکول کېږي۔ یعني پهٔ دنیا کښې به هر راتلونکے پېغمبر او مؤمن د هغوي د کفر پهٔ وجه باندې پهٔ هغوي لعنت وائي او پهٔ اخرت کښې به هغه د ټولو مخکښې رسوا او پهٔ عذاب کښې اخته وي۔

۴۔ د قام عاد د پاره د "لرې والي" نه څهٔ مراد دے؟ ۴۔ قام عاد د رحمت نه لرې شول او پهٔ دنیا کښې هم پهٔ عبرتناک انداز هلاک شول او پهٔ اخرت کښې به هم د هغوي د پاره لعنت او همېشه عذاب وي۔

## (سورت الشعراء، اٰیاتونه د ۱۲۳ نه تر ۱۴۰)

**اٰیت نمبر۱۲۳**: ۱۔ قام عاد څوک دروغژن وګڼل؟

۱۔ رسولانو یعني هود علیه السلام لره۔ د هغهٔ دروغژن ګڼل، د ټولو رسولانو دروغژن ګڼل دي، ځکه چې د ټولو رسولانو او انبیاء کرام علیهم السلام تعلیمات یو شان وو۔

۲۔ دوي ته قام عاد ولې وئیل شي؟ ۲۔ عاد د یوې قبیلې نوم ؤ چې د دوي د جد اعلیٰ (یعني د قام هغه وګړے، د چا نه چې د دوي نسب شروع کېږي) پهٔ نوم باندې وه۔ د دغه وجې نه د دغه قبیلې نوم قام عاد کېښودل شو۔

۳۔ پهٔ قراٰن حکیم کښې د قام عاد پهٔ حلقه ښکاره خبرې څهٔ بیان شوی دي؟

۳۔ پهٔ قراٰن حکیم کښې د دغه قام متعلق پهٔ مختلفو ځایونو کښې څهٔ خبرې داسې بیان شوي دي:

الف: د نوح علیه السلام د قام د تباهۍ نه وروستو دې قام ته عروج ملاو شو۔ (سورت الاعراف۷، اٰیت: ۶۹)

ب: پهٔ بدني لحاظ سره دا خلق ډېر مضبوط او زورور وو۔ (سورت الاعراف۷، اٰیت: ۶۹)

ج: د دې قام پهٔ شان هېڅوک نهٔ دي پېدا کړے شوي۔ (سورت الفجر۸۹، اٰیت:۸)

د: هغوي انتهائي ترقي یافته وو۔ د اوچتو اوچتو عمارتونو جوړولو پهٔ وجه دوي ته د ستنو والا پهٔ نوم باندې شهرت ملاو شو۔ (سورت الفجر۸۹، اٰیاتونه: ۶، ۷)

ط: د مادي ترقۍ او جسماني قوت په وجه دوي سخت متکبر وو او څوک ئې د ځان نه طاقتور نۀ منل. (سورت حٰم السجده ۴۱، اٰیت: ۱۵)

ظ: د دوي سیاسي نظام د لویو لویو سرکشه او جابره خلقو په لاسونو کښې وو. (سورت هود ۱۱، اٰیت: ۵۹)

ع: پۀ مذهبي توګه د الله تعالىٰ نه منکر نۀ وو، بلکې مشرکان وو، د یو الله معبود منلو ته تیار نۀ وو. (سورت الاعراف ۷. اٰیت: ۷۰)

**اٰیت نمبر ۱۲۴:** ۱. هود علیه السلام قام عاد ته د څۀ خبرې نصیحت وکړو؟ ۱. د تقویٰ یعني پرهېزګارۍ اختیارولو.

۲. د تقویٰ نه څۀ مراد دے؟ ۲. د الله تعالىٰ نه وېره کول، د هغۀ د نافرمانۍ نه ځان ساتل او د هغۀ پۀ احکاماتو باندې عمل کول.

**اٰیت نمبر ۱۲۵:** ۱. هود علیه السلام د خپل ځان پۀ حقله قام ته څۀ ووئیل؟ ۱. دا خبره چې هغه امانت دار رسول دے.

۲. د امانت دار رسول نه څۀ مراد دے؟ ۲. چې د الله تعالىٰ پېغام بغېر د کوم کمي بېشي خلقو ته ورسوي.

۳. هود علیه السلام د خپلې امانت دارۍ ذکر ولې وکړو؟ ۳. څنګه چې نبي کریم ﷺ اٰغاز وکړو، نو خپله تېره شوې زندګي ئې بطور دلیل او ګواه پېش کړه چې "یقیناً ما پۀ تاسو کښې د خپل عمر لویه حصه تېره کړې ده، اٰیا تاسو نۀ پوهېږئ؟" (سورت یونس ۱۰، اٰیت: ۱۶) دغسې هود علیه السلام هم د خپل صداقت او امانت دارۍ لپاره، خپله تېره شوې زندګي بطور ګواه پېش کړه، چې اے قامه! تاسو پۀ خپله زما اخلاقي برتري او دیانت داري تسلیموئ. زۀ د تېرې شوې زندګۍ پۀ شان نن هم رښتیا وایم او ستاسو کامیابي زما پۀ نظر کښې ده.

**عملي اړخ:** امانت داري د یو مؤمن لازمي صفت دے. مونږ له پکار دي چې پۀ خپله ټوله زندګۍ کښې د امانت دارۍ خاص خیال وساتو.

**فرمان نبوي:** نبي ﷺ د منافق یو علامت دا بیان کړے دے چې کله هم د هغۀ سره امانت کېښودل شي، نو هغه پۀ کښې خیانت کوي. (صحیح بخاري و صحیح مسلم)

**اٰیت نمبر ۱۲۶:** ۱. د هود علیه السلام دعوت څۀ وُ؟ ۱. د الله تعالىٰ د نافرمانۍ نه ځان وساتئ او زما اطاعت وکړئ.

**عملي اړخ:** د الله د اطاعت سره د رسول اطاعت هم ضروري دے، ځکه چې د رسول اطاعت د الله تعالٰي اطاعت دے. (سورت النساء۴، اٰیت: ۸۰)، مثلاً مونځ قائمول د الله تعالٰي حکم دے، مګر د دې طریقه نبي کریم ښودلې ده.

**اٰیت نمبر ۱۲۷** ۱. رسول د خپل دعوت په عمل باندې د څۀ څیز طلب ګار وي.

۱. رسول د دعوت عمل صرف د الله تعالٰي د رضا او د هغۀ نه د اجر و ثواب په امېد باندې کوي. څۀ دنیاوي غرض، مال، عهده او شهرت د هغۀ مقصد هرګز نۀ وي.

**عملي اړخ:** مونږ له د نېکۍ دعوت صرف د الله د رضا د پاره پکار دے. د حق دین د دعوت ورکونکو لپاره دا یو اهم او بنیادي تعلیم دے چې هغوي د خپل دعوت او تبلیغ په کار باندې د څۀ دنیاوي مفاد طمع، لالچ او غرض اونۀ ساتي. دغسې خو به یو د دوي اجر او ثواب محفوظ پاتې کېږي او دویم به دنیاوي مشکلات د دوي د حوصله شکنۍ سبب نۀ جوړېږي. دریم به دوي ته د خلقو تر منځ عزت او عظمت ملاوېږي.

**اٰیت نمبر ۱۲۸:** ۱. هود علیه السلام د قام عاد توجه کومې خبرې ته واړوله.

۱. بلا ضرورت عمارتونه جوړول، د دې نه د الله تعالٰي ناشکري کېږي او وسائل ضائع کېږي.

**عملي اړخ:** معلومه شوه چې د ضرورت او مقصد لاندې عمارت جوړول منع نۀ دے، البته بغېر د کوم مقصد او ضروت نه د فخر، ریاکارۍ او نمود و نمائش د پاره دغسې عمارتونه جوړول، بېشکه د تباهۍ او هلاکت لاره ده. د دې نه خو یو اړخ ته مال او وخت ضائع کېږي او بل اړخ ته د دې نه د اخرت د اصل مقصد غفلت پېدا کېږي. چې د خرابۍ او فساد بنیادي جرړه ده.

**اٰیت نمبر ۱۲۹:** ۱. هود علیه السلام د قام عاد توجه په کومه خبره ورکړه؟

۱. د هغوي په دې اراده باندې کورونه او محلونه جوړول چې په هغۀ کښې همېشه پاتې شي.

**فرمان نبوي** : "کوم سړے چې د ضرورت نه زیات عمارتونه جوړوي، نو هغه به د قیامت په ورځ په هغۀ باندې وبال وي" (بهیقي) په یو بل حدیث شریف کښې نبي فرمائیلي دي چې د هر امت یوه فتنه وي او زما د امت فتنه مال ده. (جامع ترمذي)

**عملي اړخ:** د دنیا ژوند له ترجیح ورکول او هغه هر څهٔ ګڼل د دې وجې نه غلطه ده چې دنیا یوه عارضي استوګنه ده او اصل ژوند اخرت دے، څنګه چې د قرآن حکیم پهٔ ډېرو آیاتونو او حدیثونو کښې د دنیا د ژوندد عارضي او کمترۍ او آخرت د اوچتوالي،همېش والي اوباقي پاتې کېدو پهٔ حقله وئیل شوي دي۔

**آیت نمبر ۱۳۰:** ۱۔هود علیه السلام قام عاد ته پهٔ کومه خبره خبردارے ورکړو؟

۱۔هغه خلقو به پهٔ کمزورو باندې د ظلم او زیاتي سره حملې کولې۔هود علیه السلام د دغه کار نه هغوي منع کړل چې یعني یو طرفته خو ستاسو دا حال دے چې د دغه نمود و نمائش پهٔ عمارتونو باندې د اوبو پهٔ شان پیسې لګوئ او بل اړخ ته د غریبانانو سره ستاسو رویه انتهائي ظالمانه ده، کهٔ څوک چرته پهٔ دې خبره باندې الله تعالی راونیول، نو هغه پهٔ عذاب کښې اخته شول۔

**عملي اړخ:** د هود علیه السلام د دې خبرو پهٔ نقل کولو سره قرآن حکیم زمونږ توجه دې ته راړولې ده چې چرته زمونږ طرز عمل خو دغسې نهٔ دے چې د دنیا شان او شوکت مو هر څهٔ ګڼلي وي او د آخرت نه غافل یو او د دولت پهٔ نشه کښې غریبانان د ظلم او ستم پهٔ جرنده کښې دل کوو۔مونږ له هم د خپلو کمزورو او لاندې خلقو سره د ظلم او زیاتي پهٔ ځاے د شفقت او رحم رویه پکار ده۔

**فرمان نبوي** : "مسلمان د مسلمان ورور دے، هغه به نهٔ پهٔ هغهٔ باندې ظلم کوي او نهٔ به هغه پهٔ کوم هلاکت کښې اچوي۔کوم سړے چې د خپل ورور مسلمان ضرورت پوره کړي، الله تعالی به د دهٔ ضرورت پوره کړي او کوم سړے چې د خپل مسلمان ورور څهٔ مصیبت لرې کړي، الله تعالی به د قیامت پهٔ ورځ د دې یو مصیبت لرې کړي او کوم سړے چې د خپل مسلمان ورور د پردې خیال وساتي، الله تعالی به د قیامت پهٔ ورځ د دهٔ د پردې خیال وساتي" (صحیح بخاري، صحیح مسلم)

**آیت نمبر ۱۳۱:** ۱۔هود علیه السلام د خپل دعوت د خلاصې پهٔ توګه څهٔ وفرمائیل؟

۱۔د الله تعالی نه د وېرې او د خپل اطاعت دعوت ئې ورکړو۔

۲۔رسول د خپل ذاتي اطاعت مطالبه ولې کوي؟ ۲۔الف: د رسول اطاعت د الله تعالی اطاعت دے۔ (سورت النساء۴، آیت: ۸۰) ب: رسول د الله تعالی نمائنده وي۔ ج: اصلاً اطاعت د الله تعالی او عملاً اطاعت د رسول کول شي۔څنګه چې مونځ د نبي کریم ﷺ د ښودلې شوې طریقې مطابق د الله تعالی د پاره کول شي۔

**آیت نمبر ۱۳۲:** ۱۔هود علیه السلام قام ته د الله تعالی کوم قسم مدد ورياد کړو؟

١ ـ د هغه نعمتونو په ذريعه مدد ئې ورياد کړو، د کوم نه چې دغه خلق ښۀ خبر وو ـ يعني اولاد، مال، اسباب، خوشحالي، د زرخېزې او شنې زمکې ورکړه، کوم چې دغه خلقو ښۀ پېژندل چې دا د الله تعالىٰ د طرف نه دي ـ

**آيت نمبر ١٣٣:** ١ ـ هود عليه السلام قام ته د الله تعالىٰ کوم قسم مدد ورياد کړو؟

١ ـ د مالونو او زامنو په شان نعمتونه، کوم چې الله تعالىٰ دغه خلقو ته ورکړي وو ـ

**آيت نمبر ١٣٤:** ١ ـ هود عليه السلام قام ته د الله تعالىٰ نور کوم نعمتونه ورياد کړل؟

١ ـ باغونه او چينې چې د قام د خوشحالۍ ذريعه جوړېږي ـ

**عملي اړخ:** مونږ له د خلقو مال او اسباب ته په کتلو باندې په خپل دنياوي کمي باندې افسوس کول نۀ دي پکار، بلکې په هر حال کښې د صبر او شکر لمن نېول پکار دي او په ټولو معاملاتو کښې د انبياء کرام عليهم السلام سيرت مخې ته ايښودل پکار دي ـ زمونږ طرز عمل د دې حديث شريف مطابق پکار دے ـ

**فرمان نبوي:** دوه خصلتونه داسې دي چې په کوم سړي کښې وي، الله تعالىٰ به هغه صبر کوونکے او شکر گزار ليکي او په کوم کس کښې چې نۀ وي، الله تعالىٰ به هغه صبر کوونکے او شکرگزار نۀ ليکي ـ يو هغه چې د دين په معاملاتو کښې د ځان نه بهتره ته وګوري او د هغۀ د پېروۍ کوشش وکړي او دويم هغه چې په دنياوي معاملاتو کښې د ځان نه کمتر ته وګوري او د الله تعالىٰ شکر ادا کړي چې الله تعالىٰ دۀ لره په دغه سړي باندې فضيلت ورکړے دے ـ دغسې سړے الله تعالىٰ صبر کوونکے او شکرگزار ليکي ـ (جامع ترمذي)

**آيت نمبر ١٣٥:** ١ ـ هود عليه السلام خپل قام د څۀ خبرې نه وېرولو؟

١ ـ هغوي ئې د عذاب نه وېرول چې بې شکه زۀ په تاسو باندې د لويې ورځې د عذاب نه وېرېږم، يعني څنګه چې په مخکښنو قامونو باندې د نافرمانۍ د وجې نه عذاب راغلے دے، هسې نۀ چې په تاسو باندې هم څۀ عذاب راشي ـ

**علمي خبره:** عموماً انسان خو يا د کوم انعام او عزت د وجې نه د رب تابعداري کوي او يا د وېرې د وجې نه د هغۀ تابعداري کوي ـ

**عملي اړخ:** د الله تعالی په نعمتونو باندې شکر نهٔ کول او په نافرمانۍ او سرکشۍ باندې ودرېدل، د الله تعالی غضب له دعوت ورکول دي، د کوم په وجه چې د الله تعالی سخت او عبرتناک عذاب راځي، لکه د تېرو قامونو انجام چې زمونږ مخکښې دے.

۲۔ د دعوت دین دوه شکلونه کوم کوم دي؟ ۲۔الف: په نافرمانۍ باندې د الله تعالی د عذاب نه وېرول۔

ب: په فرمانبردارۍ باندې د انعاماتو خوشخبري ورکول۔

**علمي خبره:** د ټولو رسولانو دا بنیادي ذمه داري وه چې هغه خلقو لره د عذاب نه وېرونکي او د جنت خوشخبري ورکونکي وو۔ (سورت النساء۴، اٰیت: **۲۵**)

**اٰیت نمبر ۱۳۶:** ۱۔ د هود ﷺ په دعوت باندې د قام جواب څهٔ ؤ؟

۱۔ ستاسو پوهه کول یا نهٔ پوهه کول زمونږ لپاره برابر دي۔ یعني مونږ ستا خبره منونکي نهٔ یو۔

**عملي اړخ:** کله چې څوک په کفر او شرک دغه هومره مخکښې لاړ شي او اٰخري حدونو ته ورسېږي، نو بیا حق خبره اورېدل هم نهٔ خوښوي۔ د کوم یو قام د تباهۍ او بربادۍ هم دغه وجه وه چې هغه خلقو خپل ریښتیني مصلح هم نهٔ پېژني، بلکې اٰلټا د هغهٔ د نصحیت نه په ډکو خبرو پسې مزاق کوي او د خپل قول او فعل نه دا ظاهروي چې هغه د دهٔ د خبرو نه څهٔ اثر اخستونکي نهٔ دي۔ د مکې د مشرکانو لپاره دا د عبرت سبق دے چې کهٔ چرته هغوي هم په خپل کفر باندې مضبوط ودرېږي او نبي اٰخرالزمان سیدنا محمد مصطفٰي ﷺ دروغژن ګڼي، هسې نهٔ چې د هغوي انجام هم د قام عاد په شان نهٔ شي۔

۲۔ په وعظ او نصیحت کښې څهٔ فرق دے؟ ۲۔الف: نصیحت: د چا د فائدې په خاطر په تاکید سره څهٔ خبره کول۔ ب: وعظ: داسې خبره چې په زړونو کښې نرمي پېدا کوي۔

**اٰیت نمبر ۱۳۷:** ۱۔ د هود ﷺ په دعوت باندې د قام جواب څهٔ ؤ؟

۱۔ دا خو د مخکښې تېرو شوو خلقو طریقه ده، یعني مونږ د هغوي نه اثر اخستونکي نهٔ یو۔

۲۔ د "خُلق" نه څهٔ مراد دے؟ ۲۔ د "خُلق" معنٰي اخلاق، عادتونه او طریقې دي۔

**اٰیت نمبر ۱۳۸:** ۱۔ د هود ﷺ په دعوت باندې قام نور څهٔ جواب ورکړو؟

۱۔ مونږ لره به هېڅ عذاب نهٔ راکول شي، یعني مونږ ته په خپل شرک باندې د الله تعالی د عذاب هېڅ وېره نشته۔ (معاذالله)

**آیت نمبر ۱۳۹:** ۱۔د قام عاد انجام څۀ شو او ولې شو؟ ۱۔ هود عليه السلام لره پۀ دروغژن ګڼلو باندې هلاک شول۔

۲۔پۀ قام عاد باندې څۀ عذاب راغلو؟ ۲۔تېزه سېلۍ چې اووۀ شپې او اتۀ ورځې چلېدله، د کوم پۀ ذریعه چې نافرمانه خلق هلاک شول۔ (سورت الحاقه۲۹، آیت:۷)

۳۔دلته د آیت "نشانې" نه څۀ مراد دے؟ ۳۔د عبرت نشانه، د وروستو راتلونکو خلقو لپاره۔

۴۔ د قام عاد د اکثریتو حال څۀ پاتې شوے دے؟ ۴۔د هغوي اکثریتو ایمان نۀ راوړو۔

۵۔د مؤمن نه څۀ مراد دے؟ ۵۔هغه سړے چې پۀ رسول باندې ایمان راوړي او پۀ هغۀ باندې عمل هم وکړي۔

**آیت نمبر ۱۴۰:** ۱۔پۀ دې آیت کښې د الله تعالٰي کوم صفتونه بیان شوي دي۔

۱۔دوه صفتونه یعني العزیز او الرحیم۔

۲۔ د الله تعالٰي د صفت "العزیز" تعلق د کومو خلقو لپاره دے؟ ۲۔د الله تعالٰي د نافرمانو خلقو سره، چې الله تعالٰي پۀ هغوي باندې غالب دے او هغوي د الله تعالٰي د عذاب نه بچ کېدلے نۀ شي۔

۳۔د الله تعالٰي د صفت "الرحیم" تعلق د کومو خلقو لپاره دے؟ ۳۔ د الله تعالٰي د فرمانبرداره خلقو سره، چې د الله تعالٰي د رحمت اصل مستحق دي۔

## د مشقونو جوابونه

### ځان پوهه کړئ او حل ئې کړئ:

سوال۱:خالي ځایونه ډک کړئ:

1) هود عليه السلام د ۔۔۔۔۔۔۔۔۔۔د زوے۔۔۔۔۔۔۔۔۔۔د نسل نه ؤ۔(نوح عليه السلام، سام)
2) د قام عاد سردارانو هود عليه السلام ته ووئیل چې تۀ۔۔۔۔۔۔۔یې،مونږ تا۔۔۔۔۔۔نۀ منو۔(نادان، رسول)
3) پۀ قام عاد باندې د۔۔۔۔۔۔۔۔پۀ صورت کښې۔۔۔۔۔۔راغلو۔(ورېځې، عذاب)
4) د الله تعالٰي د عذاب سېلۍ د ۔۔۔۔۔۔۔ورځو او ۔۔۔۔۔۔ شپو پورې مسلسل چلېدله۔(اتۀ، اووۀ)
5) سېلۍ۔۔۔۔۔۔۔۔۔داسې اوچت او ګزار کړو، لکه چې۔۔۔۔۔۔۔۔۔وي۔ (قام عاد، ډډې تنې)

**سوال نمبر۲:** د لاندینو سوالونو جوابونه ورکړئ:

۱ ـ د هود ﷺ پهٔ حقله درې خبرې وليکئ ـ جواب: الف: هود ﷺ د قام عاد طرفته رسول جوړ کړے شوے او لېږلے شوے ؤ ـ ب: هود ﷺ د قام عاد نه ؤ ـ ج: د هود ﷺ قام پهٔ احقاف کښې اٰباد ؤ ـ

د ـ هود ﷺ امانت دار رسول ؤ ـ ع ـ د هود ﷺ قام به د اوږدو اوږدو ستنو والا محلونه جوړول ـ

۲ ـ قام عاد پهٔ بل کوم نوم باندې بلل شي؟ جواب: قام عاد پهٔ "قام ارم" باندې بلل شي ـ

۳ ـ هود ﷺ خپل قام ته څهٔ دعوت ورکړو او د څهٔ خبرې نه ئې منع کړل؟

جواب: هود ﷺ خپل قام ته د يو الله تعالىٰ د عبادت دعوت ورکړو او خلق ئې د الله تعالىٰ سره د شرک کولو نه منع کړل ـ

۴ ـ د قام سردارانو د هود ﷺ د دعوت څهٔ جواب ورکړو؟

جواب: د قام سردارانو (معاذالله) هود ﷺ ته ووئيل چې " تهٔ لېونے يې او مونږ تا رسول نهٔ منو"

۵ ـ د عذاب نه بچ شوي مؤمنان چرته اٰباد دي؟

جواب: د عذاب نه بچ شوي خلق د شام او مدين تر منځ علاقې ته لاړل او اٰباد شول ـ

سوال۳: د کالم (الف) جملې د کالم (ب) د صحيح جملو سره د کرښې پهٔ مرسته ملاو کړئ:

| الف | ب |
|---|---|
| هود ﷺ د | د نوح ﷺ د قام نه وروستو راغلل |
| قام عاد | شرک او خپل رسول دروغژن ګڼل وو |
| الله تعالىٰ ټول مؤمنان | احقاف وه ـ |
| د قام عاد جرم | قام عاد طرفته ولېږل شو |
| د قام عاد علاقه | د عذاب نه بچ کړل |

سوال۴: د لاندېنو جملو په حقله ووايئ چې دا د چا قول دے؟

| شمېره | جملې | د الله جَلَّ جَلَالُهُ | د هود عَلَيْهِ السَّلَام | د قام |
|---|---|---|---|---|
| ۱ | زۀ تاسو ته د خپل رب پېغامات درسوم | | √ | |
| ۲ | زمونږ نه زيات قوت او طاقت د چا دے؟ | | | √ |
| ۳ | او مونږ هغوي لره د سخت عذاب نه بچ کړل | √ | | |
| ۴ | د الله تعالٰي د نافرمانۍ نه وېرېږئ او زما تابعداري وکړۍ | | √ | |
| ۵ | تۀ زمونږ د معبودانو نه چا پۀ ذهني ناروغۍ اخته کړے يې | | | √ |

سوال۵: رائۍ چې مونږ خپله جائزه واخلو: (نوټ: د دې سوال کالمونه ځکه نۀ دي ډک کړے شوي، چې دا د ماشومانو خپل احتساب دے)


سوال۷: د هود عَلَيْهِ السَّلَام د قيصې متعلق لاندېنو لفظونه پۀ ورکړے شوو خانو کښې وليکئ.

(د سام د نسل، اتۀ ورځې او اووۀ شپې، احقاف، د استغفار حکم، اوږد او کولاو بدن، د اولاد ډېر والے، ورېځو ته کتل او ژړل، قام ارم، بتانو ته سجدې، د وړوکي قد خلق، پۀ قام پسې توقي کول، پۀ عراق کښې اباد ېدل

احقاف

د سام نسل

د اولاد زياتوالے



د استغفار حکم

اوږد او کولاو بدن

د قوم توقي کول

قام ارم

د بتانو عبادت

## عملي سرګرمي:

۱ ـ پۀ دې قیصه کښې د ورکړے شوو سورتونو نه علاوه بل مقام تلاش کړئ، چرته چې قام عاد ته "قام ارم" وئیل شوے دے۔

۲ ـ صحت، بدن، مال، اولاد او کور والا د الله نعمتونه دي۔ مونږ د دغه نعمتونو نه د الله تعالٰي پۀ لار کښې څۀ څۀ استعمالولے شو؟ پۀ نعمتونو او د هغې پۀ استعمال باندې ځانله فهرست جوړ کړئ۔

۳ ـ د هود عليه السلام د قیصې د پاره د ورکړے شوو سورتونو اٰیاتونه مخې ته کېږدئ او مشترکه خبرې د حوالو سره ولیکئ مثلاً:

| مشترکه خبره | سورت | اٰیت |
| --- | --- | --- |
| امانت داري | الاعراف<br>الشعراء | ۶۸<br>۱۲۵ |

## قيصه د صالح عليه السلام

**د ښودلو طريقه:**

سبق نمبر۱: ددې قیصې مختصر خلاصه پۀ عام فهمه او د داستان پۀ انداز کښې د درسي کتاب نه ولولئ.

سبق نمبر۲: د دې قیصې قرانی متن او ترجمه د (سورت الاعراف د **۷۳** نه تر **۷۴** اٰیاتونو پورې) د درسي کتاب نه ولولئ.

سبق نمبر۳: د دې قیصې قرانی متن او ترجمه د (سورت الاعراف د **۷۵** نه تر **۷۹** اٰیاتونو پورې) د درسي کتاب نه ولولئ.

سبق نمبر۴: د دې قیصې قرانی متن او ترجمه د (سورت هود د **۶۱** نه تر **۶۳** اٰیاتونو پورې) د درسي کتاب نه ولولئ.

سبق نمبر۵: د دې قیصې قرانی متن او ترجمه د (سورت هود د **۶۴** نه تر **۶۸** اٰیاتونو پورې) د درسي کتاب نه ولولئ.

سبق نمبر۶: د دې قیصې قرانی متن او ترجمه د (سورت الشعراء د **۱۴۱** نه تر **۱۵۰** اٰیاتونو پورې) د درسي کتاب نه ولولئ.

سبق نمبر۷: د دې قیصې قرانی متن او ترجمه د (سورت شعراء د **۱۵۱** نه تر **۱۵۹** اٰیاتونو پورې) د درسي کتاب نه ولولئ.

سبق نمبر۸: (**i**) د "علم او عمل خبرې" پۀ وضاحت سره زده کونکیو ته ښودل او د مذاکرې پۀ ذريعه ذهن ته کوزول.

(**ii**) "ځان پوهه کړئ او حل ئې کړئ" زده کونکو ته د کور د کار (**Home Work**) پۀ طور ورکړئ چې د هغوی د قراٰن فهمۍ اندازه ولګي او وروستو ئې پۀ کلاس کښې حل کړي. (د تشريحي نکتو نه وروستو د ورکړے شوو "مشقونو د جوابونو" نه استفاده کېدے شي)

(**iii**) د کور د سرګرمۍ د پاره د زده کونکیو د کور والا پابند جوړ کړئ. (پۀ کلاس کښې د نورو سرګرمیانو کولو لپاره د "مشقونو د جوابونو" نه وروستو د "عملي سرګرمۍ" نه هم استفاده پورته کېدے شي.

## د مطالعې مقصدونه:

د دې سورت پۀ ختمېدو سره به زده کونکي د دې جوګه شي چې هغوي ته به پته وي چې:

۱ ـ قام ثمود څوک وو؟

۲ ـ قام ثمود چرته اٰباد وو؟

۳ ـ قام ثمود ته الله تعالي کوم نعمتونه او صلاحیتونه ورکړي وو؟

۴ ـ د قام ثمود جرم او د صالح عليه السلام دعوت څۀ ؤ؟

۵ ـ قام ثمود د الله تعالٰي د ورکړې شوې معجزې سره څۀ سلوک وکړو؟

۶ ـ د قام ثمود انجام څۀ شو؟

۷ ـ د قام ثمود پۀ انجام کښې زمونږ د پاره څۀ سبق دے؟

۸ ـ پۀ ټولنیزو غلطیانو باندې زمونږ طرز عمل څۀ پکار دے؟

۹ ـ د الله تعالٰی ورکړے شوی صلاحیتونه چرته استعمالول پکار دي؟

۱۰ ـ

## اٰیت پۀ اٰیت تشریحي نکتې

۱۱ ـ د دیانت او امانت پۀ حقله د سیرت الانبیاء کرام علیهم السلام نه څۀ لارښودنه ملاوېږي؟

اٰیت نمبر۷۳: ۱ ـ قام ثمود څوک وو؟ ۱ ـ د قام عاد کوم نېک خلق چې د عذاب نه بچ شوي وو، د هغوي د اولاد نه قام ثمود پۀ وجود کښې راغلو ـ ثمود د عربو یوه قبیله وه ـ دا خلق د ثمود بن عامر بن ارم بن سام بن نوح اولاد ؤ ـ

۲ ـ قام ثمود چرته اٰباد وو؟ ۲ ـ د دې قام استوګن ځائے د شمالي مغربي عرب هغه علاقه وه چې نن هم پۀ "الحجر" نوم سره موجود ده ـ پۀ موجوده دور کښې د مدینې او تبوک تر منځ پۀ حجاز رېلوے باندې یو سټېشن موجود دے، کوم ته چې "مدائن صالح" وئیل شي ـ دا د ثمود صدر مقام ؤ او د پخوا زمانې نه ورته "حجر" وئیل شي ـ حجر یو ښائسته ښار ؤ ـ تر اوسه پورې هلته پۀ زرونو ایکړا زمکه باندې د هغه عمارتونو کنډرونه موجود دي، کوم چې ثمودیانو پۀ غرونو کښې تراشلي او جوړ کړي وو ـ دغه ځائے ته قراٰن حکیم "اصحاب الحجر" هم وئیلے دے ـ

**۳.صالح عليه السلام ته د برادرۍ وګړے ولې ووئيل شو؟** ۳. ځکه چې هغه د قام ثمود يو وګړے ؤ. الله همېشه هم د قام نه يو وګړے رسول منتخب کړے دے، د دې د پاره چې دغه رسول هم د دغه خلقو پۀ ژبه کښې دوي ته د الله تعالیٰ پېغام ورسوي او د رسول د سيرت او کردار بهترين مثال هم د خلقو مخکښې وي.

**۴.د قام ثمود طرفته صالح عليه السلام ولې ولېږل شو؟** ۴. ځکه چې پۀ قام ثمود کښې پۀ مزه مزه د توحيد پۀ ځائے شرک خور شو. پۀ دغه اساس د دوي د اصلاح د پاره الله تعالیٰ صالح عليه السلام رسول جوړ کړو او دوي ته ئې ولېږو.

**۵.صالح عليه السلام خپل قام ته څۀ تبليغ وکړو؟** ۵.د توحيد دعوت ئې ورکړو، د بت پرستۍ نه ئې منع کړل او د الله تعالیٰ د نافرمانۍ نه ئې ورته د بچ کولو تلقين وکړو.

**۶.د "بَيِّنَةٌ" نه څۀ مراد دے؟** ۶.د الله تعالیٰ نشانه او معجزه يعني اوښه.

**۷.دغې ته د الله تعالیٰ اوښه ولې ووئيل شوه؟** ۷.ځکه چې دغه اوښه پۀ معجزانه توګه د الله تعالیٰ پۀ حکم د غر نه راووتله او دغه الله تعالیٰ خپله يو نشانه جوړه کړې وه.

**۸.صالح عليه السلام خپل قام ته د اوښې پۀ حقله څۀ نصيحت وکړو؟** ۸.دا اوښه د الله تعالیٰ يو نشانه ده. دا اوښه پرېږدوئ چې پۀ زمکه کښې وڅرېږي او وګرځي او هغوي ئې وېرول چې دغه اوښې ته تکليف مۀ رسوئ، ګنه د الله عذاب به دربانديې راشي.

**آيت نمبر ۷۴:** ۱.قام ثمود د چا جانشين وو؟

۱.الله تعالیٰ هغوي د قام عاد جانشين جوړ کړل او پۀ زمکه ئې اٰباد کړل.

**علمي خبره:** د قام ثمود زمانه د ابراهيم عليه السلام نه مخکښې او د قام عاد نه وروستو وه. دغسې د قام ثمود زمانه د نن نه تقريباً د شپږ زره کاله پخوا زمانه ده او د قام عاد د تېرېدو تقريباً اووۀ زره کاله شوي دي.

**۲.الله تعالیٰ قام ثمود ته کوم خصوصي نعمتونه ورکړي وو؟** ۲. الله تعالیٰ هغوي ته د لويو لويو محلونو د جوړولو او د غرونو د تراشلو او پۀ هغې کښې د کورونو جوړولو صلاحيت ورکړے ؤ.

**۳.صالح عليه السلام قام د څۀ نه منع کړو؟** ۳. هغۀ قام پۀ زمکه کښې د فساد خورولو نه منع کړو. د فساد مطلب د الله تعالیٰ نافرماني، سرکشي او جنګ جګړا کول دي.

**آیت نمبر ۷۵:** ۱ ـ د صالح علیه السلام مخالفت کومو خلقو وکړو؟ ۱ـ د قام مشرانو کومو چې به تکبر کولو ـ

**عملي اړخ:** همېشه د قام سرداران او امیران د الله د دعوت مخالفت کوي، ځکه چې د الله تعالیٰ د لوے والي منلو سره د هغوي سرداري، طاقت او حکومت ختمېږي ـ د ټولنې محرومه طبقې له پۀ حق ورکولو سره د هغوي مفاداتو ته نقصان رسي ـ پۀ دغه اساس همېشه د تکبر نه ځان ساتل پکار دي ـ

**فرمان نبوي:** "د چا پۀ زړۀ کښې چې د اوري د دانې هومره تکبر هم وي، هغه به جنت ته نۀ داخلېږي ـ (صحیح مسلم)

۳ ـ متکبره خلقو د صالح علیه السلام د رسول جوړېدو پۀ حقله د چا نه پوښتنه وکړه؟ ۳ـ د ټولنې د کمزورو خلقو نه ـ

۴ ـ کمزوري چا ته وئیل شوي دي؟ ۴ ـ هغه مؤمنان چې غریبانان وو، د چا سره طاقت او اختیار نۀ ؤ ـ

۵ ـ کمزورو خلقو د سردارانو د طنزیه سوال څۀ جواب ورکړو؟ ۵ ـ هغوي نۀ صرف د صالح علیه السلام بطور رسول د پېژندلو اقرار وکړو، بلکې سردارانو ته ئې پۀ واضحه توګه ووئیل چې مونږ خو د دغه حق او صداقت پۀ پېغام باندې ایمان لرو، د کوم سره چې دا رالېږل شوے دے ـ

**علمي خبره:** د حق او هدایت لاره صرف هغه ده چې د الله تعالیٰ د رسولانو پۀ ذریعه د الله بندګانو ته ښودل شوې ده ـ

۶ ـ پۀ عامه توګه د معاشرې کومه طبقه حق زر قبلوي؟ ۶ـ د حق پۀ تسلیمولو کښې د ټولو نه مخکښې د غریبانو او کمزورو طبقه وي، چې پۀ پوخ ایمان او یقین سره نۀ صرف دغه د زړۀ نه تسلیموي، بلکې د دغه د پاره هرې قربانۍ ته هم تیار وي ـ

۷ ـ غریبه طبقه د حق دعوت زر ولې قبلوي؟ ۷ ـ ځکه چې هغه عموماً د سردارانو او امیرانو د ظلم او تشدد ښکار وي ـ هغوي د داسې مسیحا پۀ تلاش کښې وي چې نۀ صرف هغوي لره د متکبره خلقو نه نجات ورکړي، بلکې د کامیابۍ پۀ لار ئې هم روان کړي ـ پۀ دغه اساس هغوي د حق دین پۀ قبلولو کښې سستي نۀ کوي ـ هغوي پوهېږي چې هم دغه دین هغوي د هر قسم ظلم او ستم نه خلاصولے شي ـ

**عملي اړخ:** د ایمان قوت د الله تعالیٰ د اړخ نه یوه عظیم الشانه او بې مثاله تحفه ده، پۀ کوم سره چې هغه رښتیني مؤمن ته بې پناه کرم ورکوي ـ د کوم سره چې هغۀ ته د کامیابۍ لارې هوارېږي ـ د هغۀ زړۀ او دماغ داسې روښانه شي چې د هغۀ د ژبې نه صرف حق خبره او حکمت او دانش راوځي ـ الله دې مونږ پۀ حق لاره او هدایت باندې همېشه ثابت قدم پاتې کړي ـ آمین

**اٰیت نمبر ۷۶**: ۱ ـ د قام د سردارانو څۀ رویه بیان شوې ده؟ ۱ ـ هغوي د تکبر اظهار وکړو او قصداً عمداً ئې د صالح علیه السلام د رسول منلو نه انکار وکړو ـ

**عملي اړخ**: بغض و عناد او بې لاروي انسان د حق نه محرومه کوي ـ دغسې انسان د حق د دلائلو مخې ته د لاجوابه کېدو باجود د حق منلو او قبلولو ته تیار نۀ وي ـ دا څیز د محرومۍ، خرابۍ او فساد جرړه ده ـ

**اٰیت نمبر ۷۷**: ۱ ـ قام ثمود د الله تعالٰي د اوښې سره څۀ سلوک وکړو؟

۱ ـ د هغې پښې ئې کټ کړې او مړۀ ئې کړه ـ

**علمي خبره**: د دوي دغه مجرمانه عمل قراٰن حکیم د ټول قام عمل ګڼلے دے، حالانکې د اوښې پۀ وژلو کښې پۀ ظاهري توګه پۀ شمار سره نهه کسان شریک وو، لیکن دا عمل د قام پۀ رضا او اتفاق رایې سره وشو ـ پۀ دغه اساس دا ټول قام ته منسوب شو ـ

۲ ـ قوم ثمود د خپلې سرکشۍ اظهار څنګه وکړو؟ ۲ ـ د الله تعالٰي پۀ نافرمانۍ، رسول لره دروغژن ګڼلو او عذاب پۀ مطالبې سره ـ

**عملي اړخ**: کله چې خلق د الله تعالٰي د قهر او غضب نه بالکل بې وېرې شي ـ د هغۀ احکامات شاته وغورځوي او د نافرمانۍ او سرکشۍ اخري حدونو ته ورسېږي، نو پۀ دغه وخت کښې د الله تعالٰي عذاب ته د دعوت کلمې د دغه خلقو د ژبې نه ووځي ـ الله دې مونږ د خپلې او خپل رسول د نافرمانۍ نه وساتي او د همېشه فرمانبردارۍ توفیق دې راکړي ـ امین

**اٰیت نمبر ۷۸**: ۱ ـ د قوم ثمود انجام څۀ شو؟ ۱ ـ پۀ زلزله سره هلاک شول ـ

**اٰیت نمبر ۷۹**: ۱ ـ صالح علیه السلام د قام پۀ افسوسناک انجام باندې څۀ اظهار وکړو؟

۱ ـ کاش چې قام د الله تعالٰي پۀ پېغاماتو عمل کړے وے، د رسول پۀ نصیحت ئې عمل کړے وے او خپل خېر خوا ئې منلے وے ـ

**عملي اړخ**: انبیاء کرام علیهم السلام او رسولان علیهم السلام دروغژن ګڼل، د الله تعالي عذاب لره دعوت ورکول دي ـ د مخلص خېر خواهانو هدایات او مخلصانه تعلیمات چې د قراٰن او سنت پۀ بنیاد وي، د دغه نه د مخ اړولو نتیجه اخر د سختې تباهۍ پۀ صورت کښې مخې ته راځي ـ د دغه وجې نه

دغسې سرکشه خلقو ته د ملاو شوي مهلت او سستئ نه پهٔ دهوکه کښې پرېوتل نهٔ دي پکار، ځکه چې دغه یو مهلت او سستي وي چې پهٔ اخره کښې پهٔ مقرر وخت باندې ختمېږي.

## (سورت هود، اٰیاتونه د ۲۱ نه تر ۲۸)

اٰیت نمبر ۲۱: ۱۔صالح علیه السلام قام ته څهٔ دعوت ورکړو؟ ۱۔ د هر پېغمبر خپل قام ته وړومبے خطاب او بنیادي پېغام د توحید دعوت ؤ۔ د دې نه د توحید د عقیدې د اهمیت او عظمت اندازه لګېدے شي۔

۲۔ د انسان د زمکې نه د پېدائش نه څهٔ مراد دے؟ ۲۔ یو مطلب ئې دا دے چې پهٔ شروع کښې انسان د زمکې نه پېدا شوے دے۔ دغسې د ټولو انسانانو د پلار ادم علیه السلام تخلیق د خاورې نه شوے دے او ټول انسانان د ادم علیه السلام نسل دے، نو پهٔ دغه اساس ګویا د ټولو انسانانو پېدائش د زمکې نه شوے دے۔ دویم مطلب ئې دا دے چې انسان څهٔ هم خوري، نو ټول د زمکې نه پېدا کېږي، د کوم نه چې وجود پرورش مومي۔ د هغه خوراک نه هغه نطفه جوړېږي، کومه چې د انسان د وجود سبب ګرځي۔

۳۔الله زمکه څنګه اٰباده کړه؟ ۳ ۔ الله تعالٰي پهٔ انسانانو کښې د زمکې د اوسېدو او اٰبادولو طاقت او صلاحیت پېدا کړو، د کوم پهٔ وجه چې هغوي د اوسېدلو د پاره کورونه جوړوي۔ د خوراک لپاره زمیداره کوي، د ژوند د نورو ضرورتونو د پاره د صنعتونو او هنرونو نه کار اخلي۔ دغسې نن هم اربونو خلقو زمکه اٰباده کړې ده۔ د باران د ورېدو سره پهٔ زمکه باندې بوټي او حېوانات پېدا کېږي چې د انسان د پاره ارزښتناک وي او د هغهٔ پهٔ خدمت کښې لګیا وي۔

۴۔صالح علیه السلام قام ته د کومو درې خبرو نصیحت وکړو؟

۴۔الف: د الله تعالٰي عبادت کوئ۔ ب: د هغهٔ نه بخښنه غواړئ۔ ج: د هغهٔ پهٔ حضور کښې توبه کوئ۔

۵۔د توبې څهٔ معنٰي ده؟ ۵۔د توبې معنٰي مخ اړول او ګرځېدل شوې ده۔ کله چې د دې نسبت د بنده طرفته وي، نو معنٰي د ګناهونو نه معافي غوښتل او نېکئ طرفته ورګرځېدل وي۔

**عملي اړخ:** د دې اٰیت نه لاندینئ خبرې معلومې شوې:

الف: د دنیا تعمیر او ترقي هم د الله تعالٰي د توفیق او ورکړې نتیجه ده۔

ب: الله تعالٰي نهٔ صرف انسان له د ژوند تېرولو اسباب او وسائل ورکړي دي، بلکې د دغه نه د فائدې اوچتولو بې شمېره صلاحیتونه ئې هم ورکړي دي۔

ج: چې پېدا کولو والا او د ژوند د تېرولو سامان ورکولو والا الله تعالې دے، نو بیا عبادت او بندګي د هغهٔ نه سېوا د چا څنګه جائز ده؟

د ـ د قیامت پهٔ ورځ به حساب ضرور کېږي چې د انسان نه د دغه عظیم الشان او جلیل القدر نعمتونو د قدردانۍ پهٔ حقله تپوس وشي او د الله تعالې د عدل او انصاف تقاضې پوره شي۔

**آیت نمبر ۷۲:** ۱ ـ صالح علیه السلام لره د هغهٔ قام څهٔ جواب ورکړو؟

۱ ـ زمونږ ستا نه غټې امېدونه وو چې تهٔ به د پلار نیکهٔ طریقې مخ پهٔ وړاندې بوځې۔

**علمي خبره:** الف: الله تعالې چې پهٔ دنیا کښې څومره پېغمبران هم رالېږلي دي، هغوي د خپل حسن او جمال، پوهې او علم ، ښهٔ او پاکیزه کردار پهٔ اعتبار سره د ماشوم والي نه ځانګړي او اوچت وو۔

صالح علیه السلام هم پهٔ خپل قام کښې پهٔ هره حواله اوچت او ځانګړے ؤ۔ پهٔ دغه اساس قام د هغهٔ نه لوے لوے توقعات لرل۔ قام ثمود د صالح علیه السلام نه دا امېدونه هم لرل چې هغه به د عقل او پوهې، نېکۍ او پرهېزګارۍ او د دیانت دارۍ پهٔ بنیاد، د هغوي سردار جوړېږي۔ قام ته به د هغهٔ د دغه بزرګۍ نه فائده رسېږي۔ هغوي به پهٔ خپلو انفرادي او اجتماعي کارونو کښې د صالح علیه السلام نه مشوره اخلي، لیکن د بتانو د نفي او توحید د دعوت سره، د هغوي پهٔ ټولو امېدونو باندې اوبهٔ واوښتې۔

ب: تهٔ مونږ د هغه بتانو نه منع کوې، د کوم عبادت به چې زمونږ پلرونو نیکونو کولو۔

**عملي اړخ:** د باطل معبودانو د عبادت نه منع کول، د مشرکانو نهٔ وي خوښ۔

ج: د کوم یو الله طرفته چې تهٔ مونږ رابلې، د هغهٔ پهٔ حقله مونږ پهٔ شک کښې یو۔

۲ ـ د شک نه څهٔ مراد دے؟ ۲ ـ "شک" د ذهن هغه کېفیت دے، پهٔ کوم کښې چې انسان پهٔ دوو څیزونو کښې یو له هم ترجیح نهٔ شي ورکولے، یعني هغه د بې چېنۍ او بې قرارۍ پهٔ حالت کښې وي۔

۳ ـ د صالح علیه السلام د دعوت نه وروستو د قام ثمود څهٔ کېفیت ؤ؟

۳ ـ د صالح علیه السلام د دلیل نه ډک دعوت د هغوي پهٔ زړهٔ او دماغو کښې یو طوفان راوستلو او هغوي ئې پهٔ یو بې چېنه شک کښې اخته کړل۔

**آیت نمبر ۷۳:** ۱ ـ صالح علیه السلام د قام پهٔ جواب کښې څهٔ ووئیل؟

۱ ـ زۀ د الله تعالیٰ د اړخ نه پۀ واضحه دلیل یم او الله تعالیٰ پۀ ما باندې رحمت کړے دے او کۀ بالفرض زۀ ستاسو خبره ومنم او د الله تعالیٰ نافرمانې وکړم، نو څوک به ما د الله تعالیٰ د عذاب نه بچ کړي؟ او پۀ دغه صورت کښې به ما ته د نقصان نه سېوا هېڅ هم ملاو نۀ شي.

**علمي خبره**: معلومه شوه چې د الله تعالیٰ د نافرمانۍ لازمي نتیجه د عذاب پۀ شان د سخت نقصان پۀ شکل کښې مخې ته راځي.

**عملي اړخ**: انبیاء کرام علیهم السلام به د الله تعالیٰ نه سېوا نور څوک مددګار نۀ ګڼل. مونږ له هم صرف پۀ الله تعالیٰ باندې بهروسه کول پکار دي، ځکه چې حقیقي او مستقل مددګار صرف الله تعالیٰ دے. د نافرمانه خلقو پۀ دروغو خبرو کښې د راتلو سره څۀ داسې کار نۀ دي کول پکار، پۀ کوم سره چې الله تعالیٰ ناراضه شي.

**آیت نمبر۶۴**: ۱ ـ قام ثمود ته د صالح علیه السلام پۀ ذریعه څۀ معجزه ملاو شوه؟ ۱ ـ د الله تعالیٰ اوښه.

**علمي خبره**: دغه قام چې د کومې معجزې یعني اوښې مطالبه کړې وه، هغه د هغوی د پاره د هلاکت عذاب جوړه شوه، ځکه چې څومره اوبۀ به د هغوی ټولو څناورو څښکلې، دغه هومره اوبۀ به هغه اوښې یواځې څښکلې او هغوي ته د اوبو قلت هم ؤ. پۀ دغه اساس ئې د اوبو د پاره نمبر مقرر کړے ؤ او څومره خوراک به چې ټولو څناورو کولو، دغه هومره به هغه اوښې یواځې کولو.

۲ ـ صالح علیه السلام د اوښې پۀ حقله قام ته څۀ نصیحت وکړو؟ ۲ ـ دا اوښه د الله تعالیٰ یوه نشاني ده. دا پرېږدوئ چې پۀ زمکه کښې څر وکړي او وګرځي او هغوي ئې وېرول چې اوښې ته څۀ تکلیف اونۀ رسوي، ګنه د الله عذاب به پرې راشي.

**آیت نمبر۶۵**: ۱ ـ قام ثمود د الله تعالیٰ د ورکړې شوې معجزې سره څۀ وکړل؟

۱ ـ د اوښې پښې ئې کټ کړې او مړه ئې کړه.

**علمي خبره**: د قام ثمود یو سړي مصدع بن مهرج هغه پۀ غشي وویشتله او زخمي ئې کړه. یو بل بدبخت سړي قدار بن سالف د اوښې پښې کټ کړې او مړه ئې کړه. د اوښې بچي چې د اوښې چغې واورېدې نو درې چغې ئې ووهلې، منډه ئې کړه او پۀ معجزانه طور باندې پۀ غرۀ کښې غائبه شوه.

۲ ـ قام ثمود ته د عذاب نه مخکښې څو ورځې مهلت ورکړے شو؟

۲ ـ قام ثمود ته درې ورځې مهلت ورکړے شو.

علمي خبره: کله چې صالح عليه السلام هغوي ته درې ورځې وروستو د عذاب خبر ورکړو، نو بدنصيبه قام پۀ دې اورېدلو سره هم د توبې او استغفار طرفته د متوجه کېدو پۀ ځاے فېصله وکړه چې صالح عليه السلام قتل کړئ۔ (معاذالله) ځکه چې کۀ چرته صالح عليه السلام رېښتيني وي او پۀ مونږ باندې عذاب راځي، نو مونږ د ځان نه مخکښې د دۀ کار ولې نۀ خلاصوو او کۀ چرته دروغژن وي، نو د خپلو دروغو سزا به وڅکي۔ (معاذالله)

آيت نمبر ۶۶: ۱۔ الله تعالیٰ پۀ صالح عليه السلام باندې ايمان راوړونکي خلق د کومو دوه څيزونو نه بچ کړل؟

۱۔ الف: د هغه عذاب نه، کوم چې پۀ قام ثمود باندې راغلو۔ ب: د قيامت د رسوائي نه۔

۲۔ پۀ دې آيت کښې د الله تعالیٰ کوم صفتونه بيان شو؟ ۲۔ دوه صفتونه، يعني "القوی" او "العزيز"۔ د القوی معنیٰ ده، د طاقت والا او د العزيز معنیٰ ده، زبردست يعني غالب کېدونکے۔

عملي اړخ: دلته د الله تعالیٰ د دوه صفتونو د ذکر سره وئيلي شوي دي چې الله رب العالمين انتهائي قوت والا دے۔ هغه چې څۀ وغواړي او څنګه ئې وغواړي، کولے ئې شي۔ د هغۀ د پاره هېڅ هم مشکل نشته۔ هغه غالب هم دے۔ نۀ خو څوک د هغۀ د نېولو نه تښتېدلے شي او نۀ د هغۀ پۀ لار کښې رکاوټ جوړېدلے شي۔

آيت نمبر ۶۷: ۱۔ پۀ قام ثمود باندې د الله تعالیٰ څۀ عذاب راغلو؟

۱۔ د زورداره چغې سره هلاک شول۔

علمي خبره: د صالح عليه السلام (معاذالله) د قتل د متفقه فېصلې لاندې د قام څۀ خلق د شپې د صالح عليه السلام کور ته د قتلولو پۀ اراده باندې لاړل، مګر الله تعالیٰ پۀ لاره کښې پۀ هغوي باندې کاڼي راورول او هلاک ئې کړل۔ د دې ذکر د سورت النمل۲۷، د آيت نمبر۴۸ نه تر **۵۲** پورې راغلے دے۔

آيت نمبر ۶۸: ۱۔ د عذاب نه وروستو د قام ثمود څۀ حال شو؟

۱۔ هغوي داسې پناه شول چې هډو پۀ زمکه باندې اوسېدلي نۀ دي۔

۲۔ د قام ثمود انجام ولې بد شولو؟ ۲۔ ځکه چې هغوي د الله سره کفر وکړو۔

۳۔ د کفر نه څۀ مراد دے؟ ۳۔ د کفر لغوي مفهوم حق پټول او د هغۀ نه انکار کول دي او اصطلاحي مفهوم ئې د الله تعالیٰ او رسول نۀ منل او د دين د کاملو ارکانو (مثلاً ارکان اسلام، قرآن و حديث وغېره) نه انکار کول دي۔

۴-د قام ثمود لپاره د څهٔ څیز نه د لرې والي ذکر شوے دے؟ ۴-د الله د رحمت نه د لرې والي ذکر شوے دے-

**عملي اړخ:** کفر او شرک د ټولو خرابیانو جرړه، بنیاد او د هلاکت او تباهئ ذریعه ده- ایمان، یقین او عقیده توحید او رسالت د هر خیر اصل، بنیاد او د رحمت، سلامتئ او نجات ذریعه ده-

## (سورت الشعراء، اٰیاتونه د ۱۴۱ نه تر ۱۵۹)

**اٰیت نمبر۱۲۱:** ۱-قام ثمود څوک دروغژن ګڼلي وو؟ ۱-صالح علیه السلام لره-

۲-پهٔ دې اٰیت کښې د پیغمبرانو د دروغژن ګڼلو ذکر ولې شوے دے؟

۲-یو پیغمبر دروغژن ګڼل، د ټولو پیغمبرانو د دروغژن ګڼلو برابر دي، ځکه چې د ټولو دعوت یو ؤ- یعني د یو الله عبادت او د هغهٔ د رسول تابعداري-

**اٰیت نمبر۱۲۲:** ۱-صالح علیه السلام قام ته څهٔ ووئیل؟ ۱-د الله تعالٰي نه ووېرېږئ او د هغهٔ د نافرمانئ نه ځان وساتئ-

**اٰیت نمبر۱۲۳:** ۱-صالح علیه السلام قام ته څهٔ وفرمائیل؟ ۱-زهٔ ستاسو امانت دار رسول یم-

**علمي خبره:** د صالح علیه السلام د امانت، دیانت او غیر معمولي قابلیت ګواهي پهٔ خپله د هغه قام خلقو وکړه- "هغوي ووئیل، اے صالح علیه السلام! د دې نه مخکښې خو تهٔ پهٔ مونږ کښې یو داسې سړے وې چې زمونږ درسره ډېر امېدونه تړلي شوي وو" (سورت هود، اٰیت:۶۲)

۲-د امانت دار رسول نه څهٔ مراد دے؟۲-چې د الله تعالٰي پیغام بغیر د کوم کمي بیشي خلقو ته ورسوي-

**عملي اړخ:** امانت داري د یو مؤمن لازمي صفت دے- پهٔ یو حدیث شریف کښې دي چې "د هغه سړي څهٔ ایمان نشته، پهٔ کوم کښې چې امانت داري نهٔ وي" (بهیقي)

**اٰیت نمبر۱۴۴:** ۱-صالح علیه السلام قام ته څهٔ وفرمائیل؟ ۱-د الله تعالٰي د نافرمانئ نه بچ شئ او زما تابعداري وکړئ-

**علمي خبره:** د الله د اطاعت سره د رسول علیه السلام اطاعت هم ضروري دے، ځکه چې د رسول اطاعت د الله تعالٰي اطاعت دے- (سورت النساء۴، اٰیت: ۸۰)

مثلاً: زکات ورکول د الله تعالٰي حکم دے، مګر د دې طریقه نبي کریم ﷺ ښودلې ده-

**آیت نمبر۱۴۵:** ۱۔صالح علیه السلام قام ته څهٔ وفرمائیل؟

۱۔زهٔ پهٔ خپل دعوت تبلیغ باندې ستاسو نه هېڅ نهٔ غواړم۔ زما اجر خو د الله تعالي پهٔ ذمه باندې دے۔

**علمي خبره:** رسول د دعوت حق عمل صرف د الله د رضا او د هغهٔ نه د اجر و ثواب پهٔ امېد باندې کوي۔ څهٔ دنیاوي مقصد، مال او عهده وغېره ئې نهٔ وي۔

**عملي اړخ:** مونږ له هم د نېکۍ دعوت صرف د الله تعالي د رضا د پاره ورکول پکار دي۔

**آیت نمبر۱۴۶:** ۱۔آیا د دنیا نعمتونه د همېش د پاره دي؟ ۱۔نهٔ دا عارضي او د امتحان د پاره دي۔

**آیت نمبر۱۴۷:** ۱۔قام ثمود ته الله تعالي څهٔ نعمتونه ورکړي وو؟ ۱۔الف: باغونه ب:چینې

**آیت نمبر۱۴۸:** ۱۔قام ثمود ته الله تعالي نور څهٔ نعمتونه ورکړي وو؟۱۔ج: پټي ب: ښې کهجورې

**آیت نمبر۱۴۹:** ۱۔قام ثمود ته الله تعالي نور څهٔ نعمتونه ورکړي وو؟

۱۔د غرونو د تراشلو سره د کورونو جوړول۔

۲۔هغوي ته پهٔ څهٔ خبره غرور ؤ؟ ۲۔پهٔ خپلو صلاحیتونو او هنر باندې۔

**عملي اړخ:** مونږ له د الله تعالي پهٔ ورکړے شوو نعمتونو باندې غرور، ځان ښودنه او تکبرنهٔ دے پکار۔ دا مونږ له د الله تعالي فضل ګڼل پکار دي او د هغهٔ د مرضۍ مطابق استعمالول پکار دي۔

**آیت نمبر۱۵۰:** ۱۔د نعمتونو د یادولو نه پس صالح علیه السلام قام ته څهٔ وښودل؟

۱۔ د الله تعالي نهووېرېږئ او زما تابعداري وکړئ۔

**آیت نمبر۱۵۱:** ۱۔قام ثمود د صالح علیه السلام پهٔ ځاے د چا تابعداري کوله؟

۱۔د حد نه تېرېدونکو سرکشه خلقو۔

۲۔د فساد کوونکو نه څهٔ مراد دے؟ ۲۔د فساد خورونکي او ګډوډي پېدا کوونکي۔

**آیت نمبر۱۵۲:** ۱۔د فساد کوونکو څهٔ علامات ښودل شوي دي؟

۱۔الف: پهٔ زمکه کښې فساد خورول۔ ب: د غلطۍ اصلاح نهٔ کول۔

۲ ـ پۀ زمکه کښې د ټولو نه لوے فساد څۀ شے دے؟ ۲ ـ د الله تعالی احکامات پرېښودل او پۀ خپل مرضۍ د ژوند کارونه کول.

**آيت نمبر ۱۵۳:** ۱ ـ قام ثمود پۀ صالح عليه السلام څۀ الزام ولګولو؟

۱ ـ پۀ تا باندې جادو شوے دے. (معاذ الله)

**آيت نمبر ۱۵۴:** ۱ ـ قام ثمود د څۀ وئيلو سره د صالح عليه السلام دعوت مسترد کړو؟

۱ ـ چې دا زمونږ پۀ شان انسان دے.

۲ ـ قام ثمود د صالح عليه السلام نه څۀ مطالبه وکړه؟۲ ـ کۀ چرته دا رېښتيني وي، نو څۀ معجزه دې وښايې. يعني چې زمونږ د سترګو وړاندې د دې غر نه اوښه راووځي، نو مونږ به پرې ايمان راوړو. صالح عليه السلام هغوي ډېر پوهه کړل چې ګورئ پۀ خپله خولۀ غوښتلې شوې معجزه فېصله کن وي. کۀ چرته اوښه ستاسو پۀ مطالبه د غر نه راووځي او بيا هم ايمان نۀ راوړئ، نو بيا به درباندې زر عذاب راځي.

**آيت نمبر ۱۵۵:** ۱ ـ صالح عليه السلام ته الله تعالی څۀ معجزه ورکړه؟

۱ ـ د غرۀ نه ئې ورله ژوندۍ اوښه راوويستله او وې ښودله ورته.

**عملي خبره:** دا اوښه د نورو اوښو پۀ شان نۀ وه، بلکې دا اوښه دومره د لوے بدن او ډول ډال مالکه وه چې کله به پۀ ځنګل کښې څرېدله، نو نور څاروي به ترې وېرېدل او تښتېدل او چې کله به ئې پۀ خپل نمبر باندې د کوهي نه اوبۀ څښکلې، نو کوهے به ئې خالي کولو. څنګه چې د دې پېدائش پۀ غېر معمولي طريقه باندې وشو، دغسې ئې خوراک څښکاک او هر څۀ هم غېر معمولي او مختلف وو.

۲ ـ معجزه څۀ ته وائي؟ ۲ـ "معجزه يو غېر معمولي او خلاف عادت کار دے چې د يو نبي او رسول نه د نبوت او پېغمبرۍ د دليل پۀ توګه کول کېږي او ظاهرېږي، کوم ته چې پۀ کتلو سره چې منکرين عاجزه کېږي. معجزه د الله تعالی د طرف نه صرف پېغمبرانو ته ورکړل کېږي".

۳ ـ د اوښې پۀ باره کښې صالح عليه السلام قام د څۀ خبرې پابند جوړ کړو؟

۳ ـ يوه ورځ د اوښې د اوبو د څښکلو د پاره مقرر ده او يوه ورځ ستاسو د پاره مقرر ده.

**آيت نمبر ۱۵۶:** ۱ ـ د اوښې پۀ باره کښې صالح عليه السلام قام ته څۀ نصيحت وکړو؟

۱ ـ دې ته تکلیف مهٔ رسوئ، ګنې د الله تعالٰي عذاب به دربانديې راشي ـ

**اٰیت نمبر ۱۵۷**: ۱ ـ د الله تعالٰي د اوښې سره قام ثمود څهٔ سلوک وکړو؟

۱ ـ د هغې پښې ئې کټ کړې او مړه ئې کړه ـ

**علمي خبره**: د قام ثمود د شریکې مشورې او اتفاق رایې نه پس یو بدبخته طاقتور سړي د دې خبرې ذمه دارې واخستله چې اوښه به هغه ووژني ـ مفسرین بیانوي چې یو ځل رسول الله□ د خپلې خطبې پهٔ دوران کښې وفرمائیل چې "دا سړے د خپل قام یو زورور، شري او مضبوط سړے ؤ چې د اوښې د زخمي کولو مهم د پاره ودرېدو ـ د دهٔ نوم قدار ؤ"

**علمي خبره**: پهٔ دې حواله سره پهٔ سورت النمل۲۷ کښې د ۴۸ نه تر ۵۲ پورې اٰیاتونو کښې وئیل شوي دي چې نهه سړو د هغهٔ مدد وکړو، کوم چې فسادیان وو ـ

**عملي اړخ**: اګر چې وژلې یو کس وه، څنګه چې پهٔ سورت القمر او سورت الشمس کښې ارشاد دے، لیکن ټول قام د دغه مجرم پهٔ شا ولاړ ؤ او د قام پهٔ مرضۍ ئې دا قتلوله، نو د دغه وجې نه ئې الزام پهٔ ټول قام ولګول شو ـ هره هغه ګناه چې د قام د خوښې مطابق وشي، یا د کومې پهٔ کولو کښې چې د قام رضا او خوښې شامله وي، یوه قامي ګناه وي ـ خوا کهٔ د هغهٔ کولو والا یو کس ولې نهٔ وي ـ صرف دا نهٔ، بلکې قراٰن حکیم فرمائي چې کومه ګناه د قام تر منځ پهٔ جار وشي او قام هغه خوښه کړي، دغه هم د پوره قام ګناه ده ـ

**اٰیت نمبر ۱۵۸**: ۱ ـ د اوښې د هلاکولو څهٔ نتیجه راووتله؟ ۱ ـ پهٔ هغوي باندې د الله تعالٰي عذاب راغلو ـ

۲ ـ دا قیصه الله تعالٰي ولې بیان کړه؟ ۲ ـ پهٔ دې کښې د خلقو د پاره د عبرت نشانه ده چې د الله تعالٰي پهٔ نافرمانۍ باندې د هغهٔ عذاب راځي ـ

۳ ـ د قام ثمود د اکثرو خلقو څهٔ حال ؤ؟ ۳ ـ پهٔ هغوي کښې اکثرو ایمان نهٔ ؤ راوړے ـ

**عملي اړخ**: پهٔ کوم قام باندې چې بد وخت راځي، د هغوي څهٔ نصیحت او خبردارے پکار نهٔ راځي ـ د صالح علیه السلام د څو ځل عذاب د خبر اورولو باوجود پهٔ هغوي باندې څهٔ اثر اونهٔ شو ـ بلکې پهٔ دغه خبر پسې هم دغه بدبختو ټوقې شروع کړې او وې وئیل چې دا عذاب به څنګه او د کوم ځاے نه راځي او د دې علامت به څهٔ وي ـ

**اٰیت نمبر ۱۵۹**: ۱ ـ پهٔ دې اٰیت کښې د الله تعالٰي څومره صفتونه بیان شوي دي؟

۱- دوه صفتونه، یعني "العزیز" او "الرحیم".

۲- د الله تعالیٰ د صفت "العزیز" تعلق د کومو خلقو سره دے؟ ۲ - د الله تعالیٰ د نافرمانه بندګانو سره، چې الله تعالیٰ پۀ هغوي باندې غالب دے او هغوي د الله تعالیٰ د عذاب نه نۀ شي بچ کېدلے.

۳- د الله تعالیٰ د صفت "الرحیم" تعلق د کومو خلقو سره دے؟

۳- د الله تعالیٰ د فرمانبرداره بندګانو سره چې هغوي د الله تعالیٰ د رحمت اصل مستحق دي.

## د مشقونو جوابونه

### ځان پوهه کړئ او حل ئې کړئ:

سوال۱: د کالم (الف) هر جمله د کالم (ب) د صحیح جملې سره ملاو کړئ.

| الف | ب |
|---|---|
| د صالح علیه السلام معجزه | شرک او خپل رسول دروغژن ګڼل وو |
| د قام عاد نه وروستو | غټ غټ محلونه جوړ کړي وو |
| د قام ثمود جرم | د عذاب نه مخکښې ئې درې ورځې مهلت ورکړو |
| قام ثمود | اوښه وه |
| صالح علیه السلام خپل قام ته | قام ثمود راغلو |

سوال۲: د لاندینو جملو پۀ حقله ووایئ چې دا د چا قول دے؟

| شمېره | جملې | د الله جل جلاله | د صالح علیه السلام | د قام |
|---|---|---|---|---|
| ۱ | دا د الله تعالیٰ اوښۀ ده چې ستاسو د پاره نشانه ده | | √ | |
| ۲ | یقیناً تۀ د دې نه مخکښې زمونږ د امېدونو مرکز وې | | | √ |
| ۳ | بیا چې کله زمونږ حکم (عذاب) راغلو، نو مونږ صالح علیه السلام له نجات ورکړو | √ | | |
| ۴ | مونږ به د هغه څۀ عبادت کوو، د کوم عبادت چې زمونږ پلار نیکۀ کولو | | | √ |
| ۵ | تاسو دې اوښې ته نقصان مۀ رسوئ، ګنه عذاب به درباندې راشي | | √ | |

## سوال۳: د لاندینو سوالونو جوابونه ورکړئ:

۱۔ د صالح علیه السلام په حقله درې خبرې ولیکئ۔

جواب: الف: صالح علیه السلام د قام ثمود طرفته رسول جوړ کړے شوے او لېږلے شوے ؤ۔

ب: صالح علیه السلام امانت دار رسول ؤ۔

ج: صالح علیه السلام ته الله تعالی د اوښې معجزه ورکړې وه۔

د: په صالح علیه السلام باندې څو خلقو ایمان راوړو۔

ط: صالح علیه السلام قام د شرک نه منع کړلو۔

ع: صالح علیه السلام د قام ثمود یو وګړے ؤ۔

غ: الله صالح علیه السلام او مؤمنان د عذاب نه بچ کړل۔

ف: صالح علیه السلام د یو الله د عبادت دعوت ورکړو۔

۲۔ د الله تعالی د طرف نه قام ثمود ته ورکړے شوي درې نعمتونه بیان کړئ۔

جواب: الله تعالی هغوي ته ښاروي، زامن، باغونه او چینې ورکړې وې۔

۳۔ صالح علیه السلام په خپل هلاک شوي قام په کومو لفظونو کښې افسوس وکړو؟

جواب: صالح علیه السلام په افسوس سره وفرمائیل چې ما تاسو ته د خپل رب پېغامونه درسولي وو او ستاسو ښېګړه مې غوښتې وه، لیکن تاسو ښېګړه غوښتونکي نۀ خوښول۔

## سوال۴: خالي ځایونه ډک کړئ:

1) د قام ثمود یو بدبخته سړي د الله تعالی د اوښې۔۔۔۔۔۔۔ پرې کړې او مړۀ ئې کړه۔ (پښې)
2) د صالح علیه السلام قام د حجاز او۔۔۔۔۔۔۔۔ په منځنۍ علاقه کښې اباد وو۔ (شام)
3) قام ثمود ته عاد ثاني او۔۔۔۔۔۔۔۔ هم وئیل شي۔ (اصحاب الحجر)
4) د قام ثمود۔۔۔۔۔۔ نن هم د عبرت د پاره موجود دي۔ (کهنډرات)

5) د الله د تابعدارۍ سره د ـ ـ ـ ـ ـ ـ تابعداري هم ضروري ده ـ (رسول)

سوال۵: پهٔ لاندینو جملو د صحیح (√) یا غلط (X) نښان ولګوئ ـ

| شمېره | جملې | صحیح | غلط |
|---|---|---|---|
| ۱ | قام ثمود به د یو نهر نه اوبهٔ حاصلولې | | X |
| ۲ | قام ثمود نهٔ د الله تعالی شکر ادا کړو او نهٔ ئې د هغهٔ عبادت وکړو | √ | |
| ۳ | پهٔ قام ثمود باندې د هغوي د نافرمانۍ پهٔ وجه د زلزلې عذاب راغلو | √ | |
| ۴ | د قام ثمود کنډرات نهٔ دي موجود | | X |
| ۵ | قام ثمود د نوح عليه السلام د قام نه پهٔ پاتې شوو خلقو مشتمل وو | | X |

سوال۷: د لاندې ورکړے شوو جملو سره پهٔ جوړو شوو خانو کښې د قیصې د ترتیب پهٔ لحاظ سره نمبرې واچوئ:

(۴) صالح عليه السلام قام وېرولو چې د الله تعالی اوښې ته نقصان اونهٔ رسوئ ـ

(۳) قام ثمود د غرهٔ نه د ژوندۍ اوښې راویستلو مطالبه وکړه ـ

(۱۰) الله تعالي صالح عليه السلام او مؤمنان د عذاب نه بچ کړل ـ

(۵) صالح عليه السلام د اوښې د اوبو څښکلو ورځ مقرر کړه ـ

(۱) الله تعالي صالح عليه السلام پېغمبر جوړ کړو او قام ثمود ته ئې ولېږلو ـ

(۲) قام ثمود د الله تعالي سره شرک وکړو او خپل رسول ئې دروغژن وګڼلو ـ

(۹) د قام ثمود لوړ محلونه کنډرات جوړ شول ـ

(۶) د قام ثمود یو ډېر بدبخته سړي اوښه مړهٔ کړه ـ

(۸) پهٔ قام ثمود باندې درې ورځې وروستو د الله تعالي عذاب راغلو ـ

(۷) صالح عليه السلام قام ته درې ورځې مهلت ورکړو ـ

## عملي سرګرمي:

۱ ـ د څاروو، باغونو او چینو د نعمتونو نه مونږ ته څهٔ فائدې حاصلېږي؟ د هر یو د فائدو ځانله ځانله فهرست جوړ کړئ۔

۲ ـ د مدائن صالح علیه السلام د کنډراتو عکسونه ولټوئ او پهٔ یو چارټ باندې ئې ولګوئ۔ د مدائن صالح علیه السلام ویډیو هم ښودلے شئ۔

۳ ـ د صالح علیه السلام واقعه پهٔ کارډونو باندې د جملو پهٔ صورت کښې ولیکئ۔ د زده کونکیو ډلې جوړې کړئ او پهٔ ترتیب سره ئې پرې جوړ کړئ۔ د جلد جوړولو والا ډلې حوصله افزائي وکړئ۔

## قيصه د شعيب عليه السلام

**د ښودلو طريقه:**

سبق نمبر۱ : د دې قيصې مختصر خلاصه پۀ عام فهمه او د داستان پۀ انداز کښې د درسي کتاب نه ولولئ۔

سبق نمبر۲ : د دې قيصې قرانی متن او ترجمه د (سورت الاعراف د **۸۵** نه تر **۸۷** اٰياتونو پورې) د درسي کتاب نه ولولئ۔

سبق نمبر۳: د دې قيصې قرانی متن او ترجمه د (سورت الاعراف د ۸۸ نه تر **۹۳** اٰياتونو پورې) د درسي کتاب نه ولولئ۔

سبق نمبر۴: د دې قيصې قرانی متن او ترجمه د (سورت هود د **۸۴** نه تر **۸۸** اٰياتونو پورې) د درسي کتاب نه ولولئ۔

سبق نمبر۵: د دې قيصې قرانی متن او ترجمه د (سورت هود د **۸۹** نه تر **۹۵** اٰياتونو پورې) د درسي کتاب نه ولولئ۔

سبق نمبر۶ : د دې قيصې قرانی متن او ترجمه د (سورت الشعراء د **۱۷۶** نه تر **۱۸۴** اٰياتونو پورې) د درسي کتاب نه ولولئ۔

سبق نمبر۷: د دې قيصې قرانی متن او ترجمه د (سورت شعراء د **۱۸۵** نه تر **۱۹۱** اٰياتونو پورې) د درسي کتاب نه ولولئ۔

سبق نمبر۸:(**i**) د "علم او عمل خبرې" پۀ وضاحت سره زده کونکيو ته ښودل او د مذاکرې پۀ ذريعه ذهن ته کوزول۔

(**ii**)"ځان پوهه کړئ او حل ئې کړئ" زده کونکو ته د کور د کار (**Home Work**) پۀ طور ورکړئ چې د هغوي د قرانٰ فهمۍ اندازه ولګي او وروستو ئې پۀ کلاس کښې حل کړي۔ (د تشريحي نکتو نه وروستو د ورکړے شوو "مشقونو د جوابونو" نه استفاده کېدے شي)

(**iii**) د کور د سرګرمۍ د پاره د زده کونکيو د کور والا پابند جوړ کړئ۔ (پۀ کلاس کښې د نورو سرګرميانو کولو لپاره د "مشقونو د جوابونو" نه وروستو د "عملي سرګرمۍ" نه هم استفاده پورته کېدے شي۔

## د مطالعې مقصدونه:

د دې سورت پۀ ختمېدو سره به زده کونکي د دې جوګه شي چې هغوي ته به پته وي چې:

۱۔د شعېب علیه السلام قام څوک وو او چرته اباد وو؟

۲۔الله تعالٰي د شعېب علیه السلام قام ته کوم کوم نعمتونه ورکړي وو؟

۳۔د شعېب علیه السلام د قام جرمونه څۀ وو؟ ۴۔قام د شعېب علیه السلام د دعوت څۀ جواب ورکړو؟

۵۔قام شعېب علیه السلام ته څۀ دهمکي ورکړه؟ ۶۔پۀ زمکه کښې فساد څنګه خوربږي؟

۷۔د شعېب علیه السلام د قام انجام څۀ شو؟ ۸۔د عذاب نه د بچ کېدلو شرطونه څۀ دي؟

۹۔

## اٰیت پۀ اٰیت تشریحي نکتې

## (سورت الاعراف، اٰیاتونه د ۸۵ نه تر ۹۳)

**اٰیت نمبر۸۵:** ۱۔شعېب علیه السلام کوم قام ته لېږل شوے ؤ؟ ۱۔اهل مدین ته۔

**علمي خبره:** دا خلق پۀ اصل کښې د ابراهیم علیه السلام د زوے مدین طرفته منسوب دي، چې د هغۀ د درېمې ښځې قطوره زوے ؤ۔ بیا د هغۀ پۀ نسل اډانه قبیلې ته مدین ووئیل شول او پۀ کوم سیمه کښې چې دوي اوسېدل، د هغه سیمې نوم هم مدین کېښودل شو۔ دغسې دغه نوم قبیلې او سیمې دواړو ته منسوب کېږي۔د مدین علاقه هم د هغه زمانې پۀ بین الاقوامي تجارتي لاره باندې پرته وه۔دا لاره به شمالاً جنوباً د فلسطین نه یمن اړخ ته تلله۔ پۀ دغه اساس د مدین اوسېدونکي خوشحاله خلق وو۔د دغه پۀ نتیجه کښې پۀ دغه خلقو کښې ډېرې تجارتي او کاروباري خرابیانې پېدا شوې وې۔ هم د دغه خرابیانو د اصلاح د پاره شعېب علیه السلام راولېږل شو۔

۲۔شعېب علیه السلام قام ته څۀ نصیحت وکړو؟ ۲۔صرف د یو الله عبادت کوئ۔ تاسو ته ستاسو د رب د طرف نه دلیل راغلے دے۔ناپ تول پوره ورکوئ او پۀ زمکه کښې د اصلاح نه پس فساد مۀ خوروئ۔

**عملي اړخ:** پۀ ناپ تول کښې کمے کول ډېره خطرناکه ګناه ده ـ پۀ دې ګناه کښې د ملوث کېدلو نه د قام د اخلاقي پستئ پته لګي ـ دا يو بدترين خيانت دے چې پېسې پوره واخلې او څيز کم ورکړې ـ د دغۀ وجې نه پۀ "سورت المطففين" کښې د دغسې خلقو د هلاکت خبر ورکړے شوے دے ـ

**آيت نمبر ۸۶:** ۱ ـ د مدين والوو پۀ جرمونو باندې شعيب عليه السلام هغوي ته څۀ نصيحت وکړو؟

۱ ـ لوټ مار مۀ کوئ، خلق د الله تعالىٰ د لارې نه مۀ منع کوئ، پۀ دين کښې کوږوالے مۀ راوباسئ، د الله تعالىٰ احسانات ياد کړئ، چا چې تاسو له ډېروالے درکړو او د فساد کوونکو د بد انجام نه عبرت واخلئ ـ

۲ ـ نافرمانه خلق د لوټ مار د پاره څۀ څۀ طريقې اختياروي؟ ۲: لوټل پۀ څو قسمه وي:

الف: يو خو عام قسم دے چې څوک شوک مار، ډاکو د کوم کمزوري نه مال اخلي ـ

ب: چې يو سوداګر ته د منډۍ د قيمت پته نۀ وي او تۀ ترې منډۍ ته د رسېدو نه مخکښې مال واخلې، پۀ دغسې دهوکه سره د سوداګر نه ارزان مال اخستل هم د لوټلو مترادف دي ـ د دې نه نبي کريم ﷺ پۀ سختئ سره منع فرمائيلې ده ـ

ج: دريم دا چې د خپل سياسي پوزيشن پۀ بنياد سوداګر غلط استعمال کړې ـ

۳ ـ پۀ دين کښې د کوږوالي لټولو نه څۀ مراد دے؟ ۳ ـ مؤمنانو له دهمکي ورکول يا وېرول يا د هغوي پۀ ذهنونو کښې شکونه او وهمونه پېدا کول او هغوي د نبي کريم ﷺ د ښودلې شوې لار نه اړول ـ

**علمي خبره:** د الله تعالىٰ د لارې نه د منع کولو د پاره د الله پۀ لار کښې کمي لټول او چلونه کول د هر دور د نافرمانو طريقه پاتې شوې ده ـ

**عملي اړخ:** د الله تعالىٰ او رسول کريم ﷺ نه منکر، د هر قسم خلقو د دين نه پۀ منع کولو، پۀ اسلامي احکامو کښې د خرابيانو پۀ راويستلو او شکونو او وهمونو پېدا کولو کښې مصروف وي او د دې ثابتولو کوشش کوي چې دا سيدها لار نۀ ده، بلکې غلطه ده ‹معاذالله› ـ دغسې خلق هره ورځ پۀ اسلامي احکامو پسې ټوقې کوي او د هغې د غلط ثابتولو ناکام کوششونه کوي ـ مونږ له هېڅ کله هم د دغسې خلقو پۀ دهوکه کښې راتلل نۀ دي پکار ـ

**آيت نمبر ۸۷:** ۱ ـ شعيب عليه السلام نافرمانه خلق د کومې خبرې نه وېرول؟

۱ ـ شعیب ﷺ هغوي د عذاب الٰهي نه وېرولي دي، څنګه چې بل ځاے ارشاد فرمائیلے شوے دے "او اے زما قامه! تاسو پۀ خپل ځاے باندې عمل کوئ، بې شکه زۀ هم عمل کوونکے یم ـ تاسو به ډېر زر پوهه شئ چې پۀ چا باندې هغه عذاب راځي چې هغه به رسوا کړي؟ او څوک دروغژن دي؟ او انتظار کوئ، بې شکه زۀ هم ستاسو سره انتظار کوونکے یم" (سورت هود ، اٰیت: **۹۳**) دغسې مفهوم پۀ سورت توبه۹ ، اٰیت: **۵۲** کښې هم دے ـ

۲ ـ د الله تعالٰي د فېصلې نه څۀ مراد دے؟ ۲ ـ د الله تعالٰي پۀ فرمانبردارو باندې رحمت او نافرمانو باندې عذاب ـ

**اٰیت نمبر۸۸:** ۱ ـ سردارانو شعیب ﷺ ته څۀ دهمکي ورکړه؟

۱ ـ هغۀ او مؤمنانو لره ئې د سیمې نه د ویستلو دهمکي ورکړه ـ

۲ ـ سردارانو د شعیب ﷺ نه څۀ مطالبه وکړه؟ ۲ ـ کفر ته د راستېندلو (معاذالله) ـ

**علمي خبره:** ټول انبیاء کرام علیهم السلام د الله تعالٰي د خاص توفیق او حفاظت پۀ وجه د نبوت د اظهار او اعلان نه مخکښې هم د هر قسم کفر او شرک نه بالکل پاک او بې زاره وي ـ

۳ ـ قام د شعیب ﷺ نه کفر ته د راستېندلو مطالبه پۀ کوم بنیاد وکړه؟

۳ ـ چونکې د نبوت د اعلان او اظهار نه مخکښې انبیاء کرام علیهم السلام خاموشه ژوند تېروي او پۀ دغه دوران کښې د هغوي د اړخ نه د حق څۀ دعوت او تبلیغ نۀ کېږي ـ پۀ دغه اساس د دوي د خاموشۍ پۀ بنیاد باندې منکرین او مشرکین د خپل اړخ نه دا سوچ کوي چې دا حضرات هم د هغوي پۀ دین، کفر او شرک او ملت باندې دي ـ خو کله چې دغه انبیاء کرام علیهم السلام د نبوت د اعلان نه وروستو دغه خلقو ته د حق دعوت ورکوي، نو دغه وخت دغه خلق ګڼي چې ګنه دا خلق د دوي د دین او طریقې نه جدا شوي دي ـ

۳ ـ شعیب ﷺ د دې مطالبې څۀ جواب ورکړو؟ ۳ ـ مونږ ته ستاسو دا مطالبه هېڅ کله نۀ ده خوښه ـ

**عملي اړخ:** د دین لاروي اکثر د مخالفت او مختلفو دهمکیانو سره مخامخ وي ـ لهٰذا د دغه نه وېرېدل نۀ دي پکار، بلکې پۀ مستقل مزاجۍ سره پۀ الله باندې مکمل بهروسه کول او پۀ دین قائم پاتې کېدل پکار دي ـ همېشه دا یاد ساتل پکار دي چې پۀ انبیاء کرام علیهم السلام باندې زمونږ نه زیات ازمېښتونه راغلي دي او دا د حق دلیل دے ـ

**آیت نمبر ۸۸:** ۱ ـ شعیبؑ د قام د مطالبې څهٔ جواب ورکړو؟

۱ ـ بالفرض کهٔ چرته مونږ کفر اختیار کړو، نو دا خو به حق لره دروغ ګڼل وي ـ

۲ ـ شعیبؑ د الله تعالٰي د کوم احسان ذکر وکړو؟ ۲ ـ د الله تعالٰي د هغه احسان چې هغهٔ ورته هدایت وکړو او د کفر او شرک نه ئې نجات ورکړو ـ

**علمي خبره:** د ملت کفر نه خلاصون او سلامتیا د الله تعالٰي یو عظیم الشان احسان دے، ځکه چې د کفر او شرک تیارې پهٔ دواړو جهانونو کښې د تباهۍ سبب دے او د دې نه نجات د الله تعالٰي د توفیق نه بغیر ممکن نهٔ دے ـ

۳ ـ شعیبؑ د قام د مطالبې نور څهٔ جوابونه ورکړل؟ ۳ ـ الف: زمونږ د پاره د هدایت نه وروستو کفر اختیارول ممکن نهٔ دي ـ ب: مونږ پهٔ الله تعالٰي باندې بهروسه کړې ده ـ ج: الله تعالٰي به زمونږ ترمنځ پهٔ خپله فیصله وکړي ـ

۴ ـ مؤمنانو لره د کفر د غلبې پهٔ صورت کښې څهٔ کول پکار دي؟ ۴ ـ الف: پهٔ الله تعالٰي باندې توکل ـ

ب: د الله تعالٰي نه دعاګانې ـ

**علمي خبره:** نبي کریم  به اکثر دا دعا غوښتله "یَا مُقَلِّبَ الْقُلُوْبِ ثَبِّتْ قُلُوْبِنَا عَلٰی دِیْنِكَ" اے د زړونو اړونکیه، زما زړهٔ پهٔ خپل دین باندې مضبوط وساته ـ مونږ لره هم د دې د وئیلو اهتمام پکار دے ـ

**عملي اړخ:** د یو مؤمن بنده سوچ او طرز عمل دا وي چې هغه د خپل فکر او فلسفې او عقل استقامت پهٔ ځائے باندې د الله تعالٰي پهٔ توفیق، رحمت او فضل باندې توکل او بهروسه کوي ـ د دغه وجې نه د هرې نیکۍ کولو پهٔ وخت بهروسه د خپل عزم او عمل پهٔ ځائے پهٔ الله تعالٰي کول پکار دي، ځکه چې صرف الله تعالٰي حقیقي او مستقل مددګار دے ـ

**آیت نمبر ۹۰:** ۱ ـ سردارانو خپل قام لره د شعیبؑ د دعوت نه د منع کولو د پاره څنګه کوشش وکړو؟

۱ ـ سردارانو قام ته ووئیل چې کهٔ تاسو د شعیبؑ خبره ومنئ، نو نقصان به وکړئ ـ

۲: د شعیبؑ دعوت څهٔ ؤ چې سردارانو ترې خلق منع کول؟ ۲ ـ د قام سردارانو پهٔ اصل کښې قام ته دا یقین ورکولو چې کهٔ چرته د شعیبؑ دعوت ومنئ او د هغهٔ پهٔ ښودلو شوو اخلاقي اصولو باندې عمل وکړئ، نو تباه به شئ ـ

**عملي اړخ:** پۀ هر دور کښې بې لارې خلقو د حق، صداقت، دیانت او امانت پۀ لاره پۀ تللو کښې دغسې خطرې محسوس کړې دي. د هغوي د خیال مطابق تجارت، سیاست او نور دنیاوي معاملات د دروغو، بې ایمانئ، دهوکې او بداخلاقئ نه بغېر نۀ شي چلېدلے. پۀ هر ځائے کښې د حق د دعوت پۀ مقابله دا عذر او بهانه هم پېش شوې ده چې د دنیا د روانې بې ایمانئ، سودخورئ او دهوکې پرېښودلو او صفا او رښتیا خبرو سره کاروبار تباه کېږي او قامونه د لوے تاوان سره مخ کېږي.

**آیت نمبر ۹۱:** ۱. د شعیب علیه السلام د قام انجام څۀ شو؟ ۱. پۀ زلزله کښې ټول هلاک شول.

**عملي اړخ:** کوم قامونه چې پۀ خپلو دیني او دنیاوي معاملاتو کښې د حق او صداقت لاره پرېږدي او د دروغو، مکر او فرېب، بددیانتئ، دهوکې او خیانت لاره اختیار کړي، د هغوي به بالاخر دغه انجام وي.

**آیت نمبر ۹۲:** ۱. د شعیب علیه السلام د قام انجام څۀ شو؟ ۱. داسې تباه شول چې ګویا هډو اوسېدلي نۀ وو.

۲. اصل خساره اوچتونکي څوک وو؟ ۲. شعیب علیه السلام لره دروغ ګڼونکي.

**علمي خبره:** د نافرمانو د انجام نه دا پته ولګېده چې تاوان موندونکي خو دغه خلق پۀ خپله وو، مؤمنان نۀ وو، چا لره به چې نافرمانو پۀ دې خبره د دهوکه کولو کوشش کولو چې د شعیب علیه السلام پۀ خبرو پۀ عمل کولو کښې نقصان دے (معاذالله) او د خپل کلي نه د ویستلو او تاوان رسېدلو دهمکیانې به ئې ورکولې.

**عملي اړخ:** انبیاء کرام علیهم السلام لره دروغ ګڼونکي او د هغوي پۀ احکاماتو باندې عمل نۀ کوونکي پۀ دنیا او آخرت کښې د تاوان سره مخ کېږي.

**آیت نمبر ۹۳:** ۱. شعیب علیه السلام د قام پۀ انجام باندې څۀ تبصره وکړه؟

۱. هغۀ وفرمائیل چې د الله تعالیٰ د پېغاماتو او رسول نه پۀ مخ اړولو والا پۀ تباهئ باندې ولې غم وکړے شي؟

۲. شعیب علیه السلام دا تبصره ولې وکړه؟ ۲. ځکه چې شعیب علیه السلام دې خلقو ته د رب پېغامات رسولي وو. د هغوي د خېرخواهي پوره کوشش ئې کړے ؤ، خو دغه خلقو د شعیب علیه السلام پۀ خبرو څۀ توجه ورنۀ کړه او پۀ خپل تاوان باندې ودرېدل. پۀ دغه اساس به شعیب علیه السلام د دغه خلقو پۀ سخت عذاب باندې تر کومه وخته پورې افسوس کولو؟ دغه خلق پۀ کفر او غلطه لار ودرېدلو پۀ وجه خپل اخري انجام ته ورسېدل.

**علمي خبره:** د شعيب عليه السلام د دې لفظونو نه پهٔ ډاګه کېږي چې شعيب عليه السلام ته د خپل قام پهٔ انجام باندې سخت غم او افسوس ؤ او پهٔ داسې موقع باندې داسې لفظونه وئيل، د خپل زړهٔ د غم سړولو يو انداز دے ـ بهرحال حقيقت دا دے چې نبي عليه السلام د خپل قام او ټولو انسانانو د پاره ډېر شفيق، مهربان او همدرد وي او پهٔ قام باندې پهٔ عذاب راتلو سره هغهٔ ته ډېره زيات افسوس وي ـ

## (سورت هود ، اٰياتونه د ۸۴ د ۹۵)

**اٰيت نمبر ۸۴:** ۱ ـ د مدين والوو طرفته کوم رسول لېږل شوے ؤ؟ ۱ ـ شعيب عليه السلام ـ

۲ ـ شعيب عليه السلام قام ته څهٔ نصيحت وکړو؟ ۲ ـ صرف د يو الله تعالٰي عبادت کوئ او ناپ او تول پوره ورکوئ ـ کهٔ چرته تاسو داسې اونهٔ کړئ، نو زهٔ پهٔ تاسو د راتلونکي عذاب نه وېرېږم ـ

**علمي خبره:** د انبياء کرام عليهم السلام دعوت پهٔ دوه اهم بنيادونو باندې اډانه وي:

الف: د الله د حقونو ادائيګي ـ ب: د بندګانو د حقونو ادائيګي ـ

۳ ـ شعيب عليه السلام خپل قام ته د الله تعالٰي د کوم احسان يادګېرنه وکړه؟ ۳ ـ د الله تعالٰي د اړخ نه ئې د مال او اسباب پهٔ ذريعه د ورکړې شوې خوشحالۍ ذکر وکړو ـ

۴ ـ شعيب عليه السلام خپل قام د کومې خبرې نه وېرولو؟ ۴ ـ د الله د نعمتونو پهٔ ناشکرۍ ئې د قيامت د ورځې د عذاب نه وېرول ـ

**عملي اړخ:** د الله تعالٰي د نعمتونو لازمي تقاضا دا ده چې انسان خپل رب وپېژني، چا چې پهٔ هغوي باندې دومره فضل او کرم کړے دے ـ لهٰذا د هغهٔ عبادت کول او پهٔ خپلو ټولو معاملاتو کښې د هغهٔ پهٔ احکاماتو عمل کول د الله تعالٰي د نعمتونو د شکر د اظهار ذريعه ده ـ

**اٰيت نمبر ۸۵:** ۱ ـ شعيب عليه السلام خپل قام ته څهٔ نصيحت وکړو؟ ۱ ـ ناپ او تول پوره کوئ، خلقو ته د هغوي پهٔ څيزونو کښې نقصان مهٔ رسوئ او پهٔ زمکه کښې فساد مهٔ خوروئ ـ

**علمي خبره:** د بندګانو د حقونو پهٔ نهٔ پوره کولو پهٔ ټولنه کښې فساد او ګډوډي پيدا کېږي، د کوم نه چې منع کړے شوې ده ـ

**عملي اړخ:** د ناپ تول وسیع تصور دا دے چې د څیزونو د ناپ تول نه علاوه د یو بل په حقونو کښې هم کمے نۀ دے پکار۔ انسان چې کومه خبره د ځان د پاره خوښوي، هغه د بل د پاره هم خوښول پکار دي۔

**آیت نمبر ۸۶:** ۱۔ د الله تعالی د اړخه د ورکړې شوې نفع نه څۀ مراد دے؟

۱۔ جائزه منافع چې د صحیح ناپ تول نه حاصله شي۔

**علمي خبره:** جائز منافع چونکې حلاله او پاکه وي او په دې کښې خیر و برکت وي۔ د دې وجې نه دې ته د الله تعالی ورکړې شوې نفع وئیل شوې ده۔

۲۔ د رسول ذمه داري د الله تعالی پېغام خلقو ته پوره پوره رسول دي۔ په چا باندې په زبردستۍ حق قبلولو د هغوي ذمه داري نۀ ده۔

**آیت نمبر ۸۷:** ۱۔ قام د شعیب علیه السلام ذکر څنګه وکړو؟ ۱۔ د هغۀ د مونځ ګزارۍ ذکر ئې وکړو۔

۲۔ قام شعیب علیه السلام ته څۀ پېغور ورکړو؟ ۲۔ آیا ستا مونځ تا د بتانو د عبادت نه منع کوي؟ د کوم عبادت به چې زمونږ پلار نیکۀ کولو او آیا مونږ خپل مال په خپله مرضۍ استعمال نۀ کړو؟

**عملي اړخ:** د الله تعالی عبادت د مونځ پورې محدود نۀ دې ګڼل پکار۔ مونځ خو په ټول ژوند کښې د الله د الله بندګي یادونه کوي۔ مونږ له هر وخت او په هره معامله کښې د الله تعالی په حکم باندې عمل کول پکار دي۔

**آیت نمبر ۸۸:** ۱۔ دلته د ښائسته رزق نه څۀ مراد دے؟ ۱۔ نبوت/وحې۔

**علمي خبره:** د رزق لفظ هم عربۍ کښې فقط د مال د پاره نۀ، بلکې د نورو نعمتونو د پاره هم راځي۔

۲۔ شعیب علیه السلام خپل قام ته څۀ نصیحت وکړو؟ ۲۔ د کومو غلطو کارونو نه چې تاسو منع کوم، زۀ په خپله هم د هغۀ نه ځان ساتم۔ د خپل طاقت مطابق زۀ دا ټول دعوت او محنت د خپلې اصلاح لپاره کوم او د دې توفیق الله تعالی ماله راکړے دے۔

۳۔ شعیب علیه السلام په چا باندې بهروسه وکړه۔ ۳۔ په الله تعالی باندې۔

**عملي اړخ:** مونږ له د خپلو کارونو پوره کولو د پاره اسباب ضرور اختیارول پکار دي، مګر امېد او بهروسه صرف په الله تعالی باندې پکار ده، ځکه چې الله تعالی حقیقي او مستقل مددګار دے۔

**آيت نمبر ۸۹:** ۱ ـ شعيبعليه السلام خپل قام د کومو قامونو د انجام نه وېرولو؟

۱ ـ هغهٔ وفرمائيل! چې زما پهٔ دښمنۍ کښې هغه کار مهٔ کوئ، کوم چې د نوحعليه السلام، هودعليه السلام، صالحعليه السلام او لوطعليه السلام د قامونو د غلط انجام سبب جوړ شي.

**علمي خبره:** کوم قامونه چې د تاريخ عبرت نهٔ اخلي او خپله اصلاح نهٔ کوي، د هغوي به هم دغه انجام وي کوم چې د تېرو شوو نافرمانه قامونو شو.

**عملي اړخ:** پهٔ بعضې وختونو کښې ځينې خلق د نېکۍ د داعي سره د ذاتي بغض، عناد او دښمنۍ پهٔ وجه د هغهٔ اصولي دعوت له هم لتنه ورکوي. دا د انساني روېې يو خطرناک اړخ دے، ځکه چې پهٔ دغه کښې خو ددغه دعوت ورکونکي هېڅ نقصان نهٔ کېږي، خو د حق دعوت له لته ورکولو والا ځان بربادوي.

**آيت نمبر ۹۰:** ۱ ـ شعيبعليه السلام خپل قام ته د څهٔ خبرې تلقين وکړو؟

۱ ـ د الله تعالٰي پهٔ حضور کښې ئې ورته د توبې او استغفار تلقين وکړو. د دې د پاره چې هغوي د الله تعالٰي د عذاب نه بچ شي.

۲ ـ د عذاب نه د بچ کېدلو دوه شرطونه څهٔ دي؟ ۲ ـ الف: استغفار غوښتل. ب: توبه کول.

۳ ـ د استغفار څهٔ مطلب دے؟ ۳ ـ د الله تعالٰي نه د ګناهونو بخښنه غوښتل، د دې د پاره چې هغه پهٔ خپل رحمت باندې زمونږ ګناهونه معاف کړي.

۴ ـ د توبې مفهوم څهٔ دے؟ ۴ ـ مخ ګرځول او ستنېدل، يعني د ګناهونو نه مخ اړول او د الله تعالٰي فرمانبرداري اختيارول.

۵ ـ الله تعالٰي د توبې کولو والا سره څهٔ معامله کوي؟ ۵ ـ الله توبې کولو والا ته معافي کوي، ځکه چې الله تعالٰي پهٔ خپل مخلوق انتهائي رحم کولو والا او مرسته کولو والا دے.

**عملي اړخ:** د توبې طريقه دا ده چې انسان د خپلو تېرو شوو ګناهونو او جرمونو معافي د الله نه وغواړي، د ائنده لپاره پهٔ عملي توګه د خپلې روېې اصلاح وکړي او پهٔ رښتيني زړهٔ سره الله طرفته رجوع وکړي.

**آيت نمبر ۹۱:** ۱ ـ قام د شعيبعليه السلام پهٔ پوهولو سره څهٔ ووئيل؟

۱ ـ الف: مونږ ستا پهٔ خبرو نهٔ پوهېږو. ب: تهٔ کمزورے يې.

۲ـ قام شعیبؑ له څهٔ دهمکي ورکړه؟ ۲ ـ الف: کۀ ستا خاندان نۀ وے، نو تۀ مونږ پۀ کاڼو ویشتلې (معاذالله) ب: تۀ پۀ مونږ باندې غالب کېدے نۀ شې۔

۳ـ قام د شعیبؑ د قبیلې لحاظ ولې وساتلو؟ ۳ ـ د شعیبؑ قبیله خو د هغۀ حمایتي او مددګاره نۀ وه، لیکن هغه قبیله چونکې پۀ کفر او شرک کښې د خپل قام سره وه، نو د شریک مذهب پۀ وجه هغوي د شعیبؑ د قبیلې لحاظ ساتلو او د شعیبؑ سره ئې سخته رویه نۀ اختیاروله او بیا نافرمانه خلقو ته خو پۀ داسې موقع باندې د الله تعالی وېره نۀ وي، خو د خلقو نه وېرېږي۔

**اٰیت نمبر ۹۲:** ۱ـ قام د الله تعالی پۀ ځاے چا ته اهمیت ورکړو؟ ۱ـ د شعیبؑ خاندان ته۔

**علمي خبره:** د تېرو شوو قامونو پۀ واقعاتو کښې هغه خبرې پۀ ډاګه شوې دي، پۀ کوم کښې چې د نبي کریمﷺ او مؤمنانو د پاره د لاربښودنې او د زړۀ د تسلۍ ډېر سامان موجود دے۔ د شعیبؑ د خاندان او قبیلې د حمایت خبره د دې د پاره شوې ده چې پۀ مکه کښې نبي کریمﷺ هم د څۀ دغسې حالاتو سره مخ ؤ۔ پۀ دغه زمانه کښې د بنو هاشم سردار د نبي کریمﷺ ترۀ ابو طالب ؤ۔ پۀ دې کښې دا وښودل شول چې څنګه الله تعالی پۀ مکه کښې د بنوهاشم پۀ مرسته سره محمدرسول اللهﷺ ته یوه محفوظه قلعه ورکړه، بالکل هم دغسې ظاهري حفاظت الله تعالی پۀ هغه وخت کښې شعیبؑ ته هم د هغۀ د خاندان د مرستې پۀ وجه ورکړے ؤ۔

**عملي اړخ:** مونږ له د دعوت دین پۀ معامله کښې پۀ دې وجه باندې شاته کېدل نۀ دي پکار، چې د چا ورورولي یا قبیله ډېره طاقتوره ده یا د هغوي اثر رسوخ دے۔ اصل وېره خو د الله تعالی نه پکار ده، د چا پۀ قبضه او قدرت کښې چې د کائناتو یو یو څیز دے۔

**اٰیت نمبر ۹۳:** ۱ ـ د قامونو پۀ مسلسل نافرمانۍ باندې د رسولانو د اړخ نه اٰخري حجت څۀ وي؟

۱ ـ کله چې رسول د دعوت توحید او پېغمبرۍ فریضه پۀ مکمل توګه پوره کړي، نو هغه د قام پۀ مسلسل بې لاره وۍ او انکار باندې ووائي چې اے قامه! تاسو خپل کار یعني کفر او شرک کوئ او مونږ به خپل کار یعني د یو الله تعالی عبادت او د هغۀ طرفته دعوت ورکوو ـ زر به تهولو ته معلومه شي چې د الله تعالی عذاب پۀ چا باندې راځي۔

۲ـ شعیبؑ قام ته د کوم څیز د انتظار ووئیل؟ ۲ ـ د ښۀ او بد انجام د انتظار پۀ حقله ئې ورته وفرمائیل۔

**علمي خبره:** د انجام نه مراد دا دے چې څوک ریښتیني وي، هغه له به الله تعالیٰ پهٔ خپل رحمت سره نجات ورکړي او چې څوک دروغژن وي، پهٔ هغهٔ باندې به د الله تعالیٰ دردناک او عبرتناک عذاب راشي.

**اٰیت نمبر ۹۴:** ۱. د شعیب علیه السلام د قام انجام څهٔ شو؟ ۱. الله تعالیٰ شعیب علیه السلام او مؤمنان بچ کړل او نافرمانه ئې د یوې زورداره چغې پهٔ عذاب سره هلاک کړل.

۲. د "جَاثِمِیْنَ" نه څهٔ مراد دے؟ ۲. پهٔ ځنګونانو لوېدلي خلق، یعنې لاچاره او بې وسه خلق.

**عملي اړخ:** د نېکو خلقو سره همېشه د الله تعالیٰ مدد شامل وي او غلط خلق پهٔ دنیا او اٰخرت کښې ذلیله کېدونکي او رسوا کېدونکي دي.

**اٰیت نمبر ۹۵:** ۱. د شعیب علیه السلام د قام څهٔ انجام شو؟ ۱. هغه داسې برباد شول، لکه چې هډو پهٔ زمکه اوسېدلي نهٔ وي.

۲. د شعیب علیه السلام د قام د پاره د لرې والي نه څهٔ مراد دے؟ ۲. یعنې هغوی د قام ثمود پهٔ شان د الله تعالیٰ د رحمت نه لرې کړے شوي دي.

**عملي اړخ:** د نېکۍ او بدۍ نتیجه لازمي راوځي. نجات همېشه د الله تعالیٰ پهٔ فضل او رحمت سره ملاوېږي. مونږ له د تېرو شوو قامونو انجام مخې ته اېښودل او خپل اصلاح کول پکار دي.

## (سورت الشعراء، اٰیاتونه د ۱۷۶ نه تر ۱۹۱)

**اٰیت نمبر ۱۷۶:** ۱. د "اصحاب الایکه" نه کوم خلق مراد دي؟ ۱. د شعیب علیه السلام د قام خلق.

۲. پهٔ دې اٰیت کښې د پېغمبرانو د دروغژن ګڼلو ذکر ولې شوے دے؟

۲. ځکه چې یو پېغمبر لره دروغژن ګڼل، ټولو پېغمبرانو لره دروغژن ګڼل دي.

**اٰیت نمبر ۱۷۷:** ۱. شعیب علیه السلام قام ته څهٔ وفرمائیل؟

۱. د الله تعالیٰ نه وېرېږئ او د هغهٔ د نافرمانۍ نه ځان وساتئ.

**علمي خبره:** هر نبي خپل قام ته دا دعوت ورکړے دے. مونږ له پهٔ خپله هم تقویٰ یعنې پرهیزګاري اختیارول پکار دهٔ، د ګناهونو نه بچ کېدل پکار دي او نورو ته هم د پرهیزګارۍ دعوت ورکول پکار دي.

**آیت نمبر ۱۷۸:** ۱ ـ شعیبؑ قام ته څۀ وفرمائیل؟ ۱ ـ زۀ ستاسو طرفته امانت دار رسول یم ـ

۲ ـ شعیبؑ د خپلې امانت دارۍ پۀ حقله قام ته څۀ وفرمائیل؟

۲ ـ شعیبؑ د ځان د پاره د "امین" لفظ پۀ وئیلو سره دا واضحه کړه چې د نبوت پۀ دعویٰ کولو او پېغام رسولو کښې هغه پۀ پوره توګه ذمه دار او اٰمانت دار دے او کۀ خلق هغه د کردار او امانت دارۍ پۀ وجه "امین" تسلیموي، نو بیا د هغۀ د دعوت پۀ منلو کښې ولې سستي کوي ـ

**علمي خبره:** د انبیاء کرام علیهم السلام همېش دا کردار پاتې شوے دے چې هغوي د نبوت د اظهار نه مخکښې هم پۀ خپل قام کښې صادق یعني رېښتیني او امین یعني امانت دار ګڼل شو ـ

۳ ـ امانت دار رسول څۀ ته وائي؟ ۳ ـ چې د الله تعالٰي پېغام بغېر د کوم کمي بېشي خلقو ته ورسوي ـ

**عملي اړخ:** امانت داري د یو مؤمن لازمي صفت وي، د جنتیانو پۀ صفت کښې دا هم شامل دے چې"هغوي د خپلو امانتونو او وعدو حفاظت کوي ـ (سورت المعارج ۷۰،آیت ۳۲)

**آیت نمبر ۱۷۹:** ۱ ـ شعیبؑ قام ته څۀ وفرمائیل؟ ۱ـ د الله تعالٰي نه ویرېږئ او زما اطاعت وکړئ ـ

**علمي خبره:** د الله تعالٰي د اطاعت سره د رسولﷺ اطاعت هم ضروري دے، ځکه چې الله تعالٰي د رسول د تابعدارۍ حکم ورکړے دے "څوک چې د الله او د هغۀ د رسول تابعداري وکړي، هغه به لویه کامیابي تر لاسه کړي" (سورت الاحزاب ۳۳، اٰیت: ۷۱)

۲ ـ د تقویٰ یعني پرهېزګارۍ نه څۀ مراد دے؟ ۲ ـ عمر بن خطابؓ د اُبی بن کعبؓ نه د تقویٰ متعلق پوښتنه وکړه، نو اُبی بن کعبؓ وفرمائیل، چې اٰیا تۀ چرته پۀ کومه ازغنه لاره نۀ یې تلے؟ ولې نۀ، عمرؓ جواب ورکړو ـ اُبی بن کعبؓ وفرمائیل چې تا هغه وخت څۀ کول؟ عمرؓ ورته وفرمائیل چې ما کپړې پۀ ځان پسې راټولې کړې وې او د غنو نه به مې ځان ساتلو او تېرېدم ـ اُبی بن کعبؓ ورته وفرمائیل، هم دغه تقویٰ ده" (بهیقي)

۳ ـ پۀ اسلام کښې د تقویٰ څۀ اهمیت دے؟ ۳ ـ "ابو سعید خدريؓ فرمائي چې د هغۀ خواله یو سړے راغلے او وې وئیل چې ما ته نصیحت وکړه ـ ابو سعید خدريؓ ورته وفرمائیل، چې تا زما نه د هغه څیز پۀ حقله پوښتنه کړې ده، د کوم پۀ حقله چې ما ستا نه مخکښې د رسول الله□ نه پوښتنه کړې وه ـ

نبي کريم ما ته وفرمائيل چې زۀ تا ته د الله تعالی نه د وېرېدو نصحيت کووم، ځکه چې تقویٰ د هر خېر سرچشمه ده"(مسند احمد)

**آيت نمبر ۱۸۰**: ۱۔شعيبؑ قام ته څۀ وفرمائيل؟ ۱۔زۀ پۀ خپل دې دعوت تبليغ باندې ستاسو نه هېڅ نۀ غواړم۔زما بدله خو د الله تعالی پۀ ذمه ده۔

**علمي خبره**: رسول د دعوت حق عمل صرف د الله تعالی د رضا او د هغۀ نه د اجر او ثواب پۀ امېد باندې کوي۔څۀ دنياوي مقصد مثلاً مال او عهده وغېره ئې نۀ وي۔

**عملي اړخ**: مونږ له هم نورو ته د ښېګړې دعوت صرف د الله تعالی د راضي کولو او د آخرت د اجر او ثواب حاصلولو د پاره پکار دے۔

**آيت نمبر ۱۸۱**: ۱۔پۀ دې آيت کښې د شعيبؑ د قام جرم څۀ بيان شوے دے؟

۱۔پۀ ناپ تول کښې کمے۔

**عملي اړخ**: د ناپ تول پراخه تصور دا دے چې د څيزونو د ناپ تول نه علاوه، د يو بل او الله تعالی د حقونو پۀ ادا کولو کښې هم کمے نۀ دي کول پکار۔د اخستلو او خرڅولو معيار يو شان پکار دے۔

**آيت نمبر ۱۸۲**: ۱۔شعيبؑ قام ته څۀ وفرمائيل؟ ۱۔د سيدها تلې سره پوره تول کوئ۔

**عملي اړخ**: انسان چې کومه خبره د ځان د پاره خوښوي، هغه د نورو د پاره هم خوښول پکار دي۔

**آيت نمبر ۱۸۳**: ۱۔ شعيبؑ قام ته څۀ وفرمائيل؟

۱۔ خلقو ته د هغوي څيزونه کم مۀ ورکوئ او پۀ زمکه کښې فساد مۀ کوئ۔

**عملي اړخ**: د بندګانو د حقونو پۀ نۀ پوره کولو سره پۀ ټولنه کښې بد امني ،فتنه او فساد خورېږي۔

**آيت نمبر ۱۸۴**: ۱۔شعيبؑ قام ته نور څۀ وفرمائيل؟

۱۔ د الله تعالی نه وېرېږئ، چا چې تاسو او ستاسو نه مخکښې خلق پېدا کړي وو۔

**آيت نمبر ۱۸۵**: ۱۔قام د شعيبؑ د دعوت څۀ جواب ورکړو؟ ۱۔تۀ د جادو کړے شوو خلقو نه يې۔

۲۔ د جادو کړے شوو نه څۀ مراد دے؟ ۲۔ پۀ چا باندې چې جادو شوے وي او هغه پۀ خپل هوش او حواس کښې نۀ وي، بلکې د هغۀ دماغي کېفيت د بل چا زېر اثر وي، چا چې جادو کړے وي۔

۳۔ قام شعېبؑ ته داسې ولې ووئيل؟ ۳۔ د نافرمانه خلقو همېشه دا عادت پاتې شوے دے چې هغه د رسولانو د دعوت منلو پۀ ځائے باندې پۀ ضد او احسان فراموشۍ کښې هغوي ته ګډې وډې وائي۔ د شعېبؑ قام هغه ژبه او انداز اختيار کړو، کوم چې د نوحؑ قام او قام ثمود اختيار کړے ؤ۔ هغوي وفرمائيل، چې اے شعېبؑ پۀ تا باندې جادو شوے دے، د دې وجې نه ګډې وډې خبرې کوې۔ (معاذ الله)

**اٰيت نمبر ۱۸۶:** ۱۔ قام د شعېبؑ د دعوت څۀ جواب ورکړو؟ ۱۔ الف: تۀ خو زمونږ پشان انسان ئې۔

ب: تۀ دروغژن ئې۔

**علمي خبره:** د قام پۀ خيال کښې څۀ نوراني مخلوق يعنې ملائکو وغيره لره نبي جوړول پکار وو، کوم چې د انسانانو نه پۀ هر لحاظ مختلف وي۔ ګويا د دوي په خيال کښې څوک بشر يعنې انسانانو کښې څوک سړے نبي نۀ شي جوړېدلے۔ لهذا د نبي کريم ﷺ د نبوت دعوې دروغ وئيل۔ (معاذ الله)

**اٰيت نمبر ۱۸۷:** ۱۔ قام د شعېبؑ د دعوت څۀ جواب ورکړو؟ ۱۔ تۀ هغه عذاب راوله کۀ چرې تۀ رښتينے ئې۔

**اٰيت نمبر ۱۸۸:** ۱۔ شعېبؑ قام ته څۀ جواب ورکړو؟ ۱۔ الله تعالي ستاسو د اعمالو نه ښۀ خبر دے۔

**عملي اړخ:** الله تعالي زمونږ د ټولو خبرو او کارونو نه خبر دے۔ د قيامت پۀ ورځ به مونږ د دې جواب د الله تعالي مخې ته ورکوو۔

**اٰيت نمبر ۱۸۹:** قام د شعېبؑ د دعوت څۀ جواب ورکړو ؟ ۱۔ قام د هغۀ د دعوت نه انکار وکړو۔

۲۔ د شعېبؑ د قام انجام څۀ شو؟ ۲۔ پۀ هغوي باندې د الله تعالي عذاب راغلو او هلاک شول۔

۳۔ پۀ هغوي باندې عذاب پۀ کوم شکل کښې راغلو؟ ۳۔ د وريځې پۀ شکل کښې۔

**اٰيت نمبر ۱۹۰:** ۱۔ دا قيصه الله تعالي ولې بيان کړه؟ ۱۔ پۀ دې کښې د خلقو د پاره د عبرت نشانه ده۔

۲۔ د قام مدين د اکثرو خلقو څۀ حال ؤ؟ ۲۔ پۀ هغوي کښې اکثر خلق ايمان راوړلو والا نۀ وو۔

**اٰیت نمبر ۱۹۱:** ۱ ـ پهٔ دې اٰیت کښې د الله تعالیٰ کوم کوم او څومره صفتونه بیان شوي دي؟

۱ ـ دوه یعني العزیز او الرحیم.

۲ ـ د الله تعالیٰ د صفت "العزیز" تعلق د کومو خلقو سره دے؟

۲ ـ د الله تعالیٰ د نافرمانه بندګانو سره، چې الله تعالیٰ پهٔ هغوي باندې غالب دے او هغوي د الله تعالیٰ د عذاب نه نهٔ شي بچ کېدے.

۳ ـ د الله تعالیٰ د صفت "الرحیم" تعلق د کومو خلقو سره دے؟

۳ ـ د الله تعالیٰ د فرمانبرداره بندګانو سره چې هغه د الله تعالیٰ د رحمت اصل مستحق دي.

## د مشقونو جوابونه

### ځان پوهه کړئ او حل ئې کړئ:

سوال۱: د لاندینو جملو پهٔ حقله ووایئ چې دا د چا قول دے؟

| شمېره | جملې | د الله ﷻ | د شعیب علیه السلام | د قام |
|---|---|---|---|---|
| ۱ | ما تاسو ته د خپل رب پېغامات در ورسول او ستاسو خېر خواهي مې وکړه | | √ | |
| ۲ | اٰیا ستا مونځ تاته دا حکم کوي چې مونږ د الله تعالیٰ نه سېوا نور معبودان پرېږدو | | | √ |
| ۳ | یقیناً ستا رب ډېر غالب او رحم کوونکے دے | √ | | |
| ۴ | تاسو پهٔ ناپ تول کښې کمے مهٔ کوئ او د خلقو څیزونه کم مهٔ ورکوئ | | √ | |
| ۵ | کهٔ ستاسو خاندان نهٔ وے، نو مونږ تهٔ وژلې | | | √ |

سوال۲: د کالم (الف) هره جمله د کالم (ب) د صحیح جملې سره د کرښې پهٔ مرسته ملاو کړئ.

| الف | ب |
|---|---|
| د شعیب علیه السلام د قام بل نوم | مدین وه |
| د شعیب علیه السلام د قام علاقه | ګڼ باغونه ورکړي وو |
| د شعیب علیه السلام د قام یو جرم | قام ایکه ؤ |
| الله د شعیب علیه السلام قام لره | د عذاب نه وېرول |
| شعیب علیه السلام خپل قام ته | پهٔ ناپ تول کښې کمے هم ؤ |

سوال۳: پهٔ لاندینو جملو د صحیح (√) او غلط (X) نشان ولګوئ.

| شمېره | جملې | صحیح | غلط |
|---|---|---|---|
| ۱ | قام شعېب علیه السلام د کلي نه وویستلو | | X |
| ۲ | د شعېب علیه السلام قام پهٔ طوفان کښې غرق شو | | X |
| ۳ | د شعېب علیه السلام قام به د نورو پهٔ مال کښې کمے کولو | √ | |
| ۴ | شعېب علیه السلام قام ته ۹۵۰ کاله دعوت ورکړو | | X |
| ۵ | د شعېب علیه السلام د قام ظالمان یوې زورداري چغې ونېول | √ | |

سوال۴: رائئ چې خپله جائزه واخلو: (نوټ: د دې سوال کالمونه د دې وجې نه ډک نهٔ کړے شو، چې دا د ماشومانو خپل احتساب دے.

سوال۵: د لاندینو لفظونو پهٔ مرسته خالي ځایونه ډک کړئ.

(الله تعالي، فساد، ناپ، رجم، مونځ، معبودان، تابعداري، اصلاح، کورینی، تول

1) شعېب علیه السلام خپل قام ته وفرمائیل چې پهٔ........ او ........کښې کمے مهٔ کوئ. (ناپ، تول)
2) قام ووئیل، اے شعېب علیه السلام! ایا ستا.......تا ته دا ښائي چې مونږ خپل.....پرېږدو. (مونځ، معبودان)
3) قام شعېب علیه السلام ته ووئیل چې کهٔ ستا........ نهٔ وے، نو مونږ به تهٔ.......کړے وے. (کورینی، رجم)
4) شعېب علیه السلام قام ته وفرمائیل، چې تاسو.......نه وېرېږئ او زما.......وکړئ. (الله تعالي، تابعداري)
5) شعېب علیه السلام قام ته وفرمائیل چې تاسو پهٔ زمکه کښې د ......... نه وروستو........مهٔ کوئ. (سوله، فساد)

سوال۷: د لاندینو سوالونو جوابونه ورکړئ.

۱. پهٔ حدیث شریف کښې پهٔ ناپ تول کښې پهٔ کمي باندې څهٔ سزا ښودل شوې ده؟

جواب: "کوم قام چې پهٔ ناپ تول کښې کمے کوي، نو هغوي پهٔ قحط او مشکلاتو او د بادشاهانو (یعني حکمرانانو) پهٔ ظلم او زیاتي کښې اخته کېږي" (سنن ابن ماجه)

**۲۔مدين قبيله څوک وه؟**

جواب: مدين قبيله د ابراهيمعليه السلام د زوے "مدين" د نسل نه وه، کوم چې د هغهٔ د ښځې "قطورا" نه پېدا شوے ؤ۔د ابراهيمعليه السلام دې خاندان ته بني قطورا وائي۔پهٔ کومه سيمه کښې چې دوي اوسېدل، د هغې نوم هم د قبيلې پهٔ نوم سره "مدين" کېښودل شو۔

**۳۔خلق پهٔ ازمېښتونو کښې ولې اخته کېږي؟**

جواب: د الله تعالٰي د اړخ نه خلق پهٔ سختو او ازمېښتونو کښې ځکه اخته کېږي چې هغوي د الله تعالٰي طرفته ور وګرځي۔

**۴۔حلال رزق د کوم مال نه بهتر دے؟**

جواب: د الله تعالٰي ورکړے شوے حلال رزق د هغه مال نه ډېر زيات بهتر دے چې پهٔ ناجائزه طريقه وګټل شي۔

**۵۔قام شعيبعليه السلام ته څهٔ دهمکي ورکړې؟**

جواب: قام شعيبعليه السلام ته د کاڼو د ويشتلو او کلي نه د ويستلو دهمکي ورکړې۔

# سُوْرَةُ الصّٰفّٰت

**د ښودلو طریقه:**

سبق نمبر۱: د دې سورت شان نزول، تعریف، قرانّي متن او ترجمه د (مخ نمبر۲۰۴) درسي کتاب نه ولولئ۔

سبق نمبر۲: د دې سورت قرانّي متن او ترجمه د (مخ نمبر۲۰۷، ۲۰۲) درسي کتاب نه ولولئ۔

سبق نمبر۳: د دې سورت قرانّي متن او ترجمه د (مخ نمبر ۲۰۸، ۲۱۰) درسي کتاب نه ولولئ۔

سبق نمبر۴: د دې سورت قرانّي متن او ترجمه د (مخ نمبر ۲۱۱، ۲۱۲) درسي کتاب نه ولولئ۔

سبق نمبر۵:(i) د "علم او عمل خبرې" پۀ وضاحت سره زده کونکیو ته ښودل او د مذاکرې پۀ ذریعه ذهن ته کوزول۔

(i)"ځان پوهه کړئ او حل ئې کړئ" زده کونکو ته د کور د کار (**Home Work**) پۀ طور ورکړئ چې د هغوي د قرانٰ فهمۍ اندازه ولګي او وروستو ئې پۀ کلاس کښې حل کړي۔ (د تشریحي نکتو نه وروستو د ورکړے شوو "مشقونو د جوابونو" نه استفاده کېدے شي)

(iii) د کور د سرګرمۍ د پاره د زده کونکیو د کور والا پابند جوړ کړئ۔ (پۀ کلاس کښې د نورو سرګرمیانو کولو لپاره د "مشقونو د جوابونو" نه وروستو د "عملي سرګرمۍ" نه هم استفاده پورته کېدے شي۔

**د مطالعې مقصدونه:**

د دې سورت پۀ ختمېدو سره به زده کونکي د دې جوګه شي چې هغوي ته به پته وي چې:

۱۔ پۀ ملائکو قسم ولې وخوړل شو او د وحې د حفاظت انتظام څنګه وشو؟

۲۔ د اٰخرت د پاره څۀ دلائل ورکړل شو؟ ۳۔ د "مُخْلَصْ" بندګانو نه څوک مراد دي؟

۴۔ د جنتیانو او جهنمیانو څۀ حال بیان شوے دے؟ ۵۔ د جنتي او جهنمي سړي څۀ قیصه بیان شوې ده؟

| |
|---|
| ۶۔د جنتي او جهنمي سړي پهٔ خپل منځ کښې څهٔ مکالمه ذکر شوه؟ |
| ۷۔د "نُزل، قلبِ سلیم او زقُوم" نه څهٔ مراد دے؟ ۸۔د ابراهیمؑ د قربانۍ څهٔ تفصیلات دي؟ |
| ۹۔د قربانۍ اهمیت څهٔ دے؟ ۱۰۔د ابراهیمؑ پهٔ اولاد کښې د برکت اچولو نه څهٔ مراد دے؟ |
| ۱۱۔د یونسؑ د قیصې څهٔ تفصیل دے؟ ۱۲۔د پېریانو او ملائکو څهٔ حقیقت دے؟ |

## اٰیت پهٔ اٰیت تشریحي نکتې

**علمي خبره:** د سورت صفٰت نه د قراٰن حکیم د شپږم منزل شروع کېږي۔د نبي کریم□ پهٔ دور کښې قراٰن حکیم پهٔ اووهٔ منزلونو کښې تقسیم شوے ؤ۔ اکثرو صحابه کرامو ؓ به روزانه یو منزل تلاوت کولو او دغسې به ئي پهٔ هفته کښې قراٰن حکیم مکمل کولو۔

**اٰیت نمبر ۱:** د دې سورت پهٔ شروع کښې الله تعالٰي پهٔ څا باندې قسمونه خوړلي دي۔

۱۔پهٔ ملائکو باندې۔

۲۔پهٔ قراٰن حکیم کښې نور څومره سورتونه دي، د کوم شروع چې د قسمونو پهٔ خوړلو سره شوې ده۔

۲۔پهٔ قراٰن حکیم کښې پنځلس سورتونه داسې دي چې د هغې شروع پهٔ "واؤ قسمیه" سره شوې ده، مثلاً "سورة صٰفٰت، سورة الطور، سورة النجم، سورة الذّٰریٰت،سورة المرسلٰت، سورة النزعت، سورة العدیٰت" وغېره۔ دوه سورتونه داسې دي چې د هغې پهٔ شروع کښې د "اُقْسِمُ" لفظ نه قسم خوړل شوے دے، مثلاً "سورة القیٰمة او سورة البلد"۔البته دا خبره یاد ساتل پکار دي چې د دې سورتونو نه علاوه هم څهٔ نور سورتونه دي چې د هغې شروع خو د حروف مقطعات نه شوې ده، مګر د هغې سره قسم هم خوړل شوے دے مثلاً "سورة صٓ، سورة قٓ، سورة القلم" وغېره۔

**علمي خبره:** الله تعالٰي ته د خپلې څهٔ خبرې د تصدیق لپاره د قسم ضرورت نشته، مګر پهٔ قراٰن حکیم کښې چې الله تعالٰي د مختلفو څیزونو کوم قسمونه خوړلي دي، هغه خو اول د عربۍ ژبې د فصاحت او بلاغت یو اسلوب دے، د کوم سره چې پهٔ کلام کښې زور او تاثیر پېدا کېږي۔نور چې د کومو څیزونو قسمونه بیان شوي دي، کهٔ پهٔ هغې باندې غور وشي، نو هغه د هغه دعوې دلیلونه وي چې د هغه

قسمونو نه وروستو ذکر شوي وي۔ دریم د وروستو راتلونکې خبرې د عظمت او اهمیت ظاهرولو لپاره قسم بیانول شي۔

۳۔ پۀ دې اٰیت کښې د ملائکو څۀ کېفیت بیان شوے دے؟

۳۔ ملائکې د الله مخې ته پۀ قطارونو کښې ولاړې وي۔

**علمي خبره:** د دې سورت پۀ اٰیت: ۱۶۵ کښې هم د ملائکو پۀ قطارونو کښې د ودرېدو ذکر دے۔ پۀ یو حدیث شریف کښې نبي کریم□فرمائیلي دي چې "تاسو خلق داسې قطارونه جوړوئ، څنګه چې ملائکې جوړوي۔ وړومبے مخکښې صفونه مکمل کوئ او بیا بۀ یو ځاے یو ځاے ودرېږئ" (صحیح مسلم)

**اٰیت نمبر ۲:** ۱۔ پۀ دې اٰیت کښې پۀ کومو ملائکو قسمونه خوړل شوي دي؟

۱۔ د دې مراد یا هغه ملائکې دي چې خپل آسونه رټي، یا هغه ملائکې دي چې د کافرو د روحونو ویستلو پۀ وخت هغوي رټي، څنګه چې مرګ ته د نزدې کافرو ذکر پۀ قراٰن حکیم کښې څو ځایه راغلے دے۔ مثلاً سورت الانعام۶، اٰیت: ۹۳ او سورت الانفال۸، اٰیت: ۵۰ کښې ذکر دے۔

**علمي خبره:** د آس د رټلو ذکر هم پۀ یو حدیث شریف کښې ملاوېږي۔ سیدنا عبدالله بن عباس؆ فرمائي چې پۀ غزوه بدر کښې یو مسلمان پۀ یو کافر پسې شاته پسې ؤ چې هغه د کافر د پاسه د کوړې اٰواز واورېدو او پۀ آس سور کس نه ئې دا واورېدل چې اے حیزوم! مخکښې ځه۔ دا وئیل وو چې کافر ډېر پۀ بدحال پۀ زمکه راپرېوتلو۔ مسلمان چې مخکښې ورغلو او وې کتل، نو د هغه کافر پوزه زخمي وه او مخ ئې شلېدلے ؤ۔ داسې معلومېدل چې هغه پۀ کوړه وهل شوے دے او د هغه کافر ټول بدن د کوړې د زهرو د وجې نه شین شوے ؤ۔ هغه انصاري مسلمان د رسول الله□خواته راغلو او نبي کریم□ ته ئې دا واقعه بیان کړه، نو رسول الله□وفرمائیل چې "تا رښتیا ووئیل، دا د دریم اسمان نه (د ملائکو پۀ ذریعه) راغلے مدد ؤ" (صحیح مسلم)

۲۔ ملائکې څوک رټي؟ ۲۔ ملائکې پېریان او انسان رټي۔

۳۔ د ملائکو رټل او منع کول څۀ دي؟ ۳۔ د دې نه مراد دا دي چې ملائکې د الله تعالٰي بندګان او پېریان د ګناهونو نه منع کوي او د هغۀ پۀ زړۀ کښې د خېر خبرې اچوي او شېطان د وسوسو اچولو او عالم بالا ته د رسېدلو نه منع کوي۔

**اٰیت نمبر۳:** ۱۔ پۀ دې اٰیت کښې الله تعالٰي پۀ کومو ملائکو قسم خوړلے دے؟

۱۔ د دې مراد هغه ملائکې دي چې پهٔ خپله هم د الله تعالیٰ پهٔ ذکر کښې مشغول وي او د انسانانو د روحاني غذا یا هدایت ذریعه هم جوړېږي۔ پېغمبرانو ته د الله تعالیٰ حکم راوړي او د نېکو خلقو پهٔ زړونو کښې د خېر خبرې اچوي۔

۲۔ د وړومبنو درې اٰیاتونو پهٔ خپل منځ کښې څهٔ تړون دے؟

۲۔ پهٔ دې اٰیاتونو د غور کولو سره د ملائکو د اعمالو ترتیب پهٔ ذهن کښې راځي چې ملائکې قطار په قطار ولاړې وي او د الله تعالیٰ حکم اوري۔ او بیا شېطان شړي او منع کوي۔ بیا چې کوم حکم نازلېږي، هغه پهٔ خپله هم لولي او نورو ته ئې هم اوروي۔

**اٰیت نمبر۴:** ۱۔ دا ټول قسمونه پهٔ کوم حقیقت باندې خوړل شوي دي؟

۱۔ پهٔ دې خبره باندې قسمونه خوړل شوي دي چې د ټولو معبود صرف یو دے۔

۲۔ بندګان پهٔ چا باندې قسمونه خوړلے شي؟ ۲۔ بندګانو لره د الله تعالیٰ نهٔ سېوا پهٔ چا باندې قسم خوړل جائز نهٔ دي۔

۳۔ د الله تعالیٰ پهٔ مخلوقاتو کښې پهٔ چا باندې د قسم خوړلو نه څهٔ مراد دے؟

۳۔ الله تعالیٰ چې پهٔ کومو مخلوقاتو باندې قسم خوړلے دے، هغه خو محض د ګواهي او شهادت د پاره دے، ځکه چې پهٔ مخلوقاتو کښې پهٔ چا باندې قسم خوړلے شوے دے، ګویا هغه پهٔ هغهٔ حقیقت باندې ګواه دے، کوم چې بیان شوے دے۔ دویمه وجه د الله د قسم خوړلو نه دا ده چې د دې سره پهٔ کلام کښې زور او تاکید پېدا کول شي او دریمه وجه د راروانې خبرې عظمت او اهمیت ظاهرول دي۔

**علمي خبره:** پهٔ دې سورت کښې پهٔ خاصه توګه پهٔ ملائکو د قسم خوړلو وجه دا معلومېږي چې د سورت مرکزي موضوع د شرک د هغه خاص قسم تردید دے، د کوم لاندې به چې د مکې والوو ملائکو ته د الله تعالیٰ لوڼه وئیلې۔ د دغه وجې نه د سورت پهٔ شروع کښې پهٔ ملائکو باندې د قسم خوړلو سره د هغوي دا صفتونه بیان شوي دي، د کوم نه چې د هغهٔ د مکمل بندګۍ اظهار کېږي۔ ګویا د دې مطلب دا دے چې کهٔ د ملائکو پهٔ دغه صفتونو باندې غور وکړے شي، نو دغه به پهٔ خپله ستاسو مخکښې دا ګواهي ورکړي چې د الله تعالیٰ سره د هغوي تعلق د پلار او لور د رشتې نهٔ دے، بلکې د هغوي تعلق ورسره د معبود او بنده دے۔ یعني دا ملائکې د الله تعالیٰ بندګان دي او هغه ئې مالک او معبود دے۔

**اٰیت نمبر۵:** ۱۔ د الله تعالیٰ د ربوبیت شان څنګه بیان شوے دے؟

۱ ـ الله تعالیٰ د اسمانونو، زمکې او څۀ چې د دې پۀ منځ کښې دي، د ټولو رب دے ـ

۲ ـ د رب څۀ معنٰي ده؟ ۲ ـ رب هغه دے چې څۀ څيز پۀ مزه مزه د کمال درجې ته ورسوي ـ

۳ ـ حقيقي رب څوک دے؟ ۳ ـ حقيقي رب الله تعالیٰ دے چې د ټولو مخلوقاتو ټول حاجتونه او ضرورتونه پوره کوي ـ

۴ ـ د اسمان او زمکې تر منځ څۀ شے دي ـ ۴ ـ ټول کائنات ـ مونږ ته تر ټولو نزدې څيز زمکه ده او زمونږ نه لرې څيز اسمان دے ـ د زمکې او اٰسمان تر منځ ګويا ټول کائنات دي ـ الله تعالیٰ د دې ټولو کائناتو پۀ دې کښې د اوسېدونکو مخلوقاتو رب دے ـ

۵ ـ د څو مشرقونو نه څۀ مراد دے؟ **۵** ـ پۀ ټول کال کښې نمر د **۳۶۵** ځايونو نه راخېژي، د دې وجې نه الله تعالي ته رب المشارق وئيل شوے دے چې د دې ټولو اړخونو رب الله تعالیٰ دے ـ

**علمي خبره**: پۀ "رَبُّ الْمَشَارِقِ" کښې يوه بله نکته هم ده چې د نمر پۀ خپل روزانه ګردش کښې د زمکې د مختلفو حصو نه پۀ يو بل پسې راخېژي ـ کوم ځاے هم چې د زمکې کومه حصه د نمر مخې ته راځي، هغه د هغې مشرق وي ـ پۀ دې لحاظ سره نۀ د مشرقونو شمار شته او نۀ د مغربونو ـ

**اٰيت نمبر ۶**: ۱ ـ پۀ اووۀ اٰسمانونو کښې د دنيا اٰسمان ته څۀ ځانګړتيا حاصله ده؟

۱ ـ الله تعالیٰ د زمکې اٰسمان پۀ ستورو سينګار کړے دے او ښائست ئې ورکړے دے ـ

۲ ـ اسمان پۀ ستورو د ښائسته کولو نه څۀ مقصد دے؟ ۲ ـ الله تعالي د بې شمېره ستورو پۀ ذريعه باندې د زمکې اٰسمان سينګار کړے دے ـ دا ستوري د ښائست، پۀ شپه کښې د مدم رڼا او انسانانو لپاره د لارې د لټون لويه ذريعه ده ـ

**اٰيت نمبر ۷**: ۱ ـ د ستورو د جوړولو څۀ حکمت ښودل شوے دے؟ ۱ ـ ستوري د الله تعالیٰ جوړې شوې چوکۍ دي، د کوم ځاے نه چې ملائکې د اٰسمانونو ساتنه کوي او هر سرکشه پېرے اٰسمانونو ته د داخلېدو نه منع کوي ـ

**فرمان نبوي**: ستوري الله تعالي د درې کارونو د پاره پېدا کړي دي ـ

الف: د دې د وجې نه د اسمان ښائست دے۔ ب: کوم شېطانان چې د اسمانونو خبرو ته غوږ ږدي، ملائکې د دې ستورو نه انګارونه راخلي او په هغه شېطانانو ئې وروي۔ ج: د ستورو په حساب سره مسافر خلق د لارې حال معلوموي۔ (صحیح بخاري)

**آیت نمبر۸:** ۱۔ سرکشه شېطان اسمانونو ته ولې داخلېدل غواړي؟۱۔ هغوي د عالم بالا خبرې اورېدل غواړي۔

**علمي خبره:** د رسول اللهﷺ د رالېږلو نه مخکښې شېطانانو یوه دهنده جوړه کړې وه۔ هغه به بره اسمانونو طرفته تلل او خبرې به ئې اورېدلې۔ بیا به ئې دغه خبرې راوړلې او د کاهنانو غوږونو ته به ئې اچولې او هغوي به په کښې دروغ ګډول او مخکښې به ئې بوتلې۔ بیا به چې کله دغه اورېدلې خبرې رښتیا شوې، نو خلقو به په کاهنانو باندې عقیده جوړوله چې وګورئ دا د غېبو خبرې کوي۔ کله چې رسول اللهﷺ رالولېږل شو، نو هلته پېره ولګېده، نو کله به چې شېطانان بره تلل، نو ویشتل کېدل به۔

۲۔ملائکې د اسمانونو حفاظت څنګه کوي؟ ۲۔ کله چې سرکشه شېطانان اسمانونو ته داخلېدل وغواړي، نو ملائکې د هر طرف نه په هغوي باندې شهاب ثاقب یعنې تېزې رڼا والا شغلې وروي چې د میزائل په شان په هغوي پسې وي او هغوي د اسمانونو داخلېدو ته نۀ پرېږدي۔

**آیت نمبر۹:** ۱۔په سرکشه شېطانانو باندې د "شهاب ثاقب" ورولو څۀ وجه بیان شوې ده؟

۱۔ د سرکشه شېطانانو د اسمانونو نه د شړلو د پاره۔

۲۔سرکشه شېطانانو ته به څۀ سزا ملاوېږي؟ ۲۔ په دنیا کښې به هغوي باندې "شهاب ثاقب" ورول شي او په اخرت کښې به هغوي ته د جهنم عذاب ورکول شي۔

**آیت نمبر ۱۰:** ۱۔د سرکشه شېطانانو د کوم عمل ذکر شوے دے؟

۱۔ د اسمانونو نه د څۀ خبرې د اچانک راتښتولو۔

۲۔د سرکشه شېطانانو سره څۀ سلوک کول شي؟ ۲۔په هغوي پسې "شهاب ثاقب" ور پرېښودل شي۔

۳۔شهاب ثاقب څۀ څیز دے؟ ۳۔ د شهاب معنې د اوږدې شغلې ده۔ د ثاقب معنې دومره روښانه چې په کوم څیز باندې هم د هغۀ پلوشې پرېوځي، هغه شلوي او تېرېږي ترې۔ الثاقب په اصل کښې د ثقبه نه وتلے دے، د کوم معنې چې سورے دے۔شهاب ثاقب یوه تېزه روښانه شغله ده۔

**آیت نمبر ۱۱:** ۱۔ په دې آیت کښې د قیامت د راتللو څۀ عقلي دلیل ورکړے شوے دے؟

۱۔ هغه الله چې عظیم الشان کائنات پېدا کولے شي او په دې کښې عظیم مخلوق جوړولے شي، هغه انسان هم د مرګ نه وروستو دوباره ژوندے کولے شي۔

**علمي خبره:** آسمان، زمکه، ستوري، ملائکې، شېطانان وغېره پېدا کول د قیامت نه د منکرو خلقو په ذهن کښې یو مشکل کار دے یا په خپله د هغوي پېدا کول او هغه هم د یو پېدائش نه وروستو۔ ظاهره خبره ده، کوم الله چې د دې تمامو مخلوقاتو جوړونکے دے، هغۀ ته د دې دوباره جوړول څۀ مشکل دي۔

۲۔ انسان الله تعالی د څۀ څیز نه جوړ کړے دے؟ ۲۔ د خمېره شوې ختې نه ئې جوړ کړے دے۔

۳۔ د انسان پېدائش د قیامت د راتللو عقلي دلیل څنګه دے؟ ۳۔ هغه الله چې د یوې سپکې ختې نه انسان جوړولے شي، هغه په دې قادر دے چې انسان د مرګ نه وروستو دوباره ژوندے کړي۔ څۀ شے په وړومبي ځل جوړول مشکل وي، خو دوباره جوړول لږ آسان وي۔ خو دا یاد ساتل پکار دي چې دا د مشکل والي او آسان والي خبرې صرف د بندګانو د پوهولو د پاره دي۔ الله تعالی چې د څۀ کار د پاره صرف لفظ "کن" وفرمائي، نو هغه کار فوراً کېږي۔

**فرمان نبوي:** یو سړي د خپل لاش د سوځولو او نیمې ایرې په هوا کښې د الوځولو او نیمه سمندر ته د غورځولو وصیت کړے ؤ۔ د هغۀ سره د هغۀ د وصیت مطابق عمل وشو۔ الله تعالی د هر ځائے نه د هغه سړي د خاورې جمع کولو حکم ورکړو او هغه خاوره راجمع شوه او د هغۀ ډانچه ترې جوړه شوه۔ (بخاري، مسلم)

**آیت نمبر ۱۱:** ۱۔ نبي کریم ﷺ به په څۀ څیز باندې تعجب کولو؟

۱۔ د مشرکینو د طرف نه به د الله د قدرت او دوباره ژوندي کېدو په انکار کولو باندې رسول الله ﷺ حېرانېدو۔

۲۔ نبي کریم ﷺ به ولې تعجب کولو؟ ۲۔ د دومره واضحه دلیلونو باوجود مشرکین د دوباره راپورته کېدلو نه انکار ولې کوي؟

**علمي خبره:** د نبي کریم ﷺ د دې تعجب په حقله بل ځائے داسې ارشاد شوے دے "او که تاسو په څۀ خبره باندې تعجب کوئ، نو د هغوي دا خبره عجیبه ده چې آیا چې کله مونږ خاورې شو، نو آیا مونږ به بیا د نوي سره راژوندي کېږو؟ دا هغه خلق دي چا چې د خپل رب نه انکار کړے دے او دا هغه خلق دي

چې د دوي پۀ مرو څټونو کښې به طوقونه وي او دا به اور ته داخلیږي او همېشه به وي پۀ اور کښې" (سورت الرعد ۱۳ ، اٰیت: **۵**)

۳۔ پۀ اٰخرت باندې د ایمان راوړولو پۀ دعوت باندې د مکې د مشرکانو څۀ طرز عمل بیان شوے دے؟

۳۔ هغوي به پۀ نبي کریم□ پسې ټوقې کولې (معاذالله)۔ د هغوي پۀ دې باندې یقین نۀ ؤ چې د مرګ نه وروستو د انسانانو دوباره راژوندي کېدل ممکن دي او د قیامت ورځ به راځي او هغوي به د خپلو عملونو حساب ورکوي۔

**اٰیت نمبر ۱۳:** ۱۔ د اخرت نه د منکرو خلقو د کوم غلط طرز عمل ذکر شوے دے؟

۱۔ کله چې هغوي ته نصیحت کولے شي، نو هغوي نصیحت نۀ قبلوي۔

**عملي اړخ:** نصیحت د هغه خلقو د پاره فائده مند وي چې نصیحت حاصلول غواړي، ګنه هېڅ دلیل، ذکر او خبرتیا فائده نۀ کوي۔

**اٰیت نمبر ۱۴:** ۱۔ د الله د اړخه نبي کریم□ ته ورکړے شوي معجزات به چې د اٰخرت نه منکرو خلقو ولیدل، نو څۀ طرز عمل به ئې اختیارولو؟ ۱۔ هغوي به پۀ دغه معجزو پسې ټوقې کولې۔ (معاذالله)

**عملي اړخ:** کله چې د انسان ذهني ساخت پۀ غلط تربیت، غلط ماحول او باطل عقیدو سره بدل شي، نو بیا د لویې نه لویه معجزه هم دغه فرسوده او ګډوډ فکر او زړۀ نۀ شي بدلولے۔ د دغسې فکر خلقو همېشه د حق والوو پۀ دلیلونو پسې ټوقې کړې دي۔

**اٰیت نمبر ۱۵:** ۱۔ د انبیاء کرام علیهم السلام د معجزو پۀ حقله د اٰخرت نه د منکرو خلقو څۀ رایې وه؟

۱۔ هغوي به وئیل چې ښکاره جادو دے۔ (معاذالله)

**عملي اړخ:** د اٰخرت د جواب ورکولو احساس نۀ لرلو سره د انسان پۀ رویو او کردار کښې څۀ مثبت بدلون نۀ شي راتلے۔ دغسې خلق کۀ د الله تعالٰي د نشانو نه د څۀ عظیمې نشانې د لیدو موقع هم بیامومي، نو د هغې نه د څۀ سبق اخستلو پۀ ځاے، پۀ هغې پسې ټوقې کوي چې دا خو یو ښکاره جادو دے چې زمونږ عقلونه پرې تېر باسي۔ (معاذالله)

**اٰیت نمبر ۱۶:** ۱د اٰخرت نه د منکرو خلقو د اٰخرت پۀ حقله کوم اعتراض بیان شوے دے؟

۱۔ هغوي به وئیل چې کله مونږ مړۀ شو، هډوکي شو او خاورې شو، نو بیا به مونږ څنګه راپورته کولے شو؟

**علمي خبره:** د مشرکینو دا قول قرآن حکیم پۀ بلها ځایونو کښې ذکر کړے دے۔ (سورت الرعد۱۳، آیت:۵،سورت المؤمنون۲۳،آیت:۳۵، سورت النحل،آیت:۲۷، سورت ق۵۰، آیت:۳،سورت الواقعه ۵۶، آیت:۴۷) او پۀ دې سورت کښې پۀ دوه ځایونو کښې د دغه موقف ذکر دے "او دا خلق وائي چې کله مونږ پۀ زمکه کښې خاورې شو، نو آیا مونږ به بیا د نوي سره پېدا کېږو؟ بلکې دا خلق د خپل رب د ملاقات نه منکر دي۔ (سورت السجده۳۲، آیت: ۱۰)

**آیت نمبر۱۷:** ۱۔د آخرت پۀ حقله به د مکې مشرکانو د کوم تعجب اظهار کولو؟

۱۔هغوي به وئیل چې آیا زمونږ پخواني پلاران، نیکونه چې مړۀ شوي دي او هډوکي ئې خاورې شوي، آیا هغه به راژوندي کول شي؟

۲۔د پلار او نیکۀ د راژوندي کولو پۀ حقله هغوي ولې تپوس کولو؟ ۲۔ ځکه چې د پلار نیکۀ راژوندي کول هغوي ته ډېره ګرانه ښکارېده، ځکه چې هغه ډېر کلونه مخکښې مړۀ وو۔

**آیت نمبر۱۸:** ۱۔د آخرت نه د منکرو خلقو د اعتراض څۀ جواب ورکړے شو؟

۱۔د آخرت نه منکرو خلقو ته وفرمائیل شو چې او هغوي ټول به ژوندي کول شي او پۀ هغه ورځ به هغوي د آخرت د انکار پۀ وجه خوار او ذلیله کول شي، څنګه چې بل ځائے فرمائیلي شوي دي "او دغه ټول به د هغۀ پۀ حضور کښې عاجزه حاضر کړے شي" (سورت النمل۲۷، آیت:۸۷)

## د مرګ نه وروستو د راژوندي کېدلو دلیلونه:

۱۔الله تعالی د بني اسرائیلو مړے راژوندے کړو۔ (سورت البقره۲، آیت:۷۳)

۲۔عزیر علیه السلام سل کاله وروستو راژوندے شو۔ (سورت البقره۲، آیت:۲۵۹)

۳۔الله تعالی د ابراهیم علیه السلام د هغۀ څلور ذبح کړې شوې مرغۍ راژوندۍ کړې۔ (سورت البقره۲، آیت: ۲۶۰)

۴۔ عیسی علیه السلام به د خپل رب پۀ حکم مړي راژوندي کول۔ (سورت آل عمران۳، آیت:۴۹)، (سورت المائده۵، آیت: ۱۱۰)

۵۔اصحاب کهف درې سوه یا د درې سوو نه زیات کلونه وروسته راپاڅول۔ (سورت الکهف، آیت:۲۵)

۶۔الله تعالی د بني اسرائیلو زرګونه خلق دوباره ژوندي کړل۔ (سورت البقره۲، آیت:۲۴۳)

**علمي خبره:** چونکې د منکرینو سوال د ټوقو او طنز په انداز کښې ؤ، نو د دغه وجې نه د هغوي جواب هم ډېر سخت ورکړے شو ـ وفرمائیل شو چې او! تاسو او ستاسو پخواني پلرونه او نیکونه به هم راپورته کولے شي او دغه وخت به تاسو ټول انتهائي ذلیله یئ ـ

**آیت نمبر ۱۸:** ۱ ـ په دې آیت کښې د قیامت د واقع کېدلو څۀ کېفیت بیان شوے دے؟

۱ ـ د الله تعالیٰ د پاره د قیامت قائمول ډېر آسان دي او بس یوه زورداره چغه به وي او ټول انسانان به دوباره راژوندي کړے شي ـ

**علمي خبره:** د آخرت نه منکر دې په دې غلط فهمي کښې نۀ لوېږي چې د هغوي د دوباره راپورته کولو د پاره به الله تعالیٰ لره څۀ خاص انتظام کول وي ـ دا کار به صرف په حکم سره پوره کړے شي ـ په سورت االنزعٰت۷۹، آیاتونه د ۱۰ نه تر ۱۳ کښې هم دغه مضمون بیان شوے دے ـ

۲ ـ د زور د آواز نه څۀ مراد دے؟ ۲ ـ "نفخة القیامه" یعني دویم ځل شپیلۍ چې اسرافیل علیه السلام به ئې وهي ـ ټول به د الله تعالیٰ په بارګاه کښې ودرېږي ـ

**آیت نمبر ۲۰:** ۱ ـ د قیامت په ورځ به د آخرت نه منکر خلق څۀ افسوس کوي؟

۱ ـ هغوي به وائي چې هائي زمونږ بربادي، آیا دا ده هغه د بدلې ورځ؟

**علمي خبره:** په موجوده نړۍ کښې د راروان ژوند معامله د یو خبر په توګه ښودل شي ـ انسان دغه خبر له هېڅ اهمیت نۀ ورکوي، مګر په آخرت کښې به د راروان ژوند معامله د یو سنګین حقیقت په توګه په خلقو باندې پرېوځي ـ په دغه وخت کښې به انسان خپله سرکشي هېره کړي او د الله مخکښې به خپل ځان وغورځوي ـ دا به یو ناقابل بیان خطرناک منظر وي ـ په دغه وخت کښې به چې په مېدان حشر کښې د خلقو کوم حال وي، د هغې یوه نقشه په راروانو آیاتونو کښې ورکړې شوې ده ـ

**آیت نمبر ۲۱:** ۱ ـ د آخرت نه منکرو ته به د قیامت په ورځ څۀ جواب ورکول شي؟

۱ ـ هغوي ته به وفرمائیل شي چې دا ده هغه د فېصلې ورځ چې تاسو به دروغ ګڼله ـ

۲ ـ د قیامت ورځې ته د فېصلې ورځ ولې وئیل شوې ده؟ ۲ ـ ځکه چې د ټولو معاملاتو فېصله به الله تعالیٰ کوي او دغه به د قیامت ورځ وي چې د هرې معاملې صحیح صحیح فېصله به اورول شي ـ

**علمي خبره:** د قيامت ډېر نومونه دي او دا نومونه د هغه ورځې د کارونو په لحاظ سره دي، چونکې په دغه ورځ به بدل ورکول شي او انصاف به کول شي، نو لهذا دغه ورځ "يوم الدين" ده او چونکې د خلقو تر منځ به فېصله کېږي يا به د هغوي تر منځ فاصله او جدائي راوستل شي، نو په دغه اساس دغه ورځې ته "يوم الفصل" هم وئيل شي۔

**اٰيت نمبر ۲۲:** ۱۔د قيامت په ورځ به الله تعالٰي ملائکو ته څۀ حکم کوي؟

۱۔د قيامت په ورځ به الله تعالٰي ملائکو ته ظالمانو لره او د هغوي جوړو لره د جمع کولو حکم کوي۔

۲۔د ظالمانو د جوړو نه څوک مراد دي؟ ۲۔مفسرينو د دې نه درې قسم خلق مراد اخستي دي:

الف: د مشرکانو او کافرو پېروي کوونکي۔ ب: د کافرو مشرکانې ښځې چې په کفر کښې د هغوي پېروکارې وې۔ج: د يوې ډلې والا، يعني سود خوارۀ د سود خورو سره، شرابيان د شرابيانو سره وغېره۔

**علمي خبره:** د ظالم نه مراد کافر دي او د جوړې نه مراد هغه شېطان دے، چا چې دا دهوکه کړے دے۔ هر کافر به د خپل شېطان سره په زنځير کښې تړل شوے وي او دوزخ ته به ځي۔يا د ظالم نه مراد کافر او د جوړې نه مراد د هغۀ د جنس دويم کافر۔مشرک به د مشرک سره، اٰتش پرست به د اٰتش پرست سره او دهريه به د دهريه سره وي، وغېره وغېره۔

۳۔د کافرو او مشرکانو د معبودانو نه څوک مراد دي؟ ۳۔د کافرو د عبادت ګټې او ونې وغېره به هم دوزخ ته ځي، مګر د عذاب موندلو لپاره نۀ، بلکې د عذاب ورکولو لپاره۔لهٰذا په اٰيت باندې دا اعتراض نۀ شي کېدے چې بتانو څۀ ګناه کړې ده چې دوزخ ته به ځي۔

**علمي خبره:** عيسي عليه السلام او عزير عليه السلام خو د الله تعالٰي زامن منل شوي دي او خدايان ګڼل شوي دي، خو چونکې هغوي ته سجده نۀ ده شوې، نو په دغه اٰساس هغوي په دې کښې داخل نۀ دي۔

**اٰيت نمبر ۲۳:** ۱۔د قيامت په ورځ به د ظالمانو څۀ انجام وي؟ ۱۔دوي ټول به د جهنم لارې ته راښکل شي۔

**عملي اړخ:** د ظلم معنٰي ده، د بل چا په اختيار او ملکيت باندې قبضه کول يا څۀ څيز د هغۀ د اصل مقام په ځائے باندې بل ځائے ايښودل۔دلته د ظلم نه مراد کفر او شرک دے۔يعني هغه خلق چې د غېرالله عبادت کوي، ځکه چې په قراٰن حکيم کښې دي چې: "شرک کول لوے ظلم دے" (سورت لقمٰن ۳۱، اٰيت:۱۳) او کافر ظالمان دي۔(سورت البقره۲، اٰيت:۲۵۴)

**اٰيت نمبر ۲۴:** ۱۔د جهنم د لارې طرفته راښکونکو ظالمانو سره به څۀ معامله کول شي؟

۱ ـ دغه ظالمان به پهٔ لاره کښې ودرول شي او د هغوي نه به د هغوي د غلطو عقيدو او غلطو عملونو پهٔ حقله تپوسونه کول شي۔

**فرمان نبوي** : د قيامت پهٔ ورځ به د الله د خوا نه تر هغه وخته پورې د انسان قدمونه اوچت نهٔ شي، تر څو چې د هغهٔ نه د پنځهٔ خبرو تپوس اونهٔ شي۔

الف: عمر دې پهٔ څهٔ کښې تېر کړو؟

ب: ځواني دې پهٔ څهٔ کښې تېره کړه؟

ج: مال دې چرته وګټلو؟

د: مال دې چرته خرچ کړو؟

ط: څهٔ چې دې زده کړي وو پهٔ هغهٔ دې څومره عمل کړے ؤ؟ (جامع ترمذي)

د دې حديث شريف پهٔ رڼا کښې مونږ له د خپلو عملونو جائزه اخستل پکار دي۔

**آيت نمبر ۲۵**: ۱ ـ ملائکې به د ظالمانو مذمت څنګه کوي؟ ۱ ـ د هغوي نه به تپوس کوي چې څهٔ وشو چې نن تاسو د يو بل مرسته نهٔ کوئ۔ پهٔ دنيا کښې خو ستاسو يوه ډله وه او تاسو به د يو بل ډېره مرسته کوله۔

۲ ـ ملائکې به د ظالمانو نه دا پوښتنه ولې کوي؟ ۲ـ د عملونو د حساب سره سره د هغوي د ذليله کولو د پاره او د هغوي د دروغو د خدايانو د بې بسه ظاهره کولو د پاره دا پوښتنې کول شي۔ څنګه چې د سورت القمر ۵۴، آيت: ۴۴ کښې هم دي چې تاسو خو به وئيل چې "مونږ يوه ډله يو چې بدله اخستلو والا يو" يا داسې چې ستاسو وعده وه چې د قيامت پهٔ ورځ به زمونږ معبودان مونږ بچ کړي۔ اوس پهٔ تاسو باندې څهٔ وشول چې د يو بل مدد نهٔ کوئ؟

**آيت نمبر ۲۶**: ۱ ـ د ملائکو پهٔ مذمت باندې به ظالمان څهٔ جواب ورکوي؟

۱ ـ هغه به هيڅ جواب نهٔ ورکوي۔

۲ ـ د قيامت پهٔ ورځ به د آخرت نه د منکرو خلقو څهٔ کېفيت وي؟ ۲ـ هغه به بالکل عاجزه او مکمل فرمانبردار وي، څنګه چې بل ځاے فرمائيلي شوي دي:"او پهٔ هغه ورځ به هغوي د الله تعالی مخکښې

فرمانبردار پېش کېدل خوښوي او د دوي نه به ورک شي، هغه څۀ چې دوي د ځان نه جوړ کړي وو" (سورت النحل۱۲، اٰيت:۸۷)

**اٰيت نمبر۲۷:** ۱۔پۀ دې اٰيت کښې د کومو خلقو د خپل منځي مکالمې ذکر شوے دے؟

۱۔ د ګمراهانو او دنياداره سردارانو او د هغوي د کارکنانو د مکالمې بيان دے۔ مراد د مشرکينو د هغوي د سردارانو سره د مکالمې بيان دے۔ يعني ګمراهان او د هغوي ګمراه کوونکي به يو بل ته مخاطب وي او پۀ يو بل باندې به د ګمراهئ ذمه داري اچوي۔

**علمي خبره:** الله تعالیٰ د جهنم والو خپل منځي خبرې، د هغوي يو بل لره ملامت کول او ګمراهان د خپلو پېروکارو نه بې زاره کېدل، پۀ څو ځايونو کښې ذکر کړي دي۔ مثلاً سورت البقره۲، اٰيتونه:۱۲۲، ۱۲۷، سورت ابراهيم۱۴، اٰياتونه،۲۱، ۲۲، سورت الاعراف۷، اٰياتونه:۳۸، ۳۹، سورت سبا۳۴، اٰياتونه د ۳۱ نه تر ۳۳ او سورت المؤمن۴۰، اٰياتونه:۴۷، ۴۸۔

**اٰيت نمبر۲۸:** ۱۔ مشرکان به د خپلو سردارانو نه څۀ ګيله کوي؟ ۱۔ مشرکان به خپلو سردارانو ته وائي چې تاسو مونږ ګمراه کړي وو، تاسو به پۀ مونږ باندې زور کولو او زمونږ د ګمراه کولو کوشش به مو کولو۔

**علمي خبره:** د "اَلۡيَمِيۡن" معنیٰ قسم هم ده، ښے لاس هم او ښے اړخ هم دے۔ کۀ چرته د دې معنیٰ قسم واخستل شي، نو مطلب به ئې دا وي چې تاسو به قسمونه خوړل او ځان به مو زمونږ خېر خواه ظاهرولو او دا باور به مو مونږ ته راکولو چې حق هغه دے چې تاسو ئې پېش کوئ او د رسول تعليم باطل دے۔ (معاذالله) او کۀ چرته د دې معنیٰ ښے لاس واخستل شي، نو د دې نه به مراد قوت او طاقت وي۔ مطلب به دا وي چې تاسو به مونږ ته زور او قوت ښودلو او مونږ به مو مرعوب کولو۔ او کۀ ښے اړخ معنیٰ وي، نو مراد به ترې د خېر او نېکئ اړخ وي او مطلب به ئې دا وي چې تاسو به راتلئ او مونږ به مو د خېرخواهئ، نېکئ او حق دين د لارې نه دهوکه کولو او وئيل به مو چې د څۀ څيز چې مونږ تاسو له حکم درکوو، نيکي او حق دغه دے۔

د اٰيت پۀ لفظونو کښې پۀ يو وخت کښې د درې معنو ګنجائش دے او دا د کلام الله معجزه ده، ځکه چې د هغوي سردارانو به د ګمراه کولو د پاره دغه درې واړه طريقې استعمالولې۔

۲۔کمزوري خلق به پۀ خپلو سردارانو د خپلې ګمراهئ ذمه دارې ولې اچوي؟

۲ ـ د کمزورو پهٔ خپلو سردارانو باندې د ګمراهۍ د ذمه داري اچولو مقصدا به دا وي چې هغوي پهٔ څهٔ طريقه د عذاب نه بچ شي، خو هغوي به هېڅ کله د عذاب نه بچ نهٔ شي ـ

**اٰيت نمبر ۲۹:** ۱ ـ ګمراه سردار به د خپلو پېروکارانو د ګيلې څهٔ جواب ورکوي؟

۱ ـ د سردارانو وړومبے جواب به دا وي چې داسې نهٔ ده، بلکې تاسو پهٔ خپله ايمان نهٔ راوړو او پهٔ مونږ باندې پهٔ ناحقه سره الزام لګوئ ـ

**اٰيت نمبر ۳۰:** ۱ ـ ګمراه سردار به د قيامت پهٔ ورځ خپلو پېروکارانو ته نورې څهٔ څهٔ صفايانې پېش کوي؟

۱ ـ ګمراه سردار به خپلو پېروکارانو ته دويم جواب دا ورکوي چې زمونږ پهٔ تاسو باندې څهٔ داسې غلبه نهٔ وه چې تاسو مو پهٔ کفر پاتې کېدلو مجبورولئ ـ تاسو پهٔ خپله مرضۍ باندې پهٔ کفر مطمئين او خوشحاله وئ ـ دريم جواب به هغوي دا ورکوي چې تاسو پهٔ خپله د حد نه تېرېدونکي او سرکشۍ کولو والا وئ ـ پهٔ دغه اساس تاسو حق پرېښودو، پهٔ مونږ پسې شوئ او د پېغمبرانو مخالفت مو کولو ـ

**اٰيت نمبر ۳۱:** ۱ ـ ګمراه سردار او د هغهٔ پېروکار به د قيامت پهٔ ورځ د کوم حقيقت اعتراف کوي؟

۱ ـ هغوي به وائي چې نن به پهٔ مونږ باندې د الله تعالٰي عذاب ثابت شي ـ

۲ ـ د قيامت پهٔ ورځ به ګمراه سردار او د هغهٔ پېروکاران نور د کوم حقيقت اعتراف وکړي؟

۲ ـ هغوي به ووائي چې بې شکه مونږ به د الله تعالٰي عذاب څښکو ـ دا به د مخکښې درې واړو جوابونو پهٔ نتيجه کښې د ګمراه سردار څلورم جواب وي، يعنې مونږ پهٔ تاسو پهٔ کفر د ودرېدلو څهٔ زبردستي نهٔ وه کړې، بلکې پهٔ اصل کښې نهٔ تاسو ايمان راوړو او نهٔ مونږ ـ څنګه چې مونږ مجرمان وو، دغسې تاسو مجرمان وئ ـ لهٰذا انجام دا شو چې دواړه د عذاب مستحق شو ـ

**اٰيت نمبر ۳۲:** ۱ ـ د قيامت پهٔ ورځ به ګمراه سردار د خپلو پېروکارانو د ګمراهۍ څهٔ سبب بيانوي؟

۱ ـ هغوي به وائي چې مونږ پهٔ خپله هم ګمراه وو، نو مونږ تاسو هم ګمراه کړئ ـ دا به د ګمراهانو سردارانو پنځم جواب وي چې زمونږ پهٔ تاسو باندې څهٔ زور نهٔ ؤ، مګر مونږ پهٔ خپله ګمراه وو او ظاهره ده چې د ګمراه سړي نه د ګمراهۍ اړخ نه د بللو توقع کېدے شي ـ

**عملي اړخ:** ګمراه سړے لازمي دا غواړي چې بل سړے هم د دهٔ پهٔ شان شي، د دې د پاره چې څوک چا لره ملامت کولو والا پاتې نهٔ شي. لهٰذا مونږ له پهٔ خپله د عقل نه کار اخستل پکار دي او د داسې خلقو خبره منل راله نهٔ دي پکار. ګنه مونږ د قیامت پهٔ ورځ هغوي د خپلې ګمراهۍ ذمه داران نهٔ شو ګرځولے.

**اٰیت نمبر ۳۳:** ۱. د قیامت پهٔ ورځ به پهٔ ګمراهانو سردارانو او د هغوي پهٔ پېروکارانو کښې چا لره عذاب ورکول شي؟ ۱. هغوي ټول به د قیامت پهٔ ورځ پهٔ عذاب کښې شامل وي.

**عملي اړخ:** د قیامت پهٔ ورځ به د عوامو دا عذر د هغوي هېڅ پکار را نهٔ شي چې د هغوي د ګمراهۍ ذمه دار نور خلق وو. ځکه چې الله تعالٰي هر سړي له دومره عقل ورکړے دے چې پرې د حق او باطل تر منځ فرق وکړي. خاصکر پهٔ داسې صورت کښې، چرته چې د باطل پهٔ مقابله کښې د حق داعیان هم موجود وي. پهٔ دغه اساس به دغسې عوام او د هغوي سرداران دواړه پهٔ عذاب کښې شریک او حصه دار وي. څنګه چې پهٔ سورت الزخرف ۴۳، اٰیت: ۳۹ کښې بیان شوي دي چې "کله چې تاسو ظالمان وئ، نو نن ستاسو د ټولو پهٔ عذاب کښې شرکېدل څهٔ نفع نهٔ شي درکولے"

**اٰیت نمبر ۳۴:** ۱. د قیامت پهٔ ورځ به غلط انجام د کومو خلقو وي؟ ۱. د مجرمانو.

۲. د مجرمانو نه کوم خلق مراد دي؟ ۲. کافر او مشرکان.

**عملي اړخ:** د مجرمانو سره به الله تعالٰي دا سلوک ځکه کوي چې د قراٰن حکیم فرمان دے چې "مؤمن د فاسق پهٔ شان کېدے شي؟ دا دواړه هېڅ کله برابر نهٔ دي" (سورت السجده ۳۱، اٰیت:۱۸) چې د دغه دواړو برابرېدل ممکن نهٔ دي، نو مؤمن له ثواب نهٔ ورکول او کافر له عذاب نهٔ ورکول هم سَم (برابر) نهٔ دي.

**اٰیت نمبر ۳۵:** ۱. پهٔ دې اٰیت کښې د الله تعالٰي د عذاب څهٔ سبب بیان شوے دے؟

۱. د توحید نه انکار کول. یعني کافرو او مشرکانو لره به ګټې ته پهٔ ښکته کېدلو شرم نهٔ ورتلو، بلکې هغوي به د رب العالمین پهٔ وحدانیت منلو کښې د دې وجې نه تکبر کولو چې د رسول الله ﷺ پهٔ وینا باندې هغه د کلمه توحید اقرار ولې وکړي؟

**اٰیت نمبر ۳۶:** ۱. پهٔ دې اٰیت کښې د مشرکانو لپاره د جهنم د عذاب څهٔ وجه بیان شوې ده؟

۱. مشرکانو به د رسول الله ﷺ پهٔ شان کښې ګستاخي کوله.

۲. د مکې مشرکانو به د نبي کریم ﷺ پهٔ شان کښې څهٔ ګستاخي کوله؟ ۲. د مکې مشرکانو به نبي کریم ﷺ ته (معاذالله) شاعر او لېونے وئیلو.

۳۔د مکې مشرکانو به نبي کریم ﷺ ته شاعر یا لیونے (معاذالله) ولې وئیلو؟ ۳۔ځکه چې نبي کریم ﷺ به د هغوي مخې ته قرآن پېش کولو او هغوي به قرآن شاعري ګڼل او نبي کریم ﷺ ته به ئې شاعر وئیلو۔ (معاذالله)

**علمي خبره:** کافرو او مشرکانو به د رسول الله ﷺ پۀ خبره منلو سره تکبر محسوسولو۔ هغوي به خپل ځان د نبي کریم ﷺ مخکښې عاجزه او کمتر بیاموندو۔ د دغه احساس کمترۍ، حقارت او حسد پۀ وجه به هغوي د انتقام د جذبې نه ډک وو۔ د هغوي د جذباتو او احساساتو رد عمل د تکبر پۀ صورت کښې مخې ته راغلو۔ د دې نه علاوه هغوي د نورو حربو استعمال هم جاري وساتلو۔ رسول الله ﷺ چې کوم کلام پېش کړو، هغه ته شاعري وئیل او رسول الله ﷺ ته پۀ خپله شاعر او مجنون وئیل (معاذالله) د دغه احساس حقارت او کمترۍ انتقامي حربه وه، ګنه هغوي ډېر ښۀ پوهېدل چې نۀ خو دا کلام شاعري ده او نۀ دا رسول لیونے دے۔

**آیت نمبر ۳۷:** ۱۔ پۀ نبي کریم ﷺ د مشرکانو د لګولو شوو الزامونو الله تعالی څۀ جواب وکړو؟

۱۔الله تعالی دغه ټول الزامات رد کړل۔

۲۔پۀ دې آیت کښې الله تعالی د نبي کریم ﷺ څۀ شان بیان کړے دے؟

۲۔نبي کریم ﷺ د حق دین راوړونکے دے او د ټولو پېغمبرانو تصدیق کوونکے دے۔

۳۔د تصدیق کولو نه څۀ مراد دے؟ ۳۔یعني تۀ هغه دعوت پېش کوې، کومو چې تېرو شوو ټولو انبیاء کرامو علیهم السلام پېش کولو یا د دې تصدیق نه مراد دا دے چې تېرو شوو انبیاء کرام علیهم السلام چې د نبي کریم ﷺ کوم صفتونه بیان کړي وو، هغه ټول پۀ ټوله د نبي کریم ﷺ پۀ ذات کښې موجود وو۔

**آیت نمبر ۳۸:** ۱۔پۀ دې آیت کښې الله تعالی د رسالت نه منکرو ته څۀ خبردارے ورکړے دے؟

۱۔ پۀ دې آیت کښې الله تعالی د رسالت نه منکرو او ګستاخانو ته د دردناک عذاب خبردارے ورکړے دے۔

**آیت نمبر ۳۹:** ۱۔د قیامت پۀ ورځ به د مجرمانو سره څۀ معامله کول شي؟

۱۔د قیامت پۀ ورځ به مجرمانو ته د هغه غلطو عملونو سزا ملاوېږي، چې پۀ دنیا کښې به ئې کول۔

**آیت نمبر ۴۰:** ۱۔د قیامت پۀ ورځ به د الله تعالی د عذاب نه کوم خلق محفوظ وي؟

۱ ـ د الله تعالی مخلص یعني منتخب شوي بندګان۔

۲ ـ د مخلص بندګانو نه څوک مراد دي؟ ۲ ـ مخلص هغه خلق دي، کوم چې الله تعالی مخلص جوړ کړي دي او مخلص هغه خلق دي، چا چې خپل ځان د الله تعالی د پاره خالص جوړ کړے دے او چې د چا پهٔ عمل، ارادو او خواهش کښې د غېرالله څهٔ حصه نشته۔ کله چې انسان مخلص وي او د هغهٔ اخلاص الله تعالی قبلوي، نو د هغهٔ نه وروستو الله تعالی هغه د ځان د پاره مخلص جوړوي۔ وړومبے مُخْلِصْ وي او وروستو مُخْلَصْ۔ مُخْلَصْ هغه خلق وي چې الله تعالی د خپل رحمت د پاره خاص کړي وي او الله تعالی د خپل رحمت د پاره هغه خلق خاص کوي چې پهٔ خپل ایمان او عمل سره د هغهٔ حق ادا کوي۔ لفظ مُخْلَصْ صرف د دې حقیقت ظاهرولو د پاره استعمال شوے دے چې چاته څهٔ هم ملاوېږي، د الله تعالی پهٔ فضل ،کرم او رحمت سره ملاوېږي۔

**اٰیت نمبر ۴۱:** ۱ ـ د الله تعالی د دغه مخلصو بندګانو به د قیامت پهٔ ورځ څهٔ انعام او اکرام وي؟

۱ ـ هغوي له به معلوم رزق ورکول شي۔

۲ ـ د معلوم رزق نه څهٔ مراد دے؟ ۲ ـ جنت او د هغهٔ هغه نعمتونه، د کوم ذکر چې پهٔ قراٰن حکیم او حدیثونو کښې شوے دے۔

**اٰیت نمبر ۴۲:** ۱ ـ د قیامت پهٔ ورځ به د الله تعالی نېک بندګان پهٔ څهٔ کېفیت کښې وي؟

۱ ـ د هغوي مخې ته به مختلف قسم یعني پاستهٔ او خوارهٔ نعمتونه، ښائسته ذائقې والا، خوشبودارې او خوش رنګه جنتي مېوې پهٔ انتهائي عزت او اکرام سره پېش کول شي او هغوي ته به صرف د خوراک څښاک څیزونه نهٔ ملاوېږي، بلکې عزت او لوړ والے به ورته هم ملاوېږي۔

**علمي خبره:** پهٔ جنت کښې به د وجود پاتې کېدلو او ژوندي اوسېدلو د پاره د غذا ضرورت نهٔ وي، ځکه چې هغوي ته به داسې بدن ملاوېږي چې پهٔ هغهٔ کښې به څهٔ نقصان نهٔ پېدا کېږي۔ هلته به خوراک څښاک د لذت او سرور حاصلولو لپاره وي۔ د دې وجې نه د مېوو ذکر پهٔ خصوصیت سره شوے دے۔

**اٰیت نمبر ۴۳:** ۱ ـ پهٔ دې اٰیت کښې د جنت څهٔ تعریف بیان شوے دے؟

۱ ـ جنتونو ته د نعمتونو باغونه وئیل شوي دي۔

**علمي خبره**: د جنت د نعمتونو به دا خصوصیت وي چې صرف پۀ اراده سره به تر لاسه کیږي۔ د دې د حاصلولو لپاره به د څۀ محنت، مشقت او منډې ترړې یا چاته د سوال کولو ضرورت نۀ وي۔

**آیت نمبر ۴۴**: ۱۔مؤمنان به پۀ جنت کښې پۀ څۀ حال وي؟ ۱۔هغه به پۀ تختونو باندې یو بل ته مخامخ ناست وي۔

**علمي خبره**: پۀ دغه نعمتونو کښې د یو نعمت ذکر داسې شوے دے چې ملګري به یو بل ته مخامخ پۀ تختونو ناست وي او پۀ مختلفو موضوعاتو به د خبرو اترو نه خوند اخلي۔ دا خبرې اترې به خصوصاً د الله تعالٰي پۀ فضل، کرم او انعاماتو او احساناتو او د تېرې شوي دنیاوي زندګۍ پۀ مختلفو آزمېښتونو وي او د هغه خلقو ذکر به پۀ کښې هم وي چې پۀ دنیا کښې به ئې د دوي سره د دې ورځ پۀ حقله اختلاف لرلو او د دوي سره به ئې دښمني کوله۔

**آیت نمبر ۴۵**: ۱۔پۀ جنت کښې به مؤمنانو ته د څښکلو د پاره څۀ ملاویږي؟

۱۔د بهېدونکو شرابو جامونه به ورته ملاویږي۔دا شراب به د دنیاوي شرابو پۀ شان نۀ وي۔

۲۔پۀ دنیاوي شرابو کښې پۀ عمومي توګه څۀ څۀ خرابیانې ملاویږي؟

۲۔مثلاً د دنیا شراب انتهائي تراخۀ، بدبودار، بد مزه، د عقل ودرونکي، بې هوشه کوونکي، پۀ سر کښې درد پېدا کوونکي، پۀ خېټه کښې ګېس پېدا کوونکي، متیازو سوځوونکي، التي لګوونکي او پۀ طبیعت کښې ګډوډي پېدا کوونکي وي، خو د جنت شراب به د دې ټولو خرابیانو نه پاک وي۔

**علمي خبره**: بِكَأْسٍ: پۀ کومه پیالۍ کښې چې شراب موجود وي، پۀ عربۍ کښې هغې ته "کَأْس" وائي او پۀ کومه کښې چې شراب نۀ وي، هغې ته "قدح" وائي۔لهٰذا د لفظ کاس، ساغر یا جام وئیلو سره شراب پۀ خپله ذهن ته راځي۔ "مَّعِيْنٍ" د جاري پۀ معنو کښې راځي۔د شرابو چینې به جاري وي، چې د هغې نه به د جام ډکولو ضرورت هم نۀ وي۔بلکې پۀ جامونو کښې به جاري وي۔

**آیت نمبر ۴۶**: ۱۔پۀ دې آیت کښې د جنت د شرابو څۀ صفتونه بیان شوي دي؟

۱۔هغه د څښکلو والا د پاره انتهائي خوش رنګه، د شودو نه سپین او د ښۀ خوند والا وي۔

**آیت نمبر ۴۷**: ۱۔پۀ دې آیت کښې د جنت د شرابو څۀ اثرات بیان شوي دي؟

۱۔نۀ خو به د هغې د څښکلو سره پۀ سر کښې درد پېدا کیږي او نۀ به عقل خاموشه کوي۔

**علمي خبره:** د "غَوْلٌ" معنٰي نشه،د سر درد ،بې هوشي، پۀ طبیعت کښې ګډوډي او اچانک اوچتول دي.

**اٰیت نمبر ۴۸:** ۱.پۀ دې اٰیت کښې د جنت د کوم نعمت ذکر شوے دے؟

۱.پۀ دې اٰیت کښې د جنت د یو نعمت یعني حورو ذکر شوے دے.

۲.د حورو څۀ سیرت بیان شوے دے؟ ۲.هغه به د نظر ښکته ساتونکي یعني شرم او حیا والا وي او نېک سیرته به وي.

۳.د نظر ښکته ساتونکو والا نه څۀ مراد دے؟ ۳.هغه به د خپلو خاوندانو نه بغېر بل چاته نۀ ګوري او د دې نه یو مراد شرم او حیا هم ده چې د سړو او ښځو یو ښکلے زېور دے.د کوم پۀ حقله چې پۀ قراٰن حکیم کښې او حدیث شریف کښې تلقین شوے دے.

**عملي اړخ:** معلومه شوه چې پۀ جنت کښې به پرده وي، د دې د پاره چې څوک ښځه پردي سړي ته اونۀ ګوري.د متقي او پرهېزګاره نه به هم پرده وي.پۀ جنت کښې به ټول متقیان وي، خو جنتي ښځې او حورې به د هغوي نه هم پرده کوي.پۀ کوم کورونو کښې چې نن پرده ده، دغه جنتي کورونه دي او پۀ کوم کور کښې چې بې پردګي او بې حیایي ده، هغه دوزخي کورونه دي.

**اٰیت نمبر ۴۹:** ۱.د حورو د صورتونو څۀ ذکر شوے دے؟

۱.هغه پۀ صفائي او ښائست کښې د ګرد او غبار نه د ساتلو شوو انډو پۀ شان وي.یعني رنګ به ئې صفا، زړۀ راښکونکے او د دوړو نه بالکل صفا وي.

**علمي خبره:** سیده ام سلمهؓ چې کله د دې اٰیت تفسیر د رسول اللّٰه□ نه وپوښتو، نو نبي کریم□ وفرمائیل چې: د هغوي نرم والے او نزاکت به د هغه پردې پۀ شان وي، کومه چې د انډې د سپین او زېړ او پوستکي تر منځ وي" (ابن جریر)

**اٰیت نمبر ۵۰:** ۱.پۀ دې اٰیت کښې د کومو خلقو د خپل منځي خبرو ذکر شوے دے؟۱.د جنت والوو.

**علمي خبره:** د جنت والوو د خبرو یو مقصد غافله او سرکشه پۀ وخت خبرول دي.د دې نه دا هم معلومه شوه چې پۀ اٰخرت کښې به د کتلو او اورېدلو د قوتونو څۀ حال وي.پۀ جنت کښې ناست جنتي به د ځان پۀ لرې فاصله موجود دوزخي لیدلے هم شي او خبرې به ورسره هم شي کولے او د هغۀ جواب به هم اورېدے شي.هلته به ریډیو، ټیلي ویژن او یا بله کومه جدید ترین رسنۍ نۀ وي.

**آیت نمبر ۵۱:** ۱. جنت والا چې په خپل منځ کښې خبرې کوي،نو په هغه کښې به یو سړے د څاذکر کوي؟ ۱ ـ د خپل یو دوست.

**علمي خبره:** یو جنتي مؤمن به د دنیا د ژوند د ذکر په تسلسل کښې د خپل یو کافر دوست ذکر کوي چې په دې خبره به ئې په هغۀ پسې ټوقې کولې چې هغه په قیامت او اٰخرت باندې ایمان لرونکے ؤ او هغه کافر به هغه رټه لګولې وه، کومه چې هر کافر لګوي چې کله مونږ خاورې شو، نو د کومې جزا سزا د پاره به څنګه راپورته کولے شو ـ په راروان اٰیت کښې د دغه واقعه تذکره ده.

**علمي خبره:** مختصر قیصه دا ده چې د بني اسرائیلو دغه دواړه سړي، کافر او مؤمن په څۀ کار کښې د یو بل سره شریک وو او د هغوي سره اتۀ زره دیناره جمع شول ـ هغوي په خپل منځ کښې دغه تقسیم کړل او بیا د یو بل نه جدا شول ـ یو څلور زره په عېش او عشرت کښې خرچ کړل او یو د الله په لاره کښې صدقه کړل ـ د دواړو د مرګ نه وروستو الله تعالٰي د الله په لار کښې خرچ کولو والا جنت ته داخل شو او بل کوم چې د اٰخرت نه منکر ؤ، دوزخ ته واچول شو ـ د جنت والا سړے چې کله ناڅاپه د خپل دنیاوي دوست په حقله د ملائکې نه تپوس وکړي، نو مَلَک به ئې هغه ته وښايې چې په دوزخ کښې به سوځي ـ بیا به دغه جنتي دغه دوزخي ملامت کړي او وائي به ورته چې په الله تعالٰي مې دې قسم وي چې تا زۀ هلاکولم ـ کۀ چرته په ما باندې د خپل رب احسان نۀ ؤ.

**آیت نمبر ۵۲:** ۱ ـ جنت والا چې د کوم سړي خبرې کولې، آیا هغه مؤمن ؤ؟ ۱ ـ نۀ جي.

۲ ـ د هغۀ سړي عقیده څۀ وه؟ ۲ ـ هغه کافر ؤ او په مؤمنانو پسې به ئې ټوقې کولې.

**آیت نمبر ۵۳:** ۱ ـ هغه سړي په ایمان بالاخرت باندې څۀ اعتراض کولو؟

۱ ـ هغه به وئیل چې کله مونږ مړۀ شو او خاورې یا هډوکي شو، نو آیا مونږ به څوک ژوندي کړي او مونږ ته به څنګه بدله راکول شي؟ ګویا هغه د اٰخرت نه منکر ؤ.

**آیت نمبر ۵۴:** ۱ ـ الله تعالٰي به د خپل دوست ذکر کوونکي دغه جنتي سړي ته څۀ وفرمائي؟

۱ ـ آیا تۀ هغه لیدل غواړې؟

۲ ـ جنتي سړے به څۀ اظهار وکړي؟ ۲ ـ هغه به خپل دغه کافر دوست لیدل غواړي.

**آیت نمبر ۵۵:** ۱ ـ جنتي سړے به خپل کافر دوست په کوم حال کښې ومومي؟

١ ـ هغه به هغه د جهنم په منځ کښې ووينې ـ

**آيت نمبر ۵٦:** ١ ـ جنتي سړے چې خپل کافر دوست ووينې، نو څۀ به وائې؟

١ ـ هغه به وائي چې په الله مې دې قسم وي، تا خو زۀ هلاکولم ـ

٢ ـ د غلطو دوستانو څۀ نتيجه راوځي؟ ٢ ـ تباهي، بربادي او د جهنم عذاب ـ

**علمي خبره:** مونږ له د خپلو دوستانو جائزه اخستل او کتل پکار دي چې په هغوي کښې خو به څوک داسې سړے نۀ وي چې مونږ د دوزخ طرفته بوځي ـ په اکثرو وختونو کښې د يو نافرمانه سړي سره د تعلق جوړيدو نه وروستو انسان په غير محسوس انداز د هغۀ د غلطو فکرونو، نظرياتو او طرز زندګۍ نه متاثر کيږي او دا څيز د آخرت د انجام د پاره خطرناک وي ـ

**آيت نمبر ۵۷:** ١ ـ په دې آيت کښې د جهنم نه د بچ کيدلو څۀ سبب بيان شوے دے؟

١ ـ د الله تعالیٰ فضل ـ

**علمي خبره:** هر نعمت او هره خوبي او کمال د الله تعالیٰ د فضل او کرم نتيجه وي ـ په دغه اساس دغه د خپل څۀ لياقت يا قابليت د نتيجې ګڼلو په ځاے د الله تعالیٰ احسان منل پکار دي او د زړۀ او روح نه د هغۀ شکر ادا کول پکار دي ـ

**آيت نمبر ۵۸:** ١ ـ جنتيان به په څۀ خبره باندې خوشحاله وي؟ ١ ـ د جنت په هميشه نعمتونو کښې به په دوباره مرګ نۀ راتلو باندې هغوي خوشحاله وي چې اوس به هغوي ته کله هم مرګ نۀ راځي ـ

**علمي خبره:** د دې آيت يو تفسير دا هم دے چې هغه مؤمن به خپل کافر دوست ته دا خبره کوي، کوم چې د قيامت نه منکر ؤ او وئيل به ئې چې " زمونږ د وړومبي مرګ نه پس بل مرګ نشته او نۀ به مونږ دوباره ژوندي شو" (سورت الدخان۴۴، آيت:۳۵) دغه مؤمن به هغه کافر مخاطب کړي او وائي به چې اوس وګوره! ستا هغه خبره چې نۀ به مونږ مړۀ کيږو او نۀ به راله عذاب راکول شي، صحيح وختله کۀ غلطه؟ يعني اوس تۀ په اور کښې پروت يې ـ د دې نه ثابت شوه چې ستا خبره غلطه وه ـ

**آيت نمبر ۵۹:** ١ ـ جنتيان به په خپل منځ کښې د څۀ خبرې په خوشحالۍ سره ذکر کوي؟

١ ـ هغوي به وائي چې زمونږ د وړومبي مرګ نه وروستو به اوس نور مونږ نۀ مړۀ کيږو او نۀ به مونږ له عذاب راکول شي ـ

**فرمان نبوي** : "کله چې جنتیان جنت ته لاړ شي او دوزخیان دوزخ ته لاړ شي، نو مرګ به د ګډوري پۀ شکل کښې راوستل شي او هغه به د دوزخ او جنت پۀ منځ کښې حلال کړے شي. بیا به یو اٰواز کوونکے اٰواز وکړي چې اے جنتیانو اوس مرګ نشته او اے دوزخیانو اوس مرګ نشته. جنتیان چې دا خبره واوري، نو پۀ خوشحالئ کښې به ئې نوره اضافه وشي او دوزخیان چې دا خبره واوري، نو پۀ خفګان او غم کښې به ئې نوره اضافه وشي" (صحیح مسلم)

**اٰیت نمبر ۷۰**: ۱. پۀ دې اٰیت کښې کوم حقیقت عظیمه کامیابي ګڼل شوې ده؟ ۱. د الله تعالٰي د عذاب نه بچ کېدل او د همېشه همېشه نعمتونو جنت ته داخلېدل عظیمه کامیابي ګڼل شوې ده.

**عملي اړخ**: انسان له حقیقي نصب العین کامیابول پکار دي. دغه حقیقي کامیابي ده. څنګه چې بل ځاے د دې پۀ حقله ارشاد فرمائیلے شوے دے "بس چې څوک د اور نه بچ شو او جنت ته داخل شو، هغه کامیاب شو" (سورت آل عمران۳، اٰیت: ۱۸۵)

**اٰیت نمبر ۷۱**: ۱. زمونږ د پاره د مقابلې اصل مېدان څۀ دے؟

۱. د جنت پۀ شان د عظیمې کامیابئ د پاره عمل او محنت کول. پۀ دې لار کښې هر قسم مشقتونه، تکلیفونه او رکاوټونه پۀ صبر او تحمل سره برداشت کول او د هر قسمه قربانئ د پاره هر وخت تیار اوسېدل.

**اٰیت نمبر ۷۲**: ۱. د "نزل" څۀ معنٰي ده؟ ۱. د "نزل" معنٰي ده، د کوم څیز د لوړ ځاے نه ښکته رالوېدل. مېلمه چې څنګه هم پۀ کور کښې داخل شي او کوربه ئې فوراً کوم عزت او اکرام کوي او خوراک څښاک څیزونه ورته پېش کوي، دغه ته پۀ عربئ کښې نزل وائي. لکه پۀ یخنئ کښې ګرم ګرم د څښکلو څیزونه ورکول یا پۀ ګرمئ کښې یخ شربت څښکول. پۀ کور کښې داخلېدونکي مېلمه ته "نزیل" وئیل شي. چې مېلمه کله لږ ایسار شي، نو هغۀ ته "ضیف" وئیلے شي او د هغۀ د پاره بیا مېلمستیا کول شي. پۀ خوراک کښې ورله د قسم قسم څیزونو انتظام کول شي.

۲. د جنت نعمتونو ته **نُزُلًا** ولې وئیل شوي دي؟ ۲. پۀ قراٰن حکیم او حدیثونو کښې د جنت نعمتونه بیان شوي دي. دغه ته غالباً نزل (یعني وړومبے مېلمستیا والا) د دې وجې نه وئیل شوے دے چې جنتیانو ته به دا نعمتونه پۀ وړومبي وخت کښې پېش کول شي. د دې نه وروستو به ورله څۀ څۀ ورکول شي، پۀ دغه باندې زمونږ دماغ کار نۀ کوي. لکه د حدیث مبارک مطابق د جنت حقیقي نعمتونه هغه دي

چې نۀ د چا سترګو ليدلي دي، نۀ غوږونو اورېدلي دي او نۀ د چا پۀ زړۀ کښې د هغې خيال راغلے دے. (صحيح بخاري، صحيح مسلم)

۳. د جنت د نعمتونو پۀ مقابله کښې د جهنم د کوم عذاب ذکر شوے دے؟ ۳. پۀ جهنم کښې د زقوم د ونې.

۴. د زقوم ونه څۀ څيز دے؟ ۴. دا ونه پۀ عربو کښې د خپل تريخ والي پۀ لحاظ سره مشهوره ده. دې ته Cactus يا انډين انځر Cactus Indica او چتر توهر هم وئيلے شي. دا پۀ ذائقه کښې انتهائي تريخ، پۀ ليدلو کښې بدصورته او پۀ اثر کښې زهريلا وي. دا د جهنم پۀ ويخ کښې پېدا کېدونکې يوه ونه ده، پۀ کوم کښې به چې د زهريله مار د خرمنې د غنو پۀ شان مېوه کېږي او دا به د جهنميانو د پاره بدترين عذاب وي. د دغې ونې بدترينه مېوه به نۀ د هغوي تېرېږي او نۀ به ئې ګوزارلے شي. هغوي به پۀ سخت تکليف کښې وي.

فرمان نبوي : کۀ چرته د زقوم يو قطره د دنيا پۀ سمندرونو کښې وغورځول شي، نو د دې د بدبويۍ د وجې نه به د ټولې دنيا معيشت برباد شي، نو د هغه سړي حالت به څۀ وي، څوک چې دا خوري. (سنن ترمذي)

آيت نمبر ۶۳: ۱. الله د زقوم د ونې پېدا کېدو څۀ وجه ښودلې ده؟

۱. الله تعالی د زقوم ونه د ظالمانو لپاره فتنه جوړه کړې ده.

۲. د فتنې نه څۀ مراد دے؟ ۲. د فتنې نه يو مراد فساد يعني لوے مصيبت دے او دويم د دې نه مراد امتحان دے. مثلاً بعضې ګمراهان د الله تعالی پۀ قدرت باندې يقين نۀ ساتي او اعتراض کوي چې څنګه ممکن ده چې پۀ جهنم کښې ونه راوخېژي، خو د الله تعالی منونکي پوهېږي چې د الله تعالی د قدرت نه هېڅ هم لرې نشته.

آيت نمبر ۶۴: ۱. د زقوم د ونې محل او مقام څۀ بيان شوے دے؟ ۱. د زقوم ونه د جهنم د ويخ نه راوځي.

۲. د زقوم ونه پۀ اور کښې څنګه راختلے شي؟ ۲. کوم الله چې د سمندرونو پۀ ويخ کښې شنۀ بوټي رازرغون ولے شي، هغه الله پۀ اور کښې هم ونه پېدا کولے شي. د الله تعالی قدرت ته هېڅ هم ناممکن نۀ دي.

آيت نمبر ۶۵: ۱. د زقوم د ونې مېوه به پۀ کتلو کښې څنګه وي؟ ۱. د شېطانانو د سرونو پۀ شان.

۲۔ د شېطانانو د سرونو سره د تشبیه ورکولو نه څۀ مراد دے؟ ۲۔ څنګه چې کوم ښکلي، پاکیزه او ښۀ څیز له د ملائکې سره تشبیه ورکول شي او بد صورته، ناپاک او خراب څیز له د شېطان سره تشبیه ورکول شي۔ دغسې د زقوم ښاخونو لره د هغې د بدبویۍ، تریخ والي او بد صورتۍ پۀ وجه د شېطانانو د سرونو سره تشبیه ورکړل شوې ده۔ د څۀ مفسرینو رایې دا هم ده چې د دې نه مراد انتهائي خطرناک او وېرونکي شېطانان ماران دي۔

علمي خبره: ممکن ده چې د چا پۀ ذهن کښې راشي چې نۀ خو چا شېطان لیدلے دے اونۀ د هغۀ سر، نو بیا زقوم لره د هغۀ سره د تشبیه ورکولو څۀ فائده ده؟ در اصل خبره دا ده چې پۀ هره ژبه کښې د دغسې څیزونو سره تشبیه ورکول رواج پاتې شوے دے، د کوم تعلق چې سراسر د خیال سره وي، د حقیقت سره نۀ وي۔ خو تشبیه ځکه ورکول شي چې د اولس پۀ ذهنونو کښې ځینې وخت د تخیلي څیزونو تصور د حقیقت نه ژور وي او هغه د حقیقي څیزونو نه زیات پۀ ذهنونو باندې اثر غورځوي۔ مثلاً د یوې ښځې د انتهائي ښائست د تصور د پاره وئیلے شي چې هغه خو د ښاپېرۍ پۀ شان ده او د انتهائي بدصورتۍ بیانولو لپاره وئیل شي چې هغه خو شیشکه ده۔

تاسو هم چې کوم بدحاله او ببر وېښتو والا کس ووینئ، نو بې ساخته وایئ چې دا څۀ د پیري پۀ شان شکل دې جوړ کړے دے۔ حالانکې نۀ چا شیشکه لیدلې ده، نۀ ښاپېرۍ او نۀ پېرے، لیکن پۀ ذهنونو باندې د هغې اثرات د همېش لپاره پرېوتلي دي۔ دلته هم دغه حال دے۔ د زقوم پاڼو او غنو لره د شېطانانو د سرونو پۀ تشبیه ورکولو سره د هغۀ پۀ بدصورتۍ او وېره کښې د خطرناک حد پورې اضافه شوې ده۔

آیت نمبر ۶۶: ۱۔ د قیامت پۀ ورځ به مجرمانو لره د خوړولو د پاره څۀ ورکړل کېږي؟

۱۔ د وینو او زوو اوبۀ۔

آیت نمبر ۶۷: ۱۔ د قیامت پۀ ورځ به مجرمانو ته څۀ شے ورکړے شي؟ ۱۔د وینو زوو اوبۀ۔

آیت نمبر ۶۸: ۱۔ د قیامت پۀ ورځ به پۀ مجرمانوباندې د زقوم د مېوې خوړلو او وینو زوو د اوبو څښکولو نه پس څۀ کولے شي؟ ۱۔ هغوي به د جهنم پۀ اور کښې اچولے شي،ځکه چې د هغوي مستقل ټکاونه د جهنم اور دے۔

علمي خبره: د ګرمو اوبو مقام به د جهنم نه بهر وي۔ جهنمي چې کله تږے شي، نو هغه به د اور نه راوویستل شي او دغه خوټکېدلې اوبۀ به پرې وڅښکول شي او بیا به جهنم ته ستون کړے شي، اوبۀ

چې پۀ کوم مقام وي، هلته به اور نۀ وي. پۀ جهنم کښې څو درجې دي او پۀ هر ځاے کښې ځانله قسم عذاب دے. دا مضمون پۀ سورت الرحمٰن **۵۵**، اٰیت: **۴۴** کښې داسې بیان شوے دے. "هغه (جهنمي به چکرې وهي د دوزخ او ګرمو اوبو تر منځ"

**اٰیت نمبر ۶۹**: ۱. د مکې د مشرکانو پلار نیکۀ څنګه خلق وو؟ ۱. هم ګمراه خلق وو او پۀ شرک باندې مضبوط ولاړ وو.

**اٰیت نمبر ۷۰**: ۱. د مجرمانو جهنم ته د غورځېدو وړومبے سبب څۀ بیان شوے دے؟

۱. پلار پرستي یعني د ګمراه پلار نیکۀ ړوند تقلید کول.

**علمي خبره**: امام رازيؒ لیکلي دي چې د ګمراه پلار نیکۀ د ړوند تقلید پۀ حقله کۀ پۀ قراٰن کښې بل څۀ اٰیت وي هم نۀ، نو دا یو اٰیت کافي دے.

**اٰیت نمبر ۷۱**: ۱. د مکې د مشرکانو نه د وړومبنو قامونو د ګمراه کېدلو څۀ سبب ؤ؟

۱. د کافر او مشرک پلار نیکۀ ړوند تقلید.

**اٰیت نمبر ۷۲**: ۱. د خلقو د ګمراهۍ د بچ کولو د پاره الله تعالٰي څۀ اهتمام وکړو؟

۱. الله تعالٰي پۀ هر قام کښې د ګمراهۍ نه د بچ کولو او د هغوي د لارښودنې د پاره پېغمبران او رسولان لېږلي دي چې خلق به ئې د الله تعالٰي پۀ نافرمانۍ د عذاب نه وېرول.

**اٰیت نمبر ۷۳**: ۱. د انبیاء کرامو علیهم السلام د وېرولو باوجود هدایت نۀ موندونکو څۀ انجام شو؟

۱. هغوي پۀ دنیا او اٰخرت کښې د الله تعالٰي د عذاب مستحق شول.

**اٰیت نمبر ۷۴**: ۱. د الله د عذاب نه به کوم خلق بچ کېږي؟ ۱. مؤمنان.

۲. الله تعالٰي دغه مؤمنانو لره پۀ دې اٰیت کښې څۀ خاص لقب ورکړے دے؟

۲. "عِبَادَاللهِ الْمُخْلَصِيْنَ" یعني د الله تعالٰي مخلص بندګان.

نوټ: د مخلص نور وضاحت د دې سورت پۀ اٰیت نمبر ۴۰ کښې ولولئ.

**اٰیت نمبر ۷۵**: ۱. پۀ دې اٰیت کښې د الله تعالٰي د کوم مخلص بنده مثال بیان شوے دے؟ ۱. د نوح عليه السلام.

۲ ـ پهٔ دې سورت کښې د الله تعالٰي د کومو مخلصو بندګانو ذکر شوے دے؟

۲ ـ پهٔ دې سورت کښې د الله تعالٰي د نهو انبياء کرامو عليهم السلام ذکر شوے دے. الف: نوحؑ ـ ب: ابراهيمؑ ـ ج: اسماعيلؑ ـ د: اسحاقؑ ـ ع: موسٰيؑ ـ غ: هارونؑ ـ ف: الياسؑ ـ ق: لوطؑ ـ ک: يونسؑ ـ

۳ ـ پهٔ دې اٰيت کښې د نوحؑ د کوم فرياد ذکر شوے دے؟ ۳ ـ نوحؑ د قام د سرکشئ نه تنګ راغلو او الله تعالٰي ته ئې اٰواز وکړو، څنګه چې پهٔ (سورت القمر **۵۴**، اٰيت: ۱۰) کښې دي: "**اِنِّیْ مَغْلُوْبٌ فَانْتَصِرْ**" بې شکه بس زهٔ مغلوب يم، تهٔ ترې بدله واخلې.

۴ ـ پهٔ دې اٰيت کښې د الله تعالٰي کوم شان بيان شوے دے؟ ۴ ـ الله تعالٰي پهٔ وخت فرياد اورېدلو والا او ښهٔ مرسته کوونکے دے.

**اٰيت نمبر ۷۶**: ۱ ـ الله تعالٰي د نوحؑ د فرياد څهٔ جواب ورکړو؟

۱ ـ الله تعالٰي د هغهٔ پهٔ فرياد د هغهٔ مرسته وکړه او هغه او د هغهٔ کور والا ئې د لوے مصيبت نه بچ کړل.

**اٰيت نمبر ۷۷**: ۱ ـ پهٔ دې اٰيت کښې د نوحؑ د کوم اعزاز ذکر شوے دے؟

۱ ـ الله تعالٰي د نوحؑ د درې مؤمنانو زامنو نه انساني نسل زيات کړو.

**علمي خبره**: د اکثرو مفسرينو پهٔ نزد باندې د دې اٰيت مطلب دا دے چې د نوحؑ پهٔ زمانه کښې د نافرمانو د هلاکت نه وروستو د ټولې دنيا نسل د نوحؑ د درې زامنو حام، سام او يافث نه وزېږېدلو. د دې وجې نه نوحؑ ته "اٰدم ثاني" هم وئيلے شي. د سام نه اهل عرب او اهل فارس وغېره، د حام نه د افريقائي ملکونو اٰبادي، بعضو خلقو د هندوستان اوسېدونکي هم پهٔ دغه نسل کښې شامل کړي دي. د يافث نه ترک، منګول او د ياجوج ماجوج نسلونه زېږېدلي دي. کوم خلق چې د نوحؑ پهٔ کشتئ کښې سوارهٔ شوي وو او د طوفان نه بچ شوي وو، پهٔ هغوي کښې د نوحؑ د درې زامنو نه سېوا د بل چا نه نسل نهٔ دے زېږېدلے.

**فرمان نبوي**: "سام د اهل عربو پلار دے، حام د اهل حبشه پلار دے او يافث د اهل روم" (جامع ترمذي، مستدرک حاکم)

**آيت نمبر ۷۸:** ۱۔ الله تعالٰي پهٔ نوحؑ باندې څهٔ انعام کړے ؤ؟

۱۔ الله تعالٰي د هغهٔ نه پهٔ وروستو راتلونکو خلقو کښې د هغهٔ نوم ژوندے وساتلو۔

۲۔ د ذکر باقي ساتلو نه څهٔ مطلب دے؟ ۲۔ د دې مطلب دا دے چې د نوحؑ نه وروستو کوم خلق پېدا شول، د هغوي پهٔ نظر کښې ئې نوحؑ دومره عزت مند کړو چې هغوي به د قيامت پورې د نوحؑ د پاره د سلامتۍ دعا کوي۔ حقيقت هم دا دے چې هغه ټول مذهبونه چې ځان اسماني کتابونو ته منسوبوي، ټول د نوحؑ د نبوت او تقدس قائل دي۔ د مسلمانانو نه علاوه يهوديان او نصرانيان هم نوحؑ خپل پېشوا مني۔

**آيت نمبر ۷۹:** ۱۔ پهٔ دې آيت کښې د نوحؑ څهٔ فضيلت بيان شوے دے؟

۱۔ پهٔ ټولو مخلوقاتو کښې به پهٔ هغهٔ باندې سلامتيا وي۔

**عملي اړخ:** د مرګ نه وروستو د چا ذکر پهٔ خېر سره پاتې کېدل، لوے رحمت دے۔ مونږ له هم داسې عملونه او کارونه کول پکار دي چې پهٔ هغهٔ سره مونږ خلق پهٔ ښو لفظونو سره ياد کړي۔ د مثال پهٔ توګه د صدقه جاريه کار، د قرآن د خدمت څهٔ کار، د جمات کار، د ديني جماعتونو خدمت، د مسافر خانو او کوهيانو جوړول او د الله د مخلوق نور کارونه وغېره۔

**آيت نمبر ۸۰:** ۱۔ الله تعالٰي خپلو نېکو بندګانو ته څنګه صله ورکوي؟ ۱. الله تعالٰي خپلو نېکو بندګانو ته پهٔ دنيا کښې هم عزت ورکوي او پهٔ آخرت کښې به عزت او لوړه مرتبه ورکوي۔

۳۔ محسنين چاته وئيل شي؟ ۳۔ د محسنينو نه مراد احسان کوونکي دي۔ د څهٔ کار پهٔ ښه طريقه پوره کولو ته احسان وئيلے شي۔ "احسان د الله تعالٰي پهٔ عبادت کښې هم وي او د بندګانو سره هم۔ د الله تعالٰي پهٔ عبادت کښې د احسان ذکر پهٔ حديث جبريلؑ کښې دے، چې نبي کريم□وفرمائيل چې "احسان دا دے چې تهٔ د الله تعالٰي عبادت پهٔ داسې طريقه وکړې چې ګويا تهٔ هغه وينې او کهٔ تهٔ هغهٔ نهٔ وينې، نو دا يقين کوه(دا خيال کوه چې) هغه تا وينې" (صحيح بخاري)

د بندګانو سره د احسان ذکر قارون ته د خپل قام پهٔ نصيحت کښې دے۔ فرمائيلي شوي دي "څنګه چې پهٔ تا باندې الله تعالٰي احسان کړے دے، تهٔ هم احسان وکړه" يعني د څهٔ معاوضې نه بغېر د هغوي سره نيکي وکړه۔ (سورت القصص۲۸، آيت:۷۷)

**عملي اړخ:** الله تعالی چې څنګه نوح عليه السلام ته بدله ورکړه، د هغهٔ دعا ئې قبوله کړه، هغه او د هغهٔ سره مؤمنانو ته ئې د لوے مصیبت نه نجات ورکړو او پهٔ هغوي باندې ئې سلامتیا د قیامت پورې جاري وساتله، دغسې الله تعالی ټولو احسان کوونکو ته بدله ورکوي۔ پهٔ دې آیت کښې د رسول ﷺ،د هغهٔ صحابه کرامو رضي الله تعالی عنهم او ټولو مؤمنانو ښځو او سړو د پاره لویه خوش خبري دي۔

**آیت نمبر ۸۱:** ۱۔نوح عليه السلام د الله تعالی د څنګه بندګانو نه ؤ؟ ۱۔نوح عليه السلام د کاملو مؤمنانو بندګانو نه ؤ۔

۲۔نوح عليه السلام د دغه فضیلت او مرتبې ورکولو بنیاد څهٔ ښودل شوے دے؟

۲۔ نوح عليه السلام دغه اعلی مرتبه او فضیلت د هغهٔ د هغه ایماني مرتبې پهٔ وجه ورکړل شو، پهٔ کومه چې هغه ولاړ ؤ۔

۳۔د الله تعالی پهٔ نزد د ایمان څهٔ اهمیت دے؟ ۳۔ د الله پهٔ نزد د ایمان ډېر اهمیت دے، ځکه چې پهٔ دې کښې د دین ټولې عقیدې او عملونه راځي۔ ایمان او یقین هغه بنیاد دے، پهٔ کوم سره چې محبت، نیکې، د فنا في الله جذبه پهٔ وجود کښې راځي۔ بیا چې څنګه ایمان مکمل وي، دغسې به بدله مکمله وي۔

**آیت نمبر ۸۲:** ۱۔د نوح عليه السلام د قام د نافرمانه خلقو څهٔ انجام شولو؟

۱۔الله تعالی هغوي ټول د طوفان پهٔ عذاب سره غرق کړل۔

**آیت نمبر ۸۳:** ۱۔ د الله تعالی د مخلصو بندګانو مثال د بل چا بیانول شي؟

۱۔د آیت نمبر۸۳ نه تر ۱۱۳ د ابراهیم عليه السلام مثال بیان شوے دے۔

۲۔ابراهیم عليه السلام پهٔ کومه طریقه روان ؤ؟ ۲۔ابراهیم عليه السلام د نوح عليه السلام پهٔ شان د اسلام پهٔ طریقه روان ؤ۔

**آیت نمبر ۸۴:** ۱۔د ابراهیم عليه السلام څهٔ شان بیان شوے دے؟

۱۔ابراهیم عليه السلام پهٔ انتهائي اخلاص سره د الله تعالی د وحدانیت اقرار کوونکے ؤ۔

۲۔د قلب سلیم نه څهٔ مراد دے؟ ۲۔صحیح سلامت او بې لالچه، پاک زړے۔

**علمي خبره:** د قلب سلیم یعني سلامتۍ والا پاک زړهٔ نه مراد داسې زړهٔ دے چې د کفر او شرک، نفاق، شکونو ، شبهاتو او د هر قسم اخلاقي، عقیدتي یا عملي خرابۍ نه پاک وي۔ د قلب سلیم دننه د

صفائي، اخلاص، سیدها والي او پاکیزګۍ مفهومونه شامل دي . داسې زړۀ چې پۀ هغۀ کښې د نافرمانۍ او سرکشۍ څۀ خیال نۀ وي . د الله او د هغۀ د رسول ﷺ پۀ محبت کښې د بل چا محبت رکاوټ نۀ وي . هغه زړۀ چې د الله پاک د محبت پۀ حصول کښې د لوېې نه لوېې قربانۍ نه هم دریغ اونۀ کړي . د شاعر پۀ قول:

ہر تمنا دل سے رخصت ہوگئی　　　اب تو آجا اب تو خلوت ہوگئی

ژباړه: هره تمنا د زړۀ نه رخصت شوه .

اوس خو راشه، اوس خو یواځې والے شو .

**عملي اړخ:** الله تعالیٰ هر سړے پۀ فطرت سلیم سره پېدا کړے دے . فطرت سلیمه د انساني زړۀ هغه کېفیت دے، پۀ کوم کښې چې د هغۀ روح او فطرت پۀ خپل اصلي حالت کښې وي . د هغۀ اصل خدوخال صحیح سلامت وي . پۀ هغۀ باندې د غفلت او مادیت پردې نۀ وي راخورې شوې او هغه مسخ شوے نۀ وي . الله تعالیٰ پۀ فطري توګه پۀ انساني زړۀ کښې توحید، نېکي، د غلطۍ پېژندګلو، هر قسمه سلامتي، راستي او ریښتین ولي ایښودې ده . پۀ دنیاوي ماحول کښې شیطان او نفس د انسان دننه کوږوالے پېدا کوي . اوس زمونږ کار دا دے چې مونږ اوس د فطرت پۀ دغه سیدها والي ځان روان وساتو او د خپل سلیم زړۀ حفاظت وکړو .

**فرمان نبوي :** "د انسان پۀ زړۀ کښې د غوښې یوه ټوکړه ده، کۀ چرته هغه صحیح وي، نو ټول بدن صحیح وي او کۀ پۀ هغۀ کښې فساد پېدا شي، نو پۀ ټول بدن کښې فساد پېدا کېږي، نبي کریم ﷺ وفرمائیل، واورئ! او هغه زړۀ دے" (صحیح مسلم)

**آیت نمبر ۸۵:** ۱ . پۀ دې آیت کښې د ابراهیم علیه السلام د کوم اهم کار ذکر شوے دے؟

۱ . هغه آزر او خپل قام ته د توحید دعوت ورکونکے ؤ .

**علمي خبره:** د مفسرینو د یوې رایې مطابق آزر د ابراهیم علیه السلام د پلار نوم ؤ . ځینې مؤرخینو وئیلي دي چې د ابراهیم علیه السلام د پلار نوم تارخ ؤ او لقب ئې آزر ؤ . خو د مفسرینو د یوې ډلې مطابق د ابراهیم علیه السلام د پلار نوم تارخ ؤ چې د الله د توحید قائل ؤ او د ترۀ نوم ئې آزر ؤ چې پۀ شرک کښې اخته شوے ؤ او ترۀ ته د عربۍ پۀ محاوراتو کښې پلار وئیل عام دي او مونږ هم ترۀ ته کاکا یا بابا وایو .

**عملي اړخ**: د ابراهیم عليه السلام پهٔ دې مکالمه کښې زمونږ د پاره دا لاربښودنه ده چې د کلمه حق پهٔ وئیلو کښې انسان له وېره محسوسول نهٔ دي پکار او د خپل ځان نه غټو خلقو لره پهٔ دعوت حق کښې پهٔ احترام سره ذره هم سستي نهٔ ده پکار او نهٔ شاته کېدل پکار دي۔ د حق اظهار بې وېرې او بې خطره کول پکار دي او نتیجه پهٔ الله تعالیٰ باندې پرېښودل پکار دي۔

**اٰیت نمبر ۸۶**: ۱۔اٰزر او د هغهٔ قام پهٔ کومه ګمراهئ کښې اخته وو؟

۱۔هغوي یو الله پرېښودے وُ او د دروغژنو معبودانو عبادت ئې کولو۔

**اٰیت نمبر ۸۷**: ۱۔ابراهیم عليه السلام اٰزر او قام ته څهٔ خبره ښودله؟ ۱۔ابراهیم عليه السلام قام او اٰزر ته دا ښودل غوښتل چې هغوي د یو الله عبادت وکړي چې د تمامو جهانونو رب دے۔

**اٰیت نمبر ۸۸**: ۱۔د دې اٰیت څهٔ پس منظر دے؟ ۱۔د ابراهیم عليه السلام قام د خوشحالئ د یو تهوار د لمانځلو لپاره د اٰبادئ لرې تلل او ابراهیم عليه السلام ئې د ځان سره بوتلل غوښتل، خو ابراهیم عليه السلام د هغوي سره تللو ته تیار نهٔ وُ۔

۲۔یو ستوري ته پهٔ غور د کتلو څهٔ معامله وه؟ ۲۔دا یو تدبیر وُ، د دې د پاره چې د هغهٔ قام هغه د ځان سره پهٔ بوتللو ټینګ نهٔ شي او هغه پهٔ خپل حال پرېږدي۔

۳۔ابراهیم عليه السلام دا تدبیر ولې اختیار کړو؟ ۳۔د ابراهیم عليه السلام قام د بت پرستئ سره سره ستوري پرست هم وُ او هغوي به پهٔ خپلو معاملاتو کښې د ستورو نه مرسته او تعاون اخستلو۔هغه خلق د ستورو د اثر قائل وو۔ پهٔ دغه اساس ابراهیم عليه السلام د هغوي د معمول مطابق ستورو طرف ته کتل۔ ستورو ته پهٔ کتلو سره قام ته پته ولګېده چې هغه د ستورو نه د راروان وخت خبر معلوموي۔ پهٔ دغه وجه ابراهیم عليه السلام پهٔ دې طریقه اختیارولو سره د هغوي د علم مطابق خبرې وکړې چې د هغهٔ قام هغه د ځان سره پهٔ بوتللو ټینګار اونهٔ کړي۔

**اٰیت نمبر ۸۹**: ۱۔ابراهیم عليه السلام د قام سره تهوار ته د نهٔ تللو څهٔ وجه بیان کړې ده؟

۱۔ابراهیم عليه السلام وفرمائیل چې زهٔ بیمار یم۔

۲ ـ ابراهيمؑ ته څۀ بېماري وه؟ ۲ ـ هسې خو هر انسان ته څۀ نا څۀ بېماري وي، خو ابراهيمؑ چې د خپل قام كفر او شرک وليدو، نو د سخت درد او غم نه بېمار شو او پۀ خپل زړۀ ئې د قام د كفر بوج محسوسولو ـ دغسې ابراهيمؑ د خپل قام د پوهولو لپاره يو تدبير اختيار كړو ـ

**اٰيت نمبر ۹۰:** ۱ ـ د ابراهيمؑ د تدبير څۀ نتيجه راووتله؟

۱ ـ د هغۀ د قام خلقو ابراهيمؑ پرېښودلو او پۀ خپله د تهوار لمانځلو له لاړل او هغوي ابراهيمؑ د ځان سره پۀ بوتللو ټينګار اونۀ كړو ـ

**اٰيت نمبر ۹۱:** ۱ ـ ابراهيمؑ د قام د تلو نه وروستو څۀ تدبير اختيار كړو؟ ۱ ـ هغه پۀ پټه باندې د قام بت خانې ته لاړو ـ

۲ ـ ابراهيمؑ د بتانو د سپک والي او بې وسۍ اظهار څنګه وكړو؟ ۲ ـ ابراهيمؑ بتانو ته وفرمائيل چې څۀ ستاسو مخې ته پراتۀ دي،دا وخورئ او وښنكۍ ـ تاسو دا ولې نۀ خورئ؟

**اٰيت نمبر ۹۲:** ۱ ـ ابراهيمؑ د بتانو بې وسي نوره څنګه پۀ ډاګه كړه؟

۱ ـ ابراهيمؑ بتانو ته وفرمائيل، تاسو خبرې ولې نۀ كوئ؟

**علمي خبره:** ابراهيمؑ ته پته وه چې دغه بتان نۀ خوراک شي كولے او نۀ خبرې ـ پۀ حقيقت كښې هغۀ دغه خبره د بتانو د بې وسۍ ظاهرولو او د هغوي نه د سخت نفرت او غصې د اظهار د پاره كړې وه ـ څنګه چې پۀ عامه توګه پۀ دغسې موقعو دغه كېفيت وي ـ

**اٰيت نمبر۹۳:** ۱ ـ ابراهيمؑ د قام مخې ته د بتانو د بې وسۍ ظاهرولو د پاره څۀ تدبير اختيار كړو؟

۱ ـ ابراهيمؑ د نبي اړخ نه شروع وكړه او ټول بتان ئې مات كړل، د دې د پاره چې قام ته پته ولګي چې كوم بتان خپل حفاظت نۀ شي كولے، نو هغه به ستاسو حفاظت څۀ وكړي ـ

**اٰيت نمبر۹۴:** ۱ ـ د ابراهيمؑ قام چې كله د مېلې نه واپس راغلو او خپل بتان ئې مات وليدل، نو هغوي څۀ طرز عمل اختيار كړلو؟ ۱ ـ هغوي د ابراهيمؑ خوا ته لاړل او د هغۀ نه ئې تپوس وكړو ـ

**اٰيت نمبر۹۵:** ۱ ـ ابراهيمؑ خپل قام ته څۀ نصيحت وكړو؟ ۱ ـ ابراهيمؑ ورته وفرمائيل چې اٰيا تاسو هغۀ څيز ته سجده كوئ چې تاسو پۀ خپلو لاسونو تراشلي او جوړ كړي دي ـ

**آيت نمبر ۹۶:** ۱ ـ ابراهيمؑ خپل قام ته د څهٔ خبرې دعوت ورکړو؟

۱ ـ ابراهيمؑ قام ته وفرمائيل چې الله تعالٰي تاسو پېدا کړي يئ او الله تعالٰي د دې ټولو څيزونو خالق دے، د کومو چې تاسو عبادت کوئ، خوا کهٔ هغه نمر، سپوږمۍ او ستوري دي، يا هغه ګټې دي چې تاسو پهٔ خپله تراشلي دي او بتان مو ترې جوړ کړي دي ـ لهٰذا تاسو له د مخلوق پهٔ ځائے د هغه خالق، الله عبادت کول پکار دي ـ

**علمي خبره:** د ټولو عملونو او کارونو پېدا کوونکے الله دے ـ د هر عمل د پاره قدرت ورکولو والا او د هغهٔ د پاره ټول اسباب برابرولو والا الله دے، خو بنده خپل اختيار استعمالوي او عملونه کوي، خواه کهٔ هغه د فرمانبردارۍ کار کوي يا سرکشۍ والا کار ـ د دغه اختيار پهٔ اساس پهٔ دنيا کښې د بنده امتحان دے او د هغهٔ د دغه عملونو پهٔ بنياد پهٔ اٰخرت کښې د هغهٔ صحيح يا غلط انجام وي ـ

**اٰيت نمبر ۹۷:** ۱ ـ د ابراهيمؑ د دعوت پهٔ قام باندې څه اثر وشو؟

۱ ـ قام د هغهٔ دعوت رد کړو او هغهٔ لره د سزا ورکولو پهٔ تجويزونو کښې لګيا شول ـ (معاذالله)

۲ ـ د ابراهيمؑ قام د ابراهيمؑ د پاره څهٔ سزا تجويز کړه؟ ۲ ـ هغوي ووئيل چې د ابراهيمؑ د پاره د اور يوه لويه کنده جوړه کړئ او پهٔ هغه کښې دا وغورځوئ (معاذالله) ـ

**اٰيت نمبر ۹۸:** ۱ ـ د ابراهيمؑ خلاف د هغهٔ د قام د سازش څهٔ انجام راووتلو؟

۱ ـ الله تعالٰي د ابراهيمؑ د پاره اور يخ کړو او د هغهٔ قام ئې رسوا کړو ـ څنګه چې پهٔ سورت الانبياء ۲۱، آيت: ۶۹ کښې فرمائيلي شوي دي "اے اوره! پهٔ ابراهيمؑ باندې سلامتۍ والا جوړ شه او يخ شه"

**اٰيت نمبر ۹۹:** ۱ ـ د الله تعالٰي پهٔ فضل سره د اور نه پهٔ حفاظت سره د وتلو نه وروستو ابراهيمؑ څهٔ وکړل؟ ۱ ـ کله چې د ابراهيمؑ قام د هغهٔ د سر دښمن جوړ شو، نو د الله تعالٰي پهٔ حکم ابراهيمؑ د خپل ملک نه شام طرفته هجرت وکړو ـ

۲ ـ ابراهيمؑ د کومې علاقې اوسېدونکے ؤ؟ ۲ ـ ابراهيمؑ د عراق اوسېدونکے ؤ ـ

۳ ـ ابراهيمؑ کوم ملک طرفته هجرت وکړو؟ ۳ ـ ابراهيمؑ د الله تعالٰي پهٔ حکم سره شام ته هجرت وکړو ـ

**۴ـ د هجرت پهٔ وخت کښې د ابراهيمؑ سره څوک وو؟** ۴ ـ د هجرت پهٔ وخت کښې د ابراهيمؑ سره د هغهٔ ښځه ساره عليها السلام او د هغهٔ ورارهٔ لوطؑ هم وو ـ

**۵ـ ابراهيمؑ د هجرت پهٔ وخت کښې د چا پهٔ لاربښودنه بهروسه وکړه؟** ۵ ـ ابراهيمؑ چې کله د خپل وطن نه ووتلو، نو هغهٔ ته پته نهٔ وه چې هغهٔ لره کوم اړخ ته تلل دي،مګرهغه ته پهٔ خپل رب د بهروسې پهٔ وجه يقين ؤ چې هغه به ضرور د هغهٔ لاربښودنه کوي ـ

**عملي اړخ:** رسول الله□فرمائيلي دي: "تاسو د الله تعالیٰ د احکامو حفاظت وکړئ، هغه به ستاسو حفاظت وکړي" (جامع ترمذي) او دا خبره يقيني ده چې کوم سړے د الله پهٔ خاطر څهٔ څيز پرېږدي، نو الله تعالیٰ هغهٔ لره د هغه څيز نه بهتر څيز ورکوي ـ

**اٰيت نمبر ۱۰۰:** **۱ ـ ابراهيمؑ د هجرت پهٔ وخت د الله تعالیٰ نه څهٔ دعا وغوښتله؟**

۱ ـ ابراهيمؑ د هجرت پهٔ وخت د الله تعالیٰ نه د نېک اولاد دعا وغوښتله ـ

**اٰيت نمبر ۱۰۱:** **۱ ـ الله تعالیٰ ابراهيمؑ ته څهٔ زېرے ورکړو؟** ۱ـ الله تعالیٰ ابراهيمؑ ته د يو صاحب علم زوے زېرے ورکړو ـ

**۲ ـ د صاحب علم زوے نه څوک مراد دے؟** ۲ ـ اسماعيلؑ ـ

**علمي خبره:** د علم معنیٰ بردبار، صبر او برداشت او د برداشت کولو قوت شوې ده ـ بې شکه سيدنا اسماعيلؑ پهٔ خپل ژوند کښې يو ځل نهٔ، بار بار د صبر کوونکي ثبوت پېش کړے دے ـ

**۳ ـ د اسماعيلؑ مور څوک وه؟** ۳ ـ هاجره سلامٌ عليها

**۴ـ د ابراهيمؑ د هاجره سلامٌ عليها سره ملاقات څنګه وشو؟** ۴ ـ د الله تعالیٰ پهٔ حکم باندې ابراهيمؑ هجرت وکړو او مصر ته ئې تشريف يوړو ـ هلته د مصر بادشاه د ابراهيمؑ او ساره سلامٌ عليها نه سخت متاثره شو او هغهٔ هاجره سلام عليها د ساره سلام عليها پهٔ خدمت کښې پېش کړله ـ وروستو د ابراهيمؑ سره د هغې نکاح وشوه ـ

بيا الله تعالیٰ د هاجره سلامٌ عليها نه ابراهيمؑ ته وړومبے زوے يعني اسماعيلؑ ورکړو ـ

**۵ـ د اسماعيلؑ د پېدائش پهٔ وخت د ابراهيمؑ عمر څومره ؤ؟**

**۵ ـ د اکثرو مفسرينو پۀ نزد باندې د هغۀ عمر ۸۷ کاله ؤ ـ**

**۲ ـ پۀ دې اٰيت کښې څۀ واقعه بيان شوې ده؟** **۲ ـ پۀ دې اٰيت کښې د انساني تاريخ د عظيمې قربانۍ ذکر دے ـ واقعه دا ده چې ابراهيم** عليه السلام **د الله تعالٰي پۀ حکم باندې د خپل زوے اسماعيل** عليه السلام **قربانۍ ته تيار شوے ؤ ـ**

**اٰيت نمبر ۱۰۲: ۱ ـ د اسماعيل** عليه السلام **د عظيم الشانې قربانۍ تفصيل څۀ دے؟**

**۱ ـ کله چې د ابراهيم** عليه السلام **کره اسماعيل** عليه السلام **پېدا شو، نو د الله تعالٰي پۀ حکم ابراهيم** عليه السلام **خپل نوے پېدا شوے زوے او خپله ښځه هاجره سلام عليها د مکې پۀ ورانه او شاړه وادي کښې د بېت المحرم يعني کعبې پۀ خوا کښې پرېښودل ـ** (سورت ابراهيم ۱۴، اٰيت: ۳۷) **هاجره سلام عليها د اسماعيل** عليه السلام **سره پۀ مکه کښې اوسېدله او ابراهيم** عليه السلام **فلسطين ته تشريف يوړو ـ ابراهيم** عليه السلام **به کله کله د ملاقات د پاره مکې ته تشريف راوړلو ـ کله چې اسماعيل** عليه السلام **د کار روزګار د پاره د خپل پلار سره د ګرځېدلو عمر يعني ۱۳ کالو ته ورسېدو، د ابراهيم** عليه السلام **عمر دغه وخت تقريباً سل کاله شوے ؤ، نو ابراهيم** عليه السلام **خوب وليدو چې هغه اسماعيل** عليه السلام **د الله تعالٰي پۀ حکم حلالوي، نو ابراهيم** عليه السلام **د اسماعيل** عليه السلام **سره مشوره وکړه چې ما ته پۀ خوب کښې ستا د حلالولو حکم راکړے شوے دے ـ پۀ دې باندې اسماعيل** عليه السلام **عرض وکړو چې اے پلاره! تۀ هغه څۀ وکړه، څۀ چې تا ته الله تعالٰي حکم درکړے دے او تۀ به انشاء الله ما د صبر کوونکو نه بيامومې ـ**

**اٰيت نمبر ۱۰۳: ۱ ـ پۀ دې اٰيت کښې د ابراهيم** عليه السلام **او اسماعيل** عليه السلام **د استقامت ذکر څنګه وشو؟**

**۱ ـ دواړو پلار او زوے د الله پۀ حکم باندې د مکمل رضا مندۍ اظهار وکړو ـ ابراهيم** عليه السلام **اسماعيل** عليه السلام **منۍ ته بوتلو ـ د الله پۀ لار کښې ئې د قرباني کولو د پاره پۀ مخ څملولو ـ دواړه پلار او زوے د الله تعالٰي پۀ حکم د عملي کولو پۀ معامله کښې د هيڅ شک ښکار نۀ شول ـ**

**علمي خبره:** ابراهيم عليه السلام **خپل زوے ځکه پۀ مخ څملولو چې د چاړې راښکلو پۀ وخت چرته د هغۀ صورت ته پۀ کتلو سره د پلاروالۍ د فطري جذبې شفقت پۀ زړۀ کښې را نۀ شي او اراده ئې اونۀ خوځي ـ**

**۲ ـ پۀ مخ د څملولو نه وروستو څۀ وشو؟** **۲ ـ د دې سوال جواب دلته نۀ دے ذکر شوے، ځکه چې دا خبره پۀ بيان کښې راتلل مشکل دي چې هغه وخت د پلار پۀ زړۀ باندې څۀ تېر شوي وو؟ د ملائکو د**

حېرانۍ څۀ حال ؤ؟ او الله تعالٰي د چا پۀ حکم کښې چې خوږ زوے ذبح کول شو، څومره خوشحاله او مهربان ؤ؟

**اٰیت نمبر۱۰۴:** ۱ ـ د ابراهیم علیه السلام پۀ استقامت باندې الله تعالٰي د هغۀ سره څۀ معامله وکړه؟

۱ ـ الله تعالٰي هغۀ ته د خوشحالۍ زېرے ورکړو ـ

**اٰیت نمبر۱۰۵:** ۱ ـ الله د ابراهیم علیه السلام د کامیابۍ اعلان څنګه وکړو؟

۱ ـ الله تعالٰي وفرمائیل "اے ابراهیم! تا خپل خوب رښتیا کړو"

۲ ـ الله نېکو خلقو ته څنګه بدله ورکوي؟ ۲ ـ الله نېکانو ته پۀ دنیا او اٰخرت کښې عزت او اوچتوالے ورکوي ـ

**اٰیت نمبر۱۰۶:** ۱ ـ د ابراهیم علیه السلام دا څنګه امتحان ؤ؟ ۱ ـ د ابراهیم علیه السلام دا ډېر مشکل امتحان ؤ، ځکه چې پۀ خپله ممتحن (الله) فرمائي: " چې یقیناً دا ډېر مشکل امتحان ؤ ـ دا د تحسین او شاباسي انتها ده ـ

**عملي اړخ:** د امتحان پۀ تاریخ کښې دا یو ښکاره امتحان ؤ چې د الله د عشق پۀ وړاندې د دنیا د ټولو نه خوږ وجود حائل کېدے شي ـ زوے هم هغه چې د کلونو د اٰرمانونو وروستو پېدا شوے وي ـ امتحان هم هغه چې د خپل زړۀ د ټکړې مرۍ پۀ خپلو لاسونو کټ کړه ـ د دغه عظیمې قربانۍ پۀ حکم ملاوېدلو سره نۀ شک کېږي او نۀ د تاخیر درخواست کېږي ـ د زوے اٰزمېښت هم د پلار نه کم نۀ ؤ ـ د خپل پلار پۀ لاس د مرګ غېږې له د تګ د پاره رضا کېدل هم یو لوے امتحان دے ـ د انسان عظمت د امتحان د عظمت سره تړلے دے ـ

**اٰیت نمبر۱۰۷:** ۱ ـ د اسماعیل علیه السلام پۀ بدله کښې د چا قرباني وشوه؟

۱ ـ د جنت د یو ګډ قرباني وشوه، کوم ته چې الله تعالٰي عظیمه قرباني ووئیله ـ

۲ ـ دې قربانۍ ته عظیمه قرباني ولې ووئیل شوه؟ ۲ ـ هغې ته لویه قرباني ځکه ووئیل شوه چې د قربانۍ دا سنت د اسلام عظیم شعار او د انبیاء سنت دے او دا قرباني د اسماعیل علیه السلام پۀ شان د عظیم انسان فدیه وه چې د عظیم الشان یادګار پۀ توګه الله تعالٰي د قیامت پورې قائم وساتله ـ

۳ ـ پۀ دې اٰیت کښې د اسماعیل علیه السلام څۀ فضیلت بیان شوے دے؟

۳۔ الله تعالٰي دا طريقه خوښه کړه او د قربانۍ دا عبادت ئې د ابراهيمؑ او اسماعيلؑ د يادګار په توګه د همېشه د پاره د جاري ساتلو حکم وکړو۔

**عملي اړخ:** الله تعالٰي سنت ابراهيم د قيامت پورې د قرب الهٰي د حصول ذريعه او د لوے اختر د ورځې د ټولو نه خوښ عمل ګڼلے دے۔

**اٰيت نمبر۱۰۸:** ۱۔ الله تعالٰي په ابراهيمؑ باندې څۀ انعام وکړو؟

۱۔ الله تعالٰي د هغۀ نه په وروستو راتلونکو خلقو کښې د هغۀ ذکر خېر باقي وساتلو۔

۲۔ د ذکر خېر باقي ساتلو څۀ مطلب دے؟ ۲۔ د دې مطلب دا دے چې د ابراهيمؑ او اسماعيلؑ د قربانۍ تذکره د هغوي نه وروستو په ټولو قامونو او شريعتونو کښې راروانه ده او نبي اٰخر الزمان محمد مصطفٰيﷺ هم دا په تفصيل سره بيان کړې ده او دغسې به د دې ذکر د قيامت پورې د دنيا په خلقو کښې روان وي۔ بې شکه دا پېشن ګويې وه چې حرف په حرف پوره شوه او د ابراهيمؑ ذکر خېر د پېغمبرانو د نيکۀ په توګه راروان دے او جاري به وي۔ (انشاء الله)

**اٰيت نمبر۱۰۹:** ۱۔ په دې اٰيت کښې د ابراهيمؑ څۀ فضيلت بيان شوے دے؟

۱۔ په ټولو مخلوقاتو کښې به په هغۀ باندې سلام وي۔

**علمي خبره:** يهوديان، نصرانيان او مسلمانان ټول د هغۀ نوم په عزت او احترام سره اخلي۔ د هغۀ د پاره د سلامتۍ او رحمت دعا کوي او د قيامته پورې به د هغۀ ذکر جميل باقي وي۔

**علمي خبره:** مسلمانان په هر مونځ کښې د درود ابراهيمي په ذريعه په ابراهيمؑ او د هغۀ د اولاد د پاره د سلامتۍ او رحمت دعا کوي۔

**اٰيت نمبر ۱۱۰:** ۱۔ الله خپلو نېکو بندګانو ته څنګه صله ورکوي؟

۱۔ الله تعالٰي خپلو نېکو بندګانو ته په دنيا او اٰخرت کښې د عزت او لوړوالي مرتبه ورکوي۔

**علمي خبره:** ابراهيمؑ چې کومه دعا کړې وه چې "او په وروستو راتلونکو خلقو کښې زما ذکر خېر باقي پاتې کړه" (سورت الشعراء۲۶، اٰيت:۸۴) الله تعالٰي د هغۀ دعا قبوله کړه او برابر د هغۀ ذکر خېر جاري دے او برابر د هغۀ د پاره د سلامتيا دعا د مؤمنانو د خولو نه وځي۔

**آيت نمبر ۱۱۱:** ۱ ـ پۀ دې آيت کښې د ابراهيمعليه السلام څۀ فضيلت بيان شوے دے؟

۱ ـ الله تعالٰي هغه خپل عظيم مؤمن بنده ګڼلے دے ـ

## علمي خبره: قرباني ـ ـ د سنت ابراهيمي عظيم يادګار

(د حديثونو مبارکه پۀ رڼا کښې)

قرباني کول هم د عبادت د اظهار يوه طريقه ده او قرباني صرف د الله پۀ نوم باندې کېږي ـ د ابن ماجه روايت دے چې صحابه کرامو رضي الله تعالٰي عنهم د نبي کريم ﷺ نه وپوښتل چې قرباني څۀ څيز دے؟ نبي کريم ﷺ وفرمائيل چې "ستاسو د پلار ابراهيمعليه السلام سنت دي" پۀ دې باندې صحابه کرامو رضي الله تعالٰي عنهم تپوس وکړو چې پۀ دې قربانۍ کښې زمونږ د پاره څۀ دي؟ نبي کريم ﷺ وفرمائيل چې "د ځناور د هر وېښتۀ پۀ بدله کښې يوه نيکي ده"

دغسې پۀ جامع ترمذي کښې روايت دے چې نبي کريم ﷺ وفرمائيل چې "د قربانۍ پۀ ورځ هېڅ عمل د ځناورو د وينې توېولو نه زيات الله تعالٰي ته خوښ نشته"

دغسې د ابو داود شريف روايت دے چې نبي کريم ﷺ وفرمائيل چې "د ذي الحجه د مياشت ليدلو نه وروستو نۀ نوکان کټ کوئ او مۀ وېښتۀ، بلکې پۀ لسمه ذوالحجه باندې نوکان هم کټ کړئ او وېښتۀ او دغسې د بدن وېښتۀ صفا کړئ، پۀ دغسې کولو باندې د قربانۍ ثواب درکړل کېږي" دا عمل د قربانۍ کولو والا او قربانۍ نۀ کولو والا دواړو د پاره مستحب دے ـ

**آيت نمبر ۱۱۲:** ۱ ـ پۀ دې آيت کښې ابراهيمعليه السلام ته څۀ زېرے ورکړے شوے دے؟

۱ ـ د اسحاقعليه السلام پۀ شان د عظيم زوے زېرے ورکړے شو ـ

۲ ـ د اسحاقعليه السلام څۀ صفتونه بيان شوي دي؟ ۲ ـ هغه به نبي وي او د نېکانو نه به وي ـ

۳ ـ الله تعالٰي پۀ ابراهيمعليه السلام او اسحاقعليه السلام څۀ برکتونه کړي وو؟ ۳ ـ الله تعالٰي هغه نبيعليه السلام جوړ کړو او د هغۀ پۀ نسلونو کښې ئې نبوت پرېښودلو، تقريباً د يو نيم زر نه زيات کلونو پورې د هغۀ پۀ نسل کښې پېغمبران راتلل چې انبياء بني اسرائيل به ورته وئيل شو او د هغوي نه وروستو چې امام الانبياء خاتم الرسل سيدنا محمد مصطفٰي ﷺ تشريف راوړو، نو هغه د اسماعيلعليه السلام پۀ اولاد کښې ؤ ـ دغسې د

ابراهیمؑ د دواړو زامنو نه د نبوت سلسله جاري وه. یعني الله تعالیٰ د ابراهیمؑ نه وروستو نبوت د هغۀ پۀ نسل کښې کېښودلو چې لوے برکت ؤ.

۴. اسحاقؑ کله پېدا شو؟ ۴. کله چې د ابراهیمؑ عمر تقریباً سل کاله ؤ او اسماعیلؑ هم تقریباً د دیارلسو څوارلسو کالو ؤ. پۀ دغه وخت کښې د ساره سلام علیها نه د ابراهیمؑ دویم زوے اسحاق ؑ پېدا شو.

**آیت نمبر ۱۱۳:** ۱. د اسحاقؑ سره پۀ بل چا باندې د برکت د نازلېدو ذکر شوے دے؟

۱. د دې نه مراد ابراهیمؑ او اسماعیلؑ هر یو اخستل کېدے شي. البته د اکثرو مفسرینو رایې دا ده چې دواړه زامن یعني اسحاقؑ او اسماعیلؑ مراد دي. د دواړو نه ډېر زیات اولاد خور شو. د اسحاقؑ پۀ اولاد کښې د بني اسرائیلو پېغمبران تېر شوي دي او اهل عرب د اسماعیلؑ اولاد دے، پۀ کوم کښې چې زمونږ خوږ نبي محمد مصطفیٰ ﷺ شامل دے.

۲. دلته د برکت نه څۀ مراد دے؟ ۲. دلته د برکت نه مراد د اولاد ډېر والے او د نبوت سلسله مراد ده.

۳. د اسحاقؑ او اسماعیلؑ پۀ اولاد کښې څنګه خلق تېر شوي دي؟ ۳. څۀ خو مؤمنان او نېک عملونو والا وو او چا د الله پۀ نافرمانۍ سره پۀ ځان باندې ښکاره ظلم کولو.

**علمي خبره:** د یوې رایې مطابق "د نېک او بد وئیلو مقصد شاید دا وهم لرې کول وو چې بعضې خلقو ته د "وَبٰرَكْنَا عَلَيْهِ وَعَلٰٓى اِسْحٰقَ" نه پېدا کېدلو. د دې تقاضا دا ده چې د هغۀ پۀ اولاد کښې هم هغه برکت جاري پاتې شي او برکت مکمل کېږي هله، چې کله ټول اولاد نېک وي، نو الله تعالیٰ وفرمائیل چې پۀ اولاد کښې به نېک او بد هر قسم خلق وي.

**نوټ:** د ابراهیمؑ او اسماعیلؑ د قیصې نور تفصیلات پۀ مطالعه قرآن حکیم دویمه حصه کښې ورکړل شوي دي.

**آیت نمبر ۱۱۴:** ۱. الله تعالیٰ پۀ موسیٰؑ او هارونؑ باندې څۀ احسان کړے ؤ؟

۱. الله تعالیٰ دغه دواړو ته پېغمبري ورکړې وه.

**اٰيت نمبر۱۱۵:** ۱۔موسٰيؑ، هارونؑ او د هغوي قام ته د کوم لوے مصيبت نه نجات ورکړے شوے ؤ؟ ۱۔د فرعون د ظلم زياتي نه هغوي ته نجات ميلاو شو۔

**اٰيت نمبر۱۱۶:** ۱۔ الله د موسٰيؑ او هارونؑ څۀ مرسته وکړه؟ ۱۔ الله تعالٰي موسٰيؑ او هارونؑ ته پۀ فرعونيانو باندې غلبه ورکړه۔

**اٰيت نمبر۱۱۷:** ۱۔الله تعالٰي موسٰيؑ او هارونؑ ته کوم کتاب ورکړو؟ ۱۔تورات۔

۲۔پۀ دې اٰيت کښې د تورات څۀ صفت بيان شوے دے؟ ۲۔هغه يو واضح کتاب ؤ۔

**علمي خبره:** د واضح او روښانه کتاب نه مراد دا دے چې پۀ هغه کښې د ايمان او هدايت رڼا وه۔ تورات ته دا امتياز حاصل دے چې پۀ هغۀ کښې شريعت پۀ يو ځل د يو روښانه کتاب پۀ شکل کښې دے چې پۀ وړومبي ځل يو امت ته د يو واضح او مستقل کتاب پۀ توګه ورکړے شوے دے۔د دې نه مخکښې خلقو ته صرف ژبنيز تعليم ورکړے شوے دے۔

۳۔د تورات نسبت د موسٰيؑ او هارونؑ طرفته ولې وشو؟ ۳۔ تورات اګر چې نازل شوے پۀ موسٰيؑ باندې ؤ، خو هارونؑ هم د موسٰيؑ پۀ نبوت او د رسالت پۀ کارونو کښې شريک جوړ کړے شوے ؤ او د موسٰيؑ پۀ درخواست باندې داسې شوي وو، ځکه دلته د تورات نسبت د دغه دواړو طرفته شوے دے۔

**اٰيت نمبر۱۱۷:** ۱۔الله تعالٰي پۀ موسٰي ؑ او هارون ؑ باندې څۀ انعام وکړو؟

۱۔الله تعالٰي موسٰيؑ او هارونؑ ته د نېغې لارې هدايت وکړو۔

**اٰيت نمبر۱۱۹:** ۱۔الله تعالٰي پۀ موسٰي ؑ او هارونؑ څۀ احسان وکړو؟

۱۔الله تعالٰي د هغوي نه پۀ وروستو راتلونکو خلقو کښې د هغوي ذکر خبر باقي پاتې کړو۔

**اٰيت نمبر ۱۲۰:** ۱۔پۀ دې اٰيت کښې د موسٰي ؑ او هارونؑ څۀ فضيلت بيان شوے دے؟

۱۔پۀ ټولو مخلوقاتو کښې به پۀ هغوي باندې سلامتيا وي۔

**اٰيت نمبر۱۲۱:** ۱۔الله خپلو نېکو بندګانو ته څنګه بدله ورکوي؟ ۱۔الله خپلو نېکو بندګانو ته پۀ دنيا او اٰخرت کښې عزت او لويه مرتبه ورکوي۔

**آیت نمبر ۱۲۲:** ۱ ـ موسٰي عليه السلام او هارون عليه السلام د الله تعالٰي څنګه بندګان وو؟

۱ ـ موسي عليه السلام او هارون عليه السلام د الله تعالٰي کامل مؤمنان بندګان وو ـ

**نوټ:** د موسٰي عليه السلام د قيصې مکمل تفصيلات پۀ مطالعه قرآن حکيم دويمه حصه کښې ولولئ ـ

**آیت نمبر ۱۲۳:** ۱ ـ پۀ دې آيت کښې د کوم رسول عليه السلام ذکر شوے دے؟ ۱ ـ د الياس عليه السلام ـ

**علمي خبره:** بعضې مفسرينو فرمائيلي دي چې هغه د بني اسرائيلو نه ؤ او د هارون عليه السلام د اولاد نه ؤ ـ الياس عليه السلام چې د کومو خلقو طرفته لېږل شوے ؤ، هغه مشرکان وو ـ د هغوي يو بت پېږے ؤ، د کوم نوم چې بعل ؤ ـ دې خلقو به د هغۀ عبادت کولو او د هغۀ نه به ئې حاجتونه غوښتل ـ

**علمي خبره:** د رواياتو تر مخه د بعل پېږي د نوم پۀ نسبت د بعلبک ښار نوم اېښودل شوے دے ـ بک مخفف دے د بکه، د کوم معنٰي چې ښار ده، نو د بعلبک مطلب شو، د "بعل پېږي ښار" (معاذالله)

**آیت نمبر ۱۲۴:** ۱ ـ الياس عليه السلام خپل قام ته څۀ دعوت ورکړو؟

۱ ـ د الله تعالٰي نه د وېرېدلو، يعني پرهېزګارۍ اختيارولو، ګويا هغۀ دعوت توحيد ورکړو ـ

**عملي اړخ:** ټولو انبياء کرامو عليهم السلام خپل قام ته وړومبے او بنيادي دعوت يو ورکړے دے او هغه دا دے چې د الله تعالٰي د نافرمانۍ نه ځان وساتئ او تقوٰي اختيار کړئ ـ تقوٰي يعني د الله تعالٰي وېره داسې څيز دے چې پۀ کومه معامله کښې هم پېش نظر وي، نو هغه معامله رښتيا او سيدها وي ـ

**آیت نمبر ۱۲۵:** ۱ ـ الياس عليه السلام د خپل قام د کومې غلطې عقيدې او عمل ذکر کړے دے؟

۱ ـ د بعل نومې بت د عبادت او د الله د پرېښودلو ـ

۲ ـ پۀ دې آيت کښې د الله تعالٰي څۀ صفت بيان شوے دے؟ ۲ ـ د ټولو نه بهترين خالق ـ

**علمي خبره:** د يوې مغالطې تصحيح او اصلاح:

معاذالله د احسن الخالقين دا معنٰي نۀ ده چې خالقان خو ډېر دي، مګر الله تعالٰي د ټولو نه بهترين دے، خو اصل حقيقت دا دے چې د "خلق" دوه معنې دي ـ يو معنٰي ئې د "ايجاد او اختراع" ده، يعني څۀ څيز د نۀ شتون نه راويستل او پۀ وجود کښې راوستل ـ پۀ دې معنٰي کښې د خالق لفظ د الله پورې مخصوص دے ـ د الله تعالٰي نه سېوا څوک خالق نشته ـ د نۀ شتون نه پۀ وجود کښې راوستل او روح اچول د الله

تعالیٰ نه سېوا د بل چا پهٔ اختیار کښې نشته۔ پهٔ دې اٰیت کښې د خالقین دا معنې مراد نهٔ دي۔ نورې معنې د خلق "تقدیر او اندازه کول" او "صنعت او کاریګري" دي۔ مګر د الله صنعت او کاریګرۍ ته نهٔ د چا صنعت او کاریګري رسېدلے دي او نهٔ رسېدلے شي۔

**اٰیت نمبر ۱۲۶:** ۱۔ الیاسؑ د قام مخې ته د الله تعالیٰ څهٔ صفتونه بیان کړل؟

۱۔هغوي ته ئې وفرمائیل چې ستاسو رب الله دے۔یعني الله صرف د هغوي خالق نهٔ دے، بلکې د هغوي ټولو حاجتونو او ضرورتونو پوره کولو والا هم دے۔هغه د هغوي د پلارانو نیکونو هم خالق او رازق دے۔

۲۔الیاسؑ خپل قام ته د الله تعالیٰ د ربوبیت پهٔ صفت باندې څهٔ وښودل؟

۲۔الیاسؑ قام پهٔ دې پوهه کړو چې دا د بعل پېرې بت خو پهٔ خپله دې خلقو د ځان د پاره جوړ کړے دے۔دا یو بې جانه بت دے۔د دې حفاظت هم دوي پهٔ خپله کوي۔د الله تعالیٰ پهٔ شان بهترین خالق او مالک رب ولې دوي پرېښودے دے او د یو بې جان بت مخکښې سجده لګوي او هغه ئې معبود جوړ کړے دے۔

**اٰیت نمبر ۱۲۷:** ۱۔ الله تعالیٰ د قام پهٔ حقله څهٔ وئیلي دي؟ ۱۔ د الیاسؑ د دومره پوهولو باوجود، هغوي الیاسؑ دروغژن وګڼلو۔

۲۔د الیاسؑ د دروغژن ګڼلو څهٔ سزا بیان شوې ده؟ ۲۔ دروغ ګڼونکي به عذاب ته حاضر کړے شي۔د دې نه د اٰخرت عذاب هم مراد اخستلے شي او د دنیا بد انجام هم۔

**اٰیت نمبر ۱۲۸:** ۱۔د عذاب نه به کوم خلق محفوظ وي؟

۱۔د الله تعالیٰ مخلص بندګان۔یعني کومو چې پهٔ الیاسؑ ایمان راوړو او فرمانبردار شو۔

**نوټ:** د مخلص بندګانو نور وضاحت د دې سورت پهٔ اٰیت نمبر ۴۰ کښې ولولئ۔

**اٰیت نمبر ۱۲۹:** ۱۔الله تعالیٰ الیاسؑ ته څهٔ فضیلت ورکړے ؤ؟

۱۔پهٔ وروستو راتلونکو خلقو کښې ئې د هغهٔ ذکر خېر جاري وساتلو۔

**اٰیت نمبر ۱۳۰:** ۱۔الله تعالیٰ الیاسؑ ته څهٔ فضیلت ورکړے ؤ؟

۱۔پهٔ ټولو مخلوقاتو کښې به پهٔ هغهٔ باندې د الله د طرف نه سلامتي نازلېږي۔

**علمي خبره:** "الیاسین"د الیاس ﷺ دویم نوم دے، څنګه چې په قرآن کښې یو غر ته "طور سینا" هم وئیل شوے او "طور سینین" هم.

**آیت نمبر ۱۳۱:** ۱۔ الله تعالی خپلو نېکو بندګانو ته څنګه بدله ورکوي؟

۱۔ الله تعالی په دنیا او آخرت کښې بهترینه بدله ورکوي۔ څنګه چې د ټولو انبیاء کرامو علیهم السلام د حالاتو نه معلومېږي۔ الله تعالی په دنیا کښې هغوي ته عزت او نېک نامي ورکړې ده او د هغوي د عظمت او اوچتوالي تذکرې به جاري وي۔ په آخرت کښې به هم الله تعالی هغوي ته اوچت مقام او لوړې درجې ورکوي۔

**عملي اړخ:** مونږ له پکار دي چې د انبیاء کرامو علیهم السلام په ښودلو شوو طریقو باندې عمل وکړو چې د الله تعالی په نزد د بهترینې بدلې حق دار جوړ شو۔

**آیت نمبر ۱۳۲:** ۱۔ الله تعالی الیاس ﷺ ته څۀ فضیلت ورکړے ؤ؟ ۱۔ الله تعالی هغه په خپلو خاص مؤمنانو بندګانو کښې شامل کړے ؤ۔

**علمي خبره:** اګرچې ټول د الله تعالی بندګان دي، مګر دا خبره تقریباً د ټولو پېغمبرانو په تذکرو کښې تکرار شوې ده چې هغه زمونږ د خاص بندګانو نه ؤ۔ د دې د پاره چې دا خبره درسته او پخه شي چې انبیاء کرام علیهم السلام په انسانانو کښې خاص بندګان وي، کوم چې الله تعالی د خپل نبوت او پېغمبرۍ لپاره چڼوي او منتخب کوي۔ د وحې او نبوت په وجه هغوي ته یو داسې خاص شرف او امتیاز ورکړے شوي وي، چې بل عام انسان ته نۀ شي نصیب کېدے۔ د الله تعالی هغۀ لره خپل بنده ګڼل دراصل د تعظیم او توقیر د اظهار د پاره دي، څنګه چې د "بَیْتُ الله" او "نَاقَةُ الله" په لفظونو کښې دي۔

**آیت نمبر ۱۳۳:** ۱۔ په دې آیت کښې د الله تعالی د کوم مخلص بنده ذکر شوے دے؟ ۱۔ د لوط ﷺ۔

۲۔ د لوط ﷺ څۀ شان بیان شوے دے؟ ۲۔ هغه د رسولانو نه ؤ۔

۳۔ د لوط ﷺ د ابراهیم ﷺ سره څۀ تعلق ؤ؟ ۳۔ لوط ﷺ د ابراهیم ﷺ وراره ؤ۔

۴۔ لوط ﷺ کوم قام ته لېږل شوے ؤ؟ ۴۔ د عموره او سدوم قصبو ته.

۵۔ د هغۀ د قام څۀ جرم ؤ؟ ۵۔ هغوي به شرک کولو او په یوه ټولنیزه خرابۍ یعني هم جنس پرستۍ کښې اخته وو۔

**آيت نمبر۱۳۴:** ۱۔د دغه عذاب نه الله تعالٰي کوم خلق بچ کړل؟ ۱۔لوطؑ او د هغهٔ کور والا۔

**علمي خبره:** د عموره او سدوم پهٔ خلقو باندې د کفر ، شرک او هم جنس پرستۍ د ګناه پهٔ وجه سخت عذاب راغلو۔ الله تعالٰي د هغه خلقو سترګې ورکې کړې۔ د هغوي کلي ئې اوچت کړل او زمکې ته ئې راوويشتل او پهٔ هغوي ئې د اسمان نه د کاڼو باران وکړو۔

**آيت نمبر۱۳۵:** ۱۔د لوطؑ د کور والا نه څوک پهٔ عذاب کښې اخته شول؟

۱۔ د لوطؑ ښځه، ځکه چې د هغې همدردي د خپل قام سره وه۔ پهٔ دغه اساس هغه پهٔ عذاب کښې د خپل قام سره شريکه کړے شوه۔

**آيت نمبر۱۳۶:** ۱۔الله تعالٰي کوم خلق هلاک کړل؟ ۱۔د لوطؑ او د هغهٔ د لوڼو نه علاوه ئې باقي ټول نافرمانه قام هلاک کړو۔

**آيت نمبر۱۳۷:** ۱۔آيا د مکې قريش د لوطؑ د قام نه خبر وو؟

۱۔او جي۔ د هغوي تجارتي قافلې به د دغه ورانو شوو کلو او کنډرو پهٔ خوا تېرېدلې۔

۲۔د مکې والوو قافلې به د لوطؑ د قام د کنډرو پهٔ خوا څهٔ وخت تېرېدلې؟

۲۔ کله د سحر پهٔ وخت کښې او کله د شپې پهٔ وخت کښې، يعني د شام پهٔ سفر کښې به د هغوي پهٔ ځايونو او کورونو سحر او ماښام مکې والا تېرېدل۔

**آيت نمبر۱۳۸:** ۱۔ الله تعالٰي د لوطؑ د واقعې بيانولو څهٔ حکمت ښودلے دے؟

۱۔چې د مکې والا د لوطؑ د قام د انجام نه عبرت حاصل کړي او د عقل نه کار واخلي چې انبياء کرام عليهم السلام لره د دروغ ګڼونکو انجام هلاکت دے۔

**نوټ:** دلوطؑ د قيصې مکمل تفصيلات د مطالعه قرآن حکيم پهٔ څلورمه حصه کښې ورکړل شوي دي۔

**آيت نمبر۱۳۹:** ۱۔پهٔ دې آيت کښې د کوم مخلص بنده ذکر شوے دے؟ ۱۔د يونسؑ۔

۲۔پهٔ دې آيت کښې د يونسؑ څهٔ شان بيان شوے دے؟ ۲۔هغه د الله تعالٰي د رسولانو نه يو رسول ؤ۔

۳۔يونسؑ د کومو خلقو طرفته لېږل شوے ؤ؟ ۳۔د نينوىٰ والوو طرفته چې د موصل اوسېدونکي وو۔

**۴ـ** نينوى والا څوک وو؟ **۴ـ** نينوى والا يو ترقي يافته قام ؤ، د کوم آبادي چې تقريباً يو لاکهـ شل زره وه. دوى به پۀ الله تعالى باندې ايمان نۀ لرلو. د دوى د هدايت د پاره الله تعالى يونس عليه السلام راولېږلو. دې قام به د يونس عليه السلام تعليمات نۀ منل. پۀ دغه وجه چې کله يونس عليه السلام پۀ دې خبره پوهه شو چې دا قام د الله تعالى د عذاب مستحق شول، نو هغوى ته ئې د الله تعالى د عذاب وحې واوروله او د کلي نه ووتلو. کلي والا چې څنګه د عذاب آثار وليدل، نو د يونس عليه السلام خبره ورته ياده شوه. ټول قام د ماشومانو سره بهر ته راووتل او د الله تعالى نه ئې پۀ چغو چغو معافي وغوښتله. الله تعالى د هغوى ګناه وبخښله او عذاب ئې وځنډولو.

**آيت نمبر ۱۴۰**: ۱ـ يونس عليه السلام قام ته د عذاب د خبر ورکولو سره پۀ څۀ حال باندې پاتې شو؟

۱ـ يونس عليه السلام چې د نينوى خلق پرېښودل او بهر راغلو، نو هغۀ ته ډکه کشتۍ ملاو شوه او پۀ هغۀ کښې سور شو.

**علمي خبره**: يونس عليه السلام د دين د غېرت پۀ وجه د دغه عذاب والا د علاقې نه لرې اوسېدل غوښتل. د دې وجې نه يونس عليه السلام ددغۀ ځائے نه زر لاړو چې اوس به پۀ دې نافرمانه قام باندې دالله تعالى عذاب راځي. البته تر اوسه پورې هغۀ ته د الله د طرف نه د هجرت واضح حکم نۀ ؤ راغلے. مګر د الله تعالى سره د مضبوط تعلق پۀ بنياد هغه پۀ دې امېد د دغه ځائے نه لاړو چې ما ته به د الله د طرف نه د هجرت اجازت راکړے شي.

**آيت نمبر ۱۴۱**: ۱ـ د يونس عليه السلام سره پۀ کشتۍ کښې څۀ معامله مخې ته راغله؟

۱ـ کشتۍ چې کله د درياب منځ ته ورسېده، نو طوفان پرې راغلو او د کشتۍ چلوونکو د خپلې مشاهدې پۀ بنياد ووئيل چې حتماً څوک غلام د خپل آقا نه راتښتېدلے دے او پۀ کشتۍ کښې سور دے او د دې وجې نه زمونږ کشتۍ ډوبېدو ته نزدې ده.

۲ـ د کشتۍ چلونکو د خپل آقا نه د راتښتېدونکي سړي د لټون د پاره څۀ تدبير اختيار کړو؟

۲ـ هغوى قرعه اندازي وکړه.

۳ـ پۀ قرعه اندازۍ کښې د چا نوم راووختلو؟ **۳ـ** درې ځل قرعه اندازي وشوه او پۀ هغې کښې هر ځل د يونس عليه السلام نوم راووختلو.

**آیت نمبر ۱۴۲:** ۱ ـ پهٔ کشتئ کښې چې پهٔ قرعه اندازئ کښې د یونس علیه السلام نوم راوختلو، نو هغهٔ څهٔ عمل وکړو؟ ۱ ـ یونس علیه السلام پهٔ خپله خپل ځان دریاب ته وغورځولو ـ

۲ ـ یونس علیه السلام خپل ځان ولې دریاب ته وغورځولو ـ ۲ ـ د دې د پاره چې پهٔ کشتئ کښې باقي سوارهٔ خلق بچ شي ـ

**علمي خبره:** دریاب ته پهٔ لوېدو سره هلته د الله پهٔ حکم یو لوے مهي ولاړ ؤ، کوم چې یونس علیه السلام ژوندے تېر کړو ـ

۳ ـ د مهي پهٔ خېټه کښې د یونس علیه السلام څهٔ کېفیت ؤ؟ ۳ ـ پهٔ دغه وخت کښې یونس علیه السلام د ډېر قسمه غمونو سره مخ ؤ؟ مثلاً: الف: د خپل قام د کفر او شرک غم ـ

ب: قام د الله تعالی د واضح حکم نه مخکښې پرېښودل ـ ج: د مهي پهٔ خېټه کښې د تلو غم ـ

**آیت نمبر ۱۴۳:** ۱ ـ د مهي پهٔ خېټه کښې یونس علیه السلام څهٔ عمل وکړو؟

۱ ـ د مهي پهٔ خېټه کښې د پاتې کېدو پهٔ وخت کښې یونس علیه السلام پهٔ کثرت سره د الله تعالی ذکر کولو ـ

۲ ـ یونس علیه السلام پهٔ کومو لفظونو باندې الله تعالی وبللو؟ ۲ ـ " لَآ اِلٰهَ اِلَّآ اَنْتَ سُبْحٰنَكَ ۖ اِنِّيْ كُنْتُ مِنَ الظّٰلِمِيْنَ ۝۸۷ " ستا نه سېوا بل څوک معبود نشته، تهٔ پاک یې او زهٔ د نقصان موندونکو نه یم ـ (سورت الانبیاء ۲۱، آیت: ۸۷)

**آیت نمبر ۱۴۴:** ۱ ـ کهٔ چرته یونس علیه السلام د مهي پهٔ خېټه کښې د الله تعالی ذکر نهٔ کولے، نو څهٔ نتیجه به راوتله؟ ۱ ـ هغه به د مهي پهٔ خېټه کښې د قیامت تر ورځې پورې پروت وے ـ

**آیت نمبر ۱۴۵:** ۱ ـ د یونس علیه السلام دعا څنګه قبوله شوه؟ ۱ ـ الله تعالی مهي ته حکم ورکړو او هغه د دریاب نه ووتلو او یونس علیه السلام ئې پهٔ یو هوار مېدان کښې وغورځولو ـ

۲ ـ پهٔ دغه وخت کښې د یونس علیه السلام څهٔ کېفیت ؤ؟ ۲ ـ هغه انتهائي کمزورے شوے ؤ ـ

**آیت نمبر ۱۴۶:** ۱ ـ یونس علیه السلام پهٔ شګلن مېدان کښې پهٔ څهٔ حال کښې ؤ؟

۱ ـ یونس علیه السلام سخت کمزورے ؤ او دغسې وږے او تږے ؤ او د نمر د تاو نه د بچ کېدو د پاره د هغهٔ سره څهٔ ذریعه نهٔ وه ـ

۲ ـ الله د یونس علیه السلام څنګه مدد وکړو؟ ۲ ـ الله تعالٰي د هغهٔ پهٔ خوا کښې د کدو یو بوټے راوخېژولو، د هغه پهٔ ذریعه ئې د هغهٔ بدن پټ کړو او دغسې هغه د نمر د تاو نه بچ شو او دغسې د ماشو او مچانو نه هم بچ شو ـ بیا د کدو نه هغهٔ ته خوراک حاصلېدل شروع شول ـ یعنې الله تعالٰي د دغه کدو د ځیلو پهٔ صورت کښې د یونس علیه السلام د پاره جراثیم کش ماحول، سیورے، غذائیت او د خوړوالي نه د ډکې مېوې د ورکولو انتظام وکړو او درې واړه بنیادي ضرورتونه ئې ورله پوره کړه ـ

**اٰیت نمبر ۱۴۷:** ۱ ـ کله چې یونس علیه السلام صحت مند او طاقتور شو، نو الله تعالٰي څهٔ حکم ورکړو؟

۱ ـ الله یونس علیه السلام ته د نېنوې د خلقو طرفته د تللو حکم ورکړو؟

۲ ـ د نېنوې د خلقو تعداد څومره ؤ؟ ۲ ـ هغوي د یو لاکهـ نه زیات وو ـ

**اٰیت نمبر ۱۴۸:** ۱ ـ د یونس علیه السلام د تللو نه وروستو د نېنوې پهٔ خلقو څهٔ تېر شول؟

۱ ـ کله چې د نېنوې خلقو د عذاب سیوري ولیدل، نو هغوي یونس علیه السلام ولټولو او چې کله هغوي ته یونس علیه السلام پهٔ نظر رانغلو، نو د هغوي یقین پېدا شو چې پهٔ مونږ باندې د الله تعالٰي عذاب راتلونکے دے، نو هغوي الله تعالٰي ته پهٔ چغو چغو وژړل او توبه ئې وېستله او معافي ئې وغوښتله او الله تعالٰي هغوي معاف کړل ـ

۲ ـ یونس علیه السلام چې کله د نېنوې خلقو ته واپس شو، نو هغوي د یونس علیه السلام سره څهٔ معامله وکړه؟

۲ ـ د نېنوې خلق پهٔ عذاب معطل کېدو باندې ډېر خوشحاله شو او د الله تعالٰي شکر ئې ادا کړو ـ کله چې یونس علیه السلام هغوي ته واپس راغلو، نو هغوي د یونس علیه السلام هرکلے وکړو او پهٔ هغهٔ ئې ایمان راوړو ـ

۳ ـ الله تعالٰي د نېنوې د خلقو سره څهٔ معامله وکړه؟ ۳ ـ د نېنوې خلقو د خوش نصیبه قامونو نه دي، پهٔ کومو چې د الله راغلے عذاب معطل شو او د هغوي پهٔ ایمان راوړلو ئې هغوي معاف کړل ـ

**اٰیت نمبر ۱۴۹:** ۱ ـ پهٔ دې اٰیت کښې د کومو خلقو د باطل عقیدې مذمت شوے دے؟

۱ ـ پهٔ دې اٰیت کښې د مکې د مشرکانو د شرک مذمت شوے دے ـ

۲ ـ د مکې مشرکانو به د الله تعالٰي سره پهٔ کومه خبره کښې شرک کولو؟ ۲ ـ د مکې مشرکانو به ملائکې د الله تعالٰي لوڼه ګڼلې ـ (معاذ الله)

۳ ـ پهٔ دې اٰیت کښې د مکې مشرکانو ته پهٔ کومه خبره شرم ورکړے شوے دے؟

۳ ـ یهود او نصاریٰ د الله تعالیٰ سره شرک وکړو، خو هغوي پیغمبران د الله تعالیٰ زامن وګڼل، خو د مکې مشرکانو د الله تعالیٰ سره شرک وکړو او ملائکې ئې د الله تعالیٰ لوڼه وګڼلې، خو ځانله به ئې لوڼه نهٔ خوښولې، بلکې زامن به ئې د ځان د پاره خوښول، نو پهٔ دې اٰیت کښې فرمائیلي شوي دي چې د الله تعالیٰ سره شرک هم لویه ګناه ده، خو د دې خبرې نه لویه ګناه دا ده چې هغه څیز چې قام ئې د ځان د پاره نهٔ خوښوي او هغه الله تعالیٰ ته منسوبوي۔

**اٰیت نمبر ۱۵۰:** ۱ ـ د مکې مشرکانو ته د باطل عقیدې پهٔ تردید کښې څهٔ دلیل ورکول شي؟

۱ ـ الله تعالیٰ فرمائي چې کله الله تعالیٰ ملائکې پیدا کړې، نو اٰیا دوي هلته موجود وو چې دوي وائي چې ملائکې مؤنث یعني ښځې دي۔

۲ ـ د ملائکو حقیقت څهٔ دے؟ ۲ ـ ملائکې د الله تعالیٰ پهٔ یو حکم باندې پیدا شوې او د هغوي تعلق د عالم امر سره دے او د دوي څهٔ جنس مذکر یا مؤنث نشته او دا د الله تعالیٰ نوراني مخلوق دے او د الله تعالیٰ هر حکم مني، دا هر ګز د الله تعالیٰ زامن یا لوڼه نهٔ دي۔

**اٰیت نمبر ۱۵۱:** ۱ ـ د مکې مشرکانو، ملائکو لره د الله تعالیٰ لوڼه ګڼلو پهٔ حقله پهٔ دې اٰیت کښې څهٔ حقیقت بیان شوے دے؟ ۱ ـ دا عقیده د مکې د مشرکانو یو دروغژنه او منګړت عقیده ده۔

**اٰیت نمبر ۱۵۲:** ۱ ـ د الله پهٔ حقله د اولاد عقیده څنګه ده؟ ۱ ـ یقیناً دا یوه دروغژنه عقیده ده۔

۲ ـ د الله تعالیٰ پهٔ حقله د اولاد عقیده ولې دروغژنه عقیده ده؟ ۲ ـ د اولاد ضرورت هغه خلقو ته وي، پهٔ چا چې بوډا والے راځي، یا پهٔ چا باندې کمزوري راځي۔ انسان مري او ختمیږي، خو الله تعالیٰ همیشه ژوندے دے او همیشه به وي۔ پهٔ دغه اساس الله تعالیٰ ته د اولاد ضرورت نشته۔ بیا اولاد د خپل مور پلار هم جنس او هم مثال وي او د هغوي سره برابر وي، خو د الله تعالیٰ نهٔ څوک برابر شته او نهٔ هم جنس او نهٔ د الله تعالیٰ څهٔ مثال شته۔ پهٔ دې وجه الله تعالیٰ د ټولو خبرو نه پاک دے۔

**اٰیت نمبر ۱۵۳:** ۱ ـ پهٔ دې اٰیت کښې د مکې د مشرکانو د کومې بدې عقیدې ذکر شوے دے؟

۱ ـ هغوي د الله تعالیٰ د پاره لوڼه تجویز کړې دي او د ځان د پاره ئې زامن تجویز کړي دي۔

**اٰیت نمبر ۱۵۴:** ۱ ـ پهٔ دې اٰیت کښې د مکې مشرکانو ته پهٔ څهٔ خبره خبردارے ورکړے شوے دے۔

۱ ـ د هغوي د عقل پهٔ خرابۍ هغوي ته خبردارے ورکړے شوے دے چې هغوي څنګه فېصلې کوي چې د الله تعالٰي د پاره د اولاد تصور کوي۔

**اٰیت نمبر ۱۵۵:** ۱ ـ پهٔ دې اٰیت کښې د مکې مشرکانو ته پهٔ کومه خبره د غور او فکر دعوت ورکړے شوے دے؟ ۱ ـ د مکې مشرکانو ته پهٔ دې خبره د غور او فکر دعوت ورکړے شوے دے چې غور وکړئ چې الله تعالٰي ته د اولاد څهٔ حاجت دے چې د همېشه نه دے او همېشه به وي، پهٔ چا باندې چې هډو مرګ نهٔ راځي۔ ټول کائنات د هغهٔ پهٔ اختیار کښې دي۔ هغهٔ ته به ولې د اولاد ضرورت وي؟

**اٰیت نمبر ۱۵۶:** ۱ ـ پهٔ دې اٰیت کښې د مکې د مشرکانو نه پهٔ څهٔ خبره دلیل غوښتل شي؟

۱ ـ د مکې د مشرکانو نه د هغوي پهٔ من ګړت عقیده باندې دلیل غوښتل شي۔

**علمي خبره:** د دعوې د ثابتولو د پاره د سترګو لیدلي شهادت ضرورت وي یا څهٔ لیکلے مضبوط دلیل (د کوم نبيﷺ بیان، یا څهٔ اسماني صحیفه وغېره) خو د مشرکانو سره دا دواړه نهٔ وو ـ د دې نه دا صفا ظاهره شوه چې د هغوي عقیدې من ګړت او دروغ وې۔

**اٰیت نمبر ۱۵۷:** ۱ ـ د مکې د مشرکانو نه د هغوي پهٔ بده عقیده باندې څهٔ دلیل غوښتل شي؟

۱ ـ د مکې د مشرکانو نه د هغوي د شرک پهٔ حقله پهٔ څهٔ کتاب کښې نقل یعني لیکلے دلیل غوښتل شي۔

**علمي خبره:** د نقلي (لیکلي شوي) دلیل نه مراد څهٔ الهامي کتاب یا صحیفه یا لیکلې شوې څهٔ خبره، کومه چې د سند پهٔ توګه پېش شي۔

۲ ـ اٰیا د مکې د مشرکانو سره پهٔ شرک باندې څهٔ دلیل موجود ؤ؟ ۲ ـ د مکې د مشرکانو سره د خپلو مشرکانه عقیدو د ثابتولو د پاره نهٔ عقلي دلیل ؤ او نهٔ نقلي دلیل، بلکې دا د هغوي من ګړت تصورات وو چې د هغوي د ګمراهانو پلرونو نیکونو نه راروان وو ـ

**اٰیت نمبر ۱۵۸:** ۱ ـ پهٔ دې اٰیت کښې د مکې د مشرکانو نه د بعضو د کومو جاهلانه عقیدو ذکر شوے دے؟ ۱ ـ د مکې د مشرکانو نه د بعضې خلقو جاهلانه عقیده وه (معاذالله) چې د الله تعالٰي د پېریانو سره څهٔ رشته ده۔

۲ ـ د پېریانو څهٔ حقیقت دے؟ ۲ ـ پېریان د الله تعالٰي د مخلوقاتو نه یو عاجزه مخلوق دے چې ډېر لطیف پېدا شوي دي او د انسانانو د حواسو نه لرې دي۔ د پېریانو نه یو مشهور پېرے عزازیل یعني شېطان مردود دے چې د انسانانو پهٔ زړونو کښې وسوسې اچوي۔ پېریان د انسانانو پهٔ شان الله تعالٰي

صاحب اختیار او مکلف او پابند جوړ کړي دي او پۀ هغوي کښې هم مسلمانان او کافران شته او د قیامت پۀ ورځ به د انسانانو پۀ شان د هغوي سره هم حساب کتاب کېږي او د جزا او سزا فېصلې به کول شي۔

۳۔ پۀ دې اٰیت کښې د پېریانو د څۀ حقیقت ذکر شوے دے۔ ۳۔ پېریان ښۀ پوهېدل چې هغوي ټول به د قیامت پۀ ورځ د الله مخکښې پېش کېږي۔

**اٰیت نمبر ۱۵۹**: ۱۔ پۀ دې اٰیت کښې د من ګړت شرکیه عقیدو څۀ حقیقت بیان شوے دے؟

۱۔ الله د هغه ټولو خبرو نه پاک دے چې مشرکان ئې الله تعالٰي ته منسوبوي۔

**اٰیت نمبر ۱۲۰**: ۱۔ د مشرکانو پۀ مقابله کښې د الله تعالٰي د کومو بندګانو ذکر شوے دے؟

۱۔ د الله تعالٰي د مخلصو بندګانو ذکر شوے دے۔

۲۔ پۀ دې اٰیت کښې د الله تعالٰي د مخلصو بندګانو څۀ صفت بیان شوے دے؟

۲۔ هغوي پۀ الله تعالٰي باندې څۀ بهتان نۀ لګوي او د الله تعالٰي پۀ حقله څۀ غلطه عقیده نۀ لري۔

**عملي اړخ**: الله تعالٰي هغه بندګان، کوم چې الله تعالٰي چڼ کړي دي، هغه کۀ د پېریانو نه وي او کۀ د انسانانو نه وي، هغوي به د قیامت د ورځ د نېولو نه محفوظ وي۔ هغوي به پۀ ډېرعزت سره جنت ته بلل شي۔

**اٰیت نمبر ۱۲۱**: ۱۔ پۀ دې اٰیت کښې د چا ذکر شوے دے؟ ۱۔ د مشرکانو او د هغوي د دروغژنو معبودانو۔

**اٰیت نمبر ۱۲۲**: ۔ د مشرکانو او د هغوي د دروغژنو معبودانو د کومې ارادې ذکر شوے دے؟

۱۔ مشرکانو او دروغژنو معبودانو به خلق د الله پۀ حقله ګمراه کول غوښتل۔

۲۔ اٰیا مشرکان او د هغوي دروغژن معبودان به پۀ خپلو اٰرادو کښې کامیاب شي؟

۲۔ هېڅ کله هم نۀ۔ مشرکان او د هغوي دروغژن معبودان به د خلقو پۀ دهوکه کولو کښې ذره هم کامیاب نۀ شي۔

**عملي اړخ**: د الله تعالٰي خوښ بندګان د شېطان او د هغۀ د پېروکارو پۀ دهوکه کښې نۀ راځي۔ څنګه چې ارشاد فرمائیلے شوے دے "ابلیس ووئیل اے زما ربه، څنګه چې تا زۀ ګمراه کړم، زۀ به ضرور د دوي

د پاره پۀ زمکه کښې ګناه ښائسته کړم۔ زۀ به دا خلق ضرور ګمراه کوم، سېوا د هغه خلقو نه چې ستا چڼ کړے شوي بندګان دي۔ الله تعالىٰ وفرمائيل چې هغه لاره ده چې سيدها ما ته راغلې ده۔ بې شکه کوم چې زما بندګان دي، پۀ هغوي ستا زور نۀ چلېږي، سېوا د هغه ګمراهانو نه چې ستا پېروي کوي او يقيناً د هغه ټولو د پاره وعده د جهنم ده" (سورت الحجر ۱۵، اٰياتونه د ۳۹ نه تر ۴۳)

**اٰيت نمبر ۱۶۳**: ۱۔ څنګه خلق د مشرکانو او د هغوي د دروغژنو معبودانو پۀ دهوکه کښې راځي؟

۱۔ هغه خلق چې واقعي جهنم ته تلونکي دي۔ يعني هغه خلق چې قصداً د حق نه انکار وکړي او پۀ کفر باندې ودرېږي۔

**عملي اړخ**: مونږ له هر وخت خپله جائزه اخستل پکار دي چې چرته خو د شېطان او د هغۀ د پېروکارو پۀ دهوکه کښې د الله تعالىٰ ناراضګي نۀ کوو۔

**اٰيت نمبر ۱۶۴**: ۱۔ پۀ دې اٰيت کښې د الله تعالىٰ د کوم مخلوق ذکر شوے دے؟ ۱۔ د ملائکو۔

۲۔ پۀ دې اٰيت کښې د ملائکو څۀ حقيقت بيان شوے دے؟ ۲۔ پۀ ملائکو کښې د هر يو مقام معلوم وي او هغوي د خپل مقام نه تجاوز نۀ شي کولے۔

۳۔ د ملائکو د مقرر مقام او حدودو پۀ ذکر سره څۀ ښودل شوي دي؟ ۳۔ الله تعالىٰ د ملائکو پۀ ژبه د هغوي د بندګۍ اعتراف بيان کړے دے او د دې نه مقصد د هغه خلقو ترديد دے چې ملائکو ته د الله تعالىٰ لوڼه او معبودان وائي۔ حالانکې هغه خو د الله تعالىٰ مخلوق او خاص بندګان دي۔ هغه معبودان څنګه کېدے شي؟

**اٰيت نمبر ۱۶۵**: ۱۔ ملائکې د الله تعالىٰ پۀ حضور کښې پۀ کوم کېفيت کښې ولاړې وي؟

۱۔ ملائکو د الله تعالىٰ پۀ حضور کښې صفونه تړلي وي۔

**فرمان نبوي**: " تاسو د ملائکو پۀ شان صف بندي ولې نۀ کوئ۔ مونږ عرض وکړو، يا رسول الله ملائکې څنګه صف بندي کوي؟ وې فرمائيل چې ملائکې د خپل رب پۀ وړاندې داسې صف بندي کوي چې مخکښې صفونه پوره پوره ډکوي او يو ځاے ودرېږي" (صحيح مسلم، سنن ابي داؤد)

**اٰيت نمبر ۱۶۶**: ۱۔ پۀ دې اٰيت کښې د ملائکو څۀ وظيفه بيان شوې ده؟

۱۔ هغوي همېشه د الله تعالىٰ تسبيح کولو والا دي۔

فرمان نبوي : "پهٔ اسمان کښې د څلورو ګوتو برابر ځائے هم داسې نشته چې هلته يوې ملائکې تندے نهٔ وي لګولے او الله تهٔ سجده نهٔ کوي" (جامع ترمذي)

آيت نمبر ۱۶۷: ۱۔پهٔ دې آيات کښې د الله د مخلوقاتو نه د چا ذکر شوے دے؟ ۱۔د مشرکينو۔

آيت نمبر ۱۶۸: ۱۔پهٔ دې آيت کښې د مکې د مشرکانو د کومې تمنا ذکر شوے دے؟

۱۔د مکې مشرکانو به تمنا کوله چې کاش چې د هغوي سره هم د مخکښې خلقو پهٔ شان اسماني کتاب وے۔

آيت نمبر ۱۶۹: ۱۔پهٔ دې آيت کښې د مکې د مشرکانو د کوم عزم ذکر شوے دے؟

۱۔ د مکې مشرکانو به دا عزم ساتلو، کهٔ چرته هغوي ته هم د الله د طرف نه کتابونه راتلے، نو هغوي به د الله تعالي فرمانبرداري کولے او پهٔ هغه باندې به ئې ايمان راوړلے او د هغهٔ نيک بندګان به وے۔

آيت نمبر ۱۷۰: ۱۔د نبي کريم پهٔ بعثت باندې د مکې مشرکانو څهٔ طريقه اختيار کړه؟

۱۔د هغوي د توقع خلاف چې کله الله تعالي د مکې د مشرکانو طرفته نبي کريمراولېږلو، نو هغوي د نبي کريماو د هغهٔ د راوړلي شوي قرآن نه انکار وکړو او د نبي کريممخالفت ئې وکړو۔

۲۔د مکې د مشرکانو پهٔ دغه کفر باندې څهٔ نتيجه راوتونکې وه؟ ۲۔د دنيا او آخرت عذاب چې هغوي به ئې پېژني او هغوي ته به ملاوېږي۔

آيت نمبر ۱۷۱: ۱۔ پهٔ دې آيت کښې د چا د فېصلې ذکر شوے دے؟

۱۔د الله تعالي د فېصلې ذکر شوے دے۔

۲۔الله تعالي د چا پهٔ حق کښې فېصله وکړه؟ ۲۔الله تعالي د خپلو رسولانو پهٔ حق کښې فېصله وکړه۔

۳۔الله تعالي دا فېصله د کله نه کړې ده؟ ۳۔الله تعالي دا فېصله د ازل نه کړې ده۔

آيت نمبر ۱۷۲: ۱۔الله تعالي د انبياء کرام عليهم السلام پهٔ حق کښې څهٔ فېصله کړې ده؟

۱۔د الله د طرف نه به همېشه انبياء کرام عليهم السلام ته مدد ملاوېږي۔

علمي خبره: د رسولانو د واقعاتو نه معلومېږي چې اګر چې هغوي د دعوت حق پهٔ لاره کښې د سختو مصيبتونو او مشکلاتو سره مخ شول، خو آخر د الله تعالي نصرت هغوي ته کاميابي ورکړه۔

**آیت نمبر ۱۷۳:** ۱۔پهٔ دې آيت کښې الله تعالی د کومې خبرې اعلان کړے دے؟

۱۔الله تعالی اعلان کړے دے چې د الله تعالی لښکر به غالبه کېږي۔

۲۔د الله تعالی د لښکر نه کوم خلق مراد دي؟ ۲۔انبياء، رسولان عليهم السلام او مؤمنان۔

۳۔د الله تعالی لښکر به پهٔ کومو خلقو غالبه کېږي؟ ۳۔پهٔ کافرو او مشرکانو۔

**آیت نمبر ۱۷۴:** ۱۔پهٔ دې آيت کښې الله تعالی چا ته خطاب کوي؟ ۱۔نبي کريم ﷺ ته۔

۲۔الله تعالی نبي کريم ﷺ ته څهٔ تلقين کړے دے؟ ۲۔د کافرو او مشرکينو نه د څهٔ وخت پورې د اعراض کولو، يعني هغوي ته نهٔ کتل او هغوي پهٔ خپل حال پرېښودل او مهلت ورکول۔

**آیت نمبر ۱۷۵:** ۱۔پهٔ دې آيت کښې الله تعالی نبي کريم ﷺ ته څهٔ فرمائيلي دي؟

۱۔پهٔ دې آيت کښې نبي کريم ﷺ ته د الله د فېصلې د انتظار کولو حکم شوے دے۔

۲۔پهٔ دې آيت کښې د مکې مشرکانو او کافرو ته څهٔ خبردارے ورکړے شوے دے؟

۲۔هغوي ته خبردارے ورکړے شوے دے چې عنقريب هغوي به خپل انجام ويني۔

۳۔پهٔ دې آيت کښې کوم مضمونونه بيان شوي دي؟ ۳۔پهٔ دې آيت کښې نبي کريم ﷺ ته تسلي ورکړې شوې ده او کافرو او مشرکانو ته د عذاب خبردارے ورکړے شوے دے۔

**آیت نمبر ۱۷۶:** ۱۔پهٔ دې آيت کښې د کافرو او مشرکانو کوم طرز عمل بيان شوے دے؟

۱۔کافرو او مشرکانو به د نبي کريم ﷺ نه د جلد عذاب راتلو مطالبه کوله۔

**آیت نمبر ۱۷۷:** ۱۔پهٔ دې آيت کښې د مکې د مشرکانو د ټوقو او جلد عذاب غوښتلو څهٔ جواب شوے دے؟

۱۔الله تعالی وفرمائيل چې کله عذاب نازل شي، نو هغه سحر به د دوي د پاره انتهائي د مصيبت وي۔

۲۔پهٔ دې آيت کښې د وېرولو شوو خلقو نه څوک مراد دي؟ ۲۔د مکې مشرکان۔

۳۔د مکې مشرکانو له د وېرونکي نه څوک مراد دے؟ ۳۔نبي کريم ﷺ چې د مکې مشرکان به ئې د الله تعالی د عذاب نه وېرول۔

**آیت نمبر۱۷۸:** ۱ ـ د مکې د مشرکانو پۀ حواله سره پۀ دې آیت کښې نبي کریم تۀ څۀ نصیحت شوے دے؟ ۱ ـ نبي کریم تۀ نصحیت شوے دے چې تۀ د څۀ وخت د پاره د مکې د مشرکانو نه مخ واړوه۔

۲ ـ د اعراض کولو نه څۀ مراد دے؟ ۲ ـ د مکې مشرکان پۀ خپل حال پرېښودل۔

**آیت نمبر۱۷۹:** ۱ ـ پۀ دې آیت کښې نبي کریم تۀ څۀ تسلي ورکړې شوې ده؟

۱ ـ نبي کریم به د مکې د مشرکانو بد حال ووینې۔

۲ ـ پۀ دې آیت کښې د مکې د مشرکانو د پاره څۀ خبردارے دے؟ ۲ـ پۀ دې آیت کښې د مکې د مشرکانو د پاره خبردارے دے چې هغوي به د خپلو اعمالو انجام پۀ دنیا کښې هم د عذاب پۀ شکل کښې ووینې۔

**آیت نمبر ۱۸۰:** ۱ ـ پۀ دې آیت کښې د مکې د مشرکانو د شرک څۀ حقیقت بیان شوے دے؟

۱ ـ الله تعالیٰ د هر قسم شرک نه پاک دے، کوم چې خلق بیانوي۔

**علمي خبره:** دغه مضمون پۀ سورت الانبیاء۲۱، آیاتونو ۲۱، ۲۲ او سورت الطور۵۲، آیت۴۳ کښې هم بیان شوے دے۔

۲ ـ پۀ دې آیت کښې د الله تعالیٰ څۀ شان بیان شوے دے؟ ۲ ـ ستا رب چې "رب العزت" دے، د هغه ټولو خبرو نه پاک دے چې دا مشرکان ئې جوړوي۔

د "رب العزت" معنیٰ ده، غلبې والا، صاحب اقتدار، عظمت او اوچت والي والا ـ یعني الله د عزت، اوچتوالي او اقتدار او اختیار اصل مالک دے۔

**علمي خبره:** ابو سعید خدري رضي الله عنه فرمائي چې ما د نبي کریم نه څو ځل اورېدلي دي چې نبي کریم به د مونځ ختمېدو نه پس دا آیت تلاوت کولو ـ (قرطبي) پۀ ډېرو تفسیرونو کښې د علي رضي الله عنه دا قول ذکر شوے دے چې "کوم سړے دا غواړي چې د قیامت پۀ ورځ هغۀ ته پۀ پوره پېمانه سره اجر ملاو شي، نو هغۀ له پکار دي چې د خپل هر مجلس پۀ آخره کښې دا درې آیاتونه ولولي" (ابن ابي حاتم)

**آیت نمبر ۱۸۱:** ۱ ـ پۀ دې آیت کښې د رسولانو علیهم السلام څۀ عظمت بیان شوے دے؟

۱ ـ پۀ رسولانو علیهم السلام باندې پۀ دنیا او آخرت کښې سلام بیان شوے دے۔

**اٰيت نمبر ۱۸۲**: ۱۔ پهٔ دې اٰيت کښې د الله تعالٰي څهٔ شان بيان شوے دے؟

۱۔ الله تعالٰي د صفت مالک دے او هغه د ټولو جهانونو رب دے۔

۲۔ د حمد څهٔ معنٰي ده؟ ۲۔ داسې صفت چې پهٔ هغهٔ کښې د شکرگزارئ جذبات هم وي، حمدورته وئيلے شي۔

۳۔ د رب څهٔ معنٰي ده؟ ۳۔ رب هغه دے چې څهٔ څيز پهٔ مزه مزه منصب کمال ته ورسوي۔

۴۔ حقيقي رب څوک دے؟ ۴۔ حقيقي رب الله دے چې د ټولو مخلوقاتو ټول حاجتونه او ضرورتونه پوره کوي۔

۵۔ د عالمين نه څهٔ مراد دے؟ ۵۔ عالمين د عالم جمع ده۔ د الله پهٔ مخلوقاتو کښې ډېر عالمونه دي، مثلاً د پېريانو يو عالم دے، د ملائکو يو عالم دے، د انسانانو يو عالم دے، د حېواناتو يو عالم دے، د نباتاتو او جماداتو يو عالم دے،وغېره۔ داټول عالمونه چې رايو شي،نو عالمين ورته وئيلےشي۔

**عملي اړخ**: دالله تعالٰي د پاره حمد او تسبيح ده او د انبياء کرامو عليهم السلام لپاره درود او سلام دے۔ د کوم چې مونږ له پهٔ کثرت سره اهتمام کول پکار دي۔

**علمي خبره**: پهٔ دې درې اٰياتونو کښې د پوره سورت د مضمونونو خلاصه راغلې ده۔ د الله تعالٰي د ربوبيت صفت او د هغهٔ رب العزت بيان شوے دے او کوم خلق هم چې د ذات باري تعالٰي پهٔ حقله غلطې خبرې کوي، يا پهٔ زړهٔ کښې عقيده لري، د هغې ترديد شوے دے۔ د اٰخري رکوع نه مخکښې پهٔ دوو رکوع گانو کښې د بې شمېره انبياء کرام عليهم السلام د پاره د سلام تذکره بيان شوې ده۔ دلته د سورت پهٔ پايې کښې پهٔ "وَسَلَٰمٌ عَلَى ٱلْمُرْسَلِينَ" سره پهٔ ټولو انبياء کرامو عليهم السلام باندې سلام لېږل شوے دے، کوم چې د الله د بندگانو تر منځ د خبر رسولو ذريعه وه او پهٔ اٰخر کښې پهٔ "وَٱلْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ ٱلْعَٰلَمِينَ" سره دا ښودل شوي دي چې الله همېشه پهٔ هر حال کښې د حمد او ثناء لائق دے۔

# د مشقونو جوابونه

## ځان پوهه کړئ او حل ئې کړئ:

**سوال۱: د کالم (الف) هر جمله د کالم (ب) د صحیح جملې سره د کرښې په مرسته ملاو کړئ.**

| الف | ب |
|---|---|
| یونس علیه السلام | د یونس علیه السلام لقب دے |
| د یونس علیه السلام قام | یوه ځېلو والا ونه را وخېژوله |
| مهي یونس علیه السلام لره | قام د الله د عذاب نه وېرولو |
| الله د یونس علیه السلام د پاره | چې د الله د عذاب اثار ولیدل، نو توبه ئې وېستله |
| "ذوالنون او صاحب الحوت" | په حفاظت سره په خپله خېټه کښې وساتلو |

**سوال۲: د لاندینو جملو په حقله وښایې چې دا د چا قول دے؟**

| شمېره | جملې | د الله جل جلاله | یونس علیه السلام | ملائکو | کافرو |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | بیا مونږ هغه په یو شګلن مېدان کښې په داسې کښې وغورځولو چې هغه بېمار ؤ | √ | | | |
| ۲ | ستا نه سېوا بل معبود نشته. تهٔ پاک یې، یقیناً زهٔ د نقصان موندونکو نه یم | | √ | | |
| ۳ | او یقیناً مونږ په صفونو کښې ودرېدلو والا یو | | | √ | |
| ۴ | کهٔ زمونږ سره چرته د پخوانو خلقو د نصیحت څهٔ کتاب وے، نو مونږ به د الله تعالیٰ چنې کړي بندګان وے | | | | √ |
| ۵ | تا خوب رښتیا کړو مونږه نېکو خلقولره دغسې بدله ورکوو | √ | | | |

## سوال۳: پۀ لاندينو جملو باندې صحيح (√) يا غلط (X) نشان ولګوئ.

| غلط | صحيح | جملې | نمبرشمار |
|---|---|---|---|
| x | | د عراق د ښار نېنوې اٰبادي د دوه لاکهو نه زياته وه | ۱ |
| | √ | يونسؑ د مهي پۀ خېټه کښې د پاتې کېدو پۀ وجه کمزورے شوے ؤ | ۲ |
| x | | مهي چې کوم ځاے يونسؑ ګزار کړو هغه يو اباد کلے ؤ | ۳ |
| | √ | پۀ نېنوې ښار يوه توره وريځ راغله او تور لوګے د قام کورونو طرفته روان ؤ | ۴ |
| | √ | د الله د عذاب سيوري چې ئې وليدل، نو د ښار ټول خلق د خپل اهل و عيال سره بهر مېدان ته راووتل | ۵ |

## سوال۴: خالي ځايونه پوره کړئ.

1. يونس بن متٰيؑ د ..........د نسل نه ؤ. (هودؑ)
2. د يونسؑ د تللو نه وروستو د ......اٰثار پۀ نظر راغلل. (عذاب)
3. يونسؑ به د مهي پۀ خېټه کښې.......کول. (د الله تسبيحات)
4. د نېنوې ښار اٰبادي د........نه زياته وه. (يو لاکه)
5. نېنوې........پۀ غاړه يو ښکلے ښار ؤ (د دجله درياب)

سوال۵: د لاندې ورکړې شوو جملو سره پۀ جوړو شوو خانو کښې د قيصې پۀ ترتيب سره نمبر ورکړئ.

(۸) يو لوے مهي د الله تعالٰي يونسؑ بغېر د نقصان رسولو نه وغورځولو.

(۱۰) الله تعالٰي يونسؑ ته دوباره د نېنوې د خلقو طرفته د تللو حکم ورکړو.

(۲) يونسؑ د څو کلونو پورې د نېنوې خلقو ته د الله پېغام ورسولو.

(۲) د نېنوې خلقو د الله پۀ حضور کښې د خپلو ګناهونو اعتراف وکړو او د عذاب نه ئې پناه وغوښتله.

(۳) د نېنوې خلقو به د خپل رسولؑ مخالفت کولو.

(۵) د یونس عليه السلام د تللو نه وروستو د عذاب اثار پهٔ نظر راغلل۔

(۹) د مهي پهٔ خېټه کښې به یونس عليه السلام تسبیحات او استغفار وئیلو۔

(۱) یونس عليه السلام د عراق د نېنوي ښار مشرکانو خلقو ته رسول جوړ کړے شوے او لېږلے شوے ؤ۔

(۷) یونس عليه السلام د عذاب د ځائے نه د لرې اوسېدلو د پاره پهٔ یوه ډکه کشتۍ کښې سور شو۔

(۴) یونس د خپل قام پهٔ کفر باندې ناراضه شو او د نېنوي ښار نه لرې لاړو۔

سوال۲: د لاندینو سوالونو جوابونه ورکړئ:

۱۔ الله مونږ د کوم قسم خاورې نه پېدا کړي یو؟

جواب: الله مونږ د خمېره شوې ختې نه پېدا کړي یو۔

۲۔ کله به چې کافرو ته وئیل شو چې د الله نه سېوا بل څوک معبود نشته، نو هغوي به څهٔ کول؟

جواب: کله به چې کافرو ته وئیل شو چې د الله نه سېوا بل څوک معبود نشته، نو هغوي به تکبر کولو۔

۳۔ پهٔ جهنم کښې چې د زقوم د ونې پهٔ حقله کومې خبرې بیان شوې دي، د هغهٔ نه دوه ولیکئ۔

جواب: الف۔ هغه یوه داسې ونه ده چې د جهنم د ویخ نه راخېژي۔

ب: د هغې ځانګې د شېطانانو د سرونو پهٔ شان دي۔

۴۔ کافر چې کله د الله تعالی څهٔ نشانه وینې، نو د هغوي رویه څهٔ وي؟

جواب: کافر چې کله د الله تعالی څهٔ نشانه ووینې، نو ټوقې پسې کوي او وائي چې دا خو واضحه جادو دے۔

۵۔ پهٔ دې سورت کښې د نهوو انبیاء کرامو علیهم السلام ذکر راغلے، د هغوي نومونه ولیکئ۔

جواب: یونس عليه السلام، ابراهیم عليه السلام، اسماعیل عليه السلام، اسحاق عليه السلام، موسیٰ عليه السلام، هارون عليه السلام، الیاس عليه السلام، لوط عليه السلام او یونس عليه السلام۔

**عملي سرگرمي:**

۱ ـ د دې سورت اخري درې اٰياتونه زده کوونکيو ته زباني ياد کړئ او د هغې اهميت پرې ولیکئ ـ

۲ ـ د یونس علیه السلام او اسماعیل علیه السلام قیصه د متعلقه الفاظو پهٔ مرسته سره د يوې خاکې پهٔ شکل کښې وښايئ ـ

۳ ـ پهٔ دې سورت کښې د ورکړے شوو نهوو انبياء کرام عليهم السلام مختصر تعارف پهٔ يو چارټ جوړ کړئ ـ مثلاً: د رسول نوم، د قام نوم، ځاے، د قام جرم، انجام وغیره ـ

۴ ـ پهٔ زده کونکيو کښې د الله تعالٰي پهٔ لار کښې د خرچ کولو د جذبې پيدا کولو د پاره هغوي ته ووايئ چې خپل انتهائي خوښ ځيز کوم مستحق ته ورکړي او پهٔ خاص موقعو او حالاتو کښې هم پهٔ اجتماعي توګه ځيزونه جمع کوئ او کومې مستحق ادارې يا ماشومانو ته ئې ورکوئ ـ

## د مطالعهٔ قرآنِ حکیم دنصاب متعلق عمومي تپوسلې شوې سوالونه

## FtequentlyASKQueStionsaboutMutalaeQutan.e.Hakeem(FAQs)

### ۱ - ددې نصاب دتیارولو ضرورت مخې ته ولې راغلے؟

زمونږايمان دے چې قرآن حکيم دالله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی پيغام دےچې دټولو انسانانو دپاره دے ـ زمونږفلاح اوکاميابي پهٔ ديکښې ده چې مونږپرې پوهه شواوددې پهٔ تقاضوباندې عمل وکړو ـ پهٔ عام طورسره دغټودپاره دقرآن دپوهيدلوپهٔ حوالې سره څهٔ نه څهٔ اهتمام پکاردے ـ دغه رنګې چې کله د مسلمان توجه وې نودادقرآن دپوهه کولوکوشش کوي ـ مګریوخيال داراځي چې ولې نهٔ داسکول نظامِ تعليم مخې ته کېښودلے شي چې دقرآن دپوهيدلوکوشش وکړےشي ـ پهٔ اسکول کښې اسلاميات بهرحال وئيلےشي نوولې پهٔ دې وخت کښې نهٔ طالبانو اوطالباتوته دقرآنِ حکيم دتيريدلوکوشش کيديشي ځکه چې پهٔ دې عمرکښې کومه خبره پهٔ ذهن کښې کېښول پکاردي ددې اثرات ډيراوپائداروي ـ زمونږدناقص معلوماتوترحده پورې داسې يومربوط نصاب موجودنهٔ ؤ، ددې وجې نه کوشش وکړے شوچې دطالبانواوطالباتودذهني سطحِ مطابق دقرآنِ حکيم داسې يونصاب تيارکړے شي چې ددې عصري علوموپهٔ دوران کښې د"اسلاميات"دعمومي نصاب سره او وئيلےشي اوډيرزيات وخت پرې ونهٔ لګي دغه رنګې ددې نصاب آغازددريم کلاس نه شوےدے ـ دغه رنګې پهٔ اسکول کښې دعصري تعليم سره پهٔ اووهٔ کلونوکښې دپوره قرآنِ حکيم دترجمې، مختصرتشريح اوداهمومظمونونه خبرشي ـ

## ۲ ۔ لفظي ترجمي او تفسیرونه دمخکښې نه موجود وو بیا ددې تفسیرضرورت ولې شو؟

یقیناًزمونږعلمآء کرامو پهٔ دې دورکښې پهٔ اردوژبه کښې ډیرکارو کړوچې پهٔ دیکښې لفظي ترجمې ،بامحاوره ترجمې اوڅهٔ تفسیرونه هم شامل دي چې پهٔ دیکښې دغتو دلارښودني دپاره یقیناًډیرزیات ۔ موادموجود دي مګرعام طورباندې دمشکل ژبې اوژورمظمونونودوچې نه پهٔ اسکولونوکښې د زیرِتعلیم طالبانو اوطالباتو دپاره داخبرې ددوئ دذهني سطحِ نه اوچتي وې ۔ ددې وجې نه پهٔ دې نصاب کښې کوشش کړے شوے دے چې کوم معروف اومشهورتفسیرونه موجودې دهغوی نه استفاده شوي ده دبچودذهني سطحِ مطابق دپوره قرآنِ حکیم یونصاب تیارشوے دے ۔ ددې دپاره چې دقرآن پوهه ددې طالبانو اوطالباتو دپاره آسانه شې۔

## ۳ ۔ دانصاب دکوم مسلک مطابق دے؟

داحقیقت دےچې زمونږپهٔ معاشره کښې څومره مسلکونه یامعروف مکاتبِ فکر موجوددي ۔ مونږدټولو احترام کووا ودامکاتبِ فکراومسلکونه دمسلمانانودې ۔لیکن قرآم حکیم دیومسلک دپاره نهٔ دےبلکه دټول عالمِ انسانیت دپاره دهدایت سرچینه ده پهٔ دې نصاب کښې خاص طورسره داکوشش شوےدےچې دمعروف مکاتبِ فکراودمسلکونودعالمانودترجمواوتفسیرونومخي ته اینبودلےشوےنصاب تیارشوےدےاوکوشش شوےدےچې دقرآن ساده اوبنیادي پیغام دطالبانواوطالباتومخې ته راوړلےشي اود اختلافي مسائلونه پهٔ ضروري امورو باندې داتحادتنظیماتِ مدارس پاکستان نامزدشوي نمائندګانونه متفقه تجویزحاصل کړےشي اوداشامل کړےشي اوپهٔ باقي اختلافي معاملاتوکښې حتی الوسع نظرانداز کړے شوےدے۔پهٔ مستقبل کښې چې کله پهٔ دې طالبانوکښې ان شاءالله دقرآن پوهه زیاته شي اوددې مزید خواهش پیداشي نودوئ به دخپل مکاتبِ فکراومسلکونودعالمانونه هم راهنمائی حاصلوې ۔مونږداکوشش کړےدےچې فرقه وارانه او اختلافي امورمودمطالعهٔ قرآن حکیم پهٔ نصاب کښې دبحث لاندې نهٔ دي راوړي ۔

## ۴ ۔ آیاددې نصاب دپاره علمآءکرامو ته رجوع شوې ده؟

الحمدلله دمشهورمکاتبِ فکرڅوعلمآءکرام اومفتیان کرامو ته دانصاب دنظرِ ثانی دپاره ښودلےشوےدےچې مونږدخپلوفائده مندورائیګانواوتجویزونونه خبرکړي اوددغوفائده مندورائیګانو اوتجویزونوپهٔ رنړائي کښې ددې دبهترنه دبهترکولوکوشش جاري دے ۔مزیدپهٔ دې باندې داتحادتنظیماتِ مدارس پاکستان دکمیټۍ دمشهوروعلمآءکرام دنظرِ ثانی پهٔ رنړائی کښې دانصاب دبهترنه بهترکړےدے ۔ددینه علاوه دټول مکاتبِ فکر مشهوروعلمآءکرامو کلمات تحسین پهٔ تحریري شکل کښې هم موجوددي۔

## ۵ ۔ پهٔ دې نصاب کښې شامل ترجمه او تشريح څۀ رنګه مرتب شوې ده؟

لکه څرنګه چې مخکښې عرض وکړے شو چې ددې نصاب پهٔ تيارۍ کښې د معروف مکاتبِ فکر د ترجمو او تفسيرونو نه فائده اخستلے شوې ده ۔ د اردو ژبې د اويا (۷۰) نه زيات معروف او معتبر ترجمې او تفسيرونه مخې ته اېښودلے شوې دې او د انصاب ترينه مرتب شوے دے او ددې پهٔ حدودو کښې د طالبانو د ذهنې سطحِ مطابق د ترجمې د اسانولو کوشش هم شوے دے ۔ ځکه چې پهٔ هره ژبه او دور کښې بدلېدل رابدلېدل راځې ددې وجې نه ترجمه آسانه شوې ده ۔ علاوه لا دا چې مشهور تفسيرونه مخې ته اېښودل او د استاذانو د پاره د اسې نوټس مرتب شوے دے چې پهٔ دې باندې د اکثرو علمآءِ کرامو اتفاق دے ۔ الحمدلله ددی علم فاؤنډيشن لائبريرې او د آن لائن موجود ترجمو او تفسيرونو نه هم استفاده شوې ده ۔

## ۶ ۔ ددې نصاب پهٔ تيارۍ کښې کوم خلق مصروف دي؟

الحمدلله ددی علم فاؤنډيشن هغه ټيم چې پهٔ دې نصاب باندې کارکوې دا پهٔ بنيادي طور باندې پهٔ څو افرادو باندې مشتمل دے او دې ټولو افرادو ته دقرآن حکيم بنيادي عربې ازده ده ۔ ځنې پهٔ دوی کښې مدرِّسين هم دي ،يو نيم د جمعې خطيبان هم دي او دوی الحمدلله د رمضان المبارک پهٔ مياشت کښې د قرآن کريم مکمل ترجمه او تشريح هم بيانوې دوی ملګرو باقاعده د قرآن فهمۍ کورس کړے دے چې پهٔ دوی کښې ئي دا باقاعده دا ازده کړې چې د قرآن حکيم ترجمه او تشريح به څنګه بيانوي؟ددينه علاوه لکه چې مخکښې هم عرض وکړے شو چې علمآء کرامو دانصاب پوره کتلے دے،ددې يو يو حرف د دوی د نظر نه تير شوے دے،علاوه لا دا چې دانصاب ددوی علمآءِ کرامو نه علاوه څونورو علمآء کرامو ته هم ښودلے شوے دے او وخت پهٔ وخت دانصاب اساتذه کرامو او نورعلمآء حضراتو هم ليدلے او ددينه ئې راهنمائي اخستې ده۔

## ۷ ۔ دی علم فاؤنډيشن کوم خلق چلوې او مالې مرسته څرنګه کېږي؟

دی علم فاؤنډيشن پهٔ اصل کښې يو ټرسټ دے چې ددوی نه Trustees دي ۔ دا هغه حضرات دي چې د کراچۍ ښار مشهور کاروبارې طبقاتو سره تعلق لري ۔ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰى دوی ته د زړهٔ درد ورکړے دے او ددين د خدمت جذبه ئي هم ورکړې ده ۔ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰى دوی پهٔ خپلو نعمتونو سره پوره کړې دي ۔ دا حضرات غواړي چې د خيرپهٔ کار کښې خپله حصه واچوي او دا ټول عمل صدقه جاريه جوړه شي ۔ ددينه علاوه دا حضرات ياد اداري چلولو واله مخې ته بل يو مقصد نشته دے۔

## ۸۔ د کتاب د حفاظت او ادب مسئله څرنګه حل کولے شي؟

ددې بنيادي جواب دادې چې پۀ اسکولونو کښې طالبان د اسلاميات کتاب هم لولي چې پۀ ديکښې پۀ قرآن او حديث باندې مبني مواد شامل وي. پۀ کوم ځائے کښې چې د نابالغه ماشومانو خبره ده نو هغه خوښکاره خبره ده نو ظاهره ده چې پۀ دوی باندې د شريعت حکمونه نۀ نافذ کيږي، ددې وجې نه هغوی خو ګناه ګارنۀ دې خو مونږه لره پکار دې که هغه د اسلاميات کتاب وي يا د اردو هغه کتاب وي چې پۀ هغوی کښې د الله نوم وي نو دوئ ته ددې ادب ازده کول پکار دې. لکه چې څرنګه د اسلامياتو کتاب پۀ اسکولونو کښې لوستلے شي دغه رنګې د امطالعۀ قرآن حکيم هم لوستلے شي مګر ادب ضرور کول پکار دي. ددې پورې علمآء کرام دا فرمائي چې پۀ کوم کتاب کښې د قرآن حکيم متن کم وي او ترجمه، تشريح او دنور الفاظو شمير زيات وې نو ددې کتاب مجموې ته قران حکيم نۀ شې وئيلے. د قرآن حکيم پۀ کتاب باندې د قرآن حکيم اطلاق نۀ کيږي مګر بچو ته د شروع نه ادب ازده کول پکار دې ددې د پاره چې ادب کول ازده کړې لکه چې يو متل دے. باادب بانصيب بےادب بے نصيب. چې څوک دَ استاد او کتاب ادب کوې هغه خوش نصيبه دے.

## ۹. دا نصاب به څوک لولي؟

پۀ هر اسکول کښې د اسلامياتو مظمون لوستلے شې او د اسلامياتو لوستلو واله استاذان مسلمانان وي. نو کَم از کَم پۀ کوم استاذ باندې چې دا اعتماد وي چې دا د مسلمانانو بچو ته اسلاميات لولي نو زمونږ خيال دے چې دا سې هم يو استاذ د مطالعۀ قرآن حکيم نصاب هم لوستلے شي. ددې لګ شانته د راهنمائي ترغيب او شوق ضرورت دے چې الحمد لله د دی علم فاؤنډيشن د پليټ فارم نه کولے شي. د استاذانو د پاره جدا تدريسي هدايات هم مرتب شوي دې او ددې ويډيو ريکارډ هم تيارولے شي کله چې استاذان دا نصاب لوستل شروع کړي نو دوی لره دا بتدائي راهنمائي هم دا سانولو کوشش کړلے شوے دے. ددې نصاب د هرې حصې پۀ حوالي سره د استاذانو يو نوټ هم تيار شوے دے چې آيت پۀ آيت پۀ تفسيري نکتو باندې مشتمل دے. دغه رنګې هر آيت چې پۀ نصاب کښې لوستلے شي د هغوی تفسيري نکتې هم تيارې شوې دي. دغه رنګې تدريسي هدايات ابتدائي راهنمائي او آيت پۀ آيت تشريحي نکتې ددوی ټولې مجموعې پۀ ذريعه د اسلامياتو استاذان هم دا نصاب پۀ مؤثر طور باندې پۀ اسانۍ سره لوستلے شي، ان شاءالله.

## ۱۰. دا نصاب به څرنګه لوستلے شي؟

قرآنِ حکيم د دنيا د ټولو نه عظيم کتاب دے. ددې وجې نه چې کوم استاذان دا نصاب لولي هغوی خپل ځان خوش قسمته ګڼړې چې څومره د عظيم کار د پاره الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰى مونږه چوڼ کړو، حضرت نبی کريم ﷺ فرمائي "چې پۀ تاسو کښې بهترين هغه څوک دے چې قرآن حکيم ازده کړي او نورو ته ئي ښائي(صحيح بخاري) سوال دا دے چې څنګه وئيلے شي؟ عرض دا دے چې کوم استاذان اسلاميات لولي هغه د اسلامياتو پۀ نصاب کښې د شامل قرآن حکيم څۀ حصه هم لوستلے شي. مګر ددې نصاب د تدريس د پاره مونږ دا ضرور وايو چې پۀ ابتدائي دوه

حصو کښې دوه طرفه دتدریس انداززیات دے او دریم کلاس ته دانصاب لوستلے شي او پۀ بیا بیا وئیلو سره دطالبانو پۀ ذهن کښې داخبره کېنولے شي ـ پۀدې حواله سره یو ډیمو کلاس هم ریکارډ شوے دے ـ ددینه هم استاذان فائده اخستلے شي ـ ددینه علاوه هم که چرته پۀ یو اسکول کښې ضرورت وي نود دی علم فاؤنډیشن دا رخه پۀ اسکول کښې هم دډیمو کلاس انتظام کېدلے شي ـ

## ۱۱ ـ آیا استاذان دراهنمائي دپاره دنمونې پۀ طورباندې ډیمو کلاس کولے شي؟

داستاذانو دراهنمائي دپاره دنمونې پۀ طورباندې یو ډیمو کلاس ریکارډ شوے دے ـ ددې بنیادي مقصد دادے چې داستاذانو دپاره یو ابتدائي بنیادمخې ته راشي چې څرنګه به ددې نصاب تدریس کولے شي ـ کله چې پۀ استاذانو کښې لګه شانته جزبه او اراده وي او دا احساس هم وي چې الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی مونږ ددې عظیم کار دپاره چوڼ کړلو نوبیابه څرنګه دډیمو کلاس ضرورت مخې ته نۀ راځي ـ دکله نه چې دانصاب شروع شوے دے پۀ ۴۰۰ سوه اسکولونو کښې صرف د دوه اسکولونو دا رخه دډیمو کلاس تقاضا راغلې ده ـ بیا دډیمو کلاس نه روسته دوی دا ووئیل چې دادومره اسان دے چې کېدیشي دډیمو ضرورت مخې ته رانشي ـ پۀ اکثر اسکولونو کښې چې کوم استاذان دي هغه دومره جذبې واله دي چې هغوی پۀ خپله دا کار شروع کړے دے او الحمد لله اکثرو ته د ډیمو کلاس ضرورت نۀ دے راغلے ـ بیا که چرته هم ددې ضرورت وونو پۀ دې حواله سره تیار شوې ویډیو ریکارډنګ هم ددې دپاره استعمال شوے دے او که چرته د دی علم فاؤنډیشن دا رخه پۀ یو سکول کښې ددې ضرورت ؤ او ممکن وه نو ددې هم کوشش شوے دے ـ

## ۱۲ ـ آیا ددې نصاب آډیو ، ویډیو ریکارډنګ موجود دے؟

لکه څرنګه چې مخکښې عرض وکړے شو چې ددې نصاب تعارفي ویډیو ، دډیمو کلاس ویډیو ، داستاذانو دپاره تدریسي هدایات او پۀ عمومي طورباندې دکړلے شوو سوالونو (FAQs) پۀ جوابونو باندې مبني ویډیو ریکارډنګ هم موجود دے ـ آئنده زمونږ اراده ده چې دا پوره نصاب دویډیو ریکارډنګ هم تیار شي ـ ددې اصل مقصد دادے چې دانصاب آن لائن پیش کړلے شي ددې سره دا مقصد هم دے چې پۀ کوم و اسکولونو کښې دانصاب دیوڅۀ وجې نه لوستل ممکن نۀ وي یا هغلته استاذان موجود نۀ وي نو پۀ هغه ځایونو کښې ددې ویډیو ریکارډنګ نه استفاده شوې ده ـ علاوه لا دا چې څۀ استاذان که چرته ددینه فائده اخلې نو دهغوئ دپاره هم دا اسان وي ـ

## ۱۳ ـ آیا دانصاب د اسلامیات نعم البدل دے؟

داخبره واضحه ده چې د اسلامیاتُ نصاب جامع (Comprensive) وي چې پۀ دیکښې عقائد ، عبادات ، ایمانیات ، او پۀ اخلاقیاتو باندې خبرې وي ، پۀ سیرت النّبی ﷺ باندې خبرې اترې شوې دي ، پۀ صحابه

کرام رضی الله عنهم او پۀ حقوق العباد باندې هم خبرې شوې دي. لیکن دا خبره مونږ پېژنو چې زمونږ د تعلیمي نصاب د ټولونه ښکته کتاب د اسلامیاتُ دے. زمونږ خیال دے چې څومره اسلامیات لوستل پکار دي هغه نۀ لوستلے شي مونږ د انصاب د اسلامیاتو نعم البدل خونۀ وایو لیکن یو ValueAddition ضرور وایو چې زمونږ د طالبانو او طالباتو ذهني سطح د دِیني معلوماتو پۀ اعتبار سره او چتېدل پکار دي. پۀ نن وخت کښې عموماً خلق د پنځوسو شپېتو کلونو وي لیکن قرآن حکیم د ترجمې سره نۀ شي وئیلے. (الّا ماشاءالله). نوسوچ وکئ! که چرته نن یو طالب العلم د پوره قرآن حکیم ترجمه، ددې تشریح اود اخلاقي هدایاتو نه علاوه دډېرلوې علمي ذخیرې نه تیرشي چې ددې مکمل نصاب پۀ صورت کښې ورکولے شي نوسوچ وکئ! چې ددې اسلامیاتو او دیني معلوماتو معیار به څۀ وي. بهرحال ددې نصاب سخت ضرورت دے چې ددې دپوره کولو کوشش کړلے شوے دے.

## ۱۴ - د اسلامیاتُ د نصاب سره به ددې د پاره وخت څنګه وېستلے شي؟

پۀ انګرزۍ کښې وئیلے شي چې (Whenthereiswillthereiaway) که چرته نیت صفاوي نو منزل آسانېږي. الحمدلله پۀ زراوو اسکولونو کښې د اسلامیاتُ سره وئیلے شي مونږ پۀ یقین سره وایو چې ددې مخې ته به څۀ مشکل نۀ راځي. ټولو وئیلي دي چې د انصاب زمونږ پۀ اسکولونو کښې لازماً کېدل پکاردي. د قرآن حکیم د تعلیم نه غټ بل کوم یو تعلیم کېدلے شي. څه اسکولونو ددې نصاب د پاره د څۀ کلاسونو اضافه کړي ده. دویم دا چې د اسلامیاتُ پۀ نصاب کښې د قرآن حکیم څۀ حصّه (Portion) شوې ده لیکن دا ډېره لګه ده، نو څۀ حصه پۀ دې نصاب سره مکمل شوې ده مثلًا ناظره، څۀ حفظ، اخلاقیات وغیره څۀ وخت د هغلته نه وتلے شوے دے لیکن اصل خبره داده چې تراوسه پورې پۀ تجربه کښې د وخت نۀ موجودیدلو شکایت نۀ دے راغلے. ددې وجې نه چې څوک ددین د دردلرلو واله، فکرآخرت لرلو واله اود قرآن حکیم محبت لرلو واله ملګرې وې هغوی پۀ خپله وخت اوباسي ـ زمونږ سره ددې تجربې د اسکولونو د انتظامیې استاذانو موراو پلار اود بچو د اړخ نه موجود دي چې د اوئېل غواړي. اوکله چې د ټولو مرضي خواهش اوتمناوې نو الله سُبۡحَانَهٗ وَتَعَالٰی به لار آسانوي.

## ۱۵ - ایا د نصاب د تدریس د، معلومولو څۀ انتظام شته چې دا پۀ باقاعدګۍ اولوستلے شي یا نشته؟

پۀ دې ضمن کښې یو فارم تیار شوے دے چې پۀ اسکولونو کښې تیار شوے او ګزارش دے چې دا د میاشتې پۀ بنیاد و نو باندې ډک کړے شي دډاک پۀ ذریعه یا دا ایمیل پۀ ذریعه راولیګئ. مونږ ته د تدریس پۀ حوالې سره د تازه ترین صورتحال علم کېدلے شي. پۀ دې باندې زیاتې دا کوشش کړے شوے دے چې دهرې میاشتې د دی علم فاؤنډیشن د فون پۀ ذریعه د اسکولونو د ښودلې شوې وخت مطابق چې کله متعلقه استاذ موجود وي. رابطه وکړئ پۀ فون باندې رپوټ واخلئ. مونږ داپۀ خپل

ریکارډ کښې محفوظ کړے دے ۔ دغه رنګې مونږ ته د نصاب د تکمیل (Coverage) انداز ه کېدلے شې پۀ دې باندې زیاتې ددې رابطه پۀ مرسته که چرته مونږ ته د استاذانو څۀ مشوره یا تجویز ورکول وې نو هغه به هم تیاره وو ۔

## ۱۶۔ آیا د طالبانو د کارکردګۍ د معلومولو څۀ نظام شته؟

د دی علم فاؤنډیشن رابطه نیغ پۀ نیغه د طالبانو او طالباتو سره نشته بلکه د رابطه د استاذ او د اسکولونو د انتظامیه د طالبانو او طالباتو سره وې۔ مونږ د امعامله د اسکولونو پۀ صوابدید باندې پرېښې ده۔ اسکولونه پۀ خپل طور باندې ددې نصاب پۀ حوالې سره د سوال او جواب پروګرام هم کولے شې او د میاشتې شپږ میاشتې او د کال پۀ بنیاد باندې امتحان هم اخستلے شې ۔ زمونږ د معلوماتو مطابق څۀ اسکولونه دا سې کوې۔ البته پۀ اکتوبر ۲۰۱۲ کښې دی علم فاؤنډیشن یو د سوال او جواب پروګرام منعقد کړو چې پۀ دیکښې ۱۳ اسکولونه شریک ؤ چې دا ولې حصې تکمیل و شو ۔ دا پروګرام پۀ سوال او جواب، آرټ، او تقریرې مقابلې باندې مشتمل ؤ ۔ ددینه دا محسوس شوه چې نۀ صرف طالبان او طالباتو ښۀ مطالعه کړې ده بلکه د استاذانو د اړخه هم پۀ ښۀ طریقې باندې د نصاب تکمیل شوے دے ۔ نو فی الوقت مونږ د دغه مقابله جاتو انعقاد کړے دے مګر آئنده زمونږ پروګرام دے چې یو مرکزې سوال نامه د دی علم فاؤنډیشن د اړخه جوړولے شې او بیا ددې پۀ لحاظ سره جانچ پړتال و شې او پۀ دې بنیاد باندې د طالبانو او طالباتو سندونه او تحفې هم ورکولے شې لیکن دا آینده منصوبه ده دعاده چې پۀ دې باندې الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی مونږ ته د عمل توفیق را کړې۔

## ۱۷۔ ایا ددې نصاب د تدریس سره د طالبانو پۀ علم او عمل کښې څۀ تبدیلې پیدا شوې ده؟

عموماً خلق غواړې چې فوراً تبدیلې پۀ نظر را شې مګر څرنګه چې عرض و کړے شو چې د دی علم فاؤنډیشن رابطه نیغ پۀ نیغه د طالبونو او طالباتو سره نشته دې ۔ مونږ د اسکولونو سره رابطه کوو ۔ د استاذانو سره د ملاو بدلو د معلوماتو مطابق طالبان نۀ صرف پۀ دې نصاب کښې مینه لرې بلکې چې کومې هلې زلې ددې سره کولے شې پۀ هغوی باندې زیاته توجه ورکولے شې او پۀ نصاب کښې ورکړے شوې کورنۍ هلې زلې د کوروالو پۀ مرستې سره کولے شې ۔ دغه رنګې د کوروالو هم شمولیت کېدلے شې، د استاذانو مطابق پۀ طالبانو کښې د انبیاء عَلَیْهِمُ السَّلَام د قصو او د علم او عمل پۀ خبرو کښې د اخلاقې سبقونو پۀ ذریعه د هغوی پۀ عمل او کردار کښې هم تبدیلې لیدلے شې۔ یو ځل د څۀ مورا و پلار نه هم ددې نصاب پۀ باره کښې د تاثراتو فارم ډکوالے و شو نو د هغوی تاثرات ډیر مثبت او امیدواله ؤ ۔ باقې اصل کیفیت د الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی پۀ علم کښې دې بهرحال چې کوم تاثرات د استاذانو او مورا و پلار د اړخه مونږ ته رارسېدلې دې ددې مطابق ښۀ اثرات دې چې پۀ طالبانو کښې لیدلے شې ۔

## ۱۸۔ آیا امتحان اخستلو د پاره ماډل پیپر تیار شوے دے؟

الحمد للہ د دی علم فاؤنډیشن دا ړخه د اسکولونو د معاونت د پاره ماډل پیپر تیار شوے دے۔ البته دا خبره هم د اسکولونو په صوابدید باندې ده چې ماډل پیپر څۀ رنګه استعمال کړې۔

## ۱۹۔ آیا د دریم کلاس د طالبانو او طالباتونه ددې نصاب شروع کول موزون دي؟

دځنې خلقو د اړخه دا سوال راځې چې آیا د دریم کلاس طالب العلم ته دومره درون نصاب لوستلے شي؟ په دې سلسله کښې دا ګزارش دے چې الحمد للہ په زرهاوو اسکولونو کښې زیات ترد دریم کلاس واله دا نصاب وائې تراوسه پورې دا خبره په تجربې سره مخې ته راغلې ده Cambridge په سستم باندې چلېدلو اسکول Matric په سستم باندې چلېدلو اسکول او هغه اسکول چې په هغوی کښې د حفظ او ناظرې اهتمام وې په ټولو کښې دا نصاب په دریم کلاس کښې وئیلے او لوستلے شي ددې اسکولونو طالبانو سوال او جواب په پروګرام کښې شرکت هم کړےدے او دا طالبان چې پاس شې د دریم کلاس نه څلورم کلاس ته هم تللے شي۔ دا په خپله ددې خبرې ګواهي ده چې دا نصاب په دریم کلاس کښې وئیلےشي د دریم کلاس سره ددې د نصاب تدریس تجویز ددې د پاره هم دےچې عام طور باندې چې کله یو طالب العلم قرآن وائې نو د دریم کلاس پورې په رسیدلو رسیدلو د قرآن حکیم څۀ یا اکثر سیپارې هغه وئیلې وې او د قرآن حکیم د الفاظو سره اشنا شوے وې ددې سره دارد ولوستل هم په څۀ درجه کښې ددې د پاره اسان شوې وې۔ ددې دلائلو په بنیاد باندې ددې نصاب د دریم کلاس نه د شروع کولو ګزارش شوے دے۔

## ۲۰۔ د رنګونو د استعمال مقصد څۀ دے؟ د هر لفظ جدا جدا ترجمه ولې نۀ ده شوې؟

دوه رنګه ددې د پاره استعمال شوې دې چې څومره د قرآن حکیم متن په یو رنګ کښې وې په د غه رنګ کښې ددې متن ترجمه هم ددې متن لاندې راشي بیا د آیت دویمه حصه په دویم رنګ کښې راشي او ددې ترجمه په د غه رنګ کښې لاندې راشي۔ مقصد دا دے چې ځنې آیاتونه اوګدۀ وې او ددې لوستل د طالبانو د پاره مشکل کېدلے شي نو مونږ په وړو حصو کښې تقسیم کړے دے او دا تقسیم د رنګونو په ذریعه سره شوے دے دا اوس یو مشهوره طریقه ده چې نورو ادارو هم استعمال کړې ده ۔لفظي ترجمه ددې وجې نه نۀ ده شوې چې ډېر زیات لفظي ترجمې د مخکښې نه موجود دي۔ مقصد دا دے چې دومره متن او ترجمه په یو رنګ کښې ورکړے شوه نو یوه مکمل خبره محسوسه شوه ۔علاوه لا دا چې ایاتونه په وړو حصو کښې د تقسیم یو بل مقصد دا دےچې استاذانو ته په وئیلو او شاګردانو ته په ازده کولو کښې اسانې وې دا وړه حصه کله یو وړوکے آیت هم کېدلے شي لکه ۔۔الرحمٰن ۔۔او کله د آیت ټکړه هم کېدلے شي لکه الحمد للہ الذی۔۔

## ۲۱۔ د مختلف سورتونو په انتخاب کښې څۀ حکمت دے؟

دانصاب پۀ او وحصو باندې تقسيم کړے شوے دے ("مطالعۀ د قران حکيم دطالبانو او طالباتو دپاره" چې دهرې حصې پۀ آخره کښې ددې نصاب پوره تفصيل موجود دے) ۔ کوشش شوے دے چې پۀ ابتدائي دوه درې حصو کښې دانبياء عَلَيۡهِمِ السَّلَام واقعات بالخصوص دحضورنبی کریم ﷺ دپاک ژوند سره متعلق ځوبنيادي امور دمخکښې نه بيان شوي دي ځکه چې ددې پوهېدل آسان شي ۔ وړوکې او غټ ټول داسانې سره دقصونه خبرې پوهې ته راځي ۔ دغه رنګې ددې قصو سره واړۀ مکي سورتونه اخستلے شوي دي ۔ بيائې غټ مکي سورتوونو شامل کړل او ددينه روسته پۀ اخرې حصو کښې مدني سورتونه شامل کړل ۔ دغه رنګې پۀ دې نصاب کښې دسورتونو اودقرآن انتخاب وشو ۔ يعنې داسانو الې نه مشکل اړخ ته تللے دے ۔ لکه پۀ انګريزۍ کښې وئيلې شي Simple نه Complex اړخ ته يا بيا Easy نه Difficult اړخ ته تلل ۔

## ۲۲ ۔ مکي اومدني سورتونو ته پۀ کوم لحاظ باندې ترتيب ورکړے شوے دے؟

مکي سورتونه د قرآن حکيم تقريبًا دوه دريمي حصې دي چې يوه دريمه حصه قرآن پۀ مدني سورتونو باندې مشتمل ده ۔ دمکي سورتونو اياتونه هم واړۀ دي او پۀ دې پوهېدل هم اسان دي ۔ پۀ دېکښې دعقيدو ،اخلاقياتو ،ايمانياتو ،دانبياء عَلَيۡهِمِ السَّلَام واقعاتو او فکر آخرت بيان دے ۔ پۀ مدني سورتونو کښې دشريعت حکمونه او اوامرنو اهي يعني Dos او Donts بيان دے ددې نصاب اولنۍ پينځۀ حصې پۀ مکي سورتونو باندې ،مشتمل دي او آخرې دوه حصې پۀ مدني سورتونو باندې مشتمل دي ۔ دآخرې حصو کلاسونه به پۀ ۷ ،۸، او ۱۰ ،۹ کښې لوستلے شي ۔ ددې دپاره چې کوم طالبان پوهه وي نو هغوی مدني سورتونه لولي چې پۀ دېکښې دشريعت احکامات راغلي دي ۔ دترتيبِ نزولي پۀ اعتبار سره داخبره مشهوره ده چې اول مکي سورتونه نازل شوي بيا مدني سورتونه ۔ دا حکمت هم مخې ته اېښودلے شوے دے دمکي سورتونو اود مدني سورتونو ترتيب پۀ دې نصاب کښې کېښودلے شوے دے ۔

## ۲۳ ۔ دعقائدو اوعباداتو دتفصيلاتُ د نۀ بيانولو ځۀ وجه ده؟

دعقائدو اوعباداتو ډيرزيات پۀ تفصيلاتو کښې د نۀ تللو وجه داده چې مونږ پوهېږو چې داسلاميات و پۀ عمومي کتابونو کښې بنيادي عقائد (دايمانياتونه دتوحيد ،رسالت او داخرت بيان شامل دے) اود عباداتو نه (مونځ ،زکوة ،روژه اودحج ) تفصيل هم شامل دے ۔ ددې وجې نه دنصاب پۀ ابتدائي حصو کښې دعقائدو اوعباداتو زيات تفصيل نۀ دے بيان شوے ۔ ددې وجې نه پۀ شپږمه حصه او اوومه حصه کښې زيات تفصيلات ورکړے شوي دي ۔ چې کله دنصاب پۀ اولنو پينځۀ حصو کښې ددې وجې نه چې دامکي سورتونه دي ددې دپاره ئې پۀ بنيادي عقائدو توحيد ،رسالت او آخرت باندې زيات زور ورکړو ځکه چې دادمکي سورتونو بنيادي مظمونونه دي ۔

## ۲۴۔ آیا د مطالعۂ قرآنِ حکیم پۂ نصاب کښې د سیرت النبی ﷺ ذکرهم شوےدے؟

ټول قرآن حکیم پۂ اصل کښې سیرت ا لنبی ﷺ دےلکه چې حضرت عائشه رضی الله عنها فرمائي: كَانَ خُلُقُهُ الْقُرْآن (بخاری) یعني د حضرت نبی کریم ﷺ اخلاق قرآن دے۔ البته ترڅوپورې چې پۂ تسلسل سره د سیرت النبی ﷺ د شروع نه تر د آخره پورې د بیان کولو معامله ده نو د ادا اسلامیاتو پۂ کتابونو کښې مختصراً موجود ده یعني د پېدائش نه تر وصاله پورې حالات، یعني د سیرت ا لنبی ﷺ مکي او مدني دور ۔ د مطالعۂ قرآن حکیم پۂ نصاب کښې چې کله مکي سورتونه لوستلے شي نو د حضرت نبی کریم ﷺ د مکې دور حالات مخې ته راځي یاد ساتئ چې د دوه دریمو حصونه زیات قرآن حکیم پۂ مکي سورتونو باندې مشتمل دے۔ دغه رنګې چې کله مدني سورتونه لوستلے شي نو پۂ سُورَة انفال کښې غزوۂ بدر، پۂ سُورَة آل عمران کښې غزوۂ احد، پۂ سُورَة احزاب کښې غزوۂ احزاب، پۂ سُورَة فتح کښې صلحه حدیبیه او پۂ سُورَة توبه کښې به د غزوۂ تبوک بیان هم راشي ۔ د دې د پاره چې مونږ پۂ مطالعۂ قرآن حکیم کښې شامل ټول سورتونه د واقعاتو آیت پۂ آیت تشریحاتو کښې د حضرت نبی کریم ﷺ د سیرتِ مبارکه اړخ او د حضرت نبی کریم ﷺ د احادیثو مبارکۂ ؤ پۂ کثرت سره بیان شوےدے او پۂ طالبانو باندې د سیرت ا لنبی ﷺ اهمیت واضح کول او د دې سره د عملي تعلق پېدا کولو کوشش شوےدے۔ دغه رنګې" د مطالعۂ قرآن حکیم د اولې حصې نه تر دریمې حصې ، ، پورې پۂ مختصر انداز کښې د حضورنبی کریم ﷺ د پاک ژوند سره متعلق ځوبنیادي تاریخي امور او د حضرت نبی کریم ﷺ فضائل او مکارم سره متعلق غوره غوره ایاتونه او احادیثو باندې مشتمل مواد هم تیار شوې دي د دې د پاره چې استاذان او طالبان د دینه هم فائده واخلې ۔

## ۲۵۔ آیا پۂ دې نصاب کښې احادیثِ مبارکه هم شامل کړې شوې دي؟

آو جي د مطالعۂ قرآن حکیم د طالبانو او طالباتو د پاره او د "راهنمائے استاذان: پۂ هرباب کښې احادیث مبارکه بیان شوې دي۔ چې د بچود ذهني سطحې او د وخت موجود بدلو مطابق دي۔ پۂ روستنو حصو خصوصاً د مدني سورتونو (چې د دې تشریح ضرورت زیات دے) پۂ بیان کښې د متعلقه آیاتونو پۂ تشریح کښې د احادیثو مزید حوالې بیان شوې دي۔ څنګه څنګه چې د حصو شمیر مخې ته زیاتېږي نو د اسې د اسې پۂ متعلقه احادیثو" راهنمائے استاذان"کښې به شامل کړےشي ان شاءالله ځکه چې د آیاتِ قرآنې د تشریح د پاره د قرآنې آیاتونو سره اهم ترین ذریعه د حضرت نبی کریم ﷺ احادیثِ مبارکه دي۔

## ۲۶۔ که چرته عربي ګرائمر لوستلے شي نو د اخبره به د ترجمې د ازده کړې د پاره ډېره فائده منده نۀ وي؟

عربي ګرائمر ضروري کېدل پکار دي بلکه قرآني عربي ګرائمر کېدل پکار دي ځکه چې عربي بول چال SPoKenAravbic او پۂ قرانې عربې QuranicArabic کښې خاص فرق دے ۔ لیکن د ایو تکنیکي اړخ

ضـرورت دے.دقـران دنـاظرې Expertise دے ـ دژبـې ازده کولو دپـاره زيـات Technical Aspect اواسلامياتو دپاره ډيرزيات اساتذه موجوديدلےشي مګردقرآني عربي لوستلو دپاره استاذان ډير کم موندلےشي.که چرته پۀ يواسکول کښې پۀ شپږواووۀ کلنوکښې تقريبًا ۲۰۰ګينټې فارغيدلوته تياروې نودقرآني عربي نصاب هم اسانولےشي ـ مګرسوال داد ےچې دوه سوه ګينټې به دکوم خواه راوړلےشي؟ دمطالعۀ قرآن حکيم دنصاب دپاره ۳۵۰ ګينټې غوښتلےشي ـ که پۀ اووۀ کلنوکښې داوخت ويستل اومختص کړے شي نودانصاب بۀ ان شاءالله مکمل کړےشي ـ کله چې ددې دپاره وخت هم موجودوي اوهلته دقرآني عربۍ لوستلوهم موجودوي نودا "نُوْرٌعَلٰی نُوْرٌ" واله خبره ده.

## ۲۷ـ آيادګرمۍ پۀ چوټيۍ کښې ددې نصاب تدريس کېدلےشي؟

چې کوم يواسکول خپل طالبان اوطالبات پۀ چوټيانوکښې رابللې شي اوپۀ خپله رضاباندې ددې سره استاذان هم موجودوي نودوی لره داکارخامخاکېدل پکاردي ـ د دی علم فاؤنډيشن دا ړخه پۀ دې معامله کښې معاونت هم اسان شوےدے اوددې طالبانوسندونه هم جاري شوې دي ـ ددې يوشکل داهم کېدلےشي چې يوسمرکيمپ ددې طالبانو اوطالباتودپاره منعقدکړےشي چې ددې نصاب څوحصې لوستلےشي دغه رنګې ددې دپاره Revision هم کېدلےشي اوددې دقران دپوهې سره تعلق هم زياتېږي.

## ۲۸ـ اياغيرمسلم طالبان اوطالبات ددې نصاب نه فائده اخستلے شي؟

دامنلې شوې خبره ده چې زمونږپۀ معاشره کښې غيرمسلم خاندانونه هم اوسېږي چې دهغوی بچې زمونږپۀ اسکولونوکښې زيرِتعليم هم دي.دابچې دنورومظمونوپشان داسلامياتوپۀ کلاس کښې هم شريک کېږي د دی علم فاؤنډيشن سره منسلک پۀ څنې اسکولونوکښې هم غيرمسلم طالبان اوطالبات لوستل کوې اوددوی د مورا وپلار دا ړخه څۀ درکاوټ معامله مخې ته نۀ راغلې ـ که څۀ رکاوټ نۀ وي نوداطالبان اوطالبات هم دانصاب ضرورلوستلےشي ـ ددې پشان هم بنيادي اخلاقي تعليمات پۀ ټولومذهبونوکښې يوشان دي نوولې به نۀ وي چې مونږدوی ته تعليات ازده کوودوی دزړۀ تسلي کوواودالله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی اودرسول الله ﷺ پيغام دوی ته رسوونوکېديشي شي چې الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی دوی ته داسلام اړخ ته رغبت ورکړي.

## ۲۹ـ آيادانصاب پۀ عمومي طورباندې پۀ مارکيټ کښې موجود دے؟

تردې وخته پورې دی علم فاؤنډيشن خپل مطبوعات پۀ مارکيټ کښې دپيش کولواراده نه کړې.اراده داده چې مونږپۀ هغه اسکولونواوتعليمي اداروکښې دانصاب تيارکوچې کوم ځائے کښې داباقاعده لوستلےشي

او ددې نګرانې هم کیدلے شي اوزمونږ دپاره ددې سره رابطه هم ممکنه وي ـ في الحال دانصاب پۀ مارکيټ کښې موجودنۀ دے ـ دازمونږ دويب سائټ نه Download کېدلے شي ـ

## ۳۰. دانصاب به څرنګۀ حاصل کړلے شي؟

کومه اداره يااسکول چې دانصاب حاصلول غواړي هغوی دې د دی علم فاؤنډيشن سره پۀ ويب سائټ ،ای ميل ،فون يادخط اوکتابت پۀ ذريعې سره رابطه وکړي نومونږبه هغوی ته Sample تياره وو ـ بيادد ينه روسته که چرته هغوی مطمئن وو اوپۀ خپله اداره يااسکول کښې دانصاب غوره کول غوښتل نومونږ ته دې دخپلو طالبانو او طالباتوشميرباقاعده طوربانددې وښائي مونږبه ان شاءالله "مطالعۀ قرآنِ حکيم "کتابونه "اوراهنمائې استاذان"تيارکو ـ

## ۳۱. ددې نصاب پۀ پراخه توګه شهرت ولې نۀ دې شوے؟

کوشش داشوے دے چې مونږدذهن واله (LikeMinded) اوددين دردلرلو واله خلقوسره پۀ ذاتي طوربانددې رابطه اوکړےشي ـ دغه رنګې چې پۀ کوموا سکولونو کښې دانصاب جاري دےدهغوی استاذان يادطالبانو موراوپلارچامونږته ددې وئيلې وي نومونږهغوی ته دانصاب تيارکړےدے ـ دغه رنګې داکارپۀ ذاتي رابطې سره مخې ته ځي ـ ددې وجې نه دتشهيرددې وخته پورې څۀ ضرورت نۀ دےراغلے ـ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی دې مونږتولو ته داخلاص نيت رانصيب کړي ـ آمين !الحمدلله مونږته به پوره اخلاص واله خلق ميلاوشي اوداکاربه پۀ تيزئ سره مخې ته بوځي ـ

## ۳۲. ددې نصاب هَديه څۀ ده؟

ددې نصاب هيڅ هَديه نۀ ده اينبودلې شوې اوالحمدلله تراوسه پورې دپاليسئ مطابق داکتابونه اسکولونو اوتعليمې اداروته بغيردڅۀ هَديې نه ورکولې شي ـ بنيادي مقصددقرآنِ حکيم اودمخلوقِ خداخدمت دے ـ دغه رنګې که يواسکول يااداره پۀ دې حوالې سرد دی علم فاؤنډيشن سره مددکول غواړي نوداسې ممکن ده ـ

## ۳۳. که څوک ددې خيرپۀ کارکښې تعاون کول غواړي نوددې څۀ طريقه ده؟

ډيرزيات افرادچې زمونږدقرآني خدماتوسره اتفاق کوي هغه غواړي چې ددې خيرپۀ کارکښې خپله حصه واچوي ـ که چرته دچادا اراده وي نوزمونږسره رابطه کولےشي ـ دهغۀ داطمنان دپاره مونږهغۀ ته خپل داکاونټ نمبرهم ورکولےشوچې هغه خپل مالي تعاون جمع کړي اوزمونږ رسيددې حاصل کړي ـ مګرداټول هغه وخت دې چې کله پۀ خپله رضاسره داسې کوي ورنه چانده جمع کول زمونږدنظرمخې ته نۀ ده ـ

## ۳۴. آيادانصاب آن لائن موجوددے؟

زمونږ پهٔ ویب سائټ www.tif.edu.pk باندې ددې نصاب چې کومې حصې شائع شوې دې هغه د"راهنمائې استاذان" سره موجود دې او ددینه علاوه ددې نصاب تعارفي ویډیو، قرآن کوئز، آرټ او تقریري مقابله دَ اولې برخې د پاره پهٔ دې باندې جوړه شوې ویډیو، ډیمو کلاس او پهٔ عمومې طور باندې تپوسلې شوې سوالونو (FAQs) باندې جوړه شوې ویډیو موجود ده ۔ دا ټول هرڅهٔ Download کړئ د فائدې اخستلو د پاره موجود دې۔

## ۳۵ - که چرته یو اداره دا نصاب شائع کول غواړي نو دا ممکن ده؟

که چرته یو اداره د خپلو طالبانو او طالباتو د پاره دا نصاب شائع کول غواړي نو دا ممکن ده ۔ که چرته د طالبانو شمیر کم وي نو دا دې د اداري نه نصاب حاصل کړي۔ که چرته پهٔ لویه سطحه باندې شائع کول غواړي نو د اداري د تحریري اجازت او خپل میانځي مشورې نه روسته دا شائع کولې شي ۔ ددې د پاره چې زمونږ پهٔ شائع شوې نصاب کښې هیڅ تبدیلي نهٔ کوي ۔ د اداري هیڅ تجارتي مقصد نشته دے ددې وجې نه مونږ غواړو چې هیڅ یو اداره به هم ددې نصاب د اشاعت نه تجارتي فائده نهٔ حاصلوي۔

## ۳۶ - آیا دلسم کلاس (x) د اسلامیاتُ د نصاب د پاره څهٔ کتاب شائع شوې دے؟

چونکهٔ دلسم کلاس د اسلامیاتُ پهٔ کتاب کښې څهٔ مدني سورتونه شامل دي ۔ دځهٔ اسکولونو د اړخه د اتقاضا راغلې ده چې ائنده د دی علم فاؤنډیشن د اړخه د اسلامیاتو کتاب هم شائع کړلے شي ۔ ان شاءالله پهٔ مستقل کښې ددې کار اراده ده ۔ تردې وخته پورې زمونږ ټوله توجه د مطالعهٔ قرآن حکیم د نصاب پهٔ تکمیل باندې ده ۔ چې کوم طالبان او طالبات دا نصاب پهٔ مکمل طور باندې لولي لسم کلاس ته رسیږي نو هغوی ددې متعین مدني سورتونو مطالعه کولے شي ۔ ان شاءالله ۔

## ۳۷ - ,,ددی علم فاؤنډیشن،، آیا نور خدمتونه شته دے؟

,,ددی علم فاؤنډیشن،، یو خدمت د مطالعهٔ قران حکیم د طالبانو او طالباتو د پاره د نصاب تیاري ده ۔ ددې نصاب او د سیرت النبی ﷺ پهٔ حوالې سره ددی علم فاؤنډیشن سره د منسلک اسکولونو پهٔ درمیان کښې د مختلف نوعیت مقابله جات هم کېدلے شي۔ ددینه علاوه د استاذانو عمومې او پیشه ورانه د تربیت هم یو پوره نظام موجود دے۔ ددی علم فاؤنډیشن د اړخه پهٔ مختلفو موقع باندې مثلاً پهٔ رمضان المبارک، ربیع الاول، کښې د سیرت النبی ﷺ، عید الاضحیٰ پهٔ موقع باندې د حج او قربانۍ پهٔ حواله سره څهٔ کتابچې (Booklets) وخت پهٔ وخت باندې شائع شوې دي ۔ د اداري سره د منسلک اسکولونو د استاذانو د پاره د تدریس سره متعلق مختلف مدتونو او نوعیتونو کورسونه او ورک شاپ واهتمام شوے دے ۔ ددینه علاوه

داسکولونو د ضروریاتو مطابق دهغوی خواته تلل هم د استاذانو د پاره مختلف پروګرامونه دغه رنګې دطالبانو او طالباتو او مور او پلار د پاره هم دلیکچر اهتمام شوے دے ۔

## ۳۸۔ ,,ددی علم فاؤنډیشن ،،دفترچرته دےاو دچاسره به رابطه کولےشي؟

,,ددی علم فاؤنډیشن ،،مکمل پته ،ټلیفون نمبراو دای میل پته دمطالعۀ قرآن حکیم پۀ هر کتاب باندې موجودده۔ددې نصاب او ددی علم فاؤنډیشن پۀ باره کښې هرقسم تجویزاو مشوره ورکول وې یاڅۀ سوال کول وې نوداتورنه علاوه دسحر ۹بجې نه ترماښام ۵بجو پورې د فون،ای میل،اسکائپ ،فیس بک پۀ ذریعې سره رابطه کولےشئ۔

THEILMFOUNDATION(TIF)

245.1/1,BIock,P.E.cH.Societachi.75400(Pakistan)

Phone(92.21)34304450—51Mobile:033.3399929

Website:www.tif.edu.pk,Emaile:info@tof.edu.pk,tif1430@gmail.com

Facebook:QuranprogramForStudents

یادداشت

یادداشت

یادداشت

## د نصاب ,,مطالعۂ قران حکیم دطالبانو او طالباتو دپاره،، تعارف

الحمد لله ,, دی علم فاؤنڈیشن،، ۲۰۱۰ کال نه دنوې نسل پورې دقرآن حکیم دتعلیماتو پیژندلو فریضه بغیر دڅۀ مالي منفعت نه خالص دالله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی درضاپۀ خاطرسرته رسوي. پۀ دې سلسله کښې د ,,مطالعۂ قران حکیم دطالبانو او طالباتو دپاره،، پۀ نوم سره پۀ اووۀ حصو باندې مشتمل یو جامع نصاب لره ترتیب ورکړے دے. چې ددې پۀ اولو پینځو وبرخو کښې مکي سورتونه او پۀ آخرې دوه برخو کښې مدني سورتونه ایښې دې. الحمد لله ددې نصاب اووۀ حصې شائع شوې دې. دانصاب دادارې دا رخه نه دټولو تعلیمي ادارو طالبانو او طالباتو بغیر دهدیې نه تیارولے شي. ددې نصاب دمؤثر تدریس پۀ ضمن کښې د اساتذۀ کرامو دمدد دپاره د مطالعۂ قرانِ حکیم دهرې برخې سره د ,, راهنمائے اساتذه،، پۀ عنوان سره مفصل تدریسي مواد هم تیارشوي دي. ددې نصاب پۀ تیارۍ کښې علمآء کرام، اساتذۀ کرام، مورا و پلارا و دتعلیم ماهرینو دمشورو او تجویزونو نه هم فائده اخستلے شوې ده.

## ,,مطالعۂ قران حکیم دطالبانو او طالباتو دپاره،، ددرسي کتاب څو غوره خصوصیتونه

| | |
|---|---|
| دپوره ,,قرآن مجید،، دمعتبرو ترجمونه عام فهم او اسانه ترجمه | پۀ ترجمه او عربي متن کښې ددوو رنګونو استعمال |

| | |
|---|---|
| دمشکل الفاظومعنی | دبچوذهني سطح اودزړۀ راخکلوخصوصي خيال |
| دنوټ اخستلودپاره ساده صفحې | دسورتونودمطالعۀ سره مخکښې ددې مختصرتعارف اوشانِ نزول |
| دانبياء عَلَيْهِم السَّلَام پۀ قصوکښې دمعتبرومواداوپۀ ذريعه اسان انداز | دانبياءکرام عَلَيْهِم السَّلَام پۀ قصوکښې دنقشواستعمال |
| دهرسورت اوقصې پۀ آخرکښې ,,دعلم اوعمل خبرې،، | فرمانِ نبوی ﷺ ،آياتاسوپېژنئ؟معلوم کړئ،سوچ وکئ پۀ دې عنواناتوسره معلوما |
| دهرسبق متعلق ,,ځان پرې پوهه کړئ اوحل ئې کړئ،، پۀ دې عنوان سره زړۀ راخکونکښې مشقونه | دعملي مشق کولودپاره ,,کورنۍ هله زله،، |
| دمسلکي اختلافاتوني پرهيز | د ۷۰نه دزياتومشهوروترجمواوتفسيرونونه فائده اخستل |

## داستاذانودتربيت دپاره معاون تدريسي مواد

| | |
|---|---|
| تدريسي هدايات(تحريري اوډويډيوپۀ صورت کښې) | عمومي تپوسلے شوي سوالونه(FAQ,s) (تحريري اوډويډيوپۀ صورت کښې) |
| د DeomClassويډيو | ماډل پيپر |
| حصه وار راهنمائي استاذان | تربيتي ورکشاپ |

## د راهنمائي اساتذه غوره خصوصيتونه

| | |
|---|---|
| دسبقونومنصوبه بندي | دمياشتې جائزه فارم |
| دتدريس طريقه دسبقونودپاره | دمطالعې مقصدونه |
| دسورت ربط | دقرآن حکيم عملي اړخ |
| شانِ نزول | آيت پۀ آيت سره دسوال اوجواب تشريحي نکتې |
| دقرآني آياتونواواحاديثوحواله جات | پۀ علمي سائنسي حقائقوباندې مشتمل نوټ |
| دعملي هلوزلواومشقونوجوابونه | دمفيدويډيواومعلوماتوويب لينکس |

## دمطالعۀ قران حکيم دطالبانواوطالباتودپاره،،اهم اعزازات

۱ ـ الحمدلله ددې نصاب پۀ باره کښې دتمام مکاتبِ فکرعلمآءکرام،ماهرين تعليم،اودمشهوروتعليمي اداروتاثرات اوکلماتِ تحسين رارسيدلي دي۔

۲ ـ اسلامي نظرياتي کونسل اووفاقي وزارتِ تعليم ددې نصاب بنۀ والے کړےدے۔

۳ ـ ددې سره پۀ وفاقي سطح باندې جوړشوې پۀ تمام مکاتبِ فکرباندې مشتل کمېټي ,,اتحادتنظيماتِ مدارس،،هم ددې نصاب پۀ اووۀ برخوباندې اتفاقِ رائي کړې ده۔

۴ ـ ددې نصاب اوله اودويمه برخه پۀ سندۍ اوانګريزۍ ژبه کښې ترجمه شوې شائع شوې دي۔

## دمطالعۀ قران حکيم دطالبانواوطالباتودپاره،،اوس مخې ته تګ

سرکاري اسکولونه (دټولواسکونوشمير: 6,521 دټولوطالبانواوطالباتوشمير: 1,637938)

دضلع بهاولپور تمام 500 سرکارې اسکولونه: 92906 طالبا او طالبات

دوفاقي حکومت لاندې د اسلام آباد 220 اِسکولونه: 93,741 طالبان او طالبات

دخیبرپختونخوا ټول 5,801 سرکارې اسکولونه 1,451,291: ټول طالبان او طالبات

نجې اسکولونه (دټولو اسکولونو شمیر: 3,991 دټولو طالبانو او طالباتو شمیر: 601,540)

دټولو طالبانو او طالباتو شمیر تقریبًا: 2,239478

دټولو اسکولونو شمیر تقریبًا: 10,512

دکال ۲۰۱۰ نه ۲۰۱۹ پورې د ټولو شائع شوې کتابونو شمیر تقریبًا: 3,800,000

## مشهورې تعلیمې ادارې

| | | | |
|---|---|---|---|
| دی سټرین فاؤنډیشن (TCF) | پاکستان فضائیه | پاکستان نیو او بحریه فاؤنډیشن | ائیر فاؤنډیشن اسکول سسټم |
| تعمیرملت فاؤنډیشن | دارارقم اسکولز | الهدیٰ شعور اسکولز | ایس پی ایس اسکولز |
| آرمې پبلک اسکول لائبریریز | دی ایجوکیټرز | ګرین کریسنټ ټرسټ | پروګریسو ایجاکیشنل نیټ ورک |

## دمطالعۀ قران حکیم دطالبانو او طالباتو د پاره، دمکمل نصاب تفصیل سره د قرآن حکیم اوسطًا تکمیل

**اوله برخه (مکې سورتونه)    سورتونه: ۱۲، قصص: ۸    دقرآنِ حکیم تکمیل: ۹ فیصده**

قصص: دحضونبی اکرم ﷺ مبارک ژوند او فضائل و کمالات، د حضرت آدم عَلَیْہِ السّلَام قصه (منتخب آیاتونه سُوْرَة الاعراف) د حضرت نوح عَلَیْہِ السّلَام قصه د حضرت هود عَلَیْہِ السّلَام قصه د حضرت صالح عَلَیْہِ السّلَام قصه او د حضرت شعیب عَلَیْہِ السّلَام قصه (منتخب آیاتونه سُوْرَة الاعراف، سُوْرَة هود، سُوْرَة الشعراء) د حضرت یونس عَلَیْہِ السّلَام قصه دهاتهې واله قصه (سُوْرَة الفیل)

سورتونه: سُوْرَة الفاتحه، سُوْرَة الفیل، سُوْرَة یونس، سسوره قریش، سُوْرَة الماعون، سُوْرَة الکوثر، سُوْرَة الکافرون، سُوْرَة النّصر، سُوْرَة اللّهب، سُوْرَة الاخلاص، سُوْرَة الفلق، سُوْرَة النّاس، سُوْرَة الصّفّت

**دویمه برخه (مکې سورتونه)    سورتونه: ۲۷، قصص: ۵    دقرانِ حکیم تکمیل: ۹ فیصده**

قصص: دحضونبی اکرم ﷺ فضائل و کمالات او معجزات، د حضرت ابراهیم عَلَیْہِ السّلَام قصه (منتخب ایاتونه سُوْرَة الانعام، سُوْرَة الانبیاء او سُوْرَة الشعراء) د حضرت موسیٰ عَلَیْہِ السّلَام قصه (منتخب ایاتونه سُوْرَة الاعراف، سُوْرَة القصص، سُوْرَة طٰهٰ او سُوْرَة الشعراء)، دیو ظالم بادشاه او مؤمن هلک قصه (سُوْرَة العلق)

سورتونه: سُوْرَة الضّحٰی، سُوْرَة الانشراح، سُوْرَة التین، سُوْرَة العلق، سُوْرَة القدر، سُوْرَة البیّنة سُوْرَة الزلزال، سُوْرَة العٰدیٰت، سُوْرَة القارعة التکاثر، سُوْرَة النصر، سُوْرَة الهمزة، سُوْرَة النباء، سُوْرَة النّٰزعٰت، سُوْرَة عبس، سُوْرَة التکویر، سُوْرَة الافطار، سُوْرَة المطفّفین، سُوْرَة الانشقاق، سُوْرَة البروج، سُوْرَة الطّارق، سُوْرَة الاعلیٰ، سُوْرَة الغاشیة، سُوْرَة الجفر، سُوْرَة البلد، سُوْرَة الشّمس، سُوْرَة الّیل

## دريمه برخه (مکي سورتونه)    سورتونه: ۲۲ ، قصص: ۲    دقرانِ حکيم تکميل: ۱۲ فيصده

قصص: شمائل النبی ﷺ د حضرت يوسف عَلَيْهِ السَّلَام قصه (سُوْرَةَ يوسف)

سورتونه: سُوْرَةَ يوسف، سُوْرَةَ الزّخرف، سُوْرَةَ الدّخان، سُوْرَةَ الجاثية سُوْرَةَ ق، سُوْرَةَ الذاريات، سُوْرَةَ الطّور، سُوْرَةَ النّجم، سُوْرَةَ القمر، سُوْرَةَ الرّحمٰن، سُوْرَةَ الوقعة، سُوْرَةَ الملک، سُوْرَةَ القلم، سُوْرَةَ الحاقة، سُوْرَةَ المعارج، سُوْرَةَ نوح، سُوْرَةَ الجن، سُوْرَةَ المزمّل، سُوْرَةَ المدثّر، سُوْرَةَ القيامة، سُوْرَةَ الدّهر، سُوْرَةَ المرسلات

## څلورمه برخه (مکي سورتونه)    سورتونه: ۱۷ ، قصص: ۵    دقرانِ حکيم تکميل: ۱۷ فيصده

قصص: د حضرت زکريا عَلَيْهِ السَّلَام قصه د حضرت مريم عَلَيْهَا السَّلَام قصه د حضرت عيسٰی عَلَيْهِ السَّلَام قصه (سُوْرَةَ مريم) د حضرت لوط عَلَيْهِ السَّلَام قصه (منتخب آياتونه سُوْرَةَ الاعراف، سُوْرَةَ هود، او سُوْرَةَ الشعراء) د حضرت سليمان عَلَيْهِ السَّلَام قصه (سُوْرَةَ النّمل)

سورتونه: سُوْرَةَ طٰهٰ، سُوْرَةَ الانبيآء، سُوْرَةَ الحج، سُوْرَةَ الفرقان، سُوْرَةَ الشّرآء، سُوْرَةَ النّمل، سُوْرَةَ قلقصص، سُوْرَةَ العنکبوت، سُوْرَةَ الرّوم، سُوْرَةَ لقمٰن، سُوْرَةَ السّجدة، سُوْرَةَ سبا، سُوْرَةَ فاطر، سُوْرَةَ يٰس، سُوْرَةَ ص، سُوْرَةَ الاحقاف

## پينځمه برخه (مکي سورتونه)    سورتونه: ۱۵ ، قصص: ۷    دقرانِ حکيم تکميل: ۲۵ فيصده

قصص: داصحاب سبت قصه (سُوْرَةَ الاعراف) دمعراج واقعه، دبنی اسرائيلو تاريخ، (سُوْرَةَ بنی اسرائيل) داصحاب سبت قصه، دباغ واله قصه، د حضرت موسٰی عَلَيْهِ السَّلَام قصه، د حضرت خضر عَلَيْهِ السَّلَام قصه، د ذولقرنين قصه (سُوْرَةَ الکهف)

سورتونه: سُوْرَةَ الانعام، سُوْرَةَ الاعراف، سُوْرَةَ يونس، سُوْرَةَ هود، سُوْرَةَ الرّعد، سُوْرَةَ ابراهيم، سُوْرَةَ الحجر، سُوْرَةَ النّحل، سُوْرَةَ بنی اسرائيل، سُوْرَةَ الکهف، سُوْرَةَ المؤمنون، سُوْرَةَ الزّمر، سُوْرَةَ المؤمن، سُوْرَةَ حٰم السّجدة، سُوْرَةَ الشّورٰی

## شپږمه برخه (مدني سورتونه)    سورتونه: ۴ ، قصص: ۳    دقرانِ حکيم تکميل: ۱۵ فيصده

قصص: غزوه احد (سُوْرَةَ ال عمران)، غزوه بدر (سُوْرَةَ الانفال)، غزوه تبوک (سُوْرَةَ التّوبه)

سورتونه: سُوْرَةَ البقرة، سُوْرَةَ الانفال، سُوْرَةَ التوبة

## اوومه برخه (مدني سورتونه)    سورتونه: ۱۷ ، قصص: ۵    دقرانِ حکيم تکميل: ۱۷ فيصده

قصص: دهابيل او قابيل قصه، (سُوْرَةَ المائده) غزوۀ احزاب (سُوْرَةَ الاحزاب) صلحه حديبيه، فتح مکه (سُوْرَةَ الفتح)، غزوۀ بنونضير (سُوْرَةَ الحشر)

سورتونه: سُوْرَةَ النساء، سُوْرَةَ المائدة، سُوْرَةَ النّور، سُوْرَةَ الاحزاب، سُوْرَةَ محمّد، سُوْرَةَ الفتح، سُوْرَةَ الحجرات، سُوْرَةَ الحديد، سُوْرَةَ المجادلة، سُوْرَةَ الحشر، سُوْرَةَ الممتحن، سُوْرَةَ الصّف، سُوْرَةَ الجمعة، سُوْرَةَ المنافقون، سُوْرَةَ التّغابن، سُوْرَةَ الطّلاق، سُوْرَةَ التحريم

## تجويزشوے ماډل پيپر د مطالعې دقرانِ حکيم د پاره (اوله برخه) دکال د امتحان د پاره

سوال نمبر ۱ ـ لاندې دورکړلې شوې سوالونو مختصر جوابونه وليکئ۔ (څه لس) (۲۰)

1) دقرآن حکيم دټولونه داولنې سورت نوم څۀ دے؟

2) درب څۀ معنٰی ده؟

3) دټولونه داول پيغمبر څۀ نوم ؤ؟

4) دانسانانو مخکښې پۀ زمکه باندې څوک آباد ؤ؟

5) اللهُ سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی د حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَام دپيدائش ذکر د چاه مخې تهٔ کړو؟

6) دنبي د دشمنانو انجام پۀ کوم سورت کښې بيان شوے دے؟

7) د حضرت نوح عَلَيْهِ السَّلَام قام کوم ځائے آباد ؤ؟

8) د شيطان د حملونه دبچکيدلو دپاره څۀ کول پکار دي؟

9) قامِ ثمود طرف ته کوم رسول لیږلے شوے ؤ؟

10) حضرت یونس عَلَیْهِ السَّلَام کوم قام طرف ته لیږلے شوے ؤ؟

11) کوم نبی ته الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی داونښې معجزه ورکړې وه؟

12) د حضرت نبی کریم ﷺ تعلق د کومې قبیلې سره ؤ؟

13) حضرت نوح عَلَیْهِ السَّلَام خپل قام ته څو کاله دعوت ورکړے ؤ؟

14) "اصحاب الایکه" کوم قام ته وائي؟

15) الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی دابرهه دلښکر د تباه کولو د پاره څهٔ شي ولیږل؟

16) پهٔ سُوْرَةُ الکوثر کښې د چا دېنومه او بې نشانه کېدلو خبر ورکړے شوے دے؟

17) پهٔ سُوْرَةُ الماعون کښې د کوم و خلقو غلط انجام بیان شوے دے؟

18) د قریشو بچې د چاپهٔ اولاد کښې دي؟

19) یهودیانو او عیسایانو څوک د الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی ځامن ګرځولي ؤ؟ 20) معوّذتین کوموسورتونو ته وئیلے شي؟

سوال نمبر ۲ ۔ دلاندې دورکړلے شوجملو لره پهٔ دې جملو سره ډکې کړئ۔ (جودی،حضرت هود عَلَیْهِ السَّلَام ،علم،حضرت صالح عَلَیْهِ السَّلَام ،ختهٔ) (۵)

1) الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی لره د ۔ ۔ ۔ ۔ ۔ ۔ پهٔ لحاظ سره فضیلت ورکړےؤ ۔

2) الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی د ۔ ۔ ۔ ۔ ۔ ۔ نه د حضرت آدم عَلَیْهِ السَّلَام بدن جوړ کړےؤ۔

3) د حضرت نوح عَلَیْهِ السَّلَام کشتۍ دغرپهٔ څوکه ۔ ۔ ۔ ۔ باندې اودریدله۔

4) الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی دعاد قام طرف ته ۔ ۔ ۔ ۔ ۔ ۔ ۔ ۔ رسول جوړ کړواووېلیږلو ۔

5) قامِ ثمود طرف ته الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی ۔ ۔ ۔ ۔ ۔ ۔ ۔ ۔ رسول جوړ کړواووېلیږلو ۔

سوال نمبر ۳ ۔ لاندې ورکړےشوې آیت ترجمه وینئ او اوښایئ چې دا د کوم نبی قول دے؟ددې سره ددې نبی متعلق درې خبرې ولیکئ۔ (۱۰)

وَقَالَ ارْكَبُوا فِيهَا بِسْمِ اللَّهِ مَجْرَاهَا وَمُرْسَاهَا إِنَّ رَبِّي لَغَفُورٌ رَحِيمٌ (41)

او هغه ووېل :په دې کشتۍ کې سواره شئ) او وايئ (:د الله په نامه سره د دې روانېدل او د دې ودرېدل دي، بېشکه زما رب یقینًا ډېر بخښونکی، بې حده رحم کوونکی دی۔(سُوْرَةُ هود ۱۱ :آیت ۴۱)

سوال نمبر ۴ ۔ دَ کالم (الف) هره جمله دَ کالم (ب) دَ صحیح جملې سره کرښه ولګوئ:

| کالم (الف) | کالم (ب) |
| --- | --- |
| ❖ حضرت یونس عَلَیْهِ السَّلَام | ❖ دَ حضرت یونس عَلَیْهِ السَّلَام لقب دے۔ |
| ❖ حضرت یونس عَلَیْهِ السَّلَام قام لره | ❖ یو ه د کدو واله ونه راوخېژوله۔ |
| ❖ مهې حضرت یونس عَلَیْهِ السَّلَام لره | ❖ قام ئې د الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی دعذاب نه ویرولو |
| ❖ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی د حضرت یونس عَلَیْهِ السَّلَام د پاره | ❖ دَ عذاب الهي آثار ئې ولیدل توبه ئې ویستله |
| ❖ ,,ذو النّون،، او ,,صاحب الحوت،، | ❖ پهٔ حفاظت سره پهٔ خپله خېټه کښې کېښودلو |

سوال نمبر۵ـ خالي ځایونه ډک کړئ.

۱ـ د صمد معنٰی . . . . . . ده.

۲ـ دقران حکیم دټولونه غټ سورت . . . . . . دے.

۳ـ دالله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی سره بل یو دعبادت کولو والا ته . . . . وائي.

۴ـ انبیاء کرام عَلَیْهِم السَّلَام ته بدروئیلو والا ته الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی . . . . . ورکوي.

۵ـ دشیطان نه . . . . . دے او هغه داورنه جوړ شوے دے.

سوال نمبر۶ ـ پهٔ لاندینو جملو د صحیح (✓) یا غلط (X) نشان ولګوئ:

| شمیرنمبر | جملې | صحیح | غلط |
|---|---|---|---|
| ۱ـ | دګرجې پهٔ جوړولو باندې عرب او نورقبیلې ډیره خوشحاله وې. | | |
| ۲ـ | دعربونه یو کس دابرهه پهٔ ګرجه کښې ګندګي وکړه. | | |
| ۳ـ | پهٔ ملاقات باندې دجناب عبد المطلب لیدلو ابرهه لره ډېر غصه کړو. | | |
| ۴ـ | ابرهه یو غټ فوج جمع کړو چې پهٔ دې کښې هاتیان هم ؤ. | | |
| ۵ـ | دابرهه لښکرچې کله وادې محسرته ورسیدلو نومخې ته نۀ تلو. | | |

سوال نمبر۷ـ د لاندې ورکړے شوو جملو سره پهٔ جوړو شوو خانو کښې د قیصې پهٔ ترتیب سره نمبرې واچوئ.

یو غټ مهي ته الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی حکم وکړو چې حضرت یونس عَلَیْهِ السَّلَام بغیرد نقصان نه تیر کړه.

الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی حضرت یونس عَلَیْهِ السَّلَام دویم ځل دنینوٰی والاته دلیږلو حکم وکړو.

حضرت یونس عَلَیْهِ السَّلَام دځو کلنو پورې دنینوٰی خلقوته دالله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی پیغام ورسولو.

دنینوٰی خلقو دالله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی پهٔ حضور کښې دخپلو ګناهونو اقرار وکړو او دعذاب نه ئې پناه وغوښتله.

دنینوٰی خلقو دخپل رسول عَلَیْهِ السَّلَام انکار او مخالفت وکړو.

حضرت یونس عَلَیْهِ السَّلَام دتګ نه روسته دعذاب اثرات پهٔ نظر راغلل.

دمهې پهٔ خیټه کښې حضرت یونس عَلَیْهِ السَّلَام دالله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی تسبیح او استغفار کولو.

حضرت یونس عَلَیْهِ السَّلَام دعراق دښار دنینوٰی مشرکو خلقوته رسول لیږلے شوے ؤ.

حضرت يونس عَلَيْهِ السَّلَام دعذاب دځائے نه دجدا کېدلو پۀ اراده باندې پۀ يوې ډکې کشتۍ کښې سورشو۔

حضرت يونس عَلَيْهِ السَّلَام دخپل قام پۀ کفرباندې دهغوی نه خفه شو او دنينویٰ ښارنه جدا لاړلے۔

سوال نمبر۸۔ دلاندې ليکلې شوو جملو پۀ باره کښې وښايئ چې دا د چا وينا ده۔ (۵)

| شميرنمبر | جملې | الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰى | رسول عَلَيْهِ السَّلَام | قام | شيطان |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱۔ | يقيناً مونږ تاسو پيدا کړې وئ او مونږ ستاسو شکلونه جوړ کړې دې۔ | | | | |
| ۲۔ | تاسو زمونږ معبودانو پۀ کومه غلطۍ کښې مبتلا کړې وئ۔ | | | | |
| ۳۔ | تاسو دې او ښې ته نقصان مه رسوئ ګنې پۀ تاسو به عذاب راشي۔ | | | | |
| ۴۔ | زۀ دې داورنه جوړ کړے يماو آدم (عَلَيْهِ السَّلَام) دې خټې نه جوړ کړے دے۔ | | | | |
| ۵۔ | مونږ دهغو عبادت کوو چې دچا عبادت به زمونږ پلار اونيکۀ کاوو۔ | | | | |

دڅبې برخه: (ديو دوو سورتونو ترجمه واوروئ) (۲۰)

د سُوْرَة الکوثر ترجمه واوروئ۔ ياد سُوْرَة الفاتحه ترجمه واوروئ۔

د سُوْرَة الاخلاص ترجمه واوروئ۔ ياد سُوْرَة النصر ترجمه واوروئ

هله زله: (۲۰)

پۀ یوه هله زله باندې یو ښائسته چاټ پۀ کور کښې جوړ کړئ او ورائې وړئ۔

۱۔ دحضرت لوط عَلَیْهِ السَّلَام دقام دکهنډراتو ښو تصویرونه تلاش کړئ پۀ چاټ باندې ولګوئ۔

۲۔ دزلزلې پۀ تباکاریانو باندې ښو تصویرونه جمع کړئ پۀ چاټ باندې ولګوئ۔

۳۔ دقامِ عاد دکهندراتو ښو تصویرونه جمع کړې پۀ چاټ باندې ولګوئ۔
۴۔ دیوې کشتۍ خاکه جوړه کړئ۔

## دمطالعۀ قران حکیم دطالبانو او طالباتو دپاره، ،د نصاب دحاصلولو طریقۀ کار

۱۔ الحمدلله ,, مطالعۀ قرآن حکیم دطالبانو او طالباتو دپاره، ،نصاب مع معاون تدریسې
مواد (رهنمائے استاذان DVD,FAQs وغیره) بغیر دمعاوضې نه تیار ولے شې۔

۲۔ ددې نصاب دحاصلولو دپاره نیغ پۀ نیغه ,,د دی علم فاؤنډیشن، ، سره رابطه وکړئ۔

۳۔ دانصاب صرف تعلیمي ادارو (اسکولونو او مدرسوو غیره ته) دتدریس دپاره لیږلے شې۔

۴۔ فی الحال دانصاب پۀ انفرادي طور باندې نۀ شي تیارولے او نۀ قیمتًا موجود دے۔

۵۔ پۀ انفرادي طور باندې ددې نصاب نه دفائدې اخستلو دپاره پۀ ټول سافټ فائلز باندې
مشتمل DVD بغیر دمعاوضې نه تیارولے شې ۔ علاوه ددینه ,, د دی علم فاؤنډیشن ، ،دویب سائټ نه هم
د ډاؤن لوډ کولو سهولت موجود دے۔

۶۔ دنصاب دحصول دپاره دادارې دمشر,, د دی علم فاؤنډیشن ، ،دطرف نه تیار کړلے شوے درخواست
ډک کړئ دادارې پۀ لیټرهیډ باندې ددې نصاب پۀ باره کښې دخپلو تاثراتو سره لیږلے شئ۔

۷۔ که چرته یو کس پۀ یو اداره کښې دانصاب متعارف کول غواړې نو هغه هم رابطه کولے شې۔,, د دی علم
فاؤنډیشن ، ،دارخۀ یو نمونه Sample پۀ دې حوالې سره دې ادارې ته ولیږي۔

۸۔ دنصاب دحاصلولو نه روسته دادارې دپاره دمیاشتې جائزه فارم ډکول لیږل لازمې دې ددې دپاره چې
دنصاب تدریسي باقاعده جائزه واخستلے شې او دمشورې عمل جاري کړلے شې۔

۹۔ دانصاب اخبارات ،رِسالې،اوپۀ جرائدو کښې تبصره ،دغه رنګې علمآء کرام او اهلِ علم حضرات
دنظرِثانې او تاثراتو دپاره لیږلے شوے دے۔

**۱۰۔ فی الحال دانصاب ,, د دی علم فاؤنډيشن ، ،ددفترنه تيارشوے دے۔ پۀ مارکيټ ياپۀ بل ځائے کښې موجودنۀ دے۔**

دانصاب د دی علم فاؤنډيشن داړخه دالله د -رضاپۀ خاطربغيردهَديې نه تيارولےشي -مونږپۀ دې کارِخيرکښې دصدقې جاريې پۀ طورباندې باندې د هرممکن تعاون کولودپاره داداري سره نيغ پۀ نيغه رابطه کېدلےشي، البته هيڅ يونمائنده ته هم پۀ خپله څۀ عطيه (Donation) ورنکړےشي۔ جزاک الله خيراً

**اهم هدايات دپاره فراهمې نصاب,, مطالعۀ قرآن حکيم دطالبانو اوطالباتودپاره، ،**

۱۔ ددې نصاب پۀ باره کښې دپرنسپل دتاثراتوداداري پۀ ليټرهيډباندې ددې درخواست فارم سره منسلک کول تيارولےشي۔ ددرخواست فارم سره دطالبانو موجوده دحاضرۍ رجسټرفوټوکاپې ولېږئ۔ دافارم پۀ ذريعه داى ميل(infor@tif.edu.pk/tif1430@gmail.com) واټس ايپ (0335.3399929)ياپۀ ډاک ليږلےشي۔

۲۔ ددې نصاب درسي کتاب پۀ رهنمائے اساتذه کښې پۀ ورکړےشوې تدريسي هداياتواود عمومي تپوسلےشوې سوالونوپۀ ښه طريقه مطالعه اودDVDنه فائده اخستل او اطمنان حاصل کړئ۔

۳۔ ددې خبرې خامخاتسلي وکړئ چې دانصاب اساتذه کراموهم لېدلےدے اوهغوی هم ددينه مطمئن دي۔ علاوه پۀ ديکښې دطالبانومورا وپلارهم پۀ اعتمادکښې اخستل ضروري دي۔

۴۔ دنورومظمونوپشان د,, مطالعۀ قرآن حکيم ، ،هم باقاعده امتحان اخستلےشي۔ چې ددې دپاره داداري دطرف نه دتيارکړےشوےماډل پيپرنه فائده اخستلےشي۔

**۵**۔ پۀ هره مياشت کښې پۀ رهنمائے اساتذه کښې ورکړےشوے,, دنصاب جائزه فارم، ،هم ډک کړې اودی علم فاؤنډيشن ته دې پۀ ذريعه داى ميل ،واټس ايپ،ياډاک ولېږې۔

۶۔ دفارم وصولولونه روسته ددی علم فاؤنډيشن داړخه اطلاع ورکولےشي۔ البته دفارم ليږلونه روسته پۀ لس ورځوکښې تصديقي فون نۀ راتللوپۀ صورت کښې ددی علم فاؤنډيشن سره پۀ خپله رابطه وکړئ دفارم پۀ باره کښې معلومات حاصل کړئ۔ داهم يادلرئ چې داداري داړخه دفارم دتصديق نه روسته به فارم قابلِ قبول وي۔

۷۔ پرنسپل،متعلقه استاذ،دپټي اومبائل نمبردبدلېدلوپۀ صورت کښې دئ علم فاؤنډيشن فوراً خبرول لازمي دي۔

۸۔ دتدريس پۀ دوران کښې وخت پۀ وخت (کم ازکم پۀ درې مياشتوکښې يوځل ) دنصاب متعلق خپل تاثرات (Feeddack) ضرورورکول پکاردي ددې دپاره که چرته پۀ څۀ مرحله باندې دمزيدبهتروالي پۀ حواله سره رهنمائي کېدل وي نوچې تياره شي۔

۹ ـ ديونه دزيات کيمپس پۀ صورت کښې دهرکيمپس دپاره جدا درخواست فارم ډکول ليږل دي ـ ددې سره به پۀ دې صورت کښې د دی علم فاؤنډيشن سره پۀ ټولو معاملاتوکښې دهيډآفس سره رابطه وکړئ .

۱۰ ـ دانصاب صرف دتعليمي کال پۀ شروع کښې تيارولے شي ـ دغه رنګې دکتابونو تيارول پۀ مطلوبه شميروصولولو اودفارم تصديق نه روسته کم ازکم د پنځۀ خلويښت (۴۵) ورځوپۀ دوران کښې ممکن کېدلے شي ـ

**نوټ** که چرته تاسوبره لېکلے شوي هدايات اوپۀ درخواست فارم کښې زياتې وضاحت پۀ کاروي نورابطه وکړئ مکمل اطمنان به درته حاصل شي ـ

**تصديق نامه** زۀ __________ تصديق کوم / کوي چې ما بره لېکلے شوي هدايات پۀ غورسره ولوستل اوزۀ ددې خبرې يقين ورکول ورکوم / ورکوي چې دبره لېکلے شوي خبروسره مکمل اتفاق دے دغه رنګې پۀ دې باندې خامخاعمل کولے شي ـ ان شاءالله ـ

دپرنسپل لاس ليک: __________ مهراوتاريخ: __________

**نوټ**:فارم هرشان ډک کړئ ـ
نامکمل فارم به قابلِ قبول نۀ وي ـ

دغه رنګې دپردې شاته هدايات ضرورولولئ ـ

عِلم د دی علم فاؤنډيشن (TTF)

## درخواست فارم دپاره دتيارولو دنصاب مطالعۀ قرآن حکيم

داداري نوم: __________

دپرنسپل نوم: __________ مبائل نمبر: ---------- ای ميل: ----------

داداري پته: __________

فون نمبر: (اسکول): ---------- نمبرداداري ای ميل : __________

دتعليمي کال شروع (دمياشتې نوم): ______ دمطالعۀ قرآن حکيم لوستلووالا استاذانوشمير: ______

(۱) دمطالعۀ قرآن حکيم لوستلووالا استاذ / استاذې نوم : __________ مبائل نمبر: ----------

(۲) دمطالعۀ قرآن حکيم لوستلووالا استاذ / استاذې نوم : __________ مبائل نمبر: ----------

داداري نوعيت څۀ دے؟اسکول: ☐ کالج: ☐ يونيورسټي: ☐ مدرسه: ☐ ټيکنکل سينټر: ☐

اسټډي ګروپ: ☐ پۀ اداره کښې رائج تعليمي نظام: ميټرک: ☐ کيمبرج: ☐ حفظ وناظره: ☐ حفظ مع عصري تعليم: ☐ درس نظامي: ☐ دمطالعۀ قرآن حکيم کوم ايډيشن پۀ کاردے ـ اردو: ☐ انګريزي: ☐ سندهی: ☐

| اوله برخه | دويمه برخه | دريمه برخه | څلورمه برخه | پنځمه برخه | شپږمه برخه | اوومه برخه | ټول شمير/TOTAL |
|---|---|---|---|---|---|---|---|

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | X | IX | VIII | VII | IV | IV | III |
| | | | | | | | |

د مطالعۀ قرانِ حکیم پیژند ګلوبه څرنګه حاصله شي: ۱۔بروشر: ☐ ۲۔ فیس بک: ☐ ۳۔ویب سائټ: ☐ ۴۔انټرنیټ: ☐

۵۔نور څۀ ذریعه: ______

د پرنسپل لاس لیک: ______ مهر او تاریخ: ______

دفترې استعمال دپاره دی علم فاؤنډیشن:

تاریخ: فارم وصول: ______ تصدیقي لاس لیک: ______ اسکول آئی ډی: ______ لاس لیک ډپټې هیډ: ______


245.1/I,Block6,P,E,C,H.Society,Karachi.754oo(Pakistan)

Phone(+92.21) 3430 4450-51,0333.3399929(Whatsapp) Facebook:/ tif.y\quranproiect

Webslte:www.tif.edu.pk Emall:Info@tif.eduk.pk /tif1430@z


الحمدلله ثمّ الحمدلله دا کتاب د الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی پۀ مهربانۍ سره پائے تکمیل ته ورسیدلو اے الله! دا کوشش پۀ خپل دربارِ عالیه

کښې ورته شرف د قبولیت ورکړي اوزم د مرحومي مور د پاره ئې صدقه جاریه وګرځوي۔

تمت: جولائي2023 : بمطابق: ۱۷ذوالحجه ۱۴۴۴هجري،د جمعرات شپه ۔ وخت ۔ ۱۰ ۔ ۲ ۔

۔(الاحقر ابو منقاد وعطاء المنعم رضاء الله بن الحاج خان بادشاه الباجوري حالًا نزیل شریف آباد شانړې باجور باکستان۔)

علم